



## د لیکوال نور اثار

[illegible]

**لومړی ټوک (ټیکوني او ژباړه):** [illegible]

**دويم ټوک (ټاټولوني):** [illegible]

**دریم ټوک (ټاټولوني):** [illegible]

**څلورم ټوک (پوهنیکي):** [illegible]

**پنځم ټوک (پوهنیکي):** [illegible]

**شپږم ټوک (کلتوري او فرهنګي اثار):** [illegible]

**اووم ټوک (کلتوري او فرهنګي اثار):** [illegible]

**اتم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** [illegible]

**نهم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** [illegible]

**لسم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** [illegible]

**يوولسم ټوک (تحصيلي اثار: ليسانس-ماستري):** د محمد ګل خان مومند اند او ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل [illegible] مخونه

**دولسم ټوک (تحصيلي اثار: دوکتورا):** [illegible] مخونه

**ديارلسم ټوک (علمي اثار: پوهنيار- پوهندوي):** [illegible] مخونه

**څوارلسم ټوک (علمي اثار: پوهنوال - پوهاند):** [illegible] مخونه

---



### مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحريک فرهنګي څانګه له قدرمن مشر (علي محمد مجبور) څخه ډېره مننه کوي او کور وداني ورته وايي، چې ددې اثر د چاپ لګښت يې پر غاړه واخيست. د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې هم ښاغلي علي محمد مجبور د (پاشلي ذهنونه) او (نيمه پوري يون) څلورم ټوک چاپ لګښت هم پر غاړه اخيستی و او له نور سره يې په نورو ګو [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاشلي ذهنونه

## ( د ۱۳۹۸ل کال په بهیر کې د لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۸ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# پاشلي ذهنونه

## ( د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

لیکوال: محمد اسمعیل یون
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک
چاپکال: ۱۳۹۸ل/۲۰۲۰م
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
ډیزاین: فیاض حمید
چاپ وار: لومړی
د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵٦)
د لیکوال د خپرونو لړ: (۵۲)
برېښنایي پته: www.melitahrik.com ،
www.zhwandoon.tv

ددې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## د افغان ولس نوموړکو اتلانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| مخ | سرلیک | ګڼه |
| --- | --- | --- |
| 10 | سریزه | ۱. |
| 21 | (۱۳۹۸ل) کال او زما دا لیکنې | ۲. |
| 24 | افغانستان کې څوک سوله نه غواړي؟ | ۳. |
| 38 | پرون، نن او سبا | ٤. |
| 41 | د نوي کال پر لومړۍ ورځ مې څه وکړل؟ | ٥. |
| 44 | ((ښه)) نظام، (( شته)) نظام او (( نه)) نظام | ٦. |
| 48 | بې اسرې او بې نصرته ملت | ۷. |
| 50 | د مظلوم ولس یو بل رسا غږ هم خپل پور پرې کړ | ۸. |
| 53 | پټه خزانه: تر عظیم الشان قرآن وروسته | ۹. |
| 72 | د شهرزاد ساپې سفر | ۱۰. |
| 74 | باعزته سوله څه مانا؟ | ۱۱. |
| ۷۸ | څوک په څومره اوبو کې؟ | ۱۲. |
| ۸۲ | ولې اقتصادي مرکزونه؟ | ۱۳. |
| ۸٦ | څوک قانون غواړي او څوک یې نه غواړي؟ | ۱٤. |
| 93 | د اجراییه ریاست تکلیف | ۱٥. |
| 97 | لر او بر یو افغان | ۱٦. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۷. جنگسالاري او کنځلماري غاړه غړې ........................ 102

۱۸. حقيقت، حقيقت دی .............................. ۱۰۸

۱۹. د سولې مشورتي لويه جرګه.......................... 113

۲۰. افغانستان په انځورکې ............................ 115

۲۱. بيا هم نړيوال ريکارډ ............................ 117

۲۲. د نن او سبا انځور .............................. 120

۲۳. د ابليس په لاس شهيده فرښته ....................... 122

۲۴. پاشلي ذهنونه ................................... 125

۲۵. د پکتيکا ماسترپلان.............................. ۱۲۸

۲۶. د ړنګ شوي مورچل سرتېري ......................... 132

۲۷. تر حاکميت وروسته................................ 134

۲۸. ای د سترې اروا مورې! ............................ 135

۲۹. د ارمان پر قبر................................... ۱۳۸

۳۰. ټاکنې او برېښنايي تذکرې .......................... 142

۳۱. استاد هم لاړ ..................................... 145

۳۲. د عقيدې او ارادې سړی ........................... 146

۳۳. يوه کاري ورځ .................................. 147

۳۴. د غميزي په دوام ................................ 153

۳۵. د خپلواکۍ يوه پېړۍ مزل ........................... 155

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۶. ایماندارو، کله کله شکر هم کاږئ! ........................ 162

۳۷. ای د ویده ملت معماره! ........................ 167

۳۸. د ناکام اتل فریاد ........................ 173

۳۹. ته ښه یې؟ پلار مې ښه دی موري؟ ........................ ۱۷۸

۴۰. د ژوند حقیقت ........................ ۱۸۱

۴۱. د پرون، نن او سبا سرې ........................ ۱۸۳

۴۲. تاریخ دې یو ځل بیا شاهد وي ........................ 192

۴۳. د مکررو حوادثو مکرر تاریخ ........................ 194

۴۴. بې رایې مرستیالان او نا مهاره غوښتنې ........................ 197

۴۵. افغان ولس له خپل یو مل او ملګري بې برخې شو ........................ ۱۹۸

۴۶. که ټاکنې ونه شي؟ ........................ 202

۴۷. یوه لنډۍ او د کنځلمارانو منطق ........................ 208

۴۸. په کابل کې کربلا ........................ 211

۴۹. د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د جمهور رییس غني بیا بریا ته ........................ 212

۵۰. زه او ډاکټر عبدالله!؟ ........................ ۲۲۸

۵۱. د غوړه مالانو منطق ........................ 227

۵۲. دا تصویر څه پیغام لري؟ ........................ 230

۵۳. تښتېدلې او ښکې ........................ 233

۵۴. د غم غلطۍ په هیله ........................ 235

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۵. د دوو زورواکيو پرتلنه او تېروتنه ................................ 237

۵٦. ډاکتر عبدالله په حکومت کې څه قانوني حيثيت لري؟ .................. 240

۵۷. عقل او زورواکي ................................................ 245

۵۸. تاريخي درسونه او سر نا خلاصي عبرتونه........................... ۲۴۸

۵۹. څو شېبې دکمال اتاتورک د فکر تر څنګ ............................ 250

٦۰. يوه ورځ په جلال اباد کې........................................ 252

٦۱. له تلې تر لړمه.................................................. 255

٦۲. حقيار د اسلامي ولسواکۍ يو سرغندوی............................. 257

٦۳. د چا په زمانه کې؟ .............................................. 259

٦٤. توره او هنر ....................................................261

٦۵. د زحمت او ارادې انځور.......................................... 265

٦٦. د سولې د لټې په هيله ........................................... 267

٦۷. د سولې په هيله د خبرو دوام...................................... 269

٦۸. طالبان، بدلون او د سولې بهير .................................... 272

٦۹. د عبرت تجربې .................................................. ۲۸۰

۷۰. د دليل او منطق يو بل ستوری هم و نړېد ............................ ۲۸۱

۷۱. د اتل اوښکې ................................................... ۲۸۴

۷۲. ناکامورا لاړ .................................................... ۲۸۷

۷۳. ايا مور ډېر چټک نه يو!؟ ......................................... ۲۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷٤. نازک اکثریت څه ته وايي؟ ........................................ ۲۸٦

۷۵. ملت د ملاريا او محرقې ترمنځ (م. م. م) ................................ 293

۷٦. يوه يادونه او يوه مننه ........................................ 297

۷۷. د بې پيره لپاره لا مذهبه په‌کار دی ................................ ۲۹۸

۷۸. د وخت غوښتنه ........................................ 302

۷۹. د نړيدلي مورچل يو بل سپاهي ................................ ۳۰۸

۸۰. د مبارزې اوږده او کږلېچنه لار ................................ 306

۸۱. د شخصيت معيار ........................................ 308

۸۲. امارت، جمهوريت که انسانيت؟ ................................ 310

۸۳. د مفکر صيب او ملا صيب پخلاينه ................................ 314

۸٤. سوله د پرون، نن او سبا بې بديله ضرورت ................................ 317

۸۵. د سياسي لنډغرانو اروا پوهنه ................................ 320

۸٦. د عبدالله او غني تر منځ د پښتنو غوړه مالانو گرم بازار ................................ 324

۸۷. سولې پل دې بختور شه! ................................ ۳۲۸

۸۸. افغانستان کې د سولې منحني ................................ 331

۸۹. د لر او بر افغان د پيوستون غونډه ................................ 334

۹۰. د خدای پامانۍ وروستي مراسم ................................ 336

۹۱. افغانستان د امپراتوريو قبرستان که د ژوند گلستان ................................ 337

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه:

# په کې یو نیم د لیلی پیکي ته ورشي

د کرونا مرګونې او نړیوالې وبا تر درې میاشتني زړه تنګي کرنتین وروسته له کوره بهر ښار ته راوتلو سره سم مې استاد پوهاند دوکتورمحمد اسمعیل یون ته زنګ وواهه، تر سلام کلام وروسته مې ترې تپوس وکړ چې استاده! پر کومه ځمکه یاست؟ د تېر په څېر استاد بې له درنګه ځواب راکړ، والله ، دوه درې ورځې کېږي چې کرنتین مې تقریبآ مات کړی او تلویزیون ته راغلم، نور مو زړه راتنګ شو او د راوتلو جرآت مې وکړ، بس نور که خدای کول تر دې وروسته به زیات وخت په تلویزیون کې یم، ما ویل استاده درغلم له خیره.

د هېواد د ستر دیني عالم او پر وطن مین شخصیت خدای ببښلي (دوکتور محمد ایاز نیازي) د جنازې مراسمو له بابته لارې سمې بندې وې او د تېر په څېر په سړکونو کې ترافیکي ببروبار او ګڼه ګوڼه ډېره وه، یو څه نا وخته ژوندون تلویزیون ته ورسېدم او تر درې میاشتو لرېوالي وروسته مو د لاس په اشاره روغبړ او بیا ورپسې مو له استاد سره پوره سیاسي، فرهنګي کیسې، ښایسته اوږد بانډار او پر امنیتي ستونزو او ننګونو ډېر بحث وکړ، اوږد وخت سره کېناستو، د راوتلو پر وخت استاد یون راته کړل، چې د تېر په څېر مې دا ځل بیا د (۱۳۹۸ ل) کال خپلی ټولې نه، خو اکثره فیسبوکي، چاپي، ناچاپي او خورې ورې لیکنې سره راټولې کړې او د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګې په توګه يې چاپوم او که ژوند و دا لړۍ به جاري ساتم  او خو په کې داده، چې پردې ټولګه به تاسې سريزه ليکئ.

خدای شته دې خبرې راته يو ډول خوښي او غرور راکړ، چې د يون پر کتاب سريزه او زه؟

او چې رښتيا ووايم ، د دې خبرې په اورېدو سره مې يوه وېره او تشوېش هم زړه کې پيدا شو، هغه ځکه، چې دا مې په دې برخه کې لومړۍ تجربه وه او بيا د يون غوندې اشخاصو پر ليکنو سريزه يو ننګونکی کار و!

له استاده مې د ليکنو د ټولګې يوه کاپي واخيستله او ښه په غور مې ولوستله. هسې خو که مبالغه ونه شي له يون سره مې د درې لسيزو د پېژندنې له وخته د ده هره ليکنه لوستې ده او د يون د دايمي  لوستوال پاته کېدو غټ سبب هم دا دی چې د يون ليکنې او ادبي پنځونې مې لکه د يون شخصيت او د يون سياسي دريځ تر نورو ډېر خوښېږي.

دا چې استاد يون مې د خوښې يو ايډيال، ليکوال او سياستوال دی تر دا ټولو ښېګڼو وړاندې چې يون يې لري زما يې بله ځانګړنه، چې په هغه کې زه ځان د استاد يون ملګری او انډيوال حسابوم، د ده ملي احساس او افغاني ننګ او ثبات دی، چې له بده مرغه ټول ليکوال او سياستوال بيا دا ښېګڼه نه لري، کومه چې زه يې د خپل يو ايډيال ملګري په وجود کې وينم. راځو دې ته چې دا ټولګه چې ستاسې په لاس کې ده څه لري؟ او څنګه ده؟ دا خبره ستاسې قضاوت ته، چې کتاب پوره ولولئ، پرېږدم، خو دا دعوه ضرور کوم چې دې کتاب کې زموږ او ستاسې د هېواد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېرچل د دې کال ( ۱۳۹۸ ل) ډېر حقایق او واقعیتونه د یوه رښتیني افغاني او ملي موقف له زاویې نه د الفاظو او کتابت په ترازو تلل شوي او هر څه ته په پوره ایمانداری، سیاسي جرآت او د ژور ریالیستیک ژورنالیزم له عینکو کتل شوي دي. استاد یون ښه ته ښه او بدو ته یې د افغان ځوربدلي ولس ګټو ته په کتو سره بد ویلي دي، د هېواد او هېوادوالو پر هر غم او ناورین یې ژړلي او که چېرته یې په ورځنیو چارو، لیکنو او سیاسي تعاملاتو کې کوم څرک هم د افغان ولس د ګټو په هېنداره کې لیدلی، په ورین تندي او پراخه بدرګه یې ورته د خوښۍ او بدرګې الفاظ او کلمات ورکړي دي.

د دې کتاب له لیکنو روښانه جوتیږي چې استاد یون د (۱۳۹۸ل) کال په اوږدو کې له جمعې ورځ پرته تقریباً هره ورځ یو مخ لیکنه کړې ده، نږدې (درې سوه څلوېښت) مخه لیکنې او که ځینې ورکې لیکنې او یا هغه لیکنې چې د بېلابېلو عواملو له امله دلته نه دي خوندي شوي، که هغه هم په کې محاسبه کړو نو (یون) د کال په (۳٦۵) ورځو کې یوه ورځ هم داسې نه ده تېره کړې چې دې ولس ته دې څه نه وي ډالی کړي. پورتنی تسلسل او تداوم موږ ته دا را زده کوي چې یو لیکوال څومره پابند او په اصطلاح پشت کار دی او دا هم راته ښیي چې یو څوک څومره مسولانه ژوند او لیکوالي کولای شي، د یوه خبیر او مسول لیکوال ژوند څنګه تېرېږي؟ دا هر څه د ژوند د ورځنیو چارو، کورکهول ته د رسېدو، رسمي دندې او په عامه اصطلاح (مړي ژوندي)، سیاسي مبارزې او نورو ناندریو سربېره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لیکوال تعهد او ژمنه، خپل مسلک، هېوادوالو او انسانیت ته را په ګوته کوي.

هسې مې له دې پاراګرافه د استاد یون تعهد او ژمنتیا رایاده شوه؛ څو کاله ترمخه یې را ته وویل چې سږکال به سل عنوانه بېلابېل کتابونه چې یو څو عنوانه مې خپل هم په کې شامل دي، خو نور اکثره د نورو لیکوالو دي، د چاپ امکانات به ورته برابروو او چاپوو به یې، که د خدای (ج) رضا وه. خدای مې دې غاړه نه نیسي، دکال وروستۍ دوه درې ورځې پاتې وې چې زنګ راغی او هماغه و چې د ژمنه شوو سلو عنوانو کتابونو لمانځغونډې ته یې ورو بللم، رښتیا وو، هماغسې یې چې ژبه کړې وه ، ژمنه یې پوره کړه، ان تر ژمنې هم پورته (۱۰۲) عنوانه پښتو کتابونه یې چاپ کړل. هغه د شاعر خبره مې یاده شوه؛ چې: نو مینه نوره څنګه وي وطنه زورورو!

همدا راز د ژمنتیا په اړه یوه بله خاطره، چې نه یادول یې راته بې انصافي ښکاري، درسره شریکوم، چې تر دې وروسته به بیا دکتاب پر منځپانګه باندې غږېږو، هغه دا چې: د مجاهدینو د قدرت ورستی وختونه او د طلباوو کرامو د حاکمیت لومړني کلونه وو، چې استاد راته وویل؛ یوه سوچه او ځانګړې پښتو مجله به راباسو او له دوستانو څخه یو چا چې غرب کې مهاجر دی، ژمنه یې کړې چې د دې مجلې مالي لګښت به ورکوي، دا وخت سیاسي او فرهنګي حالات دومره ترینګلي وو چې چا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب، ښوونځي او قلم نوم نه شو اخيستلای د مجلې چاپ خو پرېږده هغه هم سوچه پښتومجله؛ داکارونه د ځينو له نظره سم کفر و.

لنډه دا چې دا ژمنه هم دې ښاغلي په ښه ډول پوره کړه، شاعر او پر وطن مين ليکوال ښاغلي عبدالمالک بېکسيار صاحب د هيلې مجلې مالي لګښت پر غاړه واخيست او استاد يون يې د ليکنو، ايډيټ او چاپ چارې، چې د مجلې د وېش او مضامينو په تيارولو کې ما هم ورسره پوره منډه تړره او د هېواد دننه د استازولۍ او د مجلې چارو ته د رسېدو ملا تړلې وه، هيله مجله چې د اوسني پېر په چاپي رسنيو کې د محتوا، شکل، سبک له مخې ځانګړې او په ولسي او فرهنګي کچه له پراخ ملاتړ او پوره اغېز نه برخمنه وه، پوره (اته څلوېښت) ګڼې ښه په درز او دبدبه وچلېده او د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسېدله، هيله لومړنۍ پښتو مجله وه چې پر هېواد د څو لسيزو فکري او فرهنګي ستم وروسته يې د پښتو ژبې د محروميت او ګوښه والي ټول بريدونه او بندونه ونړول.

له دې يادونې مې موخه خپلې ژبې او فرهنګ ته د يوه رسالتمند ليکوال په توګه د استاد يون ژمنتيا او اراده وه، هغه داسې چې زموږ يو شمېر کره او يادو ليکوالو له دې امله چې ګوندي  دا مجله به يوازې په پښتو ليکلي مضامين او مقالې خپروي او دا مجله به د يو چا د شهرت سبب شي، د دې لپاره چې ځينو کسانو ته هېڅ ډول پلمه په لاس ور نه شي، استاد يون په ياده مجله کې د مديره هيئت په توګه د خپل نوم له ليکلو هم ډډه وکړه او په دې ډول يې د ټولو تنګنظرو، متعصبو او کينه ګرو د تخريب مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیوله. استاد یون له دې ټولو ننګونو سره سره هغه ژمنه چې مجله به یوازې په پښتو ژبه وي، تر پایه عملي او یقیني کړه او له هر ډول ډار او جوړجاړي پرته پرمخ ولاړ. له نېکه مرغه تر هیلې مجلې وروسته ګڼې مجلې او چاپي رسنۍ په نړه پښتو چاپ شوې چې دا لړۍ اوس هم ښه په خوند او رنګ روانه ده.

راځو اصلي موضوع ته او هغه دا چې، د دې کتاب له خورو ورو لیکنو څخه زما برداشت او تآثر څه دی؟ هغه د هر چمن سخن خبره ده ، په دې مانا چې استاد یون کال دولس میاشتې او یا درې سوه پنځه شپیته ورځې ښه په غور او ځیرکتیا له کوم ځنډ او خنډه پرته د هېواد او سیمې حالات څارلي، څېړلي، غندلي او یا یې ستایلي دي، د هر عمل او سیاست پر وړاندې یې خپل مناسب او حقپالوونکی غبرګون ښودلی دی. استاد یون د یو زړور او بې پرې لیکوال په توګه د انسانیت او عدالت ملاتړ کړی دی، د ده قلم‌کله هم د چپ او ښي فکر، د تور او سپین انسان او د ختیځې او لویدیځې نړۍ سیاستونو تر خپل اغېز لاندې نه دی راوستی، یوازې د یوه لیکوال رول یې ادا کړی دی، که په سیمه کې یې د ترکانو پلار (مصطفی کمال) چې اوس یې ځینې، سیکولار سیاستوال بولي، ستایلی او د هغه د وخت له برم او تدبیر نه اغېزمن شوی، خو ورسره یې په هماغه سیمه کې د مصر د (محمد مرسی) د مبارزې پر حقانیت او د ده مرحوم د کلک عزم ستاینه هم کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دلته په کور دننه یې د خدای بښلي (عبیدالله بارکزي) پر مړینه تآثر ښکاره کړی او مرثیه یې پرې لیکلې، خو ورسره یې پر طالب پلوي (وحید مژده) هم کوکارې وهلي او ژړلي دي، پر (حسن حقیار) یې هم ناځوانمردانه برید غندلی او د اتل (ناکامورا) کارنامې او خدمتونه یې هم له پامه نه دي غورځولي، دا په حقیقت کې ټول د دې وطن ناخوالې او د ژورنالیزم رسالت، د یوه رشید قلموال دنده او د حوادثو پر وړاندې د هغه غبرګون او مسولیت دی.

یو بل څه چې ما په دې لیکنو کې پیدا کړل، هغه دا چې استاد یون څو بعدي لیکوال دی، یوازې مقالې نه لیکي او نه یوازې شاعر او ادیب دی، بلکې استاد یو ښه سیاستوال او د سیاسي چارو ښه شنونکی هم دی، هرکله یې په نظام کې شته ناخوالې ننګولي او چې کله یې بیا د ستایلو حقیقي ځای راغلی، بیا یې بې له درنګه ستایلی او ملاتړ یې هم کړی دی، خو چې کله هم پر دې پوهېدلی چې روان سیاسي چلند د هېواد لوړو ګټو ته زیان لري او یا په یوه نه یو ډول د هېواد له ملي ګټو سره په ټکر کې دی، نو په زغرده یې خپل مخالفت څرګند کړی او پر وخت یې د هغه پر وړاندې خپل غبرګون ښودلی دی، لکه د ټاکنو له بهیره نارضایتي، د اجرایه ریاست د وجود تکلیف او له اساسی قانون او هېواد لوړو ګټو سره یې ټکر، د سولې د بهیر څرنګوالی ( باعزته سوله څه مانا؟) او دې ته ورته نور مسایل. له بله پلوه کله چې یې مثبت او رغنده سیاسي او یا کلتوري کړنې او ګامونه لیدلي، لکه د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کالیزې په ویاړ د حکومت او ولسمشر اندک اجرات یا د هېواد په ځینو ولایتونو او سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د کلدارو په بدل کې د افغانیو ترویج اونورو کړنو یې پوره ملاتړ کړی دی، دا د دې ښکارندویي کوي چې لیکوال د چا خبره منفي باف نه دی او چې کله یې ځای راغلی ښه په نره یې مثبت ګرایي هم کړې ده. یوه بله خبره چې په دې کتاب کې ورته زما پام شو، هغه دا چې، استاد یون د سر لیکونو او عنوانونو په انتخاب کې د یوې خاصې سلیقې او ذوق خاوند دی، دا ښاغلی د عنوانو انتخاب څه عجیبه ډول کوي، هغه دا چې سرلیکونه یې ټول داسې وي چې تلوسه پیداکوي، څه موزون او حیرانوونکي سرلیکونه؛ په سرلیکونو کې څه عجیب او غریب ترکیبونه او د الفاظو او کلماتو توازن چې یو جادویي راښکون په کې موجود وي، د بېلګې په توګه (پرون، نن او سبا) یا (ښه نظام ، شته نظام او نه نظام) او یا (د پرون ، نن او سبا سړی) همدارنګه (له تلې تر لړمه)، یا بل عنوان ، د (چا په زمانه کې؟) همدا راز (امارت ، جمهوریت که انسانیت؟) او (د غني او عبدالله تر منځ د پښتنو غوړه مالانو ګرم بازار) او داسې ډېر نور سرلیکونه او عنوانونه چې لوستوال ته د لوستلو تنده ورکوي او لوستونکی هرومرو لوستلو ته هڅوي.

استاد یون د لوی افغانستان د یو ریښتیني او فکري داعي په توګه ان د لیکوالۍ له پیله بیا تر نه د لر او بر یو افغان، ناره ګرمه ساتلې او د پېښو او حوادثو په هر طوفان کې یې لر او بر یوازې ارمان نه، بلکې د مبارزې د عملي لارې څراغ او لارښود پاتې شوی دی، یوه زره هم له دې سپېڅلې داعیې څخه نه دی شاته شوی، په خپلو اکثرو لیکنو او غونډو کې یې دا ناره ګرمه ساتلې، ښه او غوره بېلګې یې د پښتنو او بلوڅو د پیوستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ؛ د وړي د میاشتې د نهمې نېټې لمانځل، څو ځله د پښتونستان واټ د لوحو نوی والی، د پښتون ژغورنې غورځنګ د مبارزو او غونډو لمانځل او ترسره کول، چې په دې لړ کې استاد یون پر شهید ارمان لوني، منظور پښتون، علي وزیر، کوچنۍ شهیدې فرشتې مومند او نورو مبارزینو د ملګرتیا او خواخوږۍ اوښکې تویې کړي دي او د لوی افغانستان د داعیې چغه یې دلته به بر کې ښه ګرمه ساتلې ده.

پر لیکوالۍ سربېره استاد یون یو ښه سیاسي تحلیلګر او د ملي او هېوادني سیاست او په تېره د ټاکنو برخه کې یو ښه څېړونکی او شنونکی هم دی، د بېلګې په توګه یې تاسې: « ټاکنې او برېښنایي تذکرې، د جمهور ریس غني بیا بریا ته پېښې ګواښونه، بې رایې مرستیالان، که ټاکنې ونه شي؟ نازک اکثریت څه ته وایي؟ د مکررو حوادثو مکرر تاریخ، ایا موږ ډېر چټک نه یو؟» او داسې نورې لیکنې چې د یوه حساس با خبره سیاسي شنونکي په توګه د یون پېژندنه کوي، ښې بېلګې دي.

همدا راز د دې کتاب لوستلو بهیر کې موږ ته پته لګېږي چې استاد یون په خپلو لیکنو کې څومره دقیق او حسابي سړی دی، په لیکنو او شننو کې د خپل ژور سیاسي لید له مخې وړاندوینه کوي، ارقام ورکوي او تر ډېره دا وړاندوینې او ارقام پر حقایقو او محاسبه ولاړ وي، لکه د جمهور رییس په توګه د غني بیا بریا ته پېښې ګواښونه، یوه وړاندوینه وه چې اوس یې پایلې په سترګو وینو، ایا موږ ډېر چټک نه یو؟  او یا نازک اکثریت څه ته وایي؟  د ارقامو او حساب د دقت ښې بېلګې راکوي، همدا راز (د پکتیکا ماستر پلان) لیکنه چې د حساب، کتاب او ژمنو او وعدو یوه ښه تابلو جوړوي، یې هم ښې بېلګې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې داکتاب لولو نو دا راته په ښه توګه ثابتېږي چې یو څوک له وخت څخه څنګه مناسبه ګټه اخلي؟ او یا وخت څنګه د خپل ځان تابع کولای شي؟ استاد یون پر یوه ورځ د کابل په څېر مصروف ښار کې یوولسو بېلابېلو ځایونو ته ځي، هلته خپل کتابونه وېشي، د دوستانو ملاقاتونه کوي او فرهنګي او سیاسي لیدنې لري، همدا تجربه یو ځل بیا په ختیځ ښار (جلال اباد) کې هم کوي او د وخت وېش او تنظیم یې د یوه ښه مدیر، پلټونکي او تعقیبوونکي په توګه کړی دی، استاد یون د وخت د تنظیم په اړه ښایسته مثال راوړی او په دې اړه د نوي کال تر سرلیک لاندې لیکنه کې، نوې خبره کوي چې :

((که موږ غواړو د زمانې ګړی وڅرخوو، نو په کار ده چې چټک ګامونه واخلو، مهمه نه ده چې د دې ګامونو ثمره دې زموږ په نامه یاده شي، وګورئ د ثانیه ګر ګرځېدل د دقیقه ګر او هغه بیا د ساعتګر په نامه تمامېږي، د یوه ملت د ژوند یوه مشخصه زمانه بیا د یوه واکمن په نامه یادېږي؛ د پلانکي په زمانه کې؛ زمانه یې د ځان تابع کړې وي.))

جالبه دا ده چې یون د زیاتو بوختیاوو او په ورځني ژوندکې له ډېرو ستونزو سره سره د بلا ډېرې حوصلې او زغم خاوند هم دی او د انتقاد زغملو غټه سینه هم خدای ورکړې ده، دلته له لیکنو یې جوتېږي چې خپلو منتقدینو ته پوره وخت ورکوي، چې د خپل زړه براس وباسي، خو بیا ښکنځلمارو او بې مروته منتقدینو ته د غوره مال هغه اصلي اصطلاح هم کاروي او یا په ډېره تونده ژبه ورته د ( لنډه غر)کلمه هم استعمالوي. دی که څه هم په دې ګروهه دی چې ښکنځلمارو ته ځواب ورکول د وخت ضیاع او د فکر تاوان دی؛ دوی ته باید په پرلپسې ډول په ډېر فرهنګي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي کار او فعالیت ځواب وویل شي، ترڅو بې اوره وسېزي، خو کله یې بیا ځینې لا منطقه منتقدین د منطق په څپېړه هم ساړه کړي دي.
زه په پای کې لوستونکو د دې کتاب لوستل ډېر ګټور بولم او په جرات سره دا خبره کوم چې د هېواد روانو پېښو ته په کتو د هرې خوالې او ناخوالې پر وړاندې د استاد یون غبرګون له ملي او هېوادنۍ مینې پرته نور څه نه دي، داکتاب راته استاد یون د یوه زړور، خبیر او ځیرک سیاستوال او لیکوال په توګه راپېژني او دا راته جوتوي چې یون د هېواد په کچه د زمانې په دې پېر کې د حساب وړ، با مسولیته او رسالتمندو لیکوالو څخه یو دی.

ډېر ګلونه زرغونېږي غرو رغو کې
په کې یو نیم د لیلی پېکي ته ورشي
الفت علیه الرحمه
په پوره مینه او درناوي
اول الرحمن رودوال
سید نور محمد شاه مېنه .کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۳۹۸ل) کال او زما دا ليکنې

دا ليکنې چې تاسو ګورئ او لولئ، دا د (۱۳۹۸ل) کال په بهير کې ليکل شوي او اکثره يې د همغو پېښنو او حالاتو انځورګري کوي، چې د همدې کال په بهير کې پېښ شوي او پر هېواد تېر شوي دي، يوازې دوه ليکنې: ((افغانستان کې څوک سوله نه غواړي؟) د (۱۳۹۵ل) کال په بهير کې ليکل شوې ده، څرنګه چې دا ليکنه زما په نورو چاپي اثارو کې نه وه چاپ شوې، نو ځکه مې دلته ورته خونديکول لازم وبلل او همدارنګه يوه بله ليکنه (پټه خزانه تر عظيم الشان قران وروسته) ليکنه، چې دويم ځلي خپرول يې ضروري وګڼل شول.

نورې ټولې ليکنې د (۱۳۹۸ل) کال په بهير کې ليکل شوي دي.

د (۱۳۹٦ل) کال په پای کې چې زه پنځوس کلن شوم، نو د خپل پنځوس کلن ژوند په بهير کې تر ممکنه بريده مې خپلې ټولې ليکنې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولې او د (نيمه پېرۍ يون) تر سرليک لاندې مې په (۱٤) بېلابېلو ټوکونو کې چاپ کړې. هغه وخت زما هڅه دا وه چې خپلې ټولې ليکنې بايد په دې (۱٤) ټوکيزو اثاروکې خوندي کړم، خو زما له هڅو سره سره بيا هم ځينې ليکنې پاتې شوې، پر (۱۳۹۷ل) کال مې د همدې کال په بهيرکې د ليکل شويو ليکنو ټولګه (محروميتونه) چاپ کړه. هدف مې دا و چې ليکنې بايد په چاپي بڼه خوندي شي، که څه هم د دې ليکنو زياته برخه د اوسنيو برېښنايي رسنيو له لارې خپره شوې وه، خو په چاپي بڼه يې خپرول هم بې ګټې نه و. اوس چې دا ليکنې لولئ، دا هم د تېر (۱۳۹۷ل) کال د ليکنو په تعقيب د (۱۳۹۸ل) کال د ليکنو ټولګه ده. د دې ليکنو د چاپ هدف دا دی چې د دغې زمانې د ناخوالو تصويرونه راتلونکي پښت او راتلونکې زمانې ته انتقال شي، هره ليکنه بايد د خپلې زمانې د يوې پېښې تصوير راتلونکې زمانې ته انتقال کړي. دې ټولګه کې ډېرې وړې ليکنې هم شته او د منځنۍکچې هغه هم. لنډې ليکنې اکثره د فيسبوک او نورو برېښنايي رسنيو له لارې خپرې شوي دي، اوس دا يو دودګرځېدلی چې په برېښنايي رسنيوکې څوک اوږدې ليکنې نه لولي، دا ډول ليکنې که څه هم د يوې پېښې او يوې موضوع بشپړ تصوير نه شي وړاندې کولای، خو بيا هم د پېښو په ثبت کې مرسته کولای شي. موږ له نورو ليکوالو هم هيله کوو چې خپلې ليکنې سره راټولې او په منظم ډول چاپ کړي. که زما دا او دېته ورته نورې ليکنې د پېښو د واقعي ثبت او انځورنې په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل اغېز ولري او د حال او راتلونکي نسل د ذهني روښانتیا سبب شي، نو دا به زما لپاره د روحي ارامۍ او خوښۍ سبب شي. دې لیکنو کې دردوونکې لیکنې هم شته او دا ځکه چې دا کال هم زموږ د هېوادوالو لپاره ډېر دردوونکی و، خدای (ج) دې وکړي چې (۱۳۹۹ل) کال زموږ د هېوادوالو لپاره د خوښۍ او سوکالۍ کال وي. هغه وخت به لیکوال هم د دې جوګه شي چې د خوښۍ پېښې لکه څنګه چې دي همغه ډول انځور کړي.

په هېوادکې د سولې او ثبات د ټینګښت

او سوکاله ژوندون په هیله

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون

(۱۳۹۸ل) کال، د کب (۲۹)مه

کابل– افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان کې څوک سوله نه غواړي؟

## (د ملي درسونو دویم پړاو)

## لومړی درس

دا لیکنه د ((ملي درسونو)) د لړۍ یوه کړۍ وه، چې د (۱۳۹۵)ل کال د ثور پر (٦)مه نېټه په یاد پروګرام کې اورول شوې وه. پر (۱۳۹۸ل)کال یانې شاوخوا درې کاله او پنځه میاشتې وروسته په کابل کې (افغان امن نړیوال کنفرانس) جوړ شو، په دې کنفرانس کې یو ځل بیا په افغانستان کې د سولې پر کړلېچن بهیر، ستونزو او حل لارو باندې بحث ته اړتیا پیدا شوه، یو ځل بیا د دې لیکنې اورولو ته اړتیا محسوس شوه، همدا لیکنه هلته ولوستل شوه، البته یو لږ بدلونونه هم په کې راوړل شول او د وروستیو درې– درې نیم کلونو حالاتو ته هم په کې نغوته وشوه. څرنګه چې هغه زیاتونې د ټلوېزیون له لارې خلکو اورېدلې دي، نو نه غواړم له اصلي لیکنې سره یې یو ځای کړم، دا دی دلته همغه لیکنه کټ مټ راوړم چې پر (۱۳۹۵ل) کال لیکل شوې وه.

د (۱۳۵۷ل) کال د ثور پر اوومه نېټه (شپږم ماښام، اومه ورځ) د افغانستان خلکو دیموکراتیک ګوند د یوې پوځي کودتا له لارې د سردارمحمد داودخان جمهوري نظام رنګ او پرځای یې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت اعلان کړ.

هغه وخت زه (یون) د شپږم ټولګي زده کوونکی وم. اوس چې (۱۳۹۵ل) کال د ثور شپږم ماښام دی او سبا یې د ثور اوومه نېټه ده. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د پوهاندۍ علمي رتبې ته رسېدلی یم. پوره (۳۸) کاله شول، خو جګړه لاهم روانه ده. جګړې یو نسل په بشپړ ډول تر ستوني تېر کړ او د دوو نسلونو نیم عمر په جګړه کې تېر شو. تر صلیبي او ځینو نورو




جګړو وروسته په افغانستان کې روانه جګړه د نړۍ د جګړو په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه ده. چې بې شمېره زیانونه یې اړولي دي. دلته به د دې جګړې د زیان څرنګوالي ته هم لږ تم شو:

**د جګړې زیانونه:** دې جګړې په (۳۸) کلونو کې تر یونیم ملیون زیات افغانان شهیدان کړي، دوه ملیونه یې معلول کړي، تر (۱۰) ملیونو زیات یې د هېواد په داخل او هېواده بهر مهاجرت ته اړ کړي دي، د لسو ملیونو افغانانو د لوستوالۍ مخه یې نیولې، دوه ملیونه کورونه یې ړنګ کړي، تر درې زرو زیاتې لویې او وړې فابریکې یې له منځه وړي دي، تر څلورو زرو زیات ښوونځي یې ړنګ کړي، په سلګونو ملیارده ډالره اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیان یې اړولی او د هېواد کلتوري، ملي او دفاعي ارزښتونه او استحکامات یې زیانمن کړي دي.

د زیانونو دا لړۍ لا هم روانه ده. اوس راځو دې پوښتنې ته چې چا په افغانستان کې سوله نه ده غوښتې، څوک د دې جګړې لوبغاړي وو او دا لړۍ ولې دومره اوږده شوه؟

## د سولې مخالفین او د جګړې لوبغاړي څوک دي؟

له (۱۳۵۷ل) کال څخه بیا تر دې دمه سولې وخت پر وخت خپل مخالفین لرلي او جګړې بېلابېل پړاوونه وهلي دي، غواړو دلته ورته په ډېر لنډیز سره نغوته وکړو:

لومړی پړاو: د (۱۳۵۷ل) کال د ثور پر اومه تر پوځي پاځون او کودتاه وروسته واکمن ګوند غوښتل خپل مخالفین د برچې په زور له خپلې مخې لرې کړي. تر (۱۸) میاشتني زور کارونې وروسته پوه شول چې په زور کلي نه کېږي. ویل کېږي په پېښور کې مېشت د وخت د نظام اصلي مخالف مشر (انجنیر ګلبدین حکمتیار) او د کابل د حکومت مشر (حفیظ الله امین) یوې نسبي روغې جوړې ته نږدې شوي وو. دا حالت د امین کورمېشتو او بهر مېشتو مخالفینو نه شو زغملای، نو ځکه خو ټول سره لاس په کار شول او د دې پلان مخه یې ونیوله.

دویم پړاو: د (۱۳۵۸ل) کال د جدي پر (٦) مه نېټه پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، حفیظ الله امین یې وواژه او ورسره یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلق ډلې حکومت ړنګ او د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې مشر (ببرک کارمل) یې پر خپلو ټانکونو سور د کابل پر واک واکمن کړ. دې کار سره جګړې زور واخیست او په ټول هېواد کې د شوروي د یرغل او روس پلوي نظام پرضد پاڅونونه پیل شول، دې لړۍ اوه نیم کاله دوام وکړ.

درېیم پړاو: کله چې شوروي مشران له خپلې بریا نهیلي او پر خپلې ماتې باوري شول، نو د خپلو عسکرو د ایستلو په لټه کې شول، کارمل د شوروي لښکرو له وتلو سره مخالفت وکړ او ډاکتر نجیب الله ملاتړ، نو ځکه خو د کارمل پرځای د نجیب الله ګومارنه ترسره شوه. ډاکتر نجیب الله د ملي روغې جوړې تګلاره او یو اړخیز اوربند اعلان کړل، خو جهادي مشرانو او تر شا یې د پاکستان استخباراتو د ډاکتر نجیب الله د روغې جوړې سیاست رد کړ او جګړه یې جاري وساتله. پر جلال اباد ښار د پاکستان درې قول اردو او نږدې شل زرو مجاهدینو منظم یرغل وکړ، خو دا یرغل د وخت د حکومت د منظم پوځ د ټینګ مقاومت له امله له ماتې سره مخ شو.

څلورم پړاو: ډاکتر نجیب الله لا خپل حاکمیت ته دوام ورکاوه چې شوروي اتحاد ړنګ شو، د اسلامي جمعیت مشرتابه چې له پخوا څخه یې له شوروي اتحاد سره د اړیکو اسناد خپاره شوي وو، له یو شمېر نورو جهادي مشرانو سره مسکو ته سفر وکړ، استاد رباني له روسي مشر (بورس یلتسن) سره په خصوصي ډول وکتل او هغه ورسره واک ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسونې ژمنه وکړه. پرچم ډلې، جمعیت او نظار شورا، وحدت ډلې او د ډاکتر نجیب الله په لاس جوړ شویو ملېشو په جبل السراج کې ائتلاف وکړ، د ملګرو ملتونو د سولې پلان یې شنډ او د ډاکتر نجیب الله حکومت یې ړنګ کړ.

پنځم پړاو: د حضرت صبغت الله مجددي له دوه میاشتني تمثیلي حکومت او ورپسې د استاد برهان الدین رباني له څلور میاشتني حکومت سره جنګونو زور واخیست، دې جګړو څلور نیم کاله دوام وکړ، یوازې په کابل ښار کې (٦٥ زره) کابل ښاریان ووژل شول او (٨٥ زره) کورونه ړنګ شول.

شپږم پړاو: خلک له تنظیمي جنګونو تر پوزې راغلل، دا مهال د (ملاعمر) په مشرۍ د طالبانو اسلامي تحریک په نوم په کندهار کې یو نوی حرکت پیل شو، خلکو یې هرکلی وکړ، دوی لومړی کندهار، بیا شاوخوا ولایتونه: هرات بیا کابل او د هېواد شمال ولایتونه ونیول او د برهان الدین رباني په مشرۍ اسلامي دولت یې په پنځه سلنه خاوره کې را ایسار کړ. د هېواد په اکثره سیمو کې د شریعت په انګېزه او د برچې په وسیله امن ټینګ شو.

اووم پړاو: د طالبانو او نړیوالې ټولنې په تېره بیا د لویدیځې نړۍ ترمنځ اوړدې ناندرۍ پیل شوې، د (اسامه بن لادن) پر سر خبره د توغندیو کارونې ته هم ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د (۲۰۰۱) میلادي کال د سپتمبر پر یوولسمه نېټه پر نیویارک او پنټاګون مرکوني ګوزارونه وشول، د امریکا پوځي عزت او طاقت تر پوښتنې لاندې راغی، امریکا پړه د اسامه پر مشرۍ پر القاعدې ډلې واچوله او د دوو میاشتو په بهیر کې یې د طالبانو نظام ړنګ کړ.**

**اتم پړاو: د امریکا پوځي حرکت دومره چټک و چې سیاسي بهیر تر پوځي عمل ډېر شاته پاتې شو، پخوانۍ شمالټلوالې ته چې دا مهال د مرګ پر پوله ولاړه وه، یو ځل بیا د دې چانس مساعد شو چې د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې پر کابل واکمنه شي. د بن په کنفرانس کې طالبانو او اسلامي حزب له نظره وغورځول شول او د دښمن په سترګه ورته وکتل شول. (۹۰) سلنه واک نظار شورا او اسلامي جمعیت ته ورکړل شو. حامدکرزی او (۱۷) تنه نور تکنوکراتان د سمبولیکو واکمنو په توګه حکومت ته داخل شول، یادې ډلې او ډلو د بهرنیو په مرسته قومي تعصب، پخوانیو سیاسي کینو او ژبني تعصب ته پراخه لمن ووهله. د نوي حکومت په لومړیو دریو کلونو کې د طالبانو فعالیتونه په نشت حساب وو.**

**خو په حاکمیت کې واکمن قومي او ژبني تعصب طالبانو ته د دې زمینه برابره کړه چې خپلې لیکې په دفاعي بڼه بیرته منظمې کړي. درې څلورکاله وروسته طالبان دفاعي او بیا تر هغه وروسته تعرضي حالت ته داخل شول.**

**نهم پړاو: د حامدکرزي تر (۱۵) کلن حاکمیت وروسته خلک ډاکتر اشرف غني ته هیله من وو چې له طالبانو او نورو مخالفو ډلو سره به د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سولې بهیر یو جوت او ځرګند حالت ته ورسوي. خو د ګډوله حکومت په جوړېدو سره هغه هیلې پر نهیلۍ بدلې شوې.

**لسم پړاو:** طالبانو له چریکي جګړو څخه جبهه یي جګړو ته مخه کړه. دفاعي حالت یې پر بشپړ تعرضي حالت بدل کړ، د ولسوالیو له سقوط څخه خبره د ښارونو او ولایتونو سقوط ته راورسېده او پر عادي دولتي تاسیساتو باندې له بریدونو څخه خبره پر ډېرو مهمو امنیتي بنستونو پورې بریدونو ته ورسېده.

دا د جګړې د بهیر یو لنډ زماني انځور و چې دلته یې یادونه وشوه. اوس راځو د جګړې کورنیو او بهرنیو لوبغاړو ته چې دا هم څو اړخونه او څو پړاوونه لري:

**لومړی لوری لومړی پړاو:** دا د خلکو دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ څوارلس کلنه دوره ده. د جګړې کورني لوبغاړي د خلکو دیموکراتیک ګوند (خلق+ پرچم ډله) او د هغوی متحدین، بهرني ملاتړي یې شوروي اتحاد او نړیوال کمونیستي بلاک. په بله خوا کې مخالف لوری د مجاهدینو اوه + اته تنظیمونه او د هغوی کورني متحدین، بهرني ملاتړي یې، پاکستان، ایران، سعودي عربستان، زیات شمېر عربي هېوادونه، د امریکا متحده ایالتونه او لویدیزه نړۍ.

**دویم پړاو او مقابل لوري:** د ډاکتر نجیب الله د نظام تر ړنګېدو وروسته، تنظیمي جنګونه په دې پړاو کې شاملېږي، لوبغاړي یې: د رباني په مشرۍ د کابل رژیم، اسلامي جمعیت او د هغه متحدین، بهرني ملاتړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې، روسيه، د مرکزي اسيا هېوادونه، کله ناکله ايران، مخالف لوری يې د حکمتيار په مشرۍ اسلامي حزب او د هغه متحدين، بهرني ملاتړي يې تر يوه بريده پاکستان، سعودي عربستان او د خليج هېوادونو ځينې خاصې کړې.

**دريیم پړاو او لوري:** د اسلامي جمعيت او طالبانو ترمنځ د جګړو مهال رانغاړي، مقابل لوري د رباني په مشرۍ شمالټلواله، بهرني ملاتړي يې روسيه، د مرکزي اسيا هېوادونه، هند، ايران، يو شمېر اروپايي هېوادونه او ځينې نور، مخالفين يې طالبان د هغوی رژيم، ملاتړي يې پاکستان، سعودي عربستان متحده عربي امارات او په خليج کې يو شمېر خاصې کړې.

**څلورم پړاو او مقابل لوري:** د امريکا په مشرۍ د طالبانو د نظام رنګول. د حامدکرزي په مشرۍ موقت او بيا انتخابي حکومت، د قدرت اصلي زړی اسلامي جمعيت او پخوانۍ شمالټلواله، تکنوکراتان د افرادو په توګه او يو شمېر چپي ګوندونه، بهرني ملاتړي يې د امريکا په مشرۍ لويديځه نړۍ او نږدې (٦٠) هېوادونه مخالف لوری طالبان د هغوی کورني متحدين، بهرني ملاتړي يې د پاکستان مذهبي او استخباراتي سازمانانونه او په خليج کې يو شمېر کړې. د اسلامي حزب يوه برخه هم په مخالف لوري کې واقع وه.

**پنځم پړاو او مخالف لوري:** د ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله تر مشرۍ لاندې د ملي وحدت حکومت په نامه چوکاټ کې راټاله شوي بېلابېل تنظيمونه، د قدرت اصلي سرچينه شمالټلواله، غني او په هغه پورې تړلي يو شمېر اشخاص، د قانوني سرپوښ په توګه، بهرني ملاتړي يې د امريکا متحده ايالتونو په مشرۍ، اروپايي او لويديز هېوادونه، په مجموعي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٤٧) هېوادونه، روسیه، ایران او ځینې نور هېوادونه بیا په مشخص ډول د ټلوالې ملاتړي.

طالبان د اصلي مخالفینو په توګه، د اسلامي حزب یوه برخه هم د مخالف په توګه، د پاکستان اسخبارات بیا د یوه اصلي مخالف د ملاتړي په توګه. په دې ډول نو جګړه له یوه پړاوه بل ته داخله شوې او لا هم داخلېږي. دا چې دا جګړه ولې دومره اوږده شوه بېلابېلې پلمې او انګېزې یې لرلې، غوارو دلته همدې پلمو او انګېزو ته تم شم.

## د جګړې پلمې انګېزې:

کله چې د جګړې تر شا غټې زبرځواکونه، ستراتیژیک هدفونه او ایډیالوژیک جریانونه ولاړ وي، نو د هغې جګړې د تداوم لپاره د پلمو او انګېزو پیداکول سخت‌کار نه دی. په افغانستان‌کې د (۳۸) کلنې جګړې په بهیر کې هم‌ګڼ شمېر اصطلاحات د انګېزو د پیداکولو لپاره وکارېدل چې دلته یې په لنډیز سره یادونه‌کوو. اشرار، مجاهد، مهاجر، کمونیست، کافر، مشرک، ملحد اخوان المسلمین، اخوان الشیاطین، مخالف، افراطي، وطن پلور، وطن دوست، ترقي، ارتجاع، کمونیزم، امپریالیزم، ایډیالست، ماټریالست، مقاومت، شرو فساد، ولسواکي، خلق، ولس، طالب، تروریست، ترهګر او داسې نورې نومونې چې تر ننه لا کارېږي. دا اصطلاحات د غټو، لویو، پټو او ښکاره اهدافو د انګېزو لپاره وکارېدل، په مجموعي ډول‌که موږ د جګړې له پیله بیا تر دې دمه پورې د جګړې ټول حجم، ټولې خواوې او ټول وسایل محاسبه‌کړو، نو دا جګړه یوه نړیواله جګړه ګڼل‌کېدی شي، یا هم افغانستان د نړیوالې جګړې مستقیم او نیابتي ډګر. د نړۍ هېڅ داسې هېواد به پیدا نه شي چې د افغانستان په جګړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په مستقيم او نامستقيم ډول ډوډۍ، ګولۍ، او روپۍ نه وي لګېدلي، د دې ټولو لګښتونو جانبي عوارض دادي چې زموږ هېواد کې لا هم جګړه توده وه او تر دې دمه يې راغځولې ده. دا چې اوس د جګړې څرنګوالی په کوم حالت کې دی، غواړو دلته په لنډيز ورته نغوته وکړو.

**اوسنی حکومت او د جګړې اوسنی حالت:** د رواني میاشتې پر (٦)مه نېټه ډاکتر غني د ملي شوراګډې غونډې ته په زړه يوه او په خوله بله عجيبه وينا وکړه، د شمالټولوالې تر زيات فشار لاندې يې د هغوی له دوديزې ترمينالوژۍ سره سم د تروريستانو پر ضد د جګړې اعلان وکړ، خو په زړه کې پر دې پوهېده چې د دې جګړې مهارول دده په وس کې نه دي. خو بيا هم ده خپلو مخالفينو ته څرګند او ناڅرګند ګواښونه وکړل. دلته غواړو د غني د ببوسۍ ځينو ټکو او په اوسني حکومت کې د غني د واک موازنې ته لنډه نغوته وکړو:

**د ملي وحدت په حکومت کې د واک انډول:** که څه هم ډاکتر غني د وسلوال پوځ د اعلی سر قومندان په توګه يادېږي، خو په اوسني پوځ کې د غني ونډه ډېره خواره ده. اوسنی پوځ، نه له سياسي، نه له سمتي، نه له ژبني، نه له فکري او نه هم له قومي پلوه د غني تر وزرونو او اوامرو لاندې دی. پوځ د وسلو او معيشت له پلوه بهرني ملاتړ پورې تړلی، د انګېزې له مخې هم له بحران سره مخ دی او د جوړښت له پلوه، سيمه ييزه، تنظيمي او قومي بڼه لري. يوازې يوې شمېرنې ته به نغوته وکړو: د قومي ترکيب له مخې په ملي دفاع وزارت کې په سلو کې (٧٢) سلنه لوړپوړي صاحب منصبان تاجکان او (٢٢) سلنه يې پښتانه او پاتې نور يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو قومونو پورې اړه لري، له سیاسي پلوه حالت تر دې هم بدتر دی. د دفاع وزارت غوڅ واک لـه اسـلامي جمعیـت او د هغـه لـه موئتلفـو تنظیمونو سره دی. نو په داسې یو حالت کې د غني اعلی سر قومنداني اوبو ته د خیال تېرول دي. دکورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست کې حالات تر دې هم بدتر دي او غني یې د سمون وړتیا هم نه لري. په داسې یو حالت کې د مخالفینو پر وړاندې د جنګ اعلان څه مانا او څه پایلې لري؟ غواړو د دې ډول اعلانونو احتمالي نتایجو ته هم لږ تم شو.

**د جنګ د اعلان اټکلېزې پایلې:** دې اعلان سره به جګړه نوره هم ګرمه شي. طالبان او د هغوی بهرني ملاتړي به هم خپل ټول زور او توان څرګندکړي، په جګړه‌کې د طالبانو موقعیت هغوی ته د دې زمینه برابروي چې په‌کمو تلفاتو مقابل لوري ته زیات زیان ورسوي.

د طالب ځای، مهال او مورچل معلوم نه دی، خو د حکومتي ځواکونو موقعیتونه ثابت دي. داکار د جګړې د پټ لوري په‌ګټه پربوزي، له داسې یو حالت څخه به حکومت‌کې واکمنې متعصبې ډلې ناوړه‌ګټه پورته‌کړي او د هغو سیمو خلک به ډېر وځپي، چې طالب له هغو سیمو حرکتونه ترسره‌کوي. طالب د خرپ او ترپ جګړه‌کوي، د ولس له منځه ډز کوي، خو کله چې مقابل لوری پرې‌ګوزار کوي، طالب بیا له هغه ځایه پښې سپکوي، نو دې حالت کې ولس زیات زیان ویني، دا زیان د دې سبب‌ګرځي چې ولس د حکومت پر وړاندې نفرت پیداکړي. داکرکه تر جمهور رییسه رسېږي، په دې ډول په حکومت‌کې پټ حکومتي مخالفین

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکومت له امکاناتو څخه د حکومت د کمزورۍ لپاره کار اخلي، دا ډلې د دې شریک حکومت له وسایلو ګټه اخلي او د خپلو قومي کینو د سړولو لپاره د خلکو په ځورونې لاس پورې کوي. دا کار په پای کې د حکومت پر وړاندې د خلکو پاڅونونو ته لاره برابروي او د مخالفینو د لیکو د پراختیا سبب ګرځي.

کله چې حالات له هرې خوا بحراني وي؛ ملت د اور په بټۍ کې وریتېږي، نو طبیعي خبره ده چې هر چا سره دا پوښتنه مطرح کېږي چې د خلاصون کومه لاره او د رڼا کوم څرک هم شته او که نه حالات به همداسې روان وي؟

په پښتو کې یو متل دی چې که غر لوړ دی، پر سر یې لار شته، دلته غواړو له همدغو سختو لارو څخه یو څو لارو ته په لنډیز سره نغوته وکړو:

څو حل لارې: دا خبره باید ټولو ته په ډاګه شي چې په افغانستان کې روانه جګړه کورنۍ نه ده، بلکې الهام، روحیه، امکانات او ستراتیژي ټول یې بهرني دي. جغرافیه د افغانستان ده او د جګړې بشري قوه له افغانانو جوړه ده. افغانان د سون توکي دي او زموږ جغرافیه د جګړې لابراتوار دی. دا چې څنګه به دا لابراتوار وتړل شي، د دې لپاره باید کورني او بهرني ټول امکانات وکارول شي. تر هر څه وړاندې باید بهرني جګړه ییز عناصر مهار شي، یو شمېر بهرنیان سوله غواړي، خو زموږ یو شمېر ګاونډي هېوادونه له هغې ډلې پاکستان او ایران په هېڅ وجه سولې ته تیار نه دي، د هغوی کورني پلویان هم سولې ته لېوال نه دي. د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت کې ملي او مثبت عناصر بايد له ټولو ممکنو لارو خپل نړيوال دوستان؛ د امريکا متحده ايالاتونه او نور ستر ځواکونه پر دې قانع او پوه کړي چې ايران او پاکستان مهار کړي او که چېرې دوی هم د دې لوبې يوه برخه وي، نو بيا دې دا واقعيت له ولس سره شريک کړي چې هم يې خپل ولسونه او هم د همدغو لويو ځواکونو ولسونه پر دې واقعيت خبر شي.

د (۳۸) کلنۍ جګړې په بهير کې د جګړې اکثره کورني او بهرني لوبغاړي بدل شوي يا يې تاثيرات کم شوي او يا يې موقعيتونه عوض شوي، خو د جګړې په بهرنيو لوبغاړو کې په لومړي ګام کې پاکستان او په دويم ګام کې ايران هغه لوبغاړي دي چې موقعيتونو يې بدلون نه دی کړی او له (۱۳۵۷ ل) کال راهيسې په مسلسل ډول په افغانستان کې خپلې ستراتيژۍ عملي کوي. د جګړې په کورنيو لوبغاړو کې اسلامي جمعيت چې وروسته ورسره پرچم او ستم ډلې هم يوځای شوې، هغه ډله ده چې د جګړې له پيله د يو کورني عنصر په توګه مطرح ده. د حکمتيار اسلامي حزب د يوه مخالف په توګه لوبېږي او طالبان د جګړې اوسنی اساسي لوری دی. که غواړو چې سوله راشي بايد د ټولو مطرحو غاړو ټول نامشروع حرکات کنټرول شي.

د حکومت داخل کې فوق العاده اصلاحاتو ته اړتيا ده. امنيتي ځواکونه بايد په واقعي مانا ملي شي؛ د جنګسالارانو له انحصاره راووځي او د افغانستان ټولنيز واقعيتونه منعکس کړي، مسلکي او ملي بڼه بايد خپله کړي، عقيده، انګېزه، وسله او مهمات ټول بايد ولري، قضايي ارګانونه او انتخاباتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېسیونونه باید مسلکي او ناپیيلي وي. فسادګر، جنګسالاران، مافیایي ګروپونه او د مخدره موادو کاروباریان باید د حکومت له لیکو لرې شي، د قانون حاکمیت بله اساسي لاره ده چې سولې ته لاره برابروي. که داخلي ریفورم ترسره شي، د بهرني دښمن یا مخالف پر وړاندې مقابله څو ځله اسانېږي.

په لنډه وینا د بهرنیو مداخلو کنترول او داخلي سمون د دې سبب ګرځي چې په هېواد کې سوله او ثبات ټینګ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرون، نن او سبا

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د مارچ پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (وري) له لومړۍ نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

دا دی یو بل کال هم را دبره شو، پروسږکال مو پر همدې ورځ دې وخت ته نوی کال وایه، خو سږ کال ورته زوړ کال وایو او اوسمهال ته نوی کال، خو کال دا وخت به دې کال ته زوړ کال وایو. وګورئ زموږ



نظر څومره ژر ژر بدلېږي، زموږ نظر د وخت تابع دی، موږ ټول د وخت تابع یو، نو که بیا څوک موږ ته د وخت زامن ووایي، حقیقت وایي. موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله وخت د ځان تابع نه کړ، نه مو ځان تر وخت دمخه کړ، هرکله موږ تر زمانې شاته پاتې یو، نو وخت دمخه او موږ ورپسې یو. زمانه تېرېږي شاته نه ګوري، د چا لیاز هم نه کوي، که چا ترې ګټه پورته کړه او که له چا یې ګټه پورته کړه. زموږ پرون که څومره بدرنګ و، نن راته ښه ښکاري او نن که مو هر څومره ښه وي خو موږ ته بد ښکاري او غندو یې، د سبا په هیله نن هم پر ځان تریخ تېروو او د ژوند د ارهټ منګوټی همداسې پسې اړوو. څوک به موږ پر دې راز پوه کړي چې پرون د تاریخ حافظې ته وسپارو، له نن څخه خوند او ګټه واخلو او د سبا د سوکالۍ لپاره کار وکړو؟؟ زه خو غواړم خپل ځان د زمانې د راز په همدې تله وتلم، تېر کال زما لپاره د ډېرو ستړیاوو، خو ډېرو بریاوو کال و، سږ کال ته هم پلان لرم او که ژوند و د راتلونکي کال لپاره هم پلان ترتیبوم. که موږ غواړو د زمانې ګړۍ وڅرخوو، نو په کار ده چې چټک ګامونه پورته کړو، مهمه نه ده چې د دې ګامونو ثمر دې زموږ په نامه یاد شي، وګورئ دثانیه ګردګردښت د دقیقه ګرد او د هغه بیا د ساعت ګرد په نامه تمامېږي. د یو ملت د ژوند یوه مشخصه زمانه بیا د یو واکمن په نامه یادېږي؛ د پلانکي په زمانه کې. زمانه یې د ځان تابع کړې ده. اوس نوی کال څه د ویاړ او خوشالۍ خبره نه ده، حقیقت دا دی چې په هر نوي کال سره زموږ د عمر یو کال کمېږي، خو بیا هم ورته خوشاله یو. نوي کال کې طبیعت خپل ټول طبیعت بدلوي، خو که موږ په خپل طبیعت او فکر کې بدلون رانوست، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا داچې پرمختګ مو نه دی کړی. عجیبه خبره خو دا ده چې د دښتو په بڼه کې بدلون راځي، خو زموږ په فکر او شکل کې تغیر نه راځي، نو راځئ چې د موسم په بدلون سره خپل فکر کې هم بدلون راولو او ځان د خدای د پنځول شوي طبیعت پر رازونو پوه کړو. خدای هم نه بدلوي حال د هغه قام – څوک چې نه بدلوي خپل حالت په خپله. زه خو نوي کال ته له دغه لیدلوري ګورم چې په خپل ژوند او فکر کې بدلون راولم او له یوه منظم پلان سره سم له وخته ګټه واخلم. نور نو ستاسو خپله خوښه چې له وخته شاته پاتې کېږئ، له وخت سره سم ځئ او که تر وخت دمخه؟ خو دې پوښتنو سره سره مو بیا هم نوی کال مبارک شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نوي کال پر لومړۍ ورځ مې څه وکړل؟

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د مارچ پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د وري میاشتې له (لومړۍ) نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

غیرت چې تر نورمال او ضروري حالته پورته شي، هغه ته جهالت ویل کېږي. اکثریت افغانان د غیرت په همدغه پړاو کې واقع دي. اسلام منم خو د ښځو حقوق نه منم ، افغانیت منم خو پر مېرمن او اولادونو د ازادۍ او تعلیم لورپینه نه کوم. د پیغمبر(ص) د مبارکو بیبیانو نومونه پر منبر او مناره یادولی شم، خو د خپلې بي بي د نوم په اخیستلو مې وېښتان جګېږي. علم، حلم، پرمختګ او سوکالۍ ته ښه بې غیرته یم،



خو پر کور او کلاکې د خور، لور او مېرمنې په حصارولو ښه غیرتي یم:

ښې دنګې کلاګانې کې بندي پښتنې پېغلې

بس دغه ته غیرت وایي زمونږ د کلي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو چې د دین او کلتور په نامه دا دین دښمنه او کلتور دښمنه دود مات نه کړو، نو نه به مورې له زاړه کاله پند واخلو ، نه به له نوي کاله خوند او نه به سوکالۍ ته لاره پرانیزو. نن مې د نورو مضره دود ماتوونکو کارونو په څېر یو بل زوړ دود هم مات کړ؛ له خپلو اولادونو او مېرمن سره د نوي کال په ویاړ له کوره لرې ووتلم. څو ورځې مخکې مې اولادونه لغمان ته بوتلل، لغمان یې ډېر خوښ شو. نن سهار وختي کورنۍ ته لاړو. سید محمود پاچا صیب ته دې خدای(ج) نور هم عزت او



دولت ورکړي، زموږ ډېر عزت یې وکړ. ماشومان او نور مېلمانه د هغه په ښکلي بڼ کې ښه ډېر وګرځېدل، د بڼ ګلونو او د کونړ پر غځېدلې لارې شنې فضا ډېر خوند وکړ. د ماشومانو روح تازه شو او له خپل وطن سره یې مینه لا زیاته شوه. غرمه مهال کوز کونړ شګې کلي(زما د مېرمنې پلرنی ټاټوبي) ته راغلو. شنې صحرا د سرې روح تازه کاوه. بیا د کامې پله څنګ ته راغلم ، هلته مې د هغې نوې جوړېدونکې ودانۍ په شنه ساحه کې ښکلي زینتي بوټي کېنول چې که خدای(ج) کول د همدې کال په بهیر کې به په کې د خلکو لپاره یو ګټور پوهنتون جوړ شي. ماښام ناوخته جلال اباد ښار ته راورسېدو، ماشومان ښه ستړي خو ښه خوشاله وو. د دې داستان له لیکلو مې هدف دا دی چې ټول هېوادوال سړيتوب، مینې، عاطفې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانیت ته راوبولم. دا کار هله عملي بنه خپلوي، چې هر افغان خپلې مېرمنې ته د پوره انسان په سترګه وګوري، له ځان سره ورته مساوي حق ورکړي، په اولادونو کې د لور او زوی توپیر و نه کړي او لکه څنګه چې دین پر نرینه او ښځینه د علم زده کړه یو شان فرض کړې، همدې فرض ته غاړه کېږدي او عملي بڼه ور واغوندي. کوم څه چې اوس زموږ په ذهن کې د غیرت په نامه تداعي کېږي هغه په واقعیت کې عملي جهالت دی، بل څه نه دی. زموږ په شان نرواکه ټولنه کې، چې په واقعیت کې نر د کورنۍ مشر ګڼل کېږي، نو که نر اصلاح نه شي د کورني سمون راوستل شونی نه دی، نـــــو راځـــــئ چـــــې تـــــر ټولـــــو لـــــومړی د



نر اصلاح ته ملا وتړو او د جهالت په نښه شخ برېتونه یې د عقل په بیاتي ور اصلاح کړو. له دې لیکنې متن سره مې د خپلې مېرمنې (ارین یون) لوڼو (هیلې او سولې) او همدا رنګه زوی (ودان) انځورونه هم خپروم. بل زوی مې (سمسور) دا مهال بهر کې زده کړې کوي، نو هر چا که د دې انځورونو پر ضد منفي غبرګون وښود، نو دا به هم د همغو کسانو له شمېره وي چې وچ جهالت ته سوچه غیرت وایي. د ټولنې د هر اړخیز سمون پر لوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((ښه)) نظام، (( شته)) نظام او (( نه)) نظام

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (مارچ) پر (۲۲)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (وري) له (دویمې) نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نظام د (نظم) له کلمې څخه رغېدلی دی. ضد مانا یې ګډوډي او بې نظمي ده. خپله نظم له لغوي پلوه د مرغلرو پیېلو ته ویل کېږي. په ورځني ژوندکې د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او نورو ډول ډول



نظامونو له اصطلاحګانو سره مخامخېږو، چې پر ټولو دلته بحث شونی او ضروري نه دی. دلته غواړو د خپل اوسني سیاسي نظام پر څرنګوالي او هغه ته پر متوجه ګواښونو او حل لارو لنډ بخث وکړو:

زموږ د سیاسي نظام یا دولت بڼه او محتوا د اساسي قانون په لومړۍ ماده او بیا ورپسې په نورو مادو کې په ګوته شوې ده. لومړۍ ماده وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((افغانستان واحد، نه تجزیه کېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی. ))
دلته د جغرافیې پر یووالي ټینګار وشو، اسلام د دولت محتوا وګڼل شوه او د جمهوریت یا ولسواکۍ د اصل له مخې د دولت بڼه تثبیت شوه. اوس چې هر کورنی او بهرنی عنصر د دغو دریو اساسي ارزښتونو (ارضي تمامیت، اسلامیت او جمهوریت) پر ضد ودرېږي، هغه په واقعیت کې د نظام مخالف ګڼل کېږي. هر حکومتي مامور نه په بشپړ ډول د نظام دوست دی او نه هم د نظام یوازنی وارث او ساتندوی او نه هم هر ناحکومتي او وسلوال سیاسي مخالف په بشپړ ډول د نظام مخالف دی. زموږ په ټولنه کې کېدی شي د حکومت په چوکاټ کې داسې اشخاص وي چې په عملي ډول د نظام له یادو اساسي ارزښتونو سره مخالف وي، خو د حکومت او دولت په پوښکي کې یې ځان ځای کړی وي، دغه راز د حکومت په سیاسي او پوځي مخالفینو کې هم کېدی شي یو شمېر داسې کسان وي چې تر یو زیات شمېر حکومتي چارواکو، د نظام اساسي ارزښتونو ته زیات ژمن وي. دلته باید د حکومت او دولت یا نظام تر منځ جوت توپیر وشي. حکومت د دولت مجریه یا قهریه قوه ده چې د نظام یا دولت د ارزښتونو او محتوا د تطبیق لپاره کار کوي. دلته اوس یو شمېر چارواکي غواړي له خلکو څخه د نظام او حکومت څرګند توپیر لادرکه کړي. کله کله خو ان ځان او نظام یو شان ګڼي او وایي چې که زه له واکه لرې شوم، نو نظام ړنګ شو. البته په زورواکو حکومتونو کې چې ټول واک د شخص پر محور راڅرخي هلته چې شخص له واکه لرې کېږي انقلابي عمل دومره قهرجن وي چې د واکمن له لرې کېدو سره سم نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم و پاشل شي، لکه په عراق او لیبیا کې د صدام حسین او قذافي تر مشرۍ لاندې حکومتونه او نور. اوس زموږ نظام هم له ورته خطرونو او ننګونو سره مخ دی. ډاکتر غني او پلویان یې خلکو ته داسې تلقین ورکوي چې که غني په واک کې نه وي نو نظام پاشل کېږي. په داسې حال کې چې غني د نظام د درېګونو قواوو مشر دی، یانې نظام چلونکی دی، نه خپله نظـــام. کـــټ مـــټ لکـــه کـــرزی چـــې د دولـــت مشـــر و. که غني د کرزي په شان ټاکنې وکړي، ملت یې ومني، خپله دی او یا بل څوک د چارو واګې په لاس کې واخلي، نو په مجریه څواک کې کوم بدلون نه راځي او د دولت نورې ستنې هم نه لړزېږي. خو دلته یوه باریکي شته او هغه دا چې غني له دوو ډولونو مخالفینو سره مخامخ دی: شمالټلواله او وسلوال طالبان. دا دواړه ډلې نه یوازې د اجرایه قوې غوښتونکي دي، بلکې د نظام اساساتو کې هم د ژورو بدلونونو غوښتونکي دي. شمالټلواله یو نامتمرکز اقلیت محوره حکومت غواړي چې ورو ورو د هېواد وېشنې ته لاره اواره کړي او طالبان بیا قوي مرکزي نظام غواړي چې د جمهوریت د اساساتو پر ځای په کې ددوی په خپل تعبیر او تفسیر اسلامي شریعت جاري وي. له بلې خوا بیا د غني حکومت پنځوس سلنه برخه خپله د نظام د بنسټونو مخالفه ده او له پاتې برخې څخه یې هم د قانون او نظام پر ضد عمدي او ناعمدي هڅې تر سره شوي دي. نو په داسې بحراني شرایطو کې هغه قشر ته، چې د غني د نا شعوري هڅو، د شمال ټلوالې له منافقت او د طالبانو له خپل سرې او څو سرې زورواکۍ څخه ناراضه دي، هغوی او عام ملت ته څه کول په کار دي؟ زما په خپل شخصي نظر موږ اوس د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ښه او ایډیال)) نظام د جوړښت او استحکام په دریځ کې نه یو. داسې یو پړاو ته چې رسېږو، لا هم نور وخت او ظرفیت ته اړتیا لرو. که د اوسني ((شته)) یا نیمګړي نظام او حکومت ستنې هم لا پسې کږې کړو. نو خبره به (( نه)) حکومت او نظام ته ورسېږي، چې هغه بیا تر ټولو خراب حالت دی. هغه حالت موږ په تېرو لسیزو کې تجربه کړ او که دا ځل یو وار بیا هغه حالت ته ستانه شو. نو دولت، حکومت او هېواد به ټول له لاسه ورکړو. نو د لنډیز او نتیجې په توګه باید ووایو چې د غني له لېونتوب، احساساتیتوب او نورو نیګړتیاوو سره سره هغه باید دې ته و هڅوو چې په حکومت کې د پیل شوي سمون لړۍ نوره هم پسې وغځوي، د زورواکو زور اوبه کړي، له هرې لارې چې وي طالبانو سره د سولې خبرې بریالۍ کړي، عادلانه او ولسخوښو ټاکنو ته لاره اواره کړي او ټول په ګډه د هغه حالت مخنیوی وکړو چې ((شته حکومت او نظام)) په کې پر ((نه حکومت او نظام)) بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې اسرې او بې نصرته ملت

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (مارچ) پر (۲۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (وري) له (۳)یمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**ای د ګل ګلاب وروره! ای د جنت د ورکې لارې لارویه! چېرته لاړې؟ سل حورې او سل غلمان دې درځخه صدقه شي. جنت کې ښکلي ډېر دي، هلته تا ته څه اړتیا وه چې تا دومره ژر ګامونه ور واخیستل؟ لکه چې مجبور یې کړې؟ نه یې غوښتل چې دا سوی لوی**



**جنت وطن او سوزېدلی هملند دربانديې ښایسته وي؟ مورِ خو ستا نصرت، مینې او متانت ته دلته اړتیا لرله چې دا وطن راته ښېرازه او دلته د فقر لمن ور ټوله کړې، د خدای جنت خو ښکلی دی، هلته خو هر ډول نعمتونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، هلته لوړه نه شته، هلته خو د هرڅه پرېماني وي، نو اى د کايينـاتو لايزاله او واحده ربه، مورې خو دا څلوېښت کاله د دوزخ په اور کې سوزو، مورې خو ستا د لورېښې او نصرت په تمه وو، تا خو زمورې خپل نصرت هم له موږه واخيسته! نو اى دخداى د ښکلې باغچې ښکليه مېمله! د جنت ګلان به دې ځوانۍ ته سر ټيټ کړي او د نرګس د ښکلا غرور به مات شي. د جنت مانۍ به دنګې وي، خو پر الله قسم چې ستا د وطن د سوې مور او سرېبرې خور سوې ساندې او د فرياد انګازې وررسېدلې واى، نو حورو به هم دې انګازو ته ژړلي واى. نو اى زمورې د شهيدو ګلابونو تازه دم شهيده! هلته به ضرور تا نه پوښتنه کېږي چې څه حال و څه احوال و په وطن کې؟ که دا ډول پوښتنه مطرح شوه، نو زمورې هيله ده چې:

شهيـدو تـاسو نه که هلته چا پوښتنه وکړه
ورته به وايئ چې وطن کې بهېدلې اوښکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مظلوم ولس یو بل رسا غږ هم خپل پور پرې کړ

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د مارچ پر (۲۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د وري له (۳)یمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.



هېڅ فکر نه کوم چې عبیدالله بارکزی به نور نه گورم. هرکله چې به پر ملت سختې شپې راغلې، نو پر وکیل صاحب به مې غږ وکړ؛ وکیل صاحب تیار یې؟ نو ده به په ډکه خوله وویل چې نور که په پښو راځې زه په سر درځم. غونډو ته به راغی، د پښتونستان غونډو، د ازادۍ غونډو او نورو ټولو غونډو ته به یې ځان راورساوه. لکه بلبل غوندې به وغږېده، زړه به یې ښه تش کړ، زموږ زړونه به یې هم ښه یخ کړل. بیا به یې نو یوه ښه غېږه راکړه او ویل به یې سر مې له افغانسنانه قربان دی. وروستۍ انقلابي وینا یې نږدې شل ورځې وړاندې (د لوی افغانستان: پرون، نن او سبا) غونډه کې وه، له محتوا او زړورتیا ډکه وینا. پر موږ چې به کله سخته راغله، نو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده به مو ځان ورساوه. زما لپاره يې د مشر ورور، مېړ او بازو حيثيت درلود، د ټول ملت غړ و، د لوی افغانستان داعي و. هېڅ مې زړه ته نه لوېږي چې هغه دې له خدای پاماني او مشورې پرته د ابدي سفر لمنه نيولې وي. کله چې مې د هغه د ټول عمر د سفر خبر واورېد، نو تليفون ته مې لاس کړ. يو نمبر مې ډايل کړ، غلی و، بل مې ډايل کړ غلی و، بيا بيا مې کوښښ وکړ، ټليفونونه ټول غلي وو، لکه چې ورور مې په رښتيا هم په ابدي او نه راګرځېدونکي سفر تللی، نور نه راګرځي، نور غوندهو ته نه راځي، نور نو د خپل ولس غړ تر ولسمشره او نورو چارواکو نه رسوي؛ اوس نو د خپل ولس غړ تر خپل اصلي خالقه رسوي. فرياد به ورته کوي چې ګوره زه د هغه ولس استازی يم چې تا پيدا کړی، ستا په مينه مست دی، يوازې ستا عبادت کوي، يوازې تاته سر ټيټوي، په هر چا يې خپل سر مات کړی، خو هېچا ته يې ټيټ کړی نه دی:

دا سر ربه مات شوی دی ټيټ شوی چا ته نه دی
خـو تـاتـه يـې پـنځه وخـته مـحراب کـې راولـم

پر بارکزي صيب مې پوره باور دی چې لوی رب ته به د خپل ولس سوې ساندې او فريادونه رسوي. خدای(ج) هغه ته غټ زړه او بليغه ژبه ورکړې وه. خو زه د يو کشر ورور په توګه ترې سخته ګيله لرم او هغه دا چې ما سره خو هم ډېرې خبرې وې، ده ولې په ناڅاپي ډول د ابدي سفر تکل وکړ. ما څخه يې هېڅ خدای پاماني وانه خيسته او نه يې خبر کړم. ای زما زړوره او ژبوره وروره ! ياد خو به دې وي چې کله په ولسي جرګه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دين دښمنه او ملت دښمنه عناصرو له خوا د اسلاميت او افغانيت پر ضد توطيه جوړه شوه، نو په ساعتونو ساعتونو مو سره سلا مشوره کوله، خو اوس چې د اصلي مالک پر لوري لاړې، له موږ پټ او نا خبره لاړې! نو دا ګيله خو مې در باندې حق ده، کله چې لويان له کوره په اوږده سفر وځي له ټولو کشرانو خدای پاماني اخلي او د بيا راتګ پر مهال هغوی ته سوغاتونه راوړي، نو ای زما سرتيريه وروره! اوس چې ته د الله دربار ته روان يې، نو موږ ته به څه سوغات راوړې؟ څه به ورته ووايې؟ پر ټولو خبرو ته خپله ښه پوهېږې، خو لوی رب ته به زموږ يوه ګيله او يوه هيله ورسوې: افغان ملت د نړۍ تر بل قوم زيات ستا په مينه مست او ستا پر عبادت بوخت دی، خو ستا لورېينه او مهرباني بيا پر عربو او نورو عجمو زياته ده، يا الله ښکه چې ته روزي رسان يې، ستا دربارونه له هر څه مالامال دي، موږ تا څخه مال او دولت نه غواړو. موږ تا څخه يوازې سوله غواړو او خپل عزت غواړو. يا الله هغه مخلوق دې وتړه چې تا نه دي راليږلي، خو ستا د استازولۍ په نامه زموږ د تنکيو اولادونو ژوند اخلي، يا الله د جنت کلياني نورې له دې مخلوقه را ټولې کړه او موږ يې له عذابه وژغوره. خدای پامان وروره! نور دې نه ماټيجن کوم، سفر دې بې خطره او پر مخه دې ژېړي ګلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټه خزانه: تر عظیم الشان قرآن وروسته

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د اپریل پر (۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د وري میاشتې له (۱٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

یادښت: په دې ورځو کې د ډله ییزو رسنیو له لارې د پښتو ژبې او ادبیاتو د یو مهم اثر (پټې خزانې) په باب د یو هنرمند (فطرت ناشناس) خبرې اورې ي رااوري.




له ما څخه ځینو دوستانو هیله وکړه چې په دې اړه یوه لیکنه وکړم. ما د ناشناس خبرې هم واورېدې، هغه خپله هم اعتراف کړی چې په دې برخه کې علمي مطالعه نه لري، له همدې کبله ترې د (الفنستن) په باب په یوه جمله، ان یوه کلمه کې نږدې یوه پېړۍ دروغ وویل شول. ناشناس وايي: ((الفنستون یک وقت کابل امده بود، عبدالحی حبیبی از ایش پرسان کرد، که اینمی پټه خزانه را تصدیق کند، کتاب (۱۲) صد(۱۳)صد سال پیش، او گفت که، ما که تا کتاب نه بینم، کاغذ اش نه بینم، طرز خط اش نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بینم، زبان اش نه بینم، که زبان چی وقت بوده، ما نه میتانم که امی کار کنم، تصدیق نه کرد. )) انگرېز لیکوال (الفنستن) چې (د کابل سلطنت بیان) کتاب یې لیکلی، پر (۱۸۵۹م) کال مړ شوی او استاد حبیبي پر (۱۹۱۰م) کال زېږېدلی دی. د پټې خزانې وروستۍ نسخه لومړی ځل پر (۱۹٤۳م) کال په کوېټه کې د علامه عبدالعلي اخندزاده په واسطه د استاد حبیبي لاس ته ورغلې ده، په دې ډول د (الفنستن) د مرګ او د استاد حبیبي د زوکړې د نېټې تر منځ نږدې (۵۱) کاله او د (الفنستن) د مرګ او د پټې خزانې د وروستۍ نسخې تر پیداکېدو نږدې (۸٤) کاله زماني واټن دی، نو یو شخص چې په خپلو څو دقیقه یي خبرو کې له دومره زیاتو تېروتنو سره مخامخ شي، د هغه پر خبرو اصلاً بحث په کار نه دی، ناشناس نه د تاریخي متونو متخصص دی او نه په دې برخه کې د نظر خاوند دی او نه کوم کره معلومات لري، نو ځکه خو پر بحث او تبصرې هم نه ارزي، خو دا چې د ناشناس او دې ته د ورته نورو اشخاصو تر شا د چا لاس دی او کومې کړۍ هڅه کوي، د هېواد ملي او فرهنګي تاریخ مسخه کړي، موږ ټول هغوی پېژنو او ځوابونه یې زموږ فریضه ده. دا سلسله له پخوا څخه راروانه ده او موږ هر وخت تر خپلې وسې هغوی ته منطقي ځوابونه ورکړي دي. اوسنۍ لیکنه چې تاسې ګورئ ((پټه خزانه: تر عظیم الشان قران وروسته)) له نن څخه نږدې (۱۳) کاله دمخه مې د همدې ډول شکاکانو او کینه ګرو په ځواب کې لیکلې وه. اوس چې له ما څخه ځینو دوستانو د پټې خزانې په باب د ناشناس د ځواب ویلو غوښتنه کړې وه، بیا یادونه کوم چې ناشناس په ځواب نه ارزي، خو زه دا لیکنه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل بیا د پټې خزانې اصلي مخالفینو او محرکینو ته د یو ټولیز ځواب په توګه، له کوم تغیر پرته کټ مټ خپروم. هیله ده ځوان نسل یې په دقت ولولي او د خپل ملي فرهنګ، هویت او تاریخ له اساسي او اصلي دښمنانو ښه خبر شي.

((پټه خزانه))، په پښتو ادبیاتو کې هغه خورا مهم، تاریخي او ادبي اثر دی، چې په ټولو پښتو اثارو کې پښتنو ته بل هېڅ ادبي اثر دومره منښت، ګرانښت او تقدس نه لري، لکه پټه خزانه. قرآن عظیم الشان چې د ټول بشر د نیکمرغۍ او د ټولو مسلمانانو لپاره تر تصوره پورته جامع خدایي کتاب دی او ټول بشر ته د لمر د رڼا حیثیت لري او پښتانه د قرآن پر تقدس، سپېڅلتیا او روښانتیا تر هر چا زیات باوري او ګروهمن دي، خو که تر قرآن عظیم الشان او څو نورو مذهبي کتابونو وروسته په عامه روښنفکره پښتني ټولنه کې د کوم کتاب د ګرانښت، تقدس او درناوي ارزونه، پرتلنه او تلنه کوو، نو بیا خو هېڅ کتاب هم د (پټې خزانې) مقابله نه شي کولای او نه له دې سره د ګرانښت او محبوبیت په تله تلل کېدی شي. د دې ګرانښت علت څه دی؟ ولې ټول ولس ورته د تقدس په سترګه ګوري؟ او بیا هغه ولس چې له ځینو خاصو مذهبي او عقیده یي ارزښتونو پرته پر بل هېڅ شي په اسانۍ توافق نه کوي، ولې (پټه خزانه) مني؟ ولې یې درناوی کوي؟ ولې پرې متفق دي؟ ولې ترې خوند اخلي؟ او ولې پرې باور کوي؟ هر کله که مو دا او دېته ورته پوښتنې مطرح کړې او معقول ځوابونه مو ورته پیداکړل، کېدی شي پر (پټه خزانه) د څو شکمنو ((لیکوالو)) شکونه راته خپله ځواب شي. زه نه غواړم دلته د ځینو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلو ليکوالو په شان د (پټې خزانې) په اړه تاريخي، ژبني، ادبي او کرونولوژيک دلايل راوړم او د هغو لپاره ګڼ شمېر اخځونه د ملاتړ په توګه کتار کړم، يوازې له خپل ليد لوري غواړم په عام ډول د پټې خزانې د حقانيت، ماهيت او ارزښت په اړه خپل نظر څرګند کړم:

**د پټې خزانې تاريخي ارزښت:** (پټې خزانې) په حقيقت کې د خپلې ښکلا له امله يو شمېر مخالفين پيدا کړل، د دې مخالفتونو يو غټ علت دادی چې په (پټه خزانه) کې د جهان پهلوان امير کروړ سوري يو شعر (وياړنه) راغلی، دا شعر د تاريخي قدامت له مخې (۱۳۹هـ ق) کال ته رسېږي، د دې شعر له امله د پښتو ادبياتو د لاسته راغلي ليکلي شعر نېټه د ګاونډيو ژبو په تېره بيا د فارسي ژبې له لومړي لاسته راغلي شعر څخه نږدې يوه نيمه پېړۍ (۱۵۰کاله) دمخه ځي. د ايران يو شمېر فارسي ژبي ليکوال شته چې د فارسي ژبې د بډايه ادب له مخې په سيمه کې د فارسي ژبې د تفوق روحيه پالي او افغانستان هم د خپلې ژبې او فرهنګ د نفوذ ساحه (!) ګڼي، د پښتو ژبې او ادب دا تاريخي قدامت او قوت نه شي زغملای، نو ځکه يې په عمومي ډول له پټې خزانې او په خاص ډول له دې شعر سره حسادت او حساسيت ښود او ورو ورو يې پر پټه خزانه د ((جعل او تذوير)) تورونه پورې کړل. ياني د دې تورونو اساسي سرچينه د ايران ملتپالي او ژبپالي ليکوال وو. دوی د دې کار لپاره په لومړي ګام کې په افغانستان کې يو څو فارسي ژبي ليکوال د پټې خزانې مخالفت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوپارول او بیا د وخت په تېرېدو سره یو څو ((پښتانه لیکوال)) هم د دې لړۍ برخوال شول.

**د پټې خزانې سیاسي ارزښت:** په مجموعي ډول ټول افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه چې د علامه اقبال په وینا د اسیا زړه تشکیلوي، په وروستیو، درې، درې نیم سوو کلونو کې لومړی د یو محلي او ورپسې بیا د یو ملي حکومت خاوندان شول او له دې سره سم له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره د سیاسي رقابت ترڅنګ پر فرهنګي سیالۍ هم اخته شول، نو د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو او قومونو سیاستوال او لیکوال چې افغانان او په تېره بیا پښتانه یې د (( یو وحشي او یرغلګر)) قوم (!) په توګه معرفي کول، د پښتنو د فرهنګي شتمنۍ راسپړل او ځلول ورته د زغملو نه وو، دوی غوښتل چې فرهنګي محکومیت د سیاسي محکومیت وسیله کړي، نو په دې خاطر یې د پټې خزانې، فرهنګي، ادبي او علمي ارزښت له سیاسي هغو سره مخلوط کړ او د سیاسي انګېرنو پر بنسټ یې د (پټې خزانې) مخالفت ته راودانګل.

**د پټې خزانې متني ارزښت:** څرنګه چې د پټې خزانې لیکوال ( محمد بن داود هوتک) یو پوخ، فطري، کسبي او مسلکي لیکوال و او د شاه حسین هوتک د دربار منلی منشي و، نو په خورا دقت او انتظام یې د تاریخي تسلسل او اخځونو په ښودلو سره د (۵۰) تنو په ګډون د شاعرانو تذکره ترتیب کړې ده او د یو ښه، پوخ او کره متن په ترڅ کې یې هغوی معرفي کړي دي، نو د متن دغې ښکلا هم ځینې منفي باف لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپارولي چې ولې يې پر هغه وخت داسې پخه تذکره ليکلې ده. دوی په عام ډول د پښتنو او په خاص ډول د ( محمد بن داود هوتک) پر استعداد شک ښکاره کوي چې پښتانه! هغه وخت او داسې کتاب!!؟

دوی دېته پام نه کوي چې تر همدې تذکرې څخه نږدې اووه سوه کاله دمخه د غزنويانو په دربار کې د ((شاهنامې)) په شان يو مهم اثر ليکل کېدی او زړې افسانې په نظم کېدی شي، په دې دربار کې پر يوه وخت شاوخوا (دوه نيم سوه) ليکوال پالل کېدی او د شعرونو په لسګونو دېوانونه رامنځته کېدی شي، خو د هوتکيانو په دربار کې دې يو محمد هوتک د دې استعداد نه پيداکوي چې يوازې د تېرو او هممهالو شاعرانو يوه تذکره ترتيب کړي؟ ځکه چې د دوی په نظر دا قوم د فرهنګ او ادب پنځونې استعداد نه لري!؟که چېرې پټه خزانه د يو څلور پنځو شاعرانو له ګډو وډو سوانحو جوړه وای، نو بيا خو کېدی شول چا پرې انتقاد نه وای کړی. اوس د پټې خزانې ((منتقدين)) د خپل استعداد له ليد لوري د پټې خزانې متن ګوري، دوی فکر کوي چې ولې دومره پوخ متن؟که هر ((نقاد)) د خپل استعداد له زاويې څخه د بل ليکوال اثر ته وګوري، نو بيا خو د ډېرو نړيوالو ليکوالو پر اثارو هم شک کولای شو، ولې هومر؟ ولې هوګو، ولې بلزاک، ولې ټاګور، ولې خوشال او داسې نورې ډېرې ولې ولې.

د پټې خزانې اروايي ارزښت او اغېز: په يوه ادبي اثر کې د ليکوال او لوستونکي ترمنځ يوه پټه رابطه وي، د همدې رابطې پر بنسټ د دواړو فکري او اروايي اړيکې ټينګېږي، دا رابطه په حقيقت کې د هغه (صداقت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيان دی، چې ليکوال يې په خپل اثر کې وړاندې کوي. هر څومره چې د ليکوال په اثر کې د صداقت او رښتينولۍ جوهر زيات وي، په همغه اندازه د ليکوال او لوستونکي رابطه زياته ټينګېږي او نږدې کېږي، که ليکوال په خپل اثر کې د صداقت پرځای د مفاهيمو په انتقال کې له تصنع، تکلف او لفظي درغلۍ څخه کار واخلي، لوستونکی به يې يو ځل اثر ولولي، بيا به يې هم ولولي خو هېڅکله به يې زړه ته لاره پيدا نه کړي، په همدې وجه تکلفي، تصنعي او نړه اکتسابي ليکوال کامياب ليکوال نه دي او نه هم هېڅکله عام محبوبيت پيداکولای شي. ادبي اثر داسې يوه پديده نه ده چې څوک يې په زوره پر چا ومني او نه هم د کره کتنې په شان علم دی چې ځينې کره کتونکي په پای کې يو حکم صادوري. زه وايم چې په پټه خزانه کې کوم قوت موجود دی چې پر عام ولس او په تېره بيا پر ليکوالو يې ځان د تقدس تر سرحده منلی دی؟ نه محمد بن داود هوتک ( د پټې خزانې مولف) او نه هم پوهاند عبدالحی حبيبي ( د پټې خزانې شارح) کوم زور درلود او نه هم د پټې خزانې تر شا د زور لښکرې ولاړې وې چې پر خلکو يې ومني. زما په فکر په دې اثر کې صداقت، د ليکوال احساس او عواطف د ليکوال له فني قوت سره ملګري کېږي او په پای کې اثر هغومره قوت پيداکوي چې ان د خلکو پر زړونو د يو سپېڅلي ادبي اثر په توګه حکومت وکړي. د دنيا په ټولو ادبي اثارو کې دا خبره تراوسه نه ده پېښه شوې او حتی دا به يوه معجزه وي چې يو څوک يا ليکوال دې نن کېني، درې سوه کاله وړاندې د يوه بل ليکوال په نوم دې تذکره وليکي او هغې کې دې بيا ان تر يو زر کلونو پورې په بېلابېلو دورو کې د هر پړاو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي او اجتماعي حالاتو سره سم لیکوال او ادبي بهیر داسې معرفي کړي، چې د خلکو پر زړونو دې د نورو ټولو ادبي اثارو په انډول زیات حکومت وکړي.

که موږ فرضاً د یو څو شېبو لپاره دا فرضیه ومنو، نو بیا خو دغه بل لیکوال تر محمد بن داود هوتکه هم د زیاتې ستاینې او شاباسۍ وړ دی چې په شلمه پېړۍ کې داسې یو اثر لیکلای شي چې د پېړیو په بهیر کې د یوې ژبې مطرحو شاعرانو ته شعرونه هم منسوب کړي، ادبي ژوند، مبارزې او ویاړونه هم ور په برخه کړي او بیا نور لیکوال، سیاسي او ادبي تاریخونه هم د دې لیکوال خبره تائید کړي.

تراوسه پورې د بشر د ادب تاریخ په ټوله دوره کې دا ډول ادبي معجزه چا نه ده تخلیق کړې، هو داسې شوي چې یو شاعر یا لیکوال د بل نومورکي، نومور، مړ یا ژوندي شاعر یا لیکوال کلام په خپل نامه کړی وي، خو دا ډول غلا هم ډېره ژر رسوا شوې ده، خو دا بل ډول معکوس کار چې څوک دې خپل اثر بل چاته منسوب کړي او خپله دې ترې دفاع هم وکړي، په ادبي تاریخ کې یې بېلګه نه لرو.

پټه خزانه د هغې انډول، بدیل یا مثل: د پټې خزانې مخالفین چې پر پټه خزانه یې متضاد شکونه څرګند کړي دي، د هغو لپاره به یو منطقي دلیل دا وای چې دوی پټې خزانې ته ورته یو بل تاریخي اثر یا تذکره جوړه کړې وای، تر هغه وروسته یې پر خلکو منلې او بیا یې له پټې خزانې سره پرتله کړې او خلکو ته یې ویلي وای چې دا دی د دا ډول ((جعلي)) اثارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکل او پر خلکو یې منل ګران کار نه دی. که دا کار یوه یا دوو لیکوالو نه شو کولای، نو بیا دې د پټې خزانې ټول مخالفین، په ښکاره او پټه سره ناست وای په شپو، میاشتو او کلونو دې کار کړی وای او بیا دې خپل لاسوند (سند) خلکو ته وړاندې کړی وای! او ولې ډېر وخت او ډېر کلونه؟ ځکه د یو ((جعلي)) اثر لپاره خو ډېر وخت ته اړتیا نه شته، هغه خو د تخیل، احساس او عواطفو په زور نه رامنځته کېږي، بلکې فکر، مهارت او چل ول ته ضرورت لري، نو د پټې خزانې ټولو مخالفینو باید د زیاتې انرژۍ د لګولو پرځای، دا کار ژر تر ژره ترسره کړی وای. د منفي بافانو او شکاکانو دا خاصیت دی چې تر خپل فکر او استعداد پورته اثر باندې ضرور شک ښکاره کوي، مشرکینو به پر قرآن کریم هم شک کاوه، د قرآن کریم ایتونه به یې شعر باله او ځینو به سحر و جادو. کله چې د لوی خدای(ج) له لوري په همدې اړه د (کوثر) سوره نازل شو او له مشرکینو څخه وغوښتل شول چې تاسو د دې کلام معادل یا مثل جوړ کړئ، نو هغوی چې هر څومره زور وواهه څه یې ونه کړای شول، نو تر هغه وروسته یې بیا اعتراف وکړ چې دا واقعاً هم د الله(ج) کلام دی، نو پټه خزانه خو د بشر د ذهن یوه راټوله کړې ادبي تذکره ده، نو د پټې خزانې ټولو مخالفینو ته یو چیلنج دی چې په انفرادي یا ډله ییز ډول دې ته ورته یو اثر رامنځته کړي.

**پټه خزانه، د شک او ثبوت مقابله:** پر یوه شي باندې شک ښکاره کول اسانه کار دی، خو د هغه پر وړاندې د ثبوت وړاندې کول بیا هغومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانه نه دي. پر پټه خزانه هم شک ښکاره کول اسانه کار دی، لکه چې دا شکونه د هر شکاک له خوا شوي هم دي، خو د خپل شک د اثبات لپاره یوه هم غوځ ثبوتونه نه دي وړاندې کړي، د شکاکانو پر وړاندې هم چې کوم اسناد او دلایل وړاندې شوي هغه هم شکاکانو ته د منلو وړ نه وو، هغوی پر هغو بیا هم شک ښکاره کړی دی. خو زما په نظر پټه خزانه خپله یو ثبوت دی، یو شتوالی او موجودیت دی، د ثبوت له پاسه بیا بل ثبوت وړاندې کول څه مانا نه لري؟

لوی خدای(ج) په طبیعت کې ډېر رازونه اچولي، له هغو رازونو څخه یو دادی چې (( هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه))؛ یو څوک به کار کوي، بل به نیوکه کوي، یو څوک به یو اثر لیکي بل به پرې نقد کوي، یو څوک به د ښه خوی او ښو اخلاقو خاوند وي او بل پرې شک کوي او وایي به چې دا چلند یې د قوت د نشتوالي له امله دی، په اصلي ماهیت کې داسې نه دی، یو څوک به ښه صادق مسلمان وي، بل به منافق او شیطان وي، یوه خوا به حق وي بله خوا به بطلان وي او ژوند به تر پایه همداسې د متضادو لوریو په مقابله کې روان وي.

پټه خزانه هم دغسې یو ثابت حقیقت او واقعیت دی، په دې لړ کې شکاکان هم حق لري دخدای(ج) د پنځول شوي طبیعت مطابق خپل شک ښکاره کړي. ځینو لیکوالو د رحمان بابا د ژوند او مرګ د کلونو په باب هم شک ښکاره کړی او هغه یې سم نه دي بللي او په دې باب یو شمېر لیکوالو لیکنې هم کړي، دا چې رحمان بابا پر کوم کال مړ دی او پر کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيدا؟ دا د دې مانا نه لري، چې د رحمان بابا له شتوالي منکر شو، د رحمان بابا د شعرونو شتوالی خپله د رحمان بابا د اثبات لپاره کفايت کوي، نو د پټې خزانې د اثبات لپاره هم غټ دليل په خپله د هغې متن دی چې د سالم عقل او فکر خاوند ترې انکار کولای نه شي. ځينو ليکوالو او په اصطلاح ((تېزبينو)) ليکوالو دا د ځان د تبليغ او اطراح لپاره يوه ښه وسيله ګڼله چې پر يو مشهور اثر، پر يوې مشهورې تاريخي پېښې او يا مطرح ليکوال وپېچي، پر هغو شک ښکاره کړي او ځان مطرح کړي.

يو وخت مونږ په پېښور کې غوښتل د خوشال بابا د زوکړې د څلورسومې کاليزې په وياړ يو علمي سيمينار جوړ کړو، د سيمينار تر جوړولو وړاندې د سيمينار د مقالو د وېش لپاره يو بورډ يا جرګه ګۍ جوړه شوې وه، په جرګه ګۍ کې يو تن مطرح ليکوال وويل زه غواړم د خوشال بابا د ژوند ياني تولد پر کال ليکنه وکړم، ده وويل زما د ليکنې عنوان دی: خوشال بابا پر کوم کال پيدا دی؟ يو زرو دوه ويشت که يو زرو يوويشت؟ ده زياته کړه ما سره ګڼ شمېر داسې دلايل، مدارک او اسناد شته؛ دا ثابتوي چې بابا پر يو زرو يوويشت کې پيدا دی، نه په يو زرو دوه ويشت هـ ق کې. مونږ وويل دا يوه اتفاقي موضوع ده او واضح ده، ضرورت نه شته چې پر دې ليکنه وشي، د بابا د ژوند او اثارو پر هغو اړخونو بايد خبرې وشي چې تر اوسه لا مبهم دي او څېړنې ته اړتيا لري، خو ليکوال صيب بيا ټينګار وکړ؛ څوک وايي چې د خوشال بابا د ژوند کال اتفاقي دی؟ هيڅ اتفاقي دی نه، تاسې يو ځل زما منابع او اسناد وګورئ بيا به مو باور پرې راشي، پرېږدئ چې مونږ لوستونکو ته واقعيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایو. کله چې لیکوال پر خپلې خبرې تر حده زیات ټینګار وکړ، نو ماته هم یو څه غوصه راغله او ورته ومې وویل: د خوشال بابا په باب تر ټولو کره، معتبره او باوري اسناد کوم دي؟

ده وویل خپله د بابا اثار. نو ما وویل کله چې خپله بابا وایي:

((د هجرت زر دوه ویشت سن و ــــ چې زه راغلم په میان)) نو بیا ته څوک یې چې د بابا د ژوند په هکله خپله د بابا خبره رد کړې، دې سره زمونږ بحث نور پای ته ورسېد.

نو اوس راځو خپلې خبرې ته، چې پر یوه شي د شک ښکاره کول او د هغه لپاره د یو څو مرتبو او نا مرتبو، وړاندې او وروسته دلایلو راوړل او د عادي لوستونکو د ذهنونو ګډوډول اسانه کار دی، خو د خپل ناسم شک اثباتول ساده کار نه دی.

د پټې خزانې له مخالفینو څخه یو: پټې خزانې په پیل کې د سیاسي او کلتوري سیالیو له امله بهرني مخالفین درلودل، وروسته وروسته بیا دا مخالفتونه په کورنۍ کچه هم څرګند شول، خو د کورنیو مخالفینو د مخالفت علتونه ډېر زیات سیاسي او کلتوري نه وو؛ اکثره د حقارت له رواني عقدو او په فرهنګي چاپېریال کې د سالم رقابت له لارې لوړ شهرت او مقام ته د نه رسېدو له امله پیدا شول. د کورنیو مخالفینو سرخېل ښاغلی (قلندر مومند) دی چې په پښتنو لیکوالو کې نسبتاً پام وړ مقام لري. دقلندر مومند د شهرت یوه لویه وجه همدا د پټې خزانې مخالفت دی، سره له دې چې هغه په شعر، لنډه کیسه، تنقید او تحقیق کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور دی، خو په دې هره برخه کې دده همعصره داسې نور پښتانه لیکوال وو چې له قلندر مومند څخه یې اول مقام نیولی و او زیات شهرت ته رسېدلي وو، د بېلګې په توګه که څوک د غزل نوم اخلي، نو د حمزه بابا، که د تحقیق نوم اخلي نو کامل مومند، که د لنډې کیسې نوم اخلي نو مهدي پاچا او که د انقلابي شاعری نوم اخلي نو د اجمل خټک نومونه یې اول په ذهن کې راګرځي. قلندر مومند ته دده د فرهنګي شخصیت د خړوب او مطرح کېدو یوازینی لاره همدا ((تنقید)) پاتې وه. نو ده باید داسې یو څه ته ګوتې وروړې وای چې دده د فرهنګي شخصیت د شهرت غوښتنې دا غریزه یې خړوب کړې وای. د قلندر مومند دا پټه تلوسه هغه وخت د فوران حالت ته ورسېده چې پر (١٣٤٥ل، ١٩٦٦م) کال کابل کې د خوشال بابا په یاد جوړ شوي نړیوال سیمینار ته رابلل شوی و، دا هغه مهال و چې د پټې خزانې له لومړي چاپ څخه نږدې (٢٣) کاله تېرېدل، د دې سیمینار علمي مشري د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي پر غاړه وه. دې سیمینار حمزه بابا او څو نورو لیکوالو لیکنې وستایل شوې، لوی استاد پوهاند علامه حبیبي چې نه یوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سیمې په کچه یو لوی عالم و، هم زیات وستایل شو او درناوی یې وشو، قلندر مومند په دې سیمینار کې دده له خپلې توقع او شان سره برابر ونه ځلېد، نو له همدې ځایه ده د داسې یو ناسم رقابت لاره ونیوه چې پخوا یې دومره جوش نه و. دا وخت د قلندر مومند د قلم نوکه او ذهن د (استاد حبیبي) لوري ته واوښتل او په دې کې یې لومړی کتاب چې لوی استاد پرې حاشیې، تعلیقات او شرحې لیکلې وې هغه (پټه خزانه) وه، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداکتاب هدف یا ټارګېټ شو، ولې پټه خزانه هدف شوه؟ ولې د حبیبي صاحب خپل تالیفات تر برید لاندې رانغلل؟ د دې پوښتنې ځواب دادی چې د پټې خزانې د تردید لپاره لا تر دې دمخه بهرني ذهنیت کار کاوه، هغوی هم یو کورني شکاک او کورني شکاک هم یو بهرني ملاتړ ته اړتیا لرله، مشترکې ګټې د دوی د ګډې همکارۍ سبب شوې. ښاغلي قلندر مومند تر هغه وروسته پر پټه خزانه څو انتقادي لیکنې وکړې او د پېښور په چاپي خپرونو کې یې خپرې کړې.

قلندر مومند نږدې شل کاله پر پټه خزانه ((تحقیق او تنقید)) وکړ او په پای کې یې (( پټه خزانه فی المیزان))کتاب چاپ کړ، هغه وخت چې لوی استاد عبدالحی حبیبي ژوندی و، نو د پټې خزانې د بهرنیو او کورنیو شکاکانو د شکونو په اړه یې خپل مستند دلایل ولیکل، دلوی استاد تر مړینې وروسته قلندر مومند ته لاره نوره اواره شوه، وروسته ده یو شمېر هغه لیکوال په تېره بیا د پېښور ځینې ځوان لیکوال چې دده پر چاپېریال راټول وو او په یو نه یو ډول یې ده د شخصیت په وده کې رول درلود، په زړه نا زړه ډول د قلندر مومند فکر تعقیب کړ، خو بیا هم په پېښور او کویټه کې ډېر نور داسې لیکوال وو چې د قلندر مومند د نظریاتو خلاف یې لیکنې وکړې. ښاغلي همېش خلیل د قلندر مومند د (( پټې خزانې فی المیزان)) په ځواب کې د (( تول پارسنګ)) په نامه یو مستقل اثر ولیکه. د پټې خزانې د مخالفت لړۍ په پای کې د ابتذال داسې یو حالت ته ورسېده چې ان ځینې داسې کسان چې اصلاً یې په خپل ټول عمر کې یو ځل هم پټه خزانه لوستې نه وه، هغوی هم د پټې خزانې په اړه خپل نظرونه څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل. یوه ورځ له پېښوره (ټل) ته په یوه مشاعره کې د ګډون لپاره روان وو، د کوزې پښتونخوا یو ځوان لیکوال له ما څخه وپوښتل (( یون صاحب دا د پټې خزانې په باب ستا رایه څه ده؟)) ما ویل له رایې څخه دې مطلب څه دی؟ ده وویل منې یې که نه؟ ما وویل زه یې ومنم که و نه منم هغه خپله داسې یو اثر دی چې ځان یې پر خلکو منلی او بل دا خو څه د عقایدو مسله نه ده چې که څوک یې ومني نو له ګناه به خلاص شي او که وې نه مني نو ګناهکار به شي. منل نه منل دهر چا خپل کار دی خو واقعیت په خپله واقعیت دی. ده وویل بیا هم مطلب مې همدا و. ما ویل ستا رایه څه ده؟ ده وویل زه خو یې مخالف یم. ما ویل پټه خزانه دې لوستې؟ ده وویل نه جي! ما ویل چې لوستې دې نه ده نو بیا مخالف یې په څه یې؟ ده وویل: دا قلندر صاحب او نور چې کوم دي، هغه یې نه مني که نه ما ویل . . . ما وویل د واقعیت خبره بېله ده او د منلو یا نه منلو خبره بېله. ما ویل اسلام د خدای(ج) یو کامل دین او قرآن د خدای(ج) اسماني کتاب دی، بیا یې هم د نړۍ نا مسلمان وګړي او همدارنګه یو شمېر منافق مسلمانان عملاً نه مني، نو دا خو د دې مانا نه لري چې اسلام او قرآن کې نیمګړتیا ده، نیمګړتیا خپله زموږ په ذهن کې ده. پټه خزانه یو واقعیت دی چې پټېدلای نه شي، د منلو او نه منلو خبره د هغې د واقعیت مانع کېدلای نه شي. . .

د قلندر مومند ترڅنګ یو شمېر نور لیکوال چې د هغه لاره تعقیبوي، هغوی له معقولې لارې او د فرهنګي کار و هڅو په وسیله د شهرت او مقام لوړو پړاوونو ته نه شي رسېدلای، نو دوی دا لاره غوره ګڼلې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یو ادبي اثر ته لاس وغځوي چې هغه د خلکو زړونو ته لاره پیدا کړې وي، دوی فکر کوي په دې کار سره به د خلکو حساسیت راوپاریږي او زموږ لیکنه به ولولي، یا به مو پر ضد لیکنه وکړي او که ځواب را نه کړي، نو بیا به وواېو ګوره چې زموږ دلایل پاخه وو چا یې ځواب ونه شو ویلای. دا ډول لیکوال چې د شهرت د فقر پر غریزې اخته دي، په هر ځای کې شته؛ په جلال اباد کې یو ځوان عادي او مبتدي لیکوال په یوه نوې راوتې سیمه ییزه مهالنۍ عادي جریده کې پر یوه ډېر پاخه او مطرح لیکوال په دې نیت بې ځایه، نامعقوله او له واقعیت څخه لرې انتقادي لیکنه وکړه چې مطرح لیکوال به یې ځواب وواېي او دې سره به ((منتقد)) او ((جریده) دواړه شهرت ته ورسیږي او په پېنځوو کې به یاد شي. خو مطرح لیکوال هغه لیکنه ډېره بابیزه وګڼله او هیڅ ځواب یې ور نه کړ، یو بل لیکوال ورڅخه وپوښتل چې د هغه لیکنې ځواب دې ولې ور نه کړ؟ هغه وویل: دا ځوانان دي، دوی د شهرت غریزې پسې اخیستي، زه نه غواړم په خپل ځواب دوی خپل هدف ته ورسوم. دا مسله همداسې غلې پاتې شوه، څه موده وروسته هغو ځوانانو له هغه مطرح لیکوال څخه بښنه وغوښته. نو د پټې خزانې د کورنیو مخالفینو یوه غټه ستونزه او ناروغي همدا ده چې د شهرت غریزې پسې اخیستي دي. که موږ د ښاغلي قلندر مومند ټول لیکلي اثار سره وارزوو نو راته معلومه به شي چې هغه په غزل کې د حمزه بابا، په انقلابي شاعرۍ کې د اجمل خټک او په تحقیق او تاریخ لیکنه کې د کامل مومند او استاد عبدالحی حبیبي مخکښي نه شوه زغملای. د اروپوهنې له نظره هغه اشخاص چې د ژوند په یو لړ سیاسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزو او فرهنګي چاروکې ناکام او يا هم تر خپلو محسوسو او نامحسوسو سيالانو پاتې راشي، معمولاً پر منفي کرکټرونو بدلېږي، هغه ليکوال چې په ليکوالۍ کې د تخليق او تحقيق په دواړو برخوکې پام وړ او مطلوب پرمختګ ونه کړي معمولاً درېيمه لار (تنقيد) غوره کوي. کله کله بيا دا تنقيد د اصلاح او لارښوونې پر محور راڅرخي، خو کله کله بيا د منفي بافۍ د ناروغۍ ښکار شي او هرې مثبتې پديدې ته ضرور د شک او ترديد په سترګو ګوري، ښه کره کتونکی همغه دی چې يو اثر مخکې تر مخکې د ښه والي او بدوالي د ټاکلې فرضيې له مخې و نه رازوي. يانې فرضيه مخکې تر مخکې قيد نه کړي، چې حتماً به دا اثر ښه ثابتوم يا بد او کمزوری. ښه لاره داده چې اثر څنګه دی همغسې يې وارزوي، خپل شخصي نظر او عواطف په کې دخيل نه کړي. زه فکر کوم چې قلندر مومند مخکې تر مخکې د پټې خزانې په اړه د (رد) فرضيه ټاکلې وه او خپله ټوله انرژي يې د همدې (رد) لپاره راټوله کړې وه. د قلندر مومند د ليکنې تر شا څه رواني مشکلات پراته وو، چې ده نږدې (شل کاله) د هغه اثر د ترديد لپاره کار وکړ چې محمد هوتک هغه په (دوو کلونو) کې ليکلی و. کېدی شي محمد هوتک د پټې خزانې پر ليکلو دومره نه وي په تکليف شوی لکه قلندر مومند يې چې په ترديد کې په تکليف شو.

قلندر مومند په خپله ليکنه کې په اصطلاح له نجومي علم څخه هم ګټه اخيستې او په اصطلاح له بېلابېلو جنتريو يې استخراج کړی چې د پټې خزانې د متن په پای کې يوه راغلې نېټه غلطه ثابته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکي: ((کتاب تمام سو، په ورځ د جمعې (۲٤) د شوال المکرم (۱۱٤۲) هجري په قندهار کې او مولف محمد هوتک هم فارغ البال سو الحمدلله حمداً کثیراً))

خو قلندر مومند په دې نظر دی چې د شوال (۲٤) د جمعې ورځ نه ده، له همدې پورتني ټکي سره په ارتباط کې د ښاغلي قلندر مومند د یوې مرکې یو ټکي ته ستاسو پام را اړوم.

د قلندر مومند تر وفات نږدې درې کاله وړاندې، ښاغلي حنیف خلیل له ښاغلي قلندر مومند سره یوه مرکه کړې وه، دا مرکه همغه مهال له پېښوره خپرېدونکې (وحدت) ورځپاڼه کې چاپ شوې وه. په دې مرکه کې ښاغلي حنیف خلیل له ښاغلي مومند څخه پوښتلي وو چې ستاسو د پیدایش کال کوم دی؟ هغه ورته په ځواب کې ویلي وو ((. . . زما د پیدایش کال ماته معلوم نه دی، ځکه چې هغه وخت مور و پلار د پیدایش کال نه لیکه او که چا لیکه هم نو په یوه کاغذ کې به یې لیکه بیا به یې د قرآن شریف په منځ کې ایښوده، نو په دې وجه زه تاسو ته د خپل پیدایش کال سم نه شم ښودلای))

اوس دی دلته د خپل پیدایښت د کال په اړه دومره بې تفاوته او یا نا خبره دی، نو بیا کوم دلایل او مهم عوامل وو چې دی یې دېته هڅوه چې درې درېنیم سوه کاله دمخه له نورو سره د ورځو او ساعتونو حساب، هغه هم په خپله خوښه وکړي؟ پر (۱۱٤۲هـ ق) کال د شوال (۲٤) د جمعې ورځ وه او که نه وه؟ دا او دې ته ورته پوښتنې سړي ته د دې لاره اواروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په خپله د شکاکانو پر نظرونو او شکونو شک وکړي او ووايي چې دا ډول شکونه له سياسي، کلتوري سياليو او شخصي عقدو څخه راټوکېدلي دي او پر واقعيت ولاړ نه دي. که د پټې خزانې د بهرنيو او کورنيو مخالفينو ټول نظرونه راټول کړو، نو کېدی شي دې نتيجې ته ورسېږو چې دا ټول نظرونه د سياسي، کلتوري، ژبنيو او تاريخي ناوړه غرضونو او د ځينو ځانپالو او شهرت خوښو ليکوالو د شهرت د غريزې او شخصي عقدو يو ګډ امتزاج دی چې علمي معيارونه نه لري او پر پوړتنيو يادو عواملو ولاړ دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شېرزاد ساپي سفر

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د اپریل پر (۱۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د وري له (۲٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



شېرزاد ساپي هم د ابدي نړۍ پر لوري خپل سفر پیل کړ، لغمان د خپلو حقوقو له یوه ژبور او زړور بچي څخه بې برخې شو. نږدې کال وړاندې یې د سلطان غازي بابا ښارګوټي په برنۍ برخه کې په نوي بڼ کې وګرځولم. ښکلی باغ یې جوړ کړی و، ژمنه مې ورسره وکړه چې کال ته به له خپلو ماشومانو سره دې بڼ ته راځم او هغوی ته به وایم چې لغمان کې هم داسې ښکلي ځایونه شته. تر نوي کال څو ورځې دمخه لغمان ته لاړم. ماشومانو ته مې وویل، د شېر زاد کاکا باغ ته مو بیایم، سیل به هم وکړئ او یو یو نهالګی به هم د یادګار په توګه کېږدئ چې په خپل وطن کې مو د لاس نښه پاتې شي. مېرمن مې او نورو خپلوانو وویل اوس مازیګر ناوخته دی او هلته امنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د ډاډ وړ نه دی، د ماشومانو تګ ضرور نه دی. نه مو شہزاد صیب وکتلای شو او نه یې بنې. نن مو دا غمجن خبر واورېد چې شہزاد صیب یې په خپل همدې بنې کې شهید کړ! دوی یوازې شہزاد شهید نه کړ دوی یو بشپړ بنې شیهد کړ. دوی شنې ونې او بوټې شهیدان کړل، دوی تنکي ګلان شهیدان کړل، او هی د بې مالیاره بنې ګلانو! څومره ژر به مړاوي شئ ، څومره ژر به ورژېږئ! کاشکې تاسې خبرې کولای شوای چې نن مو د خپل مالیار په ویر کې سوې ساندې ویلای وای. او های د یتیم شوي بنې ګلانو! که تاسو غږېدی شوای ، نو ضرور به مو مورږ ته ویلي وای چې تاسې اشرف المخلوقات نه یاست، شرالمخلوقات یاستئ. د ادم زامن یاستئ، خو د سړیتوب جوهر درکې نه شته. شہزاده وروره په مخه دې ګلونه. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باعزته سوله څه مانا؟

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د اپریل پر (۱۹) مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د وري له (۳۰) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

کله چې یو څوک نه غواړي، یو کار ترسره کړي، نو د هغه پرضد بیا بېلابېل دلایل او پلمې لټوي. اوس د سولې لپاره هم بېلابېل قیدونه او شرطونه وړاندې کېږي. سره له دې چې جمهور رییس غني ویلي وو، د




سولې لپاره سر ورکولو ته هم تیار دی او طالبان هم باید له قید او شرط پرته سولې ته غاړه کېږدي، خو اوس چې سولې ته د امریکایانو او طالبانو د تمایل څرک لګېږي، تر ټولو دمخه ډاکتر غني د سولې پر وړاندې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیدونه او شرطونه وړاندې کړي چې د اندازې او معیار معلومول یې اسانه کار نه دی. ((باعزته)) او ((دایمي)). دا هغه کلمې دي چې د (سولې) تر نوم او اصطلاح دمخه کارول کېږي او د هغې څرنګوالی تشریح کوي. په پښتو کې (صفت) او (قید) تر نوم دمخه راځي او د هغه نوم حالت تشریح کوي.

دلته ((باعزته)) او ((دایمي)) دواړه هغه توصیفي قیدونه دي چې د (سولې) راتلونکی څرنګوالی تشریح کوي او د هغې لپاره قیدي الزامات برابروي. په دې مانا چې که له ((سولې)) څخه دا ((باعزته)) او ((دایمي)) صفتونه او قیدونه لرې کړو، نو یوازې ((سوله)) پاتې کېږي، خو دا ډول سوله بیا د غني او ګډوله حکومت په مزاج برابره نه ده.

اوس چې د سولې لپاره دا ډول قیدونه وړاندې کېږي، راځئ چې دې بل طرف ته هم دا ډول قیدونه وړاندې کړو: باعزته دولت، باعزته حکومت، باعزته قضایه قوه، باعزته پارلمان، باعزته ولسمشر، باعزته مرستیالان، باعزته سیاسي ګوندونه، باعزته ټاکنې او نورې باعزته باعزته تقاضاوې.

اوس که له ولسمشر څخه وپوښتل شي چې ته او وجدان دې چې ګډوله حکومت باعزته دی؟ پر اساسي قانون پښه ایښودل باعزته کار و؟ لومړی مرستیال دې باعزته دی؟ محقق او د ګډوله حکومت نور ارکان دې باعزته دي؟ تېرې ټاکنې چې دې وکړې هغه باعزته وې؟ ټاکنیز کمېسیونونه باعزته وو؟ دغه هیئت چې قطر ته دې ټاکلی و، دا ټول باعزته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاص وو؟ دغه تنظیمي مشران چې کابل یې وران کړی او اوس د سولې شورا او پخلاینې شورا په راس کې دي، دا ټول باعزته او پاک نفسه خلک دي؟ دا تېر پارلمان چې ستاسو په حاکمیت کې یې خپل عمر وغځاوه، دا باعزته و؟ او نور ډېر بې عزته اشخاص چې اوس د باعزته خلکو په نامه مسمی دي، دا ټول په حقیقت کې باعزته دي؟؟؟ نو د خدای (ج)، رسول الله (ص) او د دې مظلوم ملت په خاطر د سولې لپاره قصدي او نا قصدي قیدونه مه جوړوئ، ټول پر دې پوهېږي چې له دې ډول قیدونو او بندونو څخه اصلي موخه څه ده؟ اوس هم وخت شته، فکر وکړئ، ستا عزت او عفت د دې ګډوله او وراسته حکومت په تداوم کې نه دی، ستا عزت په سوله کې دی. تا ته دوه ستر مسولیته درپه غاړه دي: یو دا چې د دې وراسته، چینجن او ګوزڼ وهلي حکومت درمل وکړې؛ پر یو پاخه او مستحکم حکومت یې بدل کړې، په خواشینی سره چې په دې برخه کې دې ډېر وخت او فرصتونه له لاسه ورکړي او دویم مسولیت دې دا دی چې د سولې او ثبات لپاره ګامونه پورته کړې، دا دویم کار کې هم ستا ګټه ده، هم د ملت، هم د وطن او هم د خدای (ج) او د هغه د رسول (ص) رضایت په کې خوندي دی.

اوس ستا پر اوږه د هېواد قسم خوړلو دښمنانو ټوپک ایښی، ستا له شا د سولې پر نویو ټوکېدلو غړونو ډزې کوي. حقیقت دا دی چې د حکومت غوښنه برخه اوس هم د جګړه ییزو تنظیمونو او په تېره بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي جمعيت او نظار شورا په لاس کې ده، هغوی هېڅکله سوله نه غواړي، که ته سوله د عبدالرب رسول سیاف، یونس قانوني، حاجي محقق، کريم خليلي، امر الله صالح او نورو له ليدلورو ګورې، نو دا ليدلوري خو د هغوی له ماضي سره تړلي او مستقيماً د جګړې د اور بټۍ ته رسي، که حافظه لرې هغه ورځې دې هم راپه یاد کړه چې امرالله صالح د عبدالله عبدالله لپاره سرسخته کمپاین کاوه او ما (یون) ستاسو لپاره، هغه په پښتونستان واټ کې ستا پر ضد د مظاهرې اورپکی ګډونوال و او زه ستا په پلوۍ د کابل په یکه توت او هوتخېلو کې، هغه به له خپلو ټلوېزیونونو څخه ستاسو پر ضد نشرات کول او ما به له خپلو ټلوېزیونونو ستا په ګټه، هغو به نامتمرکز او پاشلی حکومت غوښته او موږ به یو قوي او مرکزي حکومت، هغو به ته فاشېست او یهودي ګڼلې او موږ به یو ملتپال، هغوی دربانده یو ګډوله ائتلافي حکومت ومانه او موږ د یو بشپړ انتخابي حکومت پلویان وو. دا دی هغوی بېرته د حکومت او قدرت برخه شول او موږ له حکومته بهر پاتې شولو، دا یو مثال مې یوازې د غني د متضادو حرکتونو او قضاوتونو د تمثيل په خاطر لوستونکو ته وړاندې کړ.

اوس یو ځل بیا د نظار شورا کرکټرونه چې د حکومت نیمه برخه یې د عبدالله په وجود کې اشغال کړې ده او اوس د غني په پوټکي کې هم ننوتي، غواړي د غني د ناثباته فکري او احساساتي جوړښت له امله د غني له ادرسه پر سولې او د سولې پر بهیر ګوزار وکړي. هم غني د تاریخ کندې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټېل وهي او هم افغانستان يو ځل بيا د تېروکلونو جګړه ييز حالت ته بوځي، نو ځکه خو هم پر غني او هم د هغه پر شاوخوا پر څو تنو ملتپالو حکومتي اشخاصو او هم پر عام افغان ملت غږکوم چې ټول د سولې بهير ته ودانګئ، هم غني وژغورئ، هم حکومت له مافيايي کړيو خلاص کړئ او هم هېواد وژغورئ، سوله راستنه کړئ، سوله په هېوادکې د زرو مرضونو علاج دی.

سوله غني له فکري بې ثباتۍ ژغورلای شي، سوله انتخاباتي ټکټونه د نظارشورا له يرغملۍ خلاصولای شي. سوله ازادو ټاکنو ته لاره برابرولای شي. سوله د اقليتونو د حقوقو د مدعيانو د ناوړه باج اخيستلو مخه ډب کولای شي. سوله غني د عطاء محمد نور او دين محمد جرئت له پېټکو ژغورلای شي، سوله د طالبانو پوځي زور ختمولای شي، سوله په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا ده، سوله کې عزت دی، سوله کې بيا رغونه، پرمختګ او نوې جوړونه ده. لنډه دا چې سوله هغه څه کولای شي چې نور يې هېڅ ډول وسايل او دلايل نه شي ترسره کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک په څومره اوبو کې؟

دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال (اپريل) پر (۱۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (وري) له (۳۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

په افغانستان کې يو پر بل د تورونو پورې کول د سياسي کلتور يوه برخه ده. تېرو څلوېښتو کلونو کې دې کلتور امتداد پيدا کړ، اوس نو دا



کلتور يو ځل بيا په څپو دی، هره سياسي ډله او هر سياسي شخص پر يو بل د پرديپالۍ او جاسوسۍ تور پورې کوي، پخوا به جهادي ډلو پر خلق او پرچم د روسپالنې او هغوی به پر مخالفو جهادي ډلو د امريکا او غربپالنې تورونه پورې کول، خو وروسته د يو شمېر جهادي ډلو مشرانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روس له ګرېوانه سر راوویست او د مخالف لوري یو زیات شمېر مشرانو بیا انګلستان، امریکا او نورو غربي هېوادونو ته پناه یوړه، په اصطلاح سروېس تبدیل شو. هغو تورونو هېڅ ګټه ونه کړه، خو د هغو د متضادو عملونو په نتیجه کې هېواد ته درانه زیانونه واړول شول. اوس یو ځل بیا د تورونو لړۍ تکرارېږي، د ډاکټر اشرف غني یو شمېر پلویان او شمالټلواله پر طالبانو د پاکستان پالنې او هغوی بیا پر دوی د غربپالنې تورونه پورې کوي، دې تورونو کې به منطق او لږ حقیقت موجود وي، ځکه څوک چې په کوېټه او پېښور کې شوراګانې لري، نو هغوی د پاکستان له توره ځان نه شي خلاصولی او دا ډلې چې بیا د پاکستان ضد شعارونه ورکوي، منطق یې نه مني او هغه ډلې چې د امریکا یې الوتکو تر وزرونو لاندې پر کابل واکمن شول او یا یې خپله دېرش کاله په غربي هېوادونو کې ژوند کړی وي، خوی خصلت او د ژوند شریکبانی یې هم د همغه ځای وي، د همغو په مرسته واک ته رسېدلي وي، نو دا ډلې او اشخاص چې غرب ضد څرګندونې کوي، پر ځان او ملت رشخند وهي. خبره دا ده چې هېڅوک او هېڅ سیاستوال د تورونو له دابرې وتلای نه شي. که دا ټول تورونه د یوې فرضیې په توګه ومنل شي او لومړی د طالبانو له اسلامي امارته د پاکستان لاس لنډ شي او بیا له ملي وحدت حکومت څخه د امریکا، نو دواړه جوړښتونه به څومره خپل عمر ته دوام ورکړي؟ واقعیت دا دی چې طالبان به کمزوري شي، جنګ به سوړ شي، خو په بشپړ ډول به ختم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، ځکه چې له ګډوله حکومت څخه نارضايتي دومره زياته ده چې له طالبانو پرته يې نور مخالفين هم پيداکېدلای شي، خو که د غني په مشرۍ د ملي وحدت پر حکومت د امريکا مرستې بندې شي، نو دا حکومت به يوه اونۍ هم دوام ونه کړای شي. د دې خبرې علت څه دی؟ د غني حکومت د اضدادو يوه مجموعه ده چې له ځينو محدودو کسانو پرته يې نور اکثره غړي په بېلابېلو متضادو ډلو پورې تړلي دي چې ډېره بده سابقه لري. د غني حکومت يو شمېر نور غړي بيا هېڅ ډول عقيده يي اعتقاد نه لري او نه په دې وطن کې کلتوري او قومي ريښه لري. دوی ته حکومت د يوې اقتصادي سرچينې په توګه مطرح دی او هر کله چې پرې سخته راغله، له هېواده پښې سپکوي. د طالبانو مشران ښه دي، که خراب، په خپله او د کورنۍ اکثره غړي يې د جګړې لومړۍ کرښې ته حاضر دي، خو د دې بل لوري د چارواکو کورنۍ او زامن يې د خپلو پلرونو د حکومت لپاره دومره قربانۍ ته هېڅکله نه حاضرېږي، نو د يو چا زوی چې د خپل پلار د حکومت ملاتړ نه شي کولای، دا عام ولس ولې دومره قربانۍ ته حاضر شي؟ طالبان د فکر خلک دي که نه، خو د عمل خلک دي. په حکومت کې يو شمېر کسان د فکر دي، خو د عمل نه دي.

د عمل د خاوندانو په حـــضور کې
د وينا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ليکنې څخه هدف دا دی چې د سياستوالو تورونه د ارزونې مصداق نه دي، د هغوی عملونه بايد وارزول شي. اوس وخت کې هېڅ داسې سياسي مميز نه شته چې ښخ کې ډکی ونه لري. دلته څوک سپينې کوترې سياست ته نه پرېږدي، ولس د سياستوالو له کليشه يي شعارونو او ستغو عملونو ستړی دی. سولې او ارام ته اړتيا لري. دوه څرګندې ليکې بايد تشخيص شي: د سولې پلويان او د جګړې اوربلوونکي. هغه څوک چې سوله غواړي، هغوی بايد د سولې لپاره ټولې ممکنه لارې چارې وکاروي او هغوی چې د واک د امتداد لپاره جنګ غواړي، ښه به وي چې خپل اولادونه له طالبانو سره د مخامخ جګړې لومړۍ ليکې ته ولېږي. که د غني، قانوني، صالح، محقق، دوستم، خليلي او نورو برحالو چارواکو زامن، د ملاعمر، هيبت الله، ستانيکزي، حقاني او نورو طالبانو دزامنو پر وړاندې مخامخ جګړې ته لاړ شي، نو که جګړه يې وګټله، هم به توريالي او هم به اتلان شي او که زور يې و نه رسېد، نو مجبور به شي خپل پلرونه سولې ته لېواله کړي، تر هغه پورې دا جګړه په کورنۍ کچه نه ختمېږي چې د دواړو لورو لوړپوړو اشخاصو کورنۍ درد او خطر احساس نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې اقتصادي مرکزونه؟

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اپریل) پر (۲۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (وري) له (۳۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**پوره څلور لسيزې کېږي چې په افغانستان کې تر سپېڅلو شعارونو لاندې نامقدسه جګړه روانه ده. د جګړې اکثره کورني او بهرني لوبغاړي او کرکټرونه بدلېږي رابدلېږي، خو د جګړې ماهيت او د افغانستان د**



**ورانۍ حالت هماغه شان دوام لري. دا خبره منطقي نه ده چې جګړه دې تصادفي وي او له کوم اصلي مرکزه دې کنترول نه شي. که د جګړې شعارونه او لوبغاړي هر څومره واوړي راواوړي، خو دوه حقيقتونه او واقعيتونه ثابت دي: د جګړې اصلي او محرکه قوه د پاکستان استخبارات**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او د جګړې ډګر افغانستان دی. په کورنۍ کچه به افغان سیاستوالو کې د ملامتۍ کچه د چا پاو زیاته او یا کمه وي، خو په ټوله کې افغان ولس قرباني شوی او سیاستوال او تنظیمونه یې د یو بار مصرف په توګه کارول شوي دي. اوس چې د جګړې ژورو ته سرې ګوري دا جګړه که څه هم د ایډیالوژیک بېز او انګېزې له مخې پیل شوې او غبرګون یې هم څه نا څه همدا ډول دی، خو دلته ولې تر ډېره بریده د پوځي مرکزونو پر ځای اقتصادي بنسټونه په نښه کېږي؟ اقتصادي مرکزونه خو مسلمان او نامسلمان دواړو ته په کار دي او د ملت د ژوند اساسات جوړوي، خو افغانستان کې د عقایدو تر چتر لاندې جنګېدونکي سرتېري بیا پر دې نه پوهېږي چې اسلامي حکومت اقتصاد ته اړتیا لري که نه؟ په جلال اباد کې دوه درې ځله د بهسودو پله پر سر پر بهرنیو سرتېرو ځانمرګي بریدونه وشول او پله ته په کې هم ډېر زیان واوښت، دا بریدونه ولې تر پله اخوا او دېخوا نه ترسره کېدل؟ خو هغې اصلي سرچینې چې ځانمرګي یې روزلي وو، له هغو یې دا تعقل هم اخیستی و چې د بهسودو پل له امریکایانو سره څه رابطه لري؟ د افغانانو د اصلي دښمن اساسي هدف دلته دا و چې له یوې خوا د یرغمل شول مسلمان په وسیله امریکایان له منځه یوسي، له بلې خوا پل رنګ کړي او همدا رنګه له دې پله تېرېدونکې لویه لار له دوو نورو ختیزو ولایتونو (کونړ او نورستان) سره غوڅه کړي. په دې ډول به لکونو خلک له ستونزو سره مخامخ شي او دوی به د کونړ لوی سیند او هلته مېشته ولسونه تر خپل کنټرول او اغېز لاندې راولي. افغان جګړه مارو غاړو د جګړې د اصلي لوبغاړو دغه اصلي هدف هېڅکله درک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ. د کابل پر کانټینینټال، سرینا هوټل، ذنبق څلور لارې او نورو مهمو مرکزونو برید د سیاسي ملحوظاتو تر څنګ اقتصادي انګېزې لري. پاکستان لکه څنګه چې یو ځل یې د جهادي ډلو له قهریې قوې څخه د افغانستان د ویجاړۍ لپاره ګټه پورته کړه او کله چې هغوی په اصطلاح بریالي شول، نو بیا له داسې یو وطن سره مخامخ وو، چې نه یې اقتصاد درلود، نه یې پوځ او نه هم نور ودانیز تاسیسات، نو بیا د پاکستان خیرات او ترحم ته کېناستل، اوس یو ځل بیا د طالبانو د اسلامي تحریک په وجود کې تېر داستان بیا تکرارېږي، دا چې طالبان پرې پوهېږي او که نه؟ دا د هغوی خپل مشکل دی، خو شعوري افغانان د پاکستان د استخباراتو پر ستراتیژۍ ښه پوهېږي.

پر مخابراتو وزارت ننني برید چې هر چا کړی، هېڅ ډول توجیه نه لري، مخابرات د هر هېواد اعصاب دي. په دې وزارت کې د هېواد زیاته معلوماتي ډېټا خوندي ده، د ملک لپاره یوه ستره اقتصادي سرچینه ده، هر حکومت چې راځي، اسلامي وي که الحادي، مخابراتو ته اړتیا لري، بې اعصابو حکومت نه شي کېدی، نو یو څوک چې خپله ټلیفون، فکس، مخابره او فیسبوک کاروي او بیا پر دې مرکز برید کوي، د هغه د جهالت درجه به په کوم حد کې وي؟ خبره رالنډوم، د جګړې پر ټولو عناصرو او غاړو غږ کوم چې د افغانستان ملي شتمنۍ، د ټول ملت مال ګڼل کېږي، هېڅ ډله حق نه لري چې د سیاسي او پوځي غرضونو لپاره هغه د ملت د واک له دایرې وباسي او یا یې د خاورو پر ډېرۍ بدله کړي. طالبان به سبا ملایان شي، خو د دې وطن د جوړولو وړتیا به ونه لري او هر څه به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


بایلولي وي. مجاهدین هم یو وخت په دغسې ګرمه وینه کې وو، د ننګرهار فارمونه یې لولپه کړل او ویل به یې چې مورږ ته یې بیا عربان جوړوي، ورروسته عربان د خپلې عیاشۍ پر لوري وخوځېدل، مجاهدین په ډاګ پاتې شول او فارمونه یې همغسې سوي لوغړن پرېښودل.

نو اوس باید طالبانو هم د مجاهدینو د دویم نسل په توګه دا پخه تجربه ترلاسه کړې وي چې که له جګړې لاس نه اخلي، نو د هېواد تاسیساتو او د پاکستان اهدافو ته باید په ځیر سره متوجه شي. د پاکستان د دوستۍ مزه خو مو یو ځل وڅکله چې له سفیره نیولې تر امیره پورې یې ټول پر امریکایانو خرڅ کړئ، راځئ هغه زور چې د حکومت پر وړاندې یې کاروئ، د خپل وطن د شتمنیو د خوندیتابه لپاره یې ولګوئ، نو که دا تاسیسات تاسې نه ورانوئ، بل څوک یې ړنګوي، د خپل زور یوه برخه د هغو پر ضد وکاروئ. بیا هم وایم چې طالبانو ته تر (ای، ایس، ای) او پنجابیانو د غني دا ورروست، ګډوله او چینجن حکومت هم ښه دی، باید خبرو ته ورسره تیار شئ او د غني ګډوله حکومت ته هم وایم چې تر (سي، ای، ای) او امریکایانو درته دا خپل سوی لوی لوغړن طالب هم ښه دی، د خبرو دروازې مه بندوئ، د قدرت د نیولو او انحصارولو لپاره نور د دې مظلوم ملت تاسیسات له منځه مه وړئ! خپل اصلي دښمن ته متوجه شئ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک قانون غواړي او څوک يې نه غواړي؟

دا ليکنه د (۲۰۱۹)م کال د (اپريل) پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غويي) مياشتې له (لومړۍ) نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.




افغانستان کې قانون د قاعدې بڼه غوره کړې، له تطبيقي اړخه يې استثناات زيات شوي، کله چې پر لومړۍ درجه چارواکو د قانون د تطبيق خبره مطرح شي، نو حالات او استثناات دمخه کړي. کله چې قانون د حاکم په ګټه وي، نو بيا د قانونيت چغې پورته شي او کله چې د قانون تطبيق يې ناکنټروله واک کنټرولوي، نو بيا د پلمو باران راخوشې کړي. هېڅ عقلمن افغان له دې خبرې انکار نه شي کولای چې په اوسني ګډوله حکومت کې د جمهور رييس په توګه د غني تر سوګند پنځه لس دقيقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته اساسي قانون د همغه شخص له خوا تر پښو لاندې شو چې د همدې اساسي قانون د تطبيق لپاره يې سوګند خوړلی و. ما د يو افغان په توګه همغه وخت خپل غږ اوچت کړی، بيا چې په متواتر ډول قانون تر پښو لاندې کېده هم مې خپله چغه پورته کړې ده. د غني او عبدالله په حکومت کې د اساسي قانون له دوه– درې مادو پرته له نورو اکثرو مادو څخه په متواتر ډول سرغړاوی شوی او لا هم کېږي. په دې کې لومړۍ درجه مسول خپله جمهور رييس او بيا د حکومت نور چارواکي دي. غوړه مال، ځانساتي، ورځچاري او نور چې د قانون د حاکميت په نشتوالي کې يې ګټه ده، هېڅکله به د قانون د واکمنۍ غږ پورته نه کړي، اوس يو شمېر کنځلماران هم له دې ډلې سره يو ځای شوي دي. ستره محکمه اساساً له اساسي قانون سره د نورو قوانينو مطابقت څېړي، که په هغو قوانينو کې د اشخاصو د واک د تمديد څرنګوالی راغلی وي، نو محکمه د همغې محتوا له مخې نظر ورکوي، حکومت د وضاحت وضاحت نه غواړي. اوس چې د جمهور رييس د کاري مودې مسئله سترې محکمې ته محول کېږي، سره له دې چې ابهام نه لري، خو همدې سترې محکمې ته له اساسي قانون سره د اجراييه رياست د تطابق او تفسير مسئله ولې نه وړاندې کېږي؟ دا خو دا مانا لري چې دا يو کار د ښاغلي غني په ګټه دی، هغه دې محکمې ته وړاندې کېږي او د اجراييه رياست لغوه چې د ملت او قانون په ګټه ده او اوس يې د حکومت پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمه برخه ناقانونه کړې، پر هغې بیا سترګې پټېږي؟ د جمهور رييس د کار موده په قانون کې تسجیل شوې ده: ((د جمهور رييس وظيفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي پر لومړۍ نېټه پايته رسېږي، د جمهور رييس د کار تر پايته رسېدو دمخه د نوي جمهور رييس د ټاکلو لپاره انتخابات له دېرشو تر شپېتو ورځو پورې موده کې کېږي.)) دې برخه کې پوره وضاحت دی، کله چې يوه ماده کې ابهام نه وي، سترې محکمې ته يې وړاندې کول ضروري نه دي، خو که بيا هم مخالفو کانديدانو اعتراض درلود، د هغو له ليکلي اعتراض سره بايد د حکومت له خوا محکمې ته د تفسير او له اساسي قانون سره د تطابق لپاره لېږل شوې وه، دا ماده پوره وضاحت لري، نيوکه پر دې ده چې مبهم او متنازع مسايل ولې د تفسير او تطابق لپاره محکمې ته نه وړاندې کېږي؟ جمهور رييس بايد لا پخوا له سترې محکمې څخه د مبهمو مسايلو تفسير غوښتی وای او خپل مکلفيت يې پوره کړی وای، د پوښتنې وړ خبره دا ده چې که جمهور رييس ((تر انتخاباتووروسته)) عبارت ټينک کړي، ټاکنې يرغمل کړي، هر وخت ورته پلمې جوړې کړي، کولای شي تر پنځو کلونو پورې خپله موده وغځوي، دې حالت کې به څه کېږي؟ دا بحث يوازې د ښاغلي غني پر حاکميت نه دی، بلکې هر يو ته به دا لاره خلاصه شي.

اوس چې جمهور رييس د اساسي قانون له مخې ستره محکمه د خپل واک د غځولو يوه قانوني سرچينه ګڼي، نو ورته عمل به پر اجراييه رياست

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه تطبيقوي؟ که د اجراييه رياست پوست محکمې ته مخکې شي، محکمه به ورته وايي چې دا خو په اساسي قانون کې هيڅ وضاحت نه لري، مورږ څه وڅېړو؟ نو دلته بيا دا پوښتنه پيداکېږي، که اجراييه رياست د قانون خلاف دی، ستره محکمې پرې ولې پنځه کاله ځان غلی کړ؟ او ولې جمهور رييس د دغه پوست د متصدي کاري موده دومره وغځوله؟ او که قانوني و، نو ولې له اساسي قانون سره سم د هغه د وضاحت مسئله محکمې سره نه مطرح کېږي؟ که له قانوني پلوه محکمې ته د محول کېدو وړ نه وي او يوازې د جمهور رييس په فرمان رامنځته شوی وي، نو دی بيا ولې دومره وارخطا شو چې د اساسي قانون خلاف کار وکړي؟ او که چېرې يې د پرديو په زور جبراً داکار ترسره کړی وي، نو د استقلاليت دا دومره چغې خو په ښکاره د تکلف او تصنع ښکارندويي کوي، نو اوس که څوک رښتيا هم د قانون مينوال او لېوال وي، راځئ چې قانون پر ټولو تطبيق کړو. تر ټولو دمخه بايد جمهور رييس ته دا مسئله راجع کړو، ځکه دی لومړی سړی دی چې پر قانون يې قسم خوړلی او د قانون د تطبيق مسوليت لري. د مفکر صيب خيالي او نظري کنځلمارو ته چيلنج دی چې که تاسې کې رښتيا هم دومره متره وي، راووځئ د سترې محکمې مخې ته لاريون وکړئ، اجراييه رياست لغوه کړئ، له محکمې فيصله واخلئ، د بهرنيو چارو وزير لرې کړئ، امرالله صالح چې اوس تر قانون پورته کارونه کوي، د هغه مخه ونيسئ او که دا توره نه شئ کولای، لاړ شئ پر خپل ((محبوب)) مفکر مو فشار راوړئ چې پر عبدالله، محقق، خليلي او نورو پخوانيو او اوسنيو چارواکو، چې د ده په حکم مقرر شوي او يا مقررېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون تطبیق کړي. یو دولتمشر چې په شپږو میاشتو کې د ولسي جرګې ټاکنې نه شي اعلانولای او د خپل دولت یو رکن نه شي بشپړولای، پر هغه له نیوکې ډډه کول په خپله لاقانونیت ته لاره اوارول دي. کنځلمارانو ته اړتیا نه شته ځکه د هر کنځلمار په شخصیت کې په مستقیم او نا مستقیم ډول د هغه د ممدوح شخصیت انځورېږي. جمهور رییس تر شپږ سوه زیات مشاورین او نور قانونپوهان لري، هغوی باید ټولو ناقانونه چارو ته قانوني ځواب ووایي. په همدې حکومت کې د هېواد او سیمې په کچه تر سلو زیات داسې لندغر وو او لا هم شته چې د ښاغلي مفکر سیوری یې په توپونو ویشت، خو د همدغه غني په لاسلیک په لوړو پوستونو کې مقرر شول او لا هم مقررېږي. جرئت د چا د امنیت شورا مرستیال او مشاور و؟ عطا محمد نور څلورکاله د چا والي و؟ عبدالله عبدالله پنځه کاله د چا اجراییه رییس دی؟ احمد ضیاء مسعود د چا ځانګړی استازی او درېیم مرستیال و؟ الماس د چا فوق العاده استازی دی؟ امرالله صالح د چا مخالف او اوس د چا مرستیال دی؟ په اوسني حکومت کې د لندغرو له لېست څخه پوره یوه لیکنه جوړېږي. زه د هغو اشخاصو له جملې څخه یم چې زما کورنۍ سل سلنه مفکر صاحب ته کمپاین کړی او سل سلنه رایه مو ورکړې، خو ښاغلي غني له خپلې څلور کسیزې کورنۍ څخه (۲۵) سلنه رایه راخپله کړې ده. یانې نه یې زوی، نه یې لور او نه یې هم مېرمنې رایه ورکړې، یوازې خپله رایه یې ځان ته کارولې ده. مفکر صیب د ټول افغان ولس پورورړی دی. زما اختلاف ورسره له هغې ورځې راغی چې پر اساسي قانون یې معامله وکړه، له لندغرو سره یې ګډه حکومت جوړ کړ، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یې چې قانوني ګام پورته کړی، موږ یې ملاتړ کړی، موږ ته قانون مهم دی، نه غني، نه مفکر او نه هم مفکرات، غني تر هغه وخته د تائید وړ دی چې له قانون سره سم روان وي، البته پر مجبوريتونو او تنګلاسۍ یې موږ ټول پوهېږو، که له نورو جنګسالارنو سره د پرتلې خبره راشي، هلته بیا زموږ دريځ بل ډول دی. ما ته یو وخت همدغه ښاغلي غني چې هغه وخت کاندید و، وویل چې لاس راکړه او ژمنه راسره وکړه چې تر کومه راسره ودرېږې؟ ما ورته وویل ډاکټر صیب! زه د ټلوالې او عبدالله دومره مخالف یم چې ته ورسره یو ځای شې، ستا مخالفت هم کوم. ده عبدالله سره له هرې نامشروع وجې چې وګډه حکومت جوړ کړ، خو ما هم خپله ژمنه تر دې دمه عملي کړه. اوس که دی بیا له هرې لارې په ټاکنو کې بریالی شي، د عبدالله ځای به د ده پخوانی مخالف او اوسنی نازولی (امرالله صالح) نیسي او څوک یې چې خواخوږي دي هغه به حاشیې ته ځي، نو کنځلمارانو د شخص ستاینې پرېږدئ، قانون وپالئ! لږ وجدان او تاریخ ته هم خپله غاړه خلاصه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اجراییه ریاست تکلیف

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اپریل) پر (۲۲)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (غویي) میاشتې له (۲)یمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

زما پر تېره لیکنه (څوک قانون غواړي او څوک یې نه غواړي؟) مثبتې او منفي تبصرې راغلې وې. په دې کې یو شمېر خبرې منطقي وې، خو یو



شمېر نورو بیا یوازې په سپوره خبرو خوله خوځولې وه. د هغوی په ځواب کې یوازې دومره ویل په‌کار دي چې د هغوی مرغلرې دې په خپله هغوی ته ډالۍ وي او که دوی یې مناسبې ګڼي، د دوی له خوا دې د دوی خپل مشر ته هم ډالۍ وي. خو اوس راځم خپلې اصلي موضوع ته چې په تېره لیکنه کې مې هم بحث پرې کړی و. اجراییه ریاست او د هغه متصدي ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي غني خو د اساسي قانون په مصداق د سترې محکمې په وسیله خپل تکلیف څه نا څه رفع کړ، خو اوس به دا بل تکلیف څوک رفع کوي؟ ستره محکمه به د اجراییه ریاست عمر غځوي او که غځوي یې لېمټ یا حد به یې څه وي؟ تر بل اجراییه رییس پورې؟ د غني د واک تر امتداده پورې؟ د جوزا تر لومړۍ نېټې پورې، د میزان تر (٦)مې پورې؟ او یا د عمر تر پایه پورې؟ د ټاکنو کمیسیون به ورسره څه کوي؟ جمهور رییس خو د قانون له مخې استعفا ته اړ نه دی، که عبدالله عبدالله د جمهور رییس په کچه صلاحیت غواړي، نو بیا ولې غني ته یوازې جمهور رییس وویل شي؟ که تر هغه وروسته مقام کې راځي، نو که نوماند وي، باید استعفا ورکړي، محقق هم په همدې ډلبندۍ کې راځي. له نېکه مرغه چې ما د ټاکنو په کمېسیون کې پر دې دواړو خپله قانوني عریضه ثبت کړې وه. د شکایاتو کمېسیون به د عبدالله او محقق دوسیه په کومه کته ګورۍ کې ارزوي، لوړپوړو دولتي چارواکو کې؟ که د جمهور رییس او د هغه د مرستیالانو په رول کې؟ که د جمهور رییس او مرستیال رول ورکوي، نو بیا خو باید ستره محکمه د غني په شان د تمدید تفسیر ورکړي او که لوړ پوړي دولتي چارواکی یې ګڼي، باید له دواړو څخه استعفا واخلي!

جمهور رییس غني به څه کوي؟ ایا دوی سره به د ملي وحدت حکومت د هوکړه لیک پر اساس، چې له ده سره د تلې موازي پله ګڼل کېدله، چلند کوي، که د اساسي قانون د (٦٤)مې او نورو مادو د محتویاتو له مخې؟ که د هوکړه لیک له مخې وړاندې ځي؟ نو د هغه موده خو پوره شوه، ان لا درې کاله مخکې باید لویه جرګه جوړه شوې وای او دا پوست قانوني شوی وای، هغه برخه هم پوره نه شوه او که د اساسي قانون له مخې ورسره چلند کوي، نو په دې قانون کې خو دا ډول کوم پوست نه شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته جمهور رییس کولای شي، د خپلو صلاحیتونو یوه برخه یو ارګان او یا چارواکي ته انتقال کړي، که د چارواکو په کتهګورۍ کې یې راولي، ټاکنیز کمېسیونونه مجبور دي، له ښاغلي عبدالله او محقق څخه استعفاوې وغواړي.

اساسي خبره دا ده چې اوسنی حالت د تېر ناقانونه حالت زېږنده ده چې هرې خوا ته یې اړوې، د لاقانونیت مسیر خپلوي. ما چې همغه وخت د یوه افغان او قانونپال په توګه چغې وهلې، اکثرو زه د فاشېست او متعصب په تور تورن کړم، اوس چې یو ځل بیا د قانون د تطبیق چغې وهم، د نویو ټوکېدلو او اومغلنو کنځلمارو له تورونو سره مخامخېږم، دا بېچارګان دومره خام دي چې د قانون او شخص، نظام او حکومت، نن او سبا توپیر نه شي کولای. هېڅ مسول دولتي چارواکی چې څه نا څه یې پر حقوقي مسایلو سر خلاص دی، د خپل دولتي موقف له وېرې حقوقي بحث ته نه حاضرېږي، د دولت په استازۍ هغه اشخاص بحث کې رالوېږي چې اتیا سلنه یې پر عادي املا او انشاء نه پوهېږي. پخوا به اشخاصو حکومت ته ستوغې خبرې کولې، اوس د حکومت په استازۍ بېلابېلې ډلې او اشخاص ملت ته کنځلې کوي.

خپله خبره راټولوم، جمهور رییس، ستره محکمه، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون، انتخاباتي کمېسیونونه، نوې ملي شورا او نور اړوند ارګانونه باید ژر تر ژره د اجراییه ریاست مسله یو طرفه کړي. ګنه حکومت که څه هم په ځنګېدلې بڼه نږدې پنځه کاله دوام وکړ، خو د خدای (ج) فضل و د اساسي قانون د بدلون وس یې پیدا نه کړ. اوس جمهور رییس تر بل هر وخت په قوي دریځ کې دی. د محکمې نظر لري، د اساسي قانون وثیقه لري، د ټاکنیزو کمېسیونونو قوانینو دی په ښه دریځ کې ودرولی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېګونو دولتي څانګوکې د پښتو پښتوا په اندول ځواکمن دی، له ناحکومتي دښمن او سیال سره یې لا هم د بهرنیانو په مرسته واټن شته، (جان کیري) هم حضور نه لري، نو پر دې وخت چې دی اساسي قانون نه شي تطبیقولای، بیا خو نو هر څوک حق لري چې ووایي، دی رښتیا هم یو سیاسي معامله‌ګر دی، له لنډغرو او شمالټلوالې سره دایمي ائتلاف لري، نه د قانون پروا لري او نه د ملت، یو ډارن دېکتاتور دی چې خپلو ته تېز او مقابل لوري ته ښه پېڅ دی.

غني باید پر اساسي قانون باندې د خوړل شویو قسمونو کفاره ورکړي، د جمهور رییس په توګه لومړی عبدالله او د شمال ټلوالې نور لنډغر او همدارنګه د هرې نامشروع ډلې ټول مافیایي عناصر له حکومته لرې کړي د ده په فرمان راغلي اشخاص په خپل فرمان له کاره ګوښه کړي او که بیا هم همغه خرک او همغه درک وي، نو د منتقدینو هغه خبره کېدی شي په رښتیا بدله شي چې ده ته کله کله د ((غلام ابن غلام)) خطاب کوي.

که غني له دغه اوسني قانوني او مقطعه یي ځواکه غوڅه قانوني او عملي ګټه پورته کړه، نو هم به حکومت مستحکم شي، هم به دولت قانوني مسیر ته ولېږي، هم به مافیایي ډلې ختمې شي، هم به فساد له منځه لاړ شي، هم به ملت خوشاله شي، هم به سولې ته د یو واحد حکومتي ټیم په توګه لاره اواره شي او هم به په راتلونکو احتمالي ټاکنو کې د غني احتمالي بریا پر یقیني بریا بدله شي، د لیکوال یې یوازې لیکل، د سیاستوال او حاکم یې عملي کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لر او بر یو افغان

## یوه وینه یو ارمان

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د اپریل پر (۲۲)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غویي) میاشتې له (۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**(د مشورتي لویې جرګې د مسولینو د جدي پاملرنې وړ!)**




**مـوږ چـې کلـه د لـر او بـر افغـان خبرې کوو، په عمل کې یې هـم ثابتوو، لر او بر افغان په مانا او حقیقت کې یو واحد ملت دی. دا چې د دې ملت یوه برخه په زور او جبر له خپل بدنه جلا شوې، د هغې د بیا پیوستون لپاره شعوري او ملي مبـارزه پـه کـار ده. زمـوږ خوښـــۍ، ســـوکالۍ، دردونـــه او غمونه، ټول ګډ دي. که دلته غم وي، هلته غم دی، که هلته خوشالي وي، دلته خوشالي ده. اوس چې افغانستان کې د سولې مشورتي لویه جرګه جوړېږي، نو په کار ده چې د خپل لوی وطن د محکومې برخې مشران او استازي هم په کې ګډون وکړي. په تېرېدونکې لویه جرګه کې چې زه د ختیزو ولایتونو د ټاکنو د دارالانشاء مسوول وم، نو په ډېرو قوي دلایلو مې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوزې پښتونخوا په تېره بيا قبايلي سيمو لپاره (۱۱) څوکۍ ترلاسه کړې چې هغو په ډېره مينه په لويه جرګه کې ګډون وکړ. تر هغه وروسته په ټولو



لويو جرګو کې ما هڅه کړې، خو د کورنيو مخالفينو او ځانساتو پښتنو د مضر احتياط له امله د محکومې برخې ونده په دا وروسته نورو لويو جرګو کې تضمين نه شوه، يوازې د پاکستان او افغانستان د امن په ګډه جرګه کې لر او بر افغانان سره جرګه شول، که څه هم له پښتونخوا څخه د راغلو استازو يو شمېر د پاکستان د حکومت تر تاثير لاندې و، خو دا چې يوه پېړۍ وروسته لر او بر پښتانه په خپله سيمه کې د سولې په باب سره جرګه شول، دا خپله يوه لويه بريا وه. دا چې د هغې جرګې پرېکړې دواړو حکومتونو عملي نه کړې، هغه د جرګې نيمګړتيا نه وه، اوس چې يو ځل بيا په کابل کې د هېواد په کچه د سولې په باب مشورتي لويه جرګه جوړېږي، نو په کار ده چې له کوزې پښتونخوا څخه هم ګڼ شمېر استازو ته په کې د ګډون بلنه ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرګې د عمومي شمېر په اندول باید لږ تر لږه له محکوم وطن څخه (۳۰۰-۵۰۰) تنو محکومو افغانانو ته ونډه ورکړل شي او که دا شمېر اوس ممکن نه وي، نو د هغوی د یوې نسبي استازولۍ تضمین دې وشي. په دې برخه کې دې په ټوله پښتونخوا کې ملتپالو ګوندونو، پښتون ژغورنې غورځنګ او نورو قومي مشرانو سره ببړنۍ مشوره وشي او د هغوی په واسطه دې د مخورو اشخاصو په ګډون په دې لویه جرګه کې د هغوی حضور تضمین شي. که زموږ حکومت په تېره بیا جمهور رییس رښتیا هم د ډیورنډ توره کرښه په رسمیت نه پېژني او د اغزن تار پر سر



یې له پنجاب سره معامله نه وي کړې، رښتیا هم پنجاب ضد احساسات او افکار لري، نو په دې لویه جرګه کې دې سل په سلو کې د محکومو افغانانو ونډه تضمین کړي. دا داسې لویه جرګه نه ده چې د هېواد ټول برخلیک دې په دې پورې تړلی وي، دا یوازې د سولې په باب مشورتي لویه جرګه ده، نو زموږ محکوم افغانان به وایي چې ته مې د سولې په باب مشورې ته نه رابولې چې زموږ او ستاسو تر ټولو مهم او ګډ ضرورت دی، نو سبا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې د لوی وطن په برخلیک کې څنګه درسره شریک کړې؟ نو زه دې مشورتي لویې جرګې ته له لغمان ولایت څخه د یوه ټاکل شوي غړي په توګه د لغمان د ولسونو او ولایتي شورا د باور له امله د مننې ترڅنګ پر جمهور رییس او د جرګې پر جوړوونکو مسوولینو غږ کوم چې سل په سلو کې زموږ د محکوم وطن د مخورو ګډون تضمین کړئ!

دا چې هغوی ته به پاکستان په دې جرګې کې د ګډون په لاره کې څومره خنډونه جوړکړي، دا د اشغالګرو کار دی، خو موږ باید د خپلو ورونو حقوق او درناوی خوندي کړو. کله چې ختیځ المان تر ډېره بریده د شوروي اتحاد تر سیاسي اشغال لاندې و، نو لویدیځ المان د یوې ازادې ټولنې په توګه په خپل پارلمان کې د خپلې خاورې د جلا برخې لپاره څوکۍ په پام کې نیولې وې، هغه څوکۍ به تشې وې، خو کله چې دواړه المانونه سره یوځای شول، هغه څوکۍ بیا ډکې شوې. اوس باید موږ هم له ورته تعقل څخه کار واخلو. که لاره کې خنډونه وي، وي به، خو موږ باید د هغوی حقوق تسجیل کړو. نو زه محمد اسمعیل یون د لوی افغانستان د یوه ارمانجن په توګه سر له همدې شېبې د مشورتي لویې جرګې پر کمېسیون، دارالانشاء او تر هغو پورته پر جمهور رییس غږ کوم چې د محکومو افغانانو ونډه تضمین کړئ او که دا کار د ځینو سیاسي ملحوظاتو، غوړه مالیو، ځان ساتنو او نورو ناوړه احتیاط کاریو له امله شونی نه شو، نو زه د دې جرګې د یوه غړي په توګه له دې جرګې سره پرېکون اعلانوم او هیڅ ګډون په کې نه کوم. زما د نه ګډون علت به یوازې همدا وي، هغه کسان او سیاسي خېل چې دا جرګه له هرې وجې تحریموي، هغه د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کار دی، زما هېڅ ډول اړیکي ورسره نه شته او نه یې نظرونه تائیدوم. سره له دې چې د جرګې پر بریا او نه بریا هم پوره باوري نه یم چې د ورکشاپ، سیمینار او کنفرانس بڼه به خپله کړي، که رښتیا به هم مشورتي لویه جرګه وي، جرګه که هر ډول وي، خو زه په کې د خپل محکوم ولس د استازولۍ غوښتونکی یم او که زموږ دا معقوله غوښتنه ومنل شوه، نو لکه څنګه چې مې د یادې جرګې د دارالانشاء له رییس ښاغلي (عمر داودزي) سره ژمنه کړې وه، د جرګې د ټولو چارو په سمون او سمبالښت کې به ورسره ونډه اخلم او که چېرې دا حق و نه منل شي، نو په جرګه کې نه ګډون کوم او نه یې د تخریب هڅه.

د لوی افغانستان د جوړېدو، د سولې د ټینګښت

او د محرومو ولسونو د حقوقو د اعادې په هیله

محمد اسمعیل یون

له لغمان څخه د سولې مشورتي

لویې جرګې ته ټاکل شوی غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګسالاري او کنځلماري غاړه غړی

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اپریل) پر (۲٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (غویي) میاشتې له (٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

اوس چې د جمهوري ریاست ټاکنې شپږ میاشتې شاته شوې، احتمال دی چې نورې به هم وغځېږي او د دې احتمال هم شته چې ځای یې د



سولې خبرې او یا بل بدیل ونیسي. نو ځکه خو اتلس ټاکنیز ټکټونه هم په شنېدو دي او یا هم لږ تر لږه د کم فعالیتۍ او ادلون بدلون احتمال په کې زیات دی. نو اوس که د جمهور رییس په توګه پر غني اصولي نیوکې کېږي، غوړه مالان او کنځلماران یې کوم فعال او نافعال کاندید پورې نه شي تړلی او د خپلو نیمګړتیاوو د توجیه لپاره یې د کنځلو بدل هم له منځه ځي. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه به وي چې د درباري غوړه مالانو او کنځلمارانو د ائتلافونو او سازشونو په باب ترخه حقیقتونه لاپسې بیان شي. د کنځلمارانو غټې ډلې اوس خپل زور د ملي شخصیتونو توهین او تحقیر ته اړولی، هر کله چې څوک یوه قانوني نیوکه وکړي، نو هغه دوی د ډاکتر غني مخالفو کاندیدانو پورې تړي او یا پرې د پنجابپالنې تور ورپورې کړو، خو دا نه وایي چې هغه شخص څوک و چې د پنجاب په استخباراتي مرکزکې یې له رسنیو پټ د هغو له مشرانو سره کتنه وکړه، هغه کوم واکمن و چې پنجاب د تورخم د مزي په خوله کې دروازه ودروله او ده غږ پورته نه کړ؟ هغه کوم واکمن و چې د لر او بر افغان پر سینه اغزن تار تېرېده او ده غبرګون ونه ښود او پر ملت یې د ویښتابه غږ و نه کړ؟ هغه څوک و چې له پاکستان سره یې د استخباراتي معلوماتو شریکولو د هوکړه لیک متن برابر کړی و؟ هغه څوک و چې د ډیورنډ پر کرښه یې پټه او ښکاره معامله کړې وه؟ نو یو څوک چې د دغسې جنایتونو پر ضد چغه پورته کوي دا ملت پال او هیوادل پال دی او که هغه چې دا ډول معاملې یې کړې دي؟کنځلمار به هرڅه ووایي، خو د تاریخ قضاوت بېل دی، جنګسالارۍ ته څوک تسلیم شول؟ چا ورسره غاړه غړې پنځه کاله ګډه حکومت جوړ کړ؟ ستر جنګسالار عطامحمد نور څلور کاله د کوم جمهور رییس والي و؟ چا ورسره پټ او ښکاره پرتوکولونه کول؟ په بلخ کې څو ځله د بغاوت چغه پورته شوه؟ د بلخ اوسنی امنیه قومندان بیا د چا په زور او خوښه مقرر شو؟ پخواني امنیه قومندان ولې میاشت زیاته دنده اجرا نه کړای شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله عبدالله سره چا د اساسي قانون خلاف تړون وکړ؟ جان کيري د چا لاسونه پورته کړل؟ حنيف اتمر څلور نيم کاله د چا د ملي امنيت شورا مشر و او د امنيتي تړون د لاسليک صلاحيت يې ولې ورکړ؟ څلورنيم کاله هغه دده اتل و او نږدې شپږ مياشتي بيا همغه اتل پر ((لنډغر)) بدل شو! احمد ضيا مسعود د چا درېيم مرستيال و؟ د چا فوق العاده استازی او بيا وروسته د چا مخالف شو؟ دين محمد جرئت د چا مشاور و؟ امرالله صالح ولې څلور نيم کاله لنډه غر او اوس د جمهور رييس ((اتل)) مرستيال دی؟ اسدالله خالد د چا سياسي مخالف او اوس ولې لومړی لاس چارواکی دی؟ عمر داودزی د چا مخالف کانديد و او اوس چاته ډېر منلی دی؟ پارلمان شړلی او ناباوره کړی صلاح الدين خان رباني څلور کاله د چا د بهرنيو چارو وزير و؟ د مسعود پېژندنې او مزاري پېژندنې طرحه چا وړاندې کړه؟.

ډاکتر فاروق وردګ چې پر ښاغلي غني او نورو يې له پاکستانه د (۷۰) مليونه ډالرو اخيستو تور پورې کړ و، اوس د چا د پارلماني چارو وزير دی؟ غلام نبي فراهي چې دوه کاله بې وزارته وزير و، اوس چېرته دی؟ زاخېلوال چې ستر مشاور وزير او سفير و، سپينه کوتره وه، خو اوس چې د غني مخالف شو، تور کارغه شو، نادري نادري او قتالي چې دواړه په تېرو ټاکنو کې د عبدالله پلويان وو، اوس يې د غني حکومت اساسي واک په لاس کې دی، په کومو روابطو مقرر شول؟ اکليل حکيمي د چا منلی وزير و، د حکومت نيمه برخه چې عبدالله په زور اشغال کړې، دې کې د چا ملامتي ده؟ د ملت که د منتخب کانديد؟ چا د کنځلماری کلتور عام کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځو کلونو کې چې کابینه بشپړه نه شوه، د چا د بې کفايتۍ څرګندونه کوي؟ د قيصاري او عليپور پر نيونه څومره هېوادوال شهيدان شول او ولې ببرته خوشې شول؟ د ايشچي او دوستم داستان خو ببخي د يادولو نه دی.
زندانونه په ښتنو ډک دي او دفترونه د نظام په مخالفينو او بيا تر دې ټولو څلور نيم کلونو بدرنګيو وروسته کله چې بيا د ټاکنو وخت راورسېد، نو ښاغلی جمهور رييس يو ځل بيا د زاريو کچکول غاړې ته واچوه، لومړی يې عطامحمد نور سره رابطه ټينګه کړه، څو ځله يې جرګې ورولېږلې، خو هغه ورسره مرستيالي و نه منله، بيا يونس قانوني ته په جرګو شو، تر څو ځله جرګو وروسته يې قانوني هم مرستيالي رد کړه. بيا يې هئيت صلاح الدين رباني ته په مرکو ورغی هغه هم تر دوه مياشتو مرکو او جرګو وروسته دده مرستيالي رد کړه.
نو تر دې ټولو سرګردانيو وروسته يې امرالله خان صالح ته پام شو، امرالله خان چې څو کاله له حکومته لرې پاتې شوی و او خپل وزن ورته په ټولنه کې ښه څرګند شوی و، نو د غني وړانديز يې په ورين تندي ومانه، غني چې د تاجکانو د حقوقو د مدعيانو له خوا ښه په زغرده رټل شوی و، نو پرته له دې چې د چا ماضي شخصيت او اوسني ولسي ظرفيت ته وګوري، امرالله خان ته يې خپله غېږه خلاصه کړه، دواړه داسې سره غاړه غړې شول چې ګنې د دوی او د دوی د پلويانو ترمنځ پخوا هېڅ هم نه دي تېر شوي. په دغسې ترينګلې سياسي فضا کې داسې انتخاباتي ټکټونه رامنځته شول چې يو هم له عيبه خالي نه و او ځينو يې له قانونه هم څرګند سرغړاوی کړی و، نو ځکه خو مې د ښاغلو: (غني، اتمر، عبدالله او پدرام) پر انتخاباتي ټکټونو له قانونه د سرغړاوي له امله په ټاکنيزو کمېسينونو کې خپله عريضه ثبت کړه. دې ټکټونو کې به د نسبت او تناسب خبره وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که فکر شوی وای، د (بد او بدتر) نسبت او تناسب د (ښه او بد) نسبت او تناسب ته راکښته کېده. که ټکټونه همداسې پاتې شوي وای او ټاکنې ترسره شوې وای، نو د پنجشیر درې او نظار شورا برې په کې حتمي او د نورو په کې احتمالي وو. امرالله، غني ته او (قانوني) اتمر ته رایې نه راوړي او نه یې راوړلای شي. ډېر دلایل وو چې غني په دې ټاکنو کې له سختو ستونزو سره مخامخ شي او ټاکنې یا له بحران سره مخامخ شي او یا به هم په نیمه ډول د عبدالله په ګټه تمامې شي. دا بېل بحث دی چې بله لیکنه غواړي.

له دې لیکنې څخه مې هدف دادی چې کنځلمار او د هغوی موئتلفین ولې په هرڅه کې دومره وارخطا شي، چې له تحلیل پرته راساً پر کنځلو سر شي؟ دوی ولې پر دې حقیقت نه شي پوهېدلی چې هر کله غني د کوم جنګسالار په مقابل کې ولاړ دی، ما د یوه افغان په توګه په نره دده د دریځ ستاینه کړې او هرکله یې چې له جنګسالارانو سره د معاملې لمن نیولې، نو ما یې بیا په زغرده غندنه کړې ده. زما او د غني پلوه کنځلمارانو ترمنځ توپیر دا دی چې زه په هر حالت کې د جنګسالارانو مخالف یم. که د غني موافق وي که مخالف، خو د غني د کنځلمارانو او درباري غوړه مالانو خصلت بیا دا دی چې که کوم جنګسالار او یا ملتپال له غني سره ملګری وي، نو دوی بیا غلي وي، هېڅ نه وایي، کله چې د غني له ګډوله حکومته ووځي، نو بیا دوی ډول او سورنی غاړې ته واچوي، چغې شروع کړي. د ملتپال او جنګسالار په فکري ماهیت کې کوم تغیر نه راځي؛ که ملتپال حکومت کې وي که ولس کې او که جنګسالار حکومت کې وي که ولس کې، په ماهیت کې یې کوم تبدلون نه راځي، نو افسوس د کنځلمارو پر حال چې سهار یو ډول وي او ماښام بل ډول. یو جمهور رییس چې څلور نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله یو څوک د امنیت شورا د مشاور په توګه پالي او وايي چې که څوک سیاست زده کوي، نو د هغه سیمې ته دې لاړ شي. خو چې شپږ میاشتې ترې لرې او یا یې سیال شو، بیا به یې کفاره ازادو افغانانو ته ور پرغاړه وي؟

که یوازې د اوسنیو کاندیدانو د پرتلنې خبره وي، نو کېدی شي د نسبت او تناسب تیوری له مخې زما نظر بیا هم غني ته تمایل پیداکړي. خو زما نیوکه دلته د کاندیدانو پر محور نه راڅرخي، بلکې د حکومتولی او قانونیت ځرنګوالی مې هدف دی. کنځلماران فکر کوي چې په کنځلو به د حق د اواز مخه ونیسي، نو هغه څوک چې د ټولو جنګسالارانو په مقابل کې یې دېرش کاله شعوري مبارزه کړې، د غني حکومت او د هغه متغیر کنځلماران به څه وي او د هغوی ګواښونه به څه وي!؟ موږ بې انصافه خلک هم نه یو، غني له ټولو نیمګړتیاوو او زشتو ټولنیزو چلندونو سره سره ډېرې زیاتې ښېګنې او بریاوې هم لري، چې ښکنځلماران د هغو د تفسیر او تشریح وس نه لري. که خدای(ج) کول یو مهال به په یوه ځانګړې لیکنه کې د غني نیمګړتیاوې، بریاوې، مجبوریتونه او ملي ارمانونه په تفصیل سره تشریح کړم.

اوس دې د جنګسالارانو او ښکنځلمارانو ټولو لاس خلاص وي، اوس یې چې زما په ګډون د اکثرو ناحکومتي هېوادپالو افغانانو پر ضد ګډ ائتلاف جوړ کړی، لاس یې خلاص توره یې تېره، د دې ډول ائتلافونو نړول او پاشل د ملتپالو افغانانو ملي دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقيقت، حقيقت دی

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اپريل) پر (۲۶)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غويي) مياشتې له (۶)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

که څه هم د تلې پر شپېړمه د ټاکنو ترسره کېدل يو احتمال دی، خو بيا هم پر ټاکنيزو ټيمونو به په دې خاطر بحث وکړو چې د تاريخ په حافظه کې خوندي شي. په دې (۱۸) ټاکنيزو ټيمونو کې اتلس واړو نوماندانو، چا په مطلــق ډول، چــا پــه نســبي ډول او چــا هــم پــه قســمي ډول د



هېواد د اساسي قانون او د ټاکنيزو قوانينو له محتوياتو او اصولو څخه سرغړاوی کړی دی. لطيف پدرام د اساسي قانون (٤، ۲۲، ۲٤، ۳۹، ٤۲، ٤۸، ٤۹، ٦۲ ) مادو له مخې حق نه لري چې ځان جمهوري رياست ته کانديد کړي، د حنيف اتمر مرستيال (محقق) استعفی نه ده کړې او دوه درې ځايه نور يې د اساسي قانون له محتوا څخه سرغړونه کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر عبدالله هم باید استعفی کړي وای او څو ځایه نور يې هم له اساسي قانون څخه سرغړاوی کړی دی. د غني ټیم هم دوه درې ځایه له اساسي قانونه سرغړونه کړې، نو ځکه خو د قانون له مخې په‌کار وه چې د عبدالطيف پدرام ټيم په بشپړ ډول د ټاکنو له لېست څخه حذف او د غني، عبدالله او اتمر پر ټيمونو انتخاباتي جريمه، جزا او انضباط تطبيق شوی وای، ما د همدغو تېروتنو او سرغړاويو په خاطر د تېر کال د سلواغې پر (٦)مه نېټه په ټاکنو کمېسيون کې پر يادو نوماندانو خپله عريضه ثبت کړه. چې لوستونکو ته يې د زياتو توضيحاتو لپاره يو ځل بيا وړاندې کوم:

د دواړو انتخاباتي کمېسيونونو محترمو مقامونو ته!

څرنگه چې انتخابات يوه ملي پروسه ده، اساسي قانون او انتخاباتي قوانينو يې مسير او څرنگوالی مشخص کړی دی، نو ملت، نوماندان او ټاکنيز کمېسيونونه مجبور دي چې انتخاباتي قوانينو ته غاړه کېږدي او د سرغړاوي په حالت کې په قوانينو کې راغلي مجازات پرې تطبيق شي. اوس چې د جمهوري رياست لپاره د نوماندانو د نومليکنې بهير بشپړ شوی او د هغوی اسناد تر ارزونې لاندې دي، نو داسې ښکاري چې يو شمېر نوماندانو تر نومليکنې دمخه هم د اساسي قانون او هم د انتخاباتي قوانينو له محتوياتو سرغړونه کړې او تر نومليکنې وروسته هم د دې احتمال شته چې دې لړۍ ته ادامه ورکړي، خو د ملت غوڅ اکثريت په تېره بيا قانونپاله افغانان غواړي د جمهوري رياست پر نوماندانو باندې قانون په بشپړ او عادلانه ډول تطبيق شي. ګڼ شمېر هېوادپالو او قانونپالو افغانانو سره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندېښنه ده چې که چېرې پر یادو نوماندانو قانون تطبیق نه شي او دوی د چل، فریب، زر او زور له لارې واک ته ورسېدل، نو بیا خو به د قانون ماتونې پرله پسې لړۍ پیل شي او په نتیجه کې به هېواد له لوی بحران او ملت له لوی زیان سره مخامخ شي، نو ځکه خو ما محمد اسمعیل یون د زرګونو قانونپاله افغانانو په استازۍ دا ضروري وګڼله چې د قانون د تطبیق لپاره تر ټولو لومړی ټاکنیزو کمېسیونونو او بیا وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته عارض شم.

ستاسو له محترمو مقامونو څخه هیله کوم چې که چېرې زموږ دلایل، اسناد او شواهد قانع کوونکي نه وو او له قانون سره یې سمون نه درلود، په دلایلو سره یې رد او مسترد کړئ او که چېرې دې دلایلو د اساسي قانون او د انتخاباتي قوانینو له محتویاتو سره سمون درلود، نو بیا ستاسو له مقاماتو څخه جدي غوښتنه کوو چې د نافذو ټاکنیزو قوانینو په رڼا کې سرغړوونکي له لېسته حذف او یا پرې اړونده جزا او انظباط تطبیق کړئ! زه دلته غواړم له قانونه د ځینو نوماندانو د سرغړونو په باب مشخص دلایل وړاندې کړم، هیله ده په جدي ډول یې وڅېړئ او په پای کې له قانون سره سمه پرېکړه وکړئ!

یادښت: په دې عرضپاڼه کې د عبدالطیف پدرام، ډاکټر محمد اشرف غني، ډاکټر عبدالله عبدالله او محمد حنیف اتمر انتخاباتي ټکټونه زموږ تر اعتراض لاندې دي.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**محمد اسمعیل یون**

**د قانونپاله افغانانو په استازۍ**

---

اوس کومې سرغړونې او درغلۍ چې په دې اتلسو ټیمونو کې مشترکې دي، هغه د جعلي تذکرو او پر هغو لګېدلې ګوتې دي. د اتلسو نوماندانو له جملې څخه یو نوماند هم تذکرې په سم ډول ثبت کړي نه دي او نه یې په ربښتیني ډول په ټاکل شوي جدول کې د خلکو ګوتې ثبت کړي دي، نو که د ګوتو دا نښې نښانې د کریمنال تخنیک په وسیله چک شي، یو نوماند هم وروستي لېست ته لاره نه شي پیداکولای. یوازې د غني، اتمر او عبدالله ټیمونه کولای شي، د دې معیار دېرش سلنه پوره کړي. له جمهور رییس غني څخه دا قانوني تېروتنه وشوه چې نیمه کاندیدانو ته یې، چې لا هم د شکایاتو کمېسیون تائید کړي نه وو، د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشرانو د ټاکنې صلاحیت ورکړ. دا یوه سیاسي او مصلحتي پرېکړه وه، نه قانوني. کله چې یاد کمېشران د همدغو نیمه کاندیدانو په برکت واک ته ورسېدل، نو پرته له دې چې د نوماندانو اسناد پوره او کره کړي، د هغو د احساناتو له مخې یې هغوی بشپړ نوماندان ونومول.

د اساسي قانون تطبیق د هر دولتي ارګان مسولیت دی، خو جمهور رییس په دې کې لومړۍ درجه مسولیت لري. یو څوک چې په روسیه کې د روسیې اساسي قانون، هویت او مملکت و نه مني، همدارنګه په هندوستان، چین، امریکا او نورو کې د هغو هېوادونو د هویت او ملي حاکمیت مخالف وي، هغوی ته به اجازه ورکړی شي چې د هغو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ولسونو مشرتابه ته ځان کاندید کړي؟ نو عبدالطیف پدرام ته د کوم مصلحت له وېرې دا امتیاز ورکړای شي؟ په دې کې جمهور رییس د اساسي قانون او د ټاکنیزو کمېسیونونو مسولین چې د ټاکنیزو قوانینو د تطبیق مسولیت لري، تر ټولو زیات ګرم دی. که څه هم په دې حالاتو کې په قوي احتمال ټاکنې ماکنې شونې نه دي، خو تاریخ به دا هم ولیکي چې د غني او کرزي په حاکمیت کې داسې اشخاصو هم د افغانستان جمهوري ریاست ته ځانونه کاندید کړي وو چې نه یې افغان مانه، نه افغانستان، خو او له څوکۍ یې غوښتله او لومړۍ درجې واکمنو هم ورته خړې خړې کتلې.

زما ایماني او افغاني مسولیت د حقیقتونو بیان دی، پر چا به ښه پر چا به بد لګي، اوس دې نو درباري غوړه مالان، حقوقپوهان او نور راشي د جمهوري ریاست دې ټیمونو ته دې قانوني پرتوګ ور واغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سولې مشورتي لويه جرګه

دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اپریل) پر (۲۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) د غويي له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.




څو ورځې دمخه مې يادونه کړې وه چې د سولې لويې مشورتي جرګې کې په دې شرط ګډون کوم چې د محکوم افغانستان محکومو افغانانو ته هم په کې د ګډون بلنه ورکړای شي او يا هغو ته سهميه مشخصه شي. داکار مې هم د جرګې، هم د سولې او هم د لوی وطن په ګټه ګڼه او هم مې پر حکومت او افغان ولس د محکومو افغانانو حق باله. د جرګې د دايرولو کمېسيون له غړو او نورو متصديانو سره مې پرله پسې اړيکي ونيول، خو کومه مثبته نتيجه مو تر لاسه نه کړه، نو ځکه مجبور شوم په جرګه کې د نه ګډون ژمنې ته ژمن پاتې شم. لکه څنګه چې مې دمخه ويلي وو، زه دې او بلې هر جرګې ته د جنګسالارانو او کنځلمارانو له ليدلوري نه ګورم. جرګه زموږ ملي دود دی له همدې زاويې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورم. اوس مې هم د نه ګډون پرېکړه د محکوم وطن د استازولۍ د نشتوالي له امله ده، نورکوم سياسي عوامل نه لري. دا چې جرګه به د چا واک او نظر تاييد او ترديد کړي يا به د کوم لوري په ګټه او زيان تمامه شي او يا به ناپيېلې مثبتې مشورې ورکړي ، پر دې باندې بحث تر وخت دمخه دی. زه د جرګې دتخريب او اخلال هڅه هم نه کوم، يو ديموکرات شخص يم ان خپلې مېرمنې ته هم نه وايم چې ګډون په کې وکړي او کنه؟کله چې جرګه پايته ورسي بيا يې سرې پر پرېکړو او مشورو قضاوت کولای شي. زما په ګډون او نه ګډون نه جرګه درنېږي او نه سپکېږي، که د حکومتي او نا حکومتي سياسيونو اراده او نېت صفا وي ، نو له داسې لويو جرګو څخه د هېواد د ملي ګټو او ثبات لپاره ډېره ګټه اخيستل کېدلای شي اوکه نېتونه يې بد وي، نو غوټه لا پسې سختېږي، خو بيا به هم جګړه په جرګه حلېږي او پای به مومي. خو اوس به ورته دعاکوو چې خدای( ج) دې دا جرګه له بدو امنيتي پېښو او زړه بداويو وژغوري، د جګړې د اختتام او د هېوادوالو د سوکالۍ سبب دې شي. ملتپالو او هېوادپالو افغانانو ته يو ګټوره، سوله ييزه او مثمره مشورتي لويه جرګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان په انځور کې

| |
|---|
| **دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (می) پر (۱۵)مه، چې د (۱۳۹۸ل) د غويي له (۲۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.** |

## کر د ګلو وکړه چې سيمه دې ګلزار شي. . .

**له نن څخه لس کاله دمخه دا ځای سپېره ډاګ و، دا بوټي او ګلان مې له نورو دوستانو او ملګرو سره يو ځای په خپل لاس ايښي دي. ډېر دوستان چې د دې ځای په جوړونه او زرغونه کې يې مرسته کړې اوس دلته کار نه کوي، يا**



**بل ځای مصروف دي، يا له هېواده مهاجر شوي، يا پخوا مهاجر شوي وو او يو شمېر خو يې ان په ابدي سفر وتلي، خو د لاس نښې يې دا دی پاتې دي. سبا به موږ هم د يو سفر لمن نيسو، خو دا ځای او دا زرغونه سيمه به بل نسل ته پاتې وي. نن چې د دې نيالګيو د کېنونې شاوخوا لس کاله پوره کېږي، نو پر ځان مې پور وګاڼه چې د ټولو هغو هېوادپالو افغانانو د دعا، مننې او کوروداني حق ادا کړم، چې له سپېره ډاګه يې د ژوندون دا ښکلی چمن زرغون کړ. خلک به هر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه هر څه وايي، خو دا ټول کارونه د زړه په وينو تر سره شوي. راځئ چې د خبرو پر ځای د وطن د هرې برخې او يا لږ تر لږه د خپلې برخې



زرغونتيا ته ملا وتړو، اينده نسل ته د خپل لاس نښې پرېږدو.

نن چې پر کابل د خدای (ج) د رحمت باران وشو، نو دا ونې او بوټي يې ومينځل، سخته ښکلا يې ور وبښله، ما او مطيع الله خان ساپي په کې په دې



نيت انځورونه واخيستل چې له وطنه لرې مساپرو هېوادوالو ته د خوښۍ سبب شي، د وطن مينه يې پرې ماته شي او سياسيخېلو ته دا پيغام شي چې ژوند او وطن ډېر ښکلي دي، د خدای او د هغه د رسول(ص) په خاطر نور يې مه ورانوئ او مه يې سپېره کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا هم نړیوال ریکارډ

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (می) پر (۱۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل) د غويي له (۲۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نوره نړۍ د مثبتو پدیدو په پنځونه کې ریکارډ جوړوي او موږ یې د منفي پدیدو په تخلیق کې. یو خو مو د ولسي جرګې د ټاکنو د پایلو په اعلان کې یو نړیوال ریکارډ ټینګ کړ او د یو بې بدیله سک افغان (۱۵۰) رایې مو په (۱۵۰) ورځو کې و نه شوې شمېرلی او دا دی اوس مو د ولسي جرګې د رییس په ټاکنه کې د رشوت او فساد یو بل نړیوال



ریکارډ ټینګ کړ. دټاکنو په بهیر کې د سپېره او مظلوم ملت کور د نړیوالو اسعارو د مارکېټ بڼه خپله کړې وه. د شهزاده سرای د صرافۍ مارکېټ کې هېڅکله هم په دومره لنډ او تنګ وخت کې دومره ډالر نه دي تبادله شوي، لکه دلته چې (( د ملت استازو)) ته ورکړل شول. د نړۍ د هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد په پارلمان کې داسې عجیبه لوبه نه ده پېښه شوې، نو ځکه خو د یو بل نوي ریکارډ خاوندان هم شولو. اوس د ولسي جرګې د ټولو غړو جنجال پر یوې رایې دی چې دا حساب شي او که نه شي؟خو پر هغه اصلي نا مشروع علت هېڅوک بحث نه کوي چې دا رایې ولې له



(۳۰) طبیعي رایو (۱۲۳) تصنعي رایو ته پورته شوې؟ ایا دا رایې د نوماند د اخلاقو، کفایت او لیاقت له مخې پورته لاړې که د (۸) ملیونه ډالرو په زور؟ ایا راشي او مرتشي په کې کومه ګناه لري او کنه؟ کله چې یو مامورګوټی چېرته زر دوه زره افغانۍ رشوت کې ګیر شي، نو د خدای (ج) په غضب ککړ شي، د څارنوال او قاضي تر قلم لاندې یې زړه له ژونده تور شي، خو اوس چې د قانون جوړونې په کور کې رشوت او فساد اوج ته رسي، نه قاضي شته، نه څارنوال، نه محکمه شته او نه عدالت.

که زه د جمهوریيس پر ځای وای، نو په تېرو څو ورځو کې چې د ولسي جرګې د ریاست لپاره څومره رشوت ورکړل شوی، د هغه د څېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مې عاجل یو هوښیار او زړور قضایي او عدلي هیت ټاکه، اول مې رشوت ورکوونکی له یوې پښې ځوړنداوه او بیا مې د هغه د اقرار له مخې له ټولو رشوتخورو وکیلانو څخه دا څه باندې اته ملیونه ډالر را ټولول، په دې پیسو مې یو ځانګړی پوهنتون جوړاوه، د هېواد د امنیتي ځواکونو او نورو شهیدانو اولادونو ته مې د وړیا زده کړو زمینه برابروله. هغو وکیلانو ته چې رشوت یې اخیستی و، هغو ته مې قانوني سزا هم ورکوله او یو څه وخت مې د رایې له حقه هم محرومول. صندوق مې ایښوده، له رشوت پرته به ټولو په کې رڼه او پاکه رایه اچوله، بیا به د یوې پاکې او نا پاکې رایې پر ځای ټولې رایې پاکې وای. اوس خو موږ پر خپل ځان ریشخند وهو، چې ګنې اوس خو(۱۲۳) رایې ټولې پاکې دي، خو زموږ جنجال پر دې یوې مبهمې رایې دی؟ یانې دومره د شفافیت په غم کې ډوب یو!

د شرعي اصل له مخې د هر هغه شي اساس چې پر باطل بنا شي، هغه باطل دی، نو د ولسي جرګې د ریاست دا ټاکنې د همدغه اصل له مخې باطلې دي خو ایا د جمهور رییس، ، لوی څارنوال، قاضي القضات او د شورا د وکیلانو په ګډون داسې نر څوک شته چې د شریعت، انسانیت او قانونیت دا او نور اصول تطبیق کړي؟ په خواشینۍ سره چې اوسمهال یې ځواب ( نه) دی. ولسه خدای ج دې مل شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نن او سبا انځور

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (می) پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د غویي له (۳۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**نه د جوزا پر لومړۍ نېټه څه کېږي او نه د میزان پر شپږمه. نه موقت حکومت شته نه انتخابي. نه سوله ژر راځي او نه ټاکنې پر خپل وخت**



**ترسره کېږي. جنګ به نور هم ګرمېږي او حالات به نور هم ترینګلي کېږي. د افغانۍ ارزښت به نور هم راټیټېږي او د پانګې فرار به نور هم زیاتیږي. کوچني او اومغلن چارواکي به غټېږي او ځوان چارواکي به نور هم پرسېږي، مظلوم به لا مظلومېږي او نومیالي به لا نومیالي کېږي. سیاستوال به پورته کېږي او ولس به نور هم غرقېږي، نو ای زما مظلوم او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې برخليکه ملته! تر هغه به دا حالات روان وي چې طالبان له وحشته، ګاونډيان له رذالته، سياستوال له خيانته، قاضيان له رشوته، فسادګر له فساده، کنځلمار له کنځلو، جګړه مار له جګړې او د مذهب سرلاري له منافقته را و نه ګرځوئ، نو که غواړئ د ژوند حالات مو بدل شي خپل برخليک په خپله بدل کړئ:

چـا چــې خپــل قــدر پــه خپلــه وکــړ ګلــه
ســـتاره د هغـــه قـــام پـــه عـــروج شـــوله
خــدای هــم نــه بــدلوي حــال د هغــه قــام
څـوک چې نـه بـدلوي خپـل حالـت پـه خپلـه.
(فضل احمد غر افغان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ابلیس په لاس شهیده فرښته

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (می) پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د غویي له (۳۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

له هغې ورځې چې خدای (ج) ادم علیه السلام په ځمکه کې خپل خلیفه و ټاکه، نو له همغې ورځې راهیسې ورسره د شیطان دښمني پیل شوه. پېړۍ پر بلې پسې تېرې شوې، خو د شیطان په فطرت او د ادم د زامنو په خصلت کې تغیر رانغی. تېروپستنه د شیطان او تېروتنه د ادم د زامنو ځانګړنه شوه. شیطان له چاپېریال او حالاتو سره سم



خپل رنګ او بڼه بدلوي. کله په سپینه کله په توره او کله په بله رنګینه جامه کې ځان ښکاره کوي، ملا ته د ملا، امي ته د امي او پوه انسان ته د انسان په ډول ځان څرګندوي. پخوا یې د ځمکې پر مخ ثابت کور نه در لود، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس يې د توحيد د کلمې تر چتر لاندې ځان ته د (( پاکستان)) په نامه کور هم جوړ کړ. له همدې کوره يې د خدای (ج) د دين پرضد نا څرګند خو عملي جنګ هم پيل کړ. دا جنګ يې تر ټولو دمخه د خدای دين ته د بې بديله ژمن مخلوق( پښتون قوم) پر ضد پيل کړ. د الله او لا الله په نوم تېره توره يې د يو خدای پاله قوم پر ستوني راتېره کړه. څو موده وړاندې د همدې قوم يوې دينپالې مېرمنې د الله له حکم سره سم د ابليس يو بچي ته شرعي سزا ورکړه. خو د ابليس زامن هم ارام کېنناستل دا ځل يې يوه معصومه فرښته په نښه کړه. شيطان نه يوازې د ادم له زامنو سره خپلې دښمنۍ ته دوام ورکړ، بلکې له ملايکو او فرښتو يې هم خپل غچ واخيست؛ فرښته مومند يې شهيده کړه، فرښتو ته يې دا هم په ډاګه کړه چې زه ګوره نه يوازې ستاسې مخالف يم، بلکې ستاسې په نامه که د ځمکې پر سر کوم انسان وي، نو هغه هم ژوندی نه پرېږدم.

نو ای زما معصومې فرښتې خورې! تا له يو غټ دښمن سره دښمنۍ ته لاس اچولی و، چې هغه الله رټلی، خو د هغه پر بندګانو لا اوس هم حکومت کوي. هغه ستا د مشر ورور د کور دېوالونه هم نړولي او هغه يې په وينو لمبولی دی. ځينو ته يې د دين په نامه د سپين جهالت توره په لاس ورکړې، د خپل ورور متې غوڅوي. د ورور خوله دې له وينو ډکه ده، دلته اوس ايوب خان نه شته، دلته اوس اکبرخان نه شته، نه درياخان شته نه ايمل خان شته. دلته اوس د خوشال سرداري بهرام ته پاتې، خوشالخاني نه شته بهرام خاني ده . عجب خان نشته چې ستا غچ واخلي، محمد ګل خان نه شته چې ستا پر سر لاس راتېر کړي د عزت پوړنی در په سر کړي. د دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتنګان د دنیا مینان دي، له شیطانه دومره وېرېږي چې له خدایه نه وېرېږي. نو ای زما معصومې ګلورینې فرښتې خورې! خپل بې کسه او بې وسه ورور دې وبښه!

هو یو بله خبره، وایي چې معصومې او ماشومې او بیا فرښتې ته د قبر عذاب نه شته او نه ترې پوښتنه ګروېږنه کېږي، نو کله چې دې خپل خالق سره وکتل د خپل وطن او خپل قوم حالات ورته بیان کړه، ګوندې ستا د معصومیت په خاطر پر مونږ ولورېږي او په سپینه جامه کې له سرو ځناورو مو وژغوري.

او هو خورې ! بښنه غواړم ته به وایې چې دلته مې ورونو راسره څه توره وکړه، څو ورځو کې مو زما جسد په عزت سره دفن نه کړ، نو هلته اوس د خپلو ګناهونو او کمزوریو د بښنې لپاره ما خپل رب ته وسیله کوئ؟ نه خورې هېڅ نه غواړو هېڅ. یوازې دومره غواړو چې مونږ وبښه مونږ وبښه. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاشلي ذهنونه

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (می) پر (۲٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (غبرګولي) له (۳)یمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**د می پر (۲۱) مه نېټه مې (د نن او سبا انځور) په نوم یوه لنډه لیکنه خپره کړې وه، اکثریت خوښه کړې وه، خو ځینو یې مخالفت کړی و او**



**یو نیم په کې کنځلې هم حواله کړې وې، په دې لیکنه کې ما د خدای (ج) د کلام د یوې وړې برخې مانا هم په منظومه بڼه راوړې وه، خدای تعالی په**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کتاب (قران کریم) کې فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ ﴿الرعد: ١١﴾

د دې ايت شريف کره محتوايي ژباړه ښاغلي (فضل احمد غر افغان) له نن څخه تقريباً اويا کاله د مخه په خپل دې منظوم کلام (څلوريزه) کې خوندي کړې ده.

چـاچې خپـل قـدر پـه خپلـه وکـړ ګلـه
سـتاره د هغـه قـام پـه عـروج شـوله
خـدای هـم نـه بـدلوي حـال د هغـه قـوم
څوک چې نه بدلوي خپل حالت په خپله

غر افغان زموږ د لوی وطن د پښتونخوا يو ستر شاعر و چې د هند او پاکستان د وېش پر مهال يې د شاعرۍ ثمر پوخ شوی و، د الاهي کلام دا منظومه پښتو ژباړه مې د خپلې ليکنې د وروستي مصداق په توګه راوړې وه، خو دې سره سره يې يو شمېر کتونکو غندنه کړې وه، دا غندنې که څه هم زما پر نورو ليکنو د شويو تبصرو په اندول کمې وې، خو بيا هم څنګزنې او مستقيمې غندنې په کې وې.

له دې غندنو، ستاينو او ځينو سپکو خبرو څخه موږ څو نتيجې لاسته راوړلی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ يو شمېر لوستونکي د خدای (ج) د کلام شکل ته ډېر متوجه دي، نه محتوا ته!

–که په عربي او يا بله ژبه يوه عادي مقوله هم د خدای (ج) او د هغه د رسول کلام ته منسوبه کړو، نو عام لوستونکي مسلمانان يې له کومې ځيرنې پرته په پټو سترګو مني.

–که د خدای (ج) او د هغه د پيغمبر (ص) د کلام محتوا ورته په خپله ژبه بيان شي، خو چې دا نه وي ويل شوي چې دا د الله (ج) او د هغه محبوب استازي کلام دی، نو دوی نه يوازې ډېر ارزښت ورته نه ورکوي، بلکې د غندنې تر بريده هم د خپلې خولې مزي ځغلوي.

– له دې ډول تعبيرونو، نيوکو، غندنو او ستاينو څخه دا څرګنديږي چې زموږ ټولنه په ذهني لحاظ دومره وېشل شوې چې ان د الله (ج) د کلام پر محتوا هم د ناسم درک له امله توافق نه لري.

– يو زيات شمېر کتونکي او لوستونکي د ليکنې محتوا ته نه ګوري، د هغه ليکوال ته متوجه دي، د ليکنې محتوا هم د هغې له ليکوال سره د خپلې مينې او کينې له مخې ارزوي.

نو په يوه ټولنه کې چې د ذهني توافق لپاره د الله (ج) کلام هم وروستی معيار نه وي، نو هلته د شخصيتونو تثبيت او وده د اوسپنې د نينو تر چيچلو هم سخت کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که موږ غواړو له ذهني او فکري پلوه په دغسې وېشل شوې ټولنه کې بیا هم خپلې ټولنې او راتلونکي پښت ته کار وکړو، د خلکو غندنو او ستاینو پسې باید ونه گرځو.

دلته هر نېک کار ته باید د ځان د سپکاوۍ په قیمت اوږه ورکړو.

له همدې وجې خو متل هم دی چې مشمره ونه ډېره په کاڼو لګي.

نو په دې اغزنه زمانه کې د ولس رښتینو خدمتګارانو او د خدمت مینوالو ته باید په ډاګه شي چې که غواړئ ټولنه له دغسې یوه بد حالته وژغورئ! توهین، تحقیر، سپکاوی، کنځلو او رټلو ته باید ځان ټینګ کړئ، که د مایوسۍ او خواشینۍ یوه زره احساس هم درباندې غلبه وکړه، ټولنه به همدغسې پر ذهني انارشۍ اخته پاتې شي او بدمرغي به نوره هم پراخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پکتیکا ماسټرپلان

**(ژمنې او عملونه)**

| |
|---|
| **دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (می) پر (۲۶)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) میاشتې له (۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.** |

**سیاستوال ژمنې کوي او لیکوال لیکنې. سیاستوال تاریخ جوړوي او لیکوال تاریخ لیکي. سیاستوال د تاریخ عملي کرکټر دی او لیکوال یې نظري، اوس نو څه چې سیاستوال کوي او یا یې وايي، لیکوال باید هغه کټ مټ ولیکي او ویې څاري.**



**له نن څخه پوره شپږ میاشتې او شپږ ویشت ورځې وړاندې د نومبر پر (۳)مه جمهور رییس غني له خپلو نږدې دوه درجنو مشاورینو سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکتیکا ولایت ته سفر وکړ، ځینو دا سفر یو کمپاینې حرکت وباله او ځینو نورو د پکتیکا د خلکو یو ضرورت، زه دلته پر دې بحث نه کوم چې کمپاینې حرکت و که یو ضرورت، خو زما له هغو ژمنو سره کار دی چې په دې سفر کې د جمهور رییس له خوا مطرح شوې: جمهور رییس ژمنه وکړه چې پکتیکا ولایت به له درییمې درجې څخه دویمې درجې ته پورته کوي، د ښوونځیو د ودانیو د جوړونې ستونزه به حلوي، د یاد ولایت د لوړو زده کړو په موسسه کې به یو پوهنځی زیاتوي، د پوهنتون احاطوي دېوال به له ځانګړې بودجې څخه جوړوي او پوهنتون (لوړو زده کړو موسسه) کې به داسې ځانګې زیاتوي چې ددغه ولایت د پراختیا لپاره ضروري دي او همدارنګه یو شمېر نورې ژمنې، خو تر ټولو غټه او اساسي ژمنه یې دا وه چې په شپږو میاشتو کې به د پکتیکا لپاره یو اساسي ماسترپلان جوړوي او شپږ میاشتې وروسته به دی خپله راځي او د پکتیکا د ستونزو پر اساسي حل به عملي کار پیلوي. نن چې د مې (۲٦)مه نېټه ده، د جمهور رییس له کړې ژمنې پوره شپږ میاشتې او شپږ ویشت ورځې تېرې شوې، له نن څخه شپږ ویشت ورځې دمخه باید جمهور رییس له همغو چارواکو او دوه درجنه مشاورانو سره یو ځل بیا پکتیکا ته سفر کړی وای او خلکو ته یې ویلای وای چې شپږ میاشتې مخکې چې مې تاسو سره د ماسترپلان ژمنه کړې وه، دا دی ماسترپلان او ((واضح طرحې)) سره یوځای یې راغلم، دا دی د دې ماستر پلان عملي برخه، سر له همدا اوسه یې پیلوم. نو ولس به خوشاله شوی و او فکر به یې کړی و چې جمهور رییس یوازې ژمنې نه کوي عمل هم کوي. اوس خدای(ج) خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې جمهور رییس، د هغه مشاورانو او سیمه ییزو چارواکو ته به دا سفر، د دغه سفر هغه نېټه او په هغه کې کړې ژمنې ور په یاد وي او که نه؟

هسې نه شي چې هغه خبره رښتیا شي چې دروغجن حافظه نه لري.

جمهور رییس داسې نورې ډېرې ژمنې هم کړې، عملي کول خو یې څه کړې چې بیا یې یاد ته هم نه راځي، نو دا یادښت مې ځکه ولیکه چې جمهور رییس او مشاورانو ته یې خپلې ژمنې ورپه یاد کړم. د هغه لیکوال ژبه دې هم گونگه شي چې حقیقت گوري، نه یې وایي او نه یې لیکي. که جمهور رییس د راتلونکي جون میاشتې په بهیر کې هم پکتیکا ته له خپل ماستر پلان او ((واضح طرحې)) سره لاړ شي، بیا به هم یو غنیمت وي. د دې لیکنې په مقابل کې د کنځلمارو کېدونکې کنځلې دې خپله هغوی ته ډالۍ وي. ما دا لیکنه یوازې د پکتیکا خلکو د حقوقو د اعادې او د جمهور رییس د ژمنو د یادونې لپاره لیکلې، نور سیاسي غرض او مرض په کې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رنګ شوي مورچل سرتېري

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (می) پر (۲٦)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) میاشتې له (۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نن د ډېرې ستړیا او مایوسۍ ورځ ده، یوه خوا زغرې دي او توپک دي، بله خوا سوې ساندې او تش لاس. یوه خوا د ظلم انتها ده او بله خوا د مظلومیت او بورو میندو ژړا، په داسې یو حالت کې د منصوري مینې مینان د جنګ میدان ته وتلي، نه توپ لري او نه توپک، نه ګردنۍ



شته او نه د توپک خوله کې ګولۍ. څو د حسین د لارې لارویان په تش

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس د یزید د لښکرو مقابلې ته په سپین میدان ولاړ دي. هو تش لاسي دي خو بې ایمانه نه دي. زړونه یې د ایمان له داسې نوره ډک دي چې مقابل لوری یې نه لري. خو کاشکې چې نن یې تر شا ولاړ مورچل نه وای نړېدلی، کاشکې چې نن دا مورچل د خپل ورور په وینو رنګ نه وای، کاشکې چې دلته ملالې د ایوب ورونو د جنازو سرته ناستې نه وای، کاشکې چې دلته د اکبرخان پر کور د مکناټن د عسکرو ګزمه نه ګرځېدلای، کاشکې دلته نن د داودخان د وطنپالنې ملي سرود غږېدلای، کاشکې دا مورچل جوړ او مستحکم وای، څومره به یې خوندکاوه چې تا ډزې کولای ماګولۍ در وړلای ملالو خویندو دې ګردنۍ ډکولای، نو بیا به تا نښې ویشتلای او ما به نښې شمېرلای، نو بیا به څوک و چې ستا د کور حریم ته یې د تش کتلو جرات کړی وای؟ خو ای د زمانې تش لاسو اتلانو! پام چې وار مو خطا نه شي؛ وخت به راځي چې غاښ د زهرو به ښامار نه لري. وخت به راځي چې دا مورچل به جوړ وي، اتڼ به وي، نارې به وي، څښې د زلمو به وي. پېغلې لوپټې به وي، منظور به وي وزیر به وي داوړ به وي جوړ به یو لښکر وي او د اټک پر لوري یون به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر حاکمیت وروسته

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (می) پر (۲۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) میاشتې له (۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

سړی چې په حاکمیت کې وي مجلس يې ډېر رسمي او تکلفي وي، خو چې له واکه لرې شي هر څه طبيعي مسير ته ولوېږي. نن مو پخواني لوی څارنوال ثابت صیب سره خوشېبې بنډار وکړ. ثابت صیب مې تر



قدرت وړاندې هم پېژنده، د واک پر مهال هم او اوس يې هم پېژنم. څوکۍ او مقامونه بدلېږي، خو که څوک غواړي خپل شخصيت خوندي وساتي، د حاکمیت پر مهال بايد ځان د محکومیت په هنداره کې هم وګوري.

ثابت صیب سره مو د هېواد د اوسنيو بحراني حالاتو د حقوقي حل لارو په باب هم د نظر تبادله وکړه. د ددنيا جاه وجلال د ارهټ منګوټی دی اوړي رااوړي هيله ده هر چارواکی ورته پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ای د سترې اروا مورې!

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (مې) پر (۲۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) مياشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**ای د علي مورې، ای د داوړ مورې، ای د منظور مورې، ای د صديق مورې، ای د عمر مورې، ای د عثمان مورې، ای د ارمان مورې، ای زما مورې، ای د هر افغان مورې او ای د هر انسان مورې!**



**ولې وارخطا يې؟ ولې خپل زوی ته غريو نيولې يې؟ خپل زوی ته دې د دعا لاسونه پورته کوې چې څه پرې ونه شي؟ د ارمان د مور ژړا او فرياد دې ياد ته راځي؟ د وړانګې لونۍ کوکارې او ساندې دې سترګو ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ودرېږي؟ فکر کوې چې ستا زوی به هم لکه ګلاب ورژوي؟ ستا لمن به هم له ګلو تشه شي؟**

**ای د سترې اروا خاوندې!**

**تاته به دې اوس هم زوی کوچنی ښکاري؟ تاته به اوس هم هغه**



**ماشوم ښکاري؟ ته به اوس هم هیله لرې چې هغه ستا مخکې تاتې تاتې وکړي، منډې ووهي، ستړی شي او بیا راشي ستا په غېږ کې ویده شي؟ ته یې په وېښتانو کې ګوتې ووهې او هغه بې غمه ارام وکړي. نو ګوره! علي اوس ماشوم نه دی، هغه اوس لوی انسان دی، هغه د یو لوی قوم سرتېری دی، هغه اوس د خدای د حقانیت توره تر ملا تړلې ده، هغه نور بې غمه خوبونه نه شي کولای، هغه د خپله ویده قوم د ویښتابه لپاره په اوږده سفر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلی، دې سفر کې لوږه شته، زندان شته، سختې شته او ان شهادت شته، د علي لاره د خدای او د هغه د رسول لاره ده.

نو ای زما زړورې مورې ! ای د علي مورې، ای د منظور او د داوړ مورې، ای د ننګیال او د عثمان مورې، ای د لونی او د ثنا مورې او ای د هر افغان او هر انسان مورې! پام چې نهیلې نه شې، پام چې یو



څاڅکی اوښکه تویې نه کړې، ستا یوازې دعا په کار ده، خپل زوی سره دې د دعاوو لښکر ملګری کړه، ستا په دعاوو کې دومره قوت دی چې ان شاالله علي به خپله توره راکاږي او د ښامار غاښونه به راباسي، نو مورې دعاوې کوه دعاوې. . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ارمان پر قبر

> **دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (جون) پر (۵)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) مياشتې له (۱۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**نن د اختر دويمه ورځ ده پښتنې مېندې او خويندې اختر په هديرو کې تېروي، اول خپلو ځوانيمرګو شهيدانو ته د اختر مبارکۍ ورکوي بيا کور ته ساه نيولې را روانېږي. مېندې ملاکړوپې او خويندې د حيا په تور**



**پړونې د خپلو شهيدانو پر قبرونو ساندې ووايي، خپل باتور شهيدان وستايي او بيا تشې لمنې کور ته ستنې شي. د اختر لومړۍ او دويمه ورځ همداسې له تروو اوښکو سره تېرې شي. ځينې خو په پټه ځان سره داسې وژاړي چې د ژړا غږ يې هم تر ستونې را و نه وځي، يوه چوپه او خاموشه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دردوونکې ژړا چې د نورې نړۍ په ژړاګانو کې دود نه ده، یوازې دپښتنې مور او خور د ژړا ځانګړنه ده او بس.

سږ اختر بیا هم د همداسې شهیدو ارمانونو اختر دی. سږکال بیا ډېر ارمانونه شهیدان شوي دي.

پروسږکال اخترکې ارمان لوښی ژوندی و، . خو سږ اخترکې یې مور د هغه د قبر څنګ ته ناسته ده. تېر اخترکې ارمان د خپلې مور په لمن کې لکه غوړېدلی ګلاب پروت و، خور یې وړانګه ترې واری



تاوېدله، ګلالي اولادونه یې ترې لکه پتنګان تاوېدل راتاوېدل، چا یې تر غاړې لاسونه تاوول او چا یې جیبونو کې ګوتې وهلې، چا اختری غوښته او چا د اختر جامې. نن ارمان نه شته، د هغه وړانګه پر ملا ماته ده، هغه بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره ده. مور یې پر ملاکړوپه ده، مېرمن یې دېوال کې د ارمان تصویر ته ګوري، بې غږه اوښکې تویوي، حیرانه ده چې خپلو اولادونو ته څه وواییې؟ هېڅ پلمه ورته نه شي جوړولای. ارمان چې نه وي وړانګه هم مړاوې کېږي. د ارمان کیسه زمونږ د هر کور کیسه ده. زمونږ درې نسله د یوې اوږدې غمیزې قرباني شوي: مور، زوی- لور او لمسیان ټول د غم په زنځیر تړلي دي.

څومره د پخې ارادې خاونده یې ای د ارمان مورې! نن به څومره سخته دربانديې تېره شوي وي، خپله تشه لمن به دې لیدلي وي، خپل



کوچنی ارمان، خپل ځوان ارمان، خپل ستر ارمان به دې سترګو ته ودرېدلی وي، هغه چې ممی ممی، هغه چې تاتی تاتی به یې کول، هغه ارمان، هغه کوچنی او هغه ګلالی ارمان در یادوم. او هو ته چې څومره پر ارمان ګرانه وې او هغه چې څومره پر تا ګران و، د دې ګرانښت جاج خو زه د خپلې مور له ګرانښت څخه اخیستلی شم، زه چې به کله ناروغ وم، نو مور به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ما ډېره ناروغه وه او همدا به يې ويل: زويه ستا درد دې پر ما شي، زه دې درنه وګرځم زويه!

نو ای د ارمان موره! ستا په درېدلي تصوير کې زه د خپلې مور تصوير ګورم، زه فکر کوم چې که د ارمان پر ځای زه شهيد شوی وای، نو زما مور به څومره کوکارې وهلې، څومره به يې خپل وېښتان شلولي وای، نو زه ستا د زړه درد دغسې احساسوم. نو ته يوازې د ارمان مور نه يې، ته زما مور يې، ته د علي مور يې، علي هم په اخترکې د زندان د ميلو شاته پروت دی. د هغه د مور لمن هم په اخترکې تشه ده، ته د هغه مور هم يې، ته د منظور مور هم يې، ته د هر افغان مور يې. وخت به راځي لمسيان به دې را لوی شي، د خپل پلار غچ به واخلي ښامار به مړ کړي. وړانګه به وځليږي، واړه ارمانونه به لوی شي، قلم به يې ګوتو کې وي، لمن به دې له ګلونو ډکه وي، ته به يې، وړانګه به وي او ارمانونه به وي. د ارمان قبر ته به ولاړ ياست، ته به دې د خپل زوی د غيرت کيسې کوې، لمسيان به دې د خپل پلار د غيرت کيسې ليکي. ارمان به وي، داستان به وي، افغان به وي، انسان به وي، وړانګه به وي، مور به وي، نور به وي او ډېره موده وروسته يو سرور به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټاکنې او بربېښنايي تذکرې

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (جون) پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (غبرګولي) مياشتې له (۲۱) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**ټاکنې او بربېښنايي تذکرې دوه ملي پروسې دي، په کار ده چې يوه د بلې مرستندوی شي، نه دا چې يوه د بلې پر وړاندې وکارول شي. ځينو هېوادپالو افغانانو سره دا انديښنه ده چې خدای مه کړه د ټاکنو**




**کمېسيون کې يو شمېر غرضي اشخاص او ځينې لنډ فکره مامورين هم قصداً د دې سبب شي چې د بېلابېلو پلمو له لارې په ټاکنو کې د دې تذکرو د کارونې مخه ونيسي او دا کار به د دې سبب شي چې د دې تذکرو ملي ارزښت ته زيان ورسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېرو دوو ورځو کې د ټاکنو د تقویتي نومثبتونې یو نیم مامور عملاً دا ډول کړنې تر سره کړي هم دي، چې پر خپل وخت د زیاتو هېوادوالو له توند غبرګون سره مخامخ شوي. خو په دې منځ کې بیا د جمهور رییس غني یو نیم رسمي او نارسمي مشاور او یو شمېر کمپانیرانو د معمول په څېر دې کار ته هم د غوړمالۍ سپېروني پیدا کړ او هڅه یې وکړه چې دې کار ته هم نامعقول توجیهات پیدا کړي. تر وخت دمخه یو کمپاینر بیا لیکلي ؛څرنګه چې د الکترونیکي تذکرو تر اخیستو وروسته کاغذي تذکره بیا هم خلکو سره پاتې کېږي، نو کولای شي همغه کاغذي تذکره د نومثبتونې یا ستېکر لګونې لپاره یوسي. دا ډول مشاورین او کمپاینران چې حقیقت کې نه د جمهور رییس غني له اصلي پالیسۍ څخه خبر دي او نه د ملي پروسو ستراتیژیکو ژورتیاوو ته متوجه دي، خو یوازې همدې ته خوشاله دي چې د غوړه مالۍ له لارې خپل اوسني او راتلونکي موقفونه خوندي کړي، بس پر لا منطقه دلیلونو سر شي. که هر ځای کې کاغذي تذکرو د الکترونیکي تذکرو ځای نیولی، نو بیا برېښنايي تذکرو ته څه اړتیا وه؟ برېښنايي تذکرې خو د ډېرو درغلیو د مخنیوي یو ښه نسخه ده. په کار خو دا وه چې ټولې ټاکنې په همدې برېښنایي تذکرو تر سره شوې وای، خو اوس چې داکار شونی نه دی، نو په کار ده چې له دواړو تذکرو څخه ګټه پورته شي. خو برېښنايي تذکرو ته باید لومړیتوب ورکړای شي ځکه چې دا تذکرې بیا چک ته اړتیا نه لري. څرنګه چې اوس پر کاغذي تذکرو ستېکرې لګول کېږي او د برېښنايي تذکرې جوړښت داسې دی چې د ستېکر نصب یې جوړښت ته زیان رسوي او شونی نه برېښي، نو حل لاره دا ده چې د برېښنايي تذکرو پر رنګه کاپۍ دې ستېکر ولګول شي او د ټاکنو کمېسیون مهر دې پرې ووهل شي، د ټاکنو پر ورځ دې رایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوونکی اصلي برېښنايي تذکره او همدا ستېکر شوې بېه دواړه ځان سره ور وړي. د ټاکنو کارکوونکي دې ستېکر شوې کاپي تذکره سوری کړي چې بیا و نه کارول شي. کله چې په ټاکنیزو حوزو کې د رایه ور کوونکو نومونه ثبتېږي، نو د تکراري ووټ د کارونې چانس کمېږي او که چا حتمي درغلۍ ته ملا تړلې وي او کمېسیون یې هم مل وي، نو په کاغذي تذکرو خو د لا زیاتو تکراري ووټونو د کارونې چانس او مجال شته.

د هېوادوالو د اندېښنو د رفع کولو او د برېښنايي تذکرو د ستر ملي او حقوقي ارزښت د درناوي په پار مې همدا څو شېبې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې اغلې (هوا عالم نورستانۍ) سره په دې هکله تفصیلي، حقوقي او هر اړخیزې خبرې وکړې، د هغې قناعت حاصل شو او ویې ویل چې ژر په د همدغه میتود له لارې د برېښنايي تذکرو په واسطه هم د رایې اچونې لاره خلاصه کړي. نورستانۍ نه یوازې زموږ په وړاندیز خوښه شوه، بلکې ټینګه ژمنه یې وکړه چې ژر به په عملي توګه داکار پیل کړي.

په تلو تلو کې د ټولو نوماندانو له کمپاینرانو جدي غوښتنه کوم، چې د نوماندانو په انډول ملي پروسو او ارزښتونو ته ترجیح ورکړئ. د ملي هویت تذکره او د هغې ملي ارزښت د دې ټولو اتلسو نوماندانو تر شخصیتونو او ارزښتونو لوړ دی. ټاکنې به وشي کنه، خو خپل ملي هویت ته د ټاکنو او نوماندانو په خاطر زیان مه رسوئ، دغوره مالۍ نورې لارې هم شته هغه وکاروئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استاد هم لاړ

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۱۲)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (غبرګولي) میاشتې له (۲۲) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.



استاد جلال الدین خان کونړی مې څلورکاله په پوهنتون کې استاد و، ډېر مینه ناک انسان و، کله کله به یې په ټوکو ټوکو کې ویل، یالکه یونه ډېر کارونه مه کوه بیا هېوادمل او رفیع درڅخه جوړېږي، صحت ته دې خیال ساته. کله چې به یې له کور څخه ښه ډوډۍ راوړه، نو غرب به یې کړ ته راشه کنه، د اتاق دروازه به یې بېرته کړه ته واخله څو مړۍ وخوره! ما به ویل استاده زه خو لیلیې ته ځم نږدې ده، دا خو تا د خپل ځان لپاره راوړې، خو ده به په زوره په ما ډوډۍ وخوړه. اهـ، استاد څومره مهربان وي. بیا به یې غږ کړ و یونه ! زه ګوره دا د نورو غوندې نه یم چې چا سره لږ کمک هم وکړي، بیا یې هرځای یادوي. زه په نوم مشریقوال چې وي مرسته ورسره کوم خو په ځان یې نه پوهوم.
استاد جلال الدین رښتیا هم پر ټولو، په تېره بیا پر مشریقوالو ډېر مهربان و. ډېرې خوږې خاطرې ورڅخه لرم. خدای ج دې د جنت په ګلانو کې پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقیدې او ارادې سړی

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۱۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (غبرګولي) میاشتې له (۲۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.



اخوانیت او خپله سیاسي لاره یې خپله وه، خو د ډېرې قوي عقیدې، ، پیاوړې ارادې او پاخه فکر خاوند و.

د حاکمیت، محکومیت، ازادۍ او زندان په ټولو حالاتو کې یې خپل هوډ او تکل بـاینلود او پـر خپلـې ټـاکلې لارې ټینګ پاتې شو. د نړۍ په تېره بیا د اسلامي نړۍ په سیاسي مشرانو کې د داسې پخې ارادې خاوندان ډېر کم لیدل کېږي. تاریخ به یې یو وخت د یو مفکر او مېړني انسان او مسلمان په توګه یاد کړي ، په مړینه یې د انساني عاطفې او خواخوږۍ له مخې سخت خواشینی شوم. خدای ج دې د جنت په ورږمو کې پټ کړي. اسلامي امت او د هغه سیاسي او مذهبي مشران دې هم خپل سر خپل ګرېوان ته ټیټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه کاري ورځ

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (چنګاښ) مياشتې له (۲)يمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**ژوند داسې يو سفر دی چې ډېر کله په کې سړی ستړی او بوخت وي، لږ وخت په کې ارام او سوکاله وي، خو کله کله هدفمنه بوختيا هم ګټوره وي او هم خوندوره، کله کله بيا زيات مصروفيت دومره وي چې سړی يې بل چا ته د کيسې وخت هم پيدا نه کړي.**

**په دې وروستيو څو لسيزو کې مې ډېرې بوختې ورځې تېرې کړي، چې د اکثرو د ليکلو مجال يې هم نه دی پيدا شوی. نن هم يوه بوخته ورځ وه، خو نن مې بيا دا دی يو څه وخت هم پيدا کړ چې په لنډو ټکو د دې ورځې تصوير وکاږم:**

**•سهار (۹) بجې ژوندون ټلوېزيون ته لاړم، کارونه مې يو څه تعقيب کړل.**

**•لس بجې د علومو اکاډمۍ دايره المعارف دفتر ته لاړم، (سرمحقق زلمي هېوادمل صيب او سرمحقق دوکتور سيد محی الدين هاشمي صيب) ته مې د هغوی استحقاق کتابونه وروړل. هېوادمل صيب په سفر و او هاشمي صيب ته مې کتابونه ډالۍ کړل. هغه مننه وکړه او ما ترې د هغه د خپلو کلياتو د تنظيم او چاپ غوښتنه. هېوادمل صيب او هاشمي صيب دواړو پښتو ادبياتو ته دومره کار کړی چې که له سره خپل اثار منظم او بيا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپ کړي، نو د دواړو اثار تر (۲۰۰) عنوانو زیاتېږي.

•یوولس بجې د علومو اکاډمۍ مرکزي دفتر ته لاړم، هلته مې د



یادې اکاډمۍ سرپرست ښاغلي (څېړنوال دوکتور محمد ظاهر شکیب) سره وکتل، کتابونه مې ورته ډالۍ کړل.

•یوولس نیمې بجې مې په همدې اکاډمۍ کې د هېواد پیاوړي لیکوال او شاعر (اکاډمیسین سلیمان لایق) سره وکتل، خدای دې ورته



ښه روغتیا نصیب کړي، خو اوس یې له ناروغۍ څخه شکایت کاوه. په دري دموکې دریېم پوړ ته ساه نیولی پورته شو. زما د کتابونو په لیدو ډېر خوشاله شو، راته یې وویل ژوند مې ښه نه دی، لکه چې خدای مې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضور ته غواړي، اوس څلور میاشتې کم نوي کلن یم، ما وویل خدای دې مور ته صحتمند او روغ لره، مور هیله لرو چې سلیزه راته پوره کړې او بل زمور هیله ده چې ستاسو ټول اثار راټول او د کلیاتو په بڼه چاپ شي، هغه وویل، غرزی (زوی یې) راځي، په دې به کار وکړو.

•دولس بجې دانش کتابتون ته لاړم، هلته مې له (اسد جان دانش) او (قاري سپين سحر) او نورو فرهنګیانو سره بنډار وکړ. دانش صیب او



سپین سحر زما د کتابونو په چاپ کې زحمت ګاللی، هغو ته مې وویل چې د چهار شنبې ورځې سهار به کابل پوهنتون کې د کتابونو پرانیست غونډې ته له واړه تکبیرونو سره حضور پیدا کوئ!

•دولس نیمې بجې له همغه ځایه د پوهنتون پر لوري رهي شوم. پروان مېنه (کارته پروان) کې مې یو نوی هوټل (کانتینینټال) خیال کې وګرځېده چې نوی جوړ شوی او دا څو ورځې مې زړه کې و چې ورګرځم به، یوه مبارکي به ورکوم، هر څا چې جوړ کړی، ښه یې جوړ کړی او سیمه یې پرې ښکلې کړې ده. هوټل ته ورداخل شوم، رسپشن ته لاړم، هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تود هرکلی ووایه، بیا یې وویل، خدمت، ځان مې ورمعرفي کړ، ما ویل د هوټــل مالــک چــې هــر څــوک وي، زمــا لــه خــوا ورتــه



مبارکي ووایه، فقط د دې لپاره راغلم چې په دې هوټل دا سیمه ښکلې شوه، هر چا چې جوړ کړی، خدای دې اباد لري، نورکوم هدف نه لرم، هغوی خوشاله شول او ما ته یې خپله مینو راکړه چې په ښکلي کاغذ کې چاپ شوې وه.

•څه کم یوه بجه پوهنتون ته لاړم، د پوهنتون رییس ښاغلي (حمید الله فاروقي) ته مې د پوهنتون د مرکزي کتابتون لپاره کتابونه ورکړل او هم مې د چهارشنبې ورځې په غونډه کې د ګډون بلنه ورکړه.



•وروسته پښتو څانګې ته لاړم، ځینې محصلینو او استادانو سره مې وکتل او د پښتو څانګې ځانګړي کتابتون ته مې یو شمېر کتابونه ډالۍ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

•یوه نیمه بجه لوړو زده کړو وزارت ته لاړم، د خصوصي پوهنتونونو د ریاست مشر، استاد (امیر محمدکاموال) او یو شمېر نورو استادانو سره



مې وکتل، د غونډې او نورو علمي مسایلو په باب مې ورسره خبرې وکړې.

•دوه بجې بېرته کابل پوهنتون کې، د افغانستان معلوماتي مرکز ته راغلم چې په زرګونو عنوانه کتابونه یې خوندي کړي، هغو ته مې هم په چاپي بڼه خپل کتابونه ورکړل او هم مې د ټولو سافټ کاپي وروسپارله. د یادونې وړ ده چې دا په



افغانستان کې تر ټولو مجهز معلوماتي مرکز دی چې په زرګونو عنوانه اثار یې په برېښنایي بڼه هم خوندي کړي دي. د دې مرکز ساحوي مدیر (زینت الله قانت) له مورږ څخه ځانګړې مننه وکړه.

•له کابل پوهنتون څخه د ژوندون ټلوېزیون پر لوري وخوځېدو، (شفیع الله تاند) چې نن له ما سره ملګری و، پوهېدم چې بڼه سترې شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وړې شوې دې، د حضوري چمن په څنډه کې مو د شورنخودو د کراچۍ تر څنګ موټر ودراوه، شورنخود مو ښه په خوند وخوړل، تاند ته



مې وويل چې موږ. سره ګرځې دغسې نخود به خورې. شور نخودو مو لږه خوله ترخه کړه، نو د شمشاد ټلويزيون مخې ته مو موټر ايسکريم ته ودراوه، تاند ته مې وويل ونيسه ترخه او خواږه سره يو ځای کړه چې انډول برابر شي.

•شل کم څلور بجې ټلويزيون ته ورسېدم، د ميدان ورډګو پوهنتون رييس صيب تشريف راوړی و، هغه ته مې د پوهنتون لپاره کتابونه ډالۍ کړل او د پوهنتون د حال او احوال پوښتنه مې ورځخه وکړه.

• تر هغه وروسته مې له يو شمېر قومي مشرانو او ځوانانو سره چې له بېلابېلو سيمو يې تشريف راوړی و، وکتل او تر هغه وروسته مې د ټلويزيون پر ځينو ستونزو، اړتياوو او نيمګړتياوو له اړوندو کارکوونکو سره بحث وکړ او دا ورځ په دې ډول د مازيګر اوو بجو ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غمیزي په دوام

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۲۶)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نه قاري پرېږدي او قرائت، نه ملا پرېږدي او نه امي، نه ښوونکی پرېږدي نه زده‌کوونکی، نه لیکوال پریږدي، نه سیاستوال، نه هوجره پرېږدي نه مسجد، نه مدرسه پرېږدي نه ښوونځی، نو غمیزه او تولوژنه



نوره څه ته وایي؟ نن یې یو بل خوږ انسان، یو بل سوی لوی بلبل ( قاري هجران) را شهید کړ. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال مې ور سره وپېژندل. هم قاري و هم شاعر، هغه وخت یې هم د وطن په مینه دردمنې ترانې ویلې او اوس یې هم. تېر کال یې په ژوندون کې بیا یو دردوونکی شعر زمزمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، ما ورته وویل قاري ګله په غرِ کې دې هېڅ تغیر نه دی راغلی، مورِ دې یو ځل بیا هغو تېرو وختونو ته بوتللو. ده وویل استاده یو به ستا په ثابت دریځ کې تغیر رانه شي او بل به زما په غرِ کې. نوظامونه بدل شول، خلک بدل شول، رنګونه بدل شول، دریځونه هم تېروبېر شول، خو قاري هجران همغسې هجران پاتې شو او غرِ یې همغسې له سوزه ډک. نون د دې وطن د سوي لوي چمن د دې سوي بلبل د نارو وروستۍ ورځ وه، نه به نور دا یلبل وي، نه به یې هجران، نه به یې نارې وي او نه به یې سوران. قاري ګله پر مخه دې ګلونه، ته خو لاړې قاري ګله خو دا یو پیغام به هلته ګوره ضرور رسوې:

شهیدو تاسو نه که هلته چا پوښتنه وکړه
ورته به وایې چې وطن کې بهېدلې اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپلواکۍ یوه پېړۍ مزل

## یوه یادونه، یوه مننه او یوه سپارښتنه

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۲۶)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

یادونه: څه باندې څلور لسیزې کېږي چې افغانستان د متضادو او وارد شویو ایډیالوژیو په اورکې سوزېږي. په دې بهیر کې ملي فکر او



ایډیالوژۍ ته سخت زیان ور رسېدلی او هر چا چې دا فکر پاله، هغوی هم درانه زیانونه زغملي دي.

پردیو ایډیالوژیو بېلابېل پړاوونه درلودل چې په دې لیکنه کې د ټولو بیان شونی نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته د مصنوعي ولسواکۍ پړاوونه پیل شول، نو یو ځل بیا د لړکیو د حقوقو په پلمه او د نویو جعلي اتلانو د ځلولو له لارې د ملي فکر او ریښتینو ملي اتلانو پر وړاندې یوه



بله حکومتي، نړیواله او ناحکومتي جبهه پرانیستل شوه. جعلي القاب، جعلي اتلان، مصنوعي شخصیتونه رامنځته او نور داسې ډول ډول ملت ضد عملونه ترسره شول چې ان په پخوانیو وختونو کې یې هم ساری نه و لیدل شوی.

دا مهال نو رسنۍ هم د یوه مشخص سکاریستي ګروپ تر کنترول لاندې وې او د حکومت مهم پوستونه هم د همدغې ډلې په لاس کې وو؛ هر تور یې سپینولای شو او هر سپین یې تورولای. پر ملي ارمانونو یوه ډېره زهرجنه فضا خوره وه، هېڅوا هم د ملي ارزښتونو د پاللو او ملي اتلانو د ځلولو جرئت نه کاوه.

د حامد کرزي د واکمنۍ په (۱٤) کلونو کې یوازې د احمد شاه مسعود تلینونو د نمانځنې پر تولو مراسمو تر (۳۰) میلیونو ډالرو زیات لګښت راغلی، د هغه قبر، بنسټ، تصویرونو او نورو مراسمو لګښت خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا پر ځای پرېږده. جانبي عوارض او زيان يې (د لارو بندول، د ښارونو ترړل او کاروبار ته مزاحمت پېښول) يې بيا تر (۲۰۰) ميليونو ډالرو هم اوړي او کومه ذهني فضاء چې دوی جوړوله، له هغې څخه بيا



نور ډول ډول زيانونه هم متصور وو، هغه نو بيا بله غميزه وه.

په دغسې يو بحراني حالت کې موږ او يو شمېر نورو هېوادپالو او ملتپالو افغانانو د تاريخي ورځو او ملي شخصيتونو د ځلولو هڅې پيل کړې. موږ پر (۱۳۹۰ ل) کال په ژوندون ټلوېزيون کې په څرګند او غوڅ ډول د خپلواکۍ د ورځې او نورو ملي ارزښتونو د نمانځلو لړۍ پيل کړه، ورو ورو دا لړۍ نورو رسنيو، بيا نورو ټولنو او وروسته بيا ټول ملت او حکومت ته ورسېدله، يو وخت بيا داسې راغی چې دا لړۍ پر يوه ملي او سراسري غورځنګ بدله شوله. د دې ارزښتونو د نمانځنې د لړۍ په پيل کې دا زموږ يو ارمان و چې خدايه داسې ورځ به هم راشي چې افغانان د جعلي او مصنوعي اتلانو پر ځای خپل رښتيني اتلان ونمانځي او حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې جوګه شي چې د دې ورځو د نمانځلو چارې سمبال او ملت يې هم ملاتړ وکړي. نن نړدې همغه بريد ته رسېدلي يو، نو ځکه خو د يو ډول ملي غرور او خوشالۍ احساس کوو.

**هننه:** سږکال د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټنې (۱۰۰)مه کاليزه ده.

جمهور رييس غني د حکومت له پانګې څخه د دې کاليزې د ښې نمانځنې لپاره (درې سوه څلور اتيا ميليونه او دوه سوه يوويشت زره)



افغانۍ بېلې کړې دي. دا کار د اکثريت هېوادوالو له خوا تائيد شوی، خو د يو شمېر منتقدينو له خوا غندل شوی هم دی او دا يې يو کمپايني حرکت بللی. زما په خپل شخصي نظر که ډاکټر غني د خپل حکومت په ټوله دوره کې تر ټولو ښه کار کړی وي، هغه به همدغه کار وي چې د خپلواکۍ د يوې پېړۍ نمانځلو ته يې دومره پيسې بېلې کړې دي. دا که په هر نيت او د هر مقصد لپاره وي، خو وروستۍ نتيجه يې مثبته ده. دا پيسې که څه هم په افغانستان کې د مطرح جنګسالارانو د تلين غونډو د نمانځنې تر مجموعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګښتونو ډېرېږ کمې دي، خو د هېواد اوسنیو حالاتو ته په کتو سره دا هم یو مثبت ګام دی، د کتابونو چاپ، د تاریخي اثارو بیا رغونه او د علمي غونډو او سیمینارونو جوړول د دې لړۍ یوه بله مثبته برخه ده. ځینې منتقدین وایي چې دا هر څه د ټاکنو لپاره دي او په دې کې د غني نیت صفا نه دی. زه خو وایم دا یو نېک تصادف دی چې د خپلواکۍ سلمه کالیزه تر ټاکنو د مخه راورسېده، په سیاست کې پر نیتونو حساب نه کېږي، نیت تر ډېره بریده د عباداتو برخه ده، په سیاست کې پر نتیجه بحث کېږي نه پر نیت. د دوی نیت چې هر څه وي، وي به، خو موږ به وګورو چې د دارالامان ماڼۍ به جوړه شي، په پروان، پغمان، ننګرهار او نورو ځایونو کې به تاریخي ودانۍ او د غازي امان الله خان مقبره به بیا ورغول شي. ټاکنې به وشي که و نه شي لا جوته نه ده. که وشي هم، دا تاریخي میراثونه به بیا وځلېږي او که ونه شي هم زموږ دا تاریخي ودانۍ به یو ځل بیا په همغه شان او شوکت راژوندۍ شي.

بله خبره دا ده چې دا د خپلواکۍ یوه پېړۍ مزل (سلمه کالیزه) دی، دا عادي کال نه دی چې په نورمالو دودیزو مراسمو سره ونمانځل شي. لسیزه، پنځوسیزه او سلیزه په شاندارو مراسمو سره نمانځل کېږي.

د خپلواکۍ د ورځې د نمانځنې لپاره چې په دولتي او نادولتي کچه کوم تیاری روان دی، دا به ملي روحیه او ولوله دومره راژوندۍ کړي چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د بنې او کینو ایډیالوژیو منفي تاثیرات به تر زیاته بریده له منځه یوسي. ملت به بېرته خپله تاریخي حافظه خپله کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په راتلونکي کې به همدا مسیر وڅاري، وارد شویو ایډیالوژیو او د هغو پلویانو ته به هم ګرانه شي چې ملي فکر او ملي ارزښتونه یو ځل بیا په شا وتمبوي. د غني سرزوري او تولنیز چلند کېدی شي په ډېرو برخو کې هېواد ته په ګټه نه وي پرېوتي، خو دلته یې د ملي ګټو لپاره یو با جرئته قانوني ګام د ځپل شویو ملي ارمانونو د بیا ژوندي کولو لپاره ګټور تمامېږي. که په دې کار او یا د ملي ارزښتونو په پالنه کې یوازې د کمپاین خبره مطرح وي، نو بیا خو باید ټول نوماندان په دې کار کې تر یو بله د مخه شي، که نور نوماندان دولتي امکانات نه لري، نو ډاکټر صیب عبدالله عبدالله خو په حکومت کې پنځوس سلنه برخوال دی، کاشکې زموږ ټول سیاستوال خپلې سیاسي او ځاني ګټې د ملي ارمانونو له پاللو سره غوټه کړي، خرما او ثواب دواړه به ترلاسه شي.

سپارښتنه: زه د ډاکټر غني د ګډوله حکومت له پیله بیا تر دې دمه د هغه د سرسختو منتقدینو له جملې څخه یم، د ده پر منفي کارونو نیوکه تر ټولو د مخه، ما پیل کړې، خو پر منفي کارونو له نیوکو سره سره مې د هغه مجبوریتونه هم درک کړي او د مثبتو کارونو تائید مې هم کړی دی. دا به هم بې انصافي وي چې موږ هر څه یوازې له منفي لیدلوري څخه وګورو. په شاندارو مراسمو د خپلواکۍ د سلمې کالیزې نمانځل یې که د نیت له هرې زاویې څخه وي، یو نېک کار دی، باید تائید یې وشي. منتقدین هم باید له انصاف څخه کار واخلي، پر غني د انتقاد نورې هم سل لارې شته، خو له دې لیدلوري پرې انتقاد کول خپله د انتقاد جوهر ته زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي. د غني کمپاينران هم بايد له سترو ملي ارزښتونو څخه د يوې کمپايني وسيلې په توګه تبليغاتي ګټه پورته نه کړي. مور په خپله له ډاکټر صيب غني څخه غوښتنه کوو چې خپل اومغلن کمپاينران دې داسې کنترول کړي چې له دې نېکو کارونو څخه د ځان د تبارز او د نورو د توهين لپاره کار وانه خلي، که احياناً هدف کمپاين وي، نو د دې سترو کارونو ترسره کول په خپله ځان ځرګندوي، دا کارونه خپله کمپاين کوي، د پنځو معاش خورو ستاينې او يادونې ته اړتيا نه ليدل کېږي. د دې ترڅنګ يو شمېر کړې په دې هڅه کې دي چې د ملي وحدت د جعلي تمثيل په پلمه د خپلواکۍ د (سلو اتلانو) د يادونې په ترڅ کې د (حبيب الله کلکاني) او تر (۱۳۵۷ ل)کال وروسته د يو شمېر نورو جنګسالارانو يادونې ته هم ځای ورکړي او هغوی هم د ملي اتلانو (!) په توګه تمثيل کړي، که دا کار وشو، نو نه يوازې د غازي امان الله خان روح به نارامه شي، بلکې د خپلواکۍ ټول اتلان به ان په ګورکې هم ماڼيجن شي او دا انګېرنه به يو ځل بيا پر واقعيت بدله شي چې مور تر يوې پېړۍ مزل او تجربې وروسته لا هم د ښه او بد، اتل او غل، خدمتګار او جنايتکار تر منځ توپير نه شو کولای.

د خپلواکۍ يوه پېړۍ مزل دې بختور وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایماندارو، کله کله شکر هم کاږئ!

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۲۶)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

یو وخت د شهید سردار محمد داود خان او ذوالفقار علي بوټو تر







منځ د پښتونستان د ملي داعیې پر سر سخته سیالي روانه وه، هغه وخت یوه کلداره نږدې (یوه نیمه– دوه افغانۍ) وه. بوټو به د افغانۍ او کلدارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه بانک نوټونه یو په یو او بل په بل لاس کې ونیول او خلکو ته به یې وویل چې یوه کلداره به له خیره سره (لسو افغانیو) ته پورته کوم. داود خان شهید شو، بوټو په خپله مخه لاړ، زه لا هغه وخت کوچنی وم، ښوونځی، پوهنځی او پوهنتون مې ولوستل، بېرته پوهنتون کې استاد



شوم، د رباني د جنجالي واکمنۍ پر مهال افغانۍ دومره بې ارزښته شوه چې یوه کلداره نږدې زرو افغانیو ته پورته شوه، همدا مهال زه پوهنتون کې استاد وم، درې لکه افغانۍ معاش مې و چې ټولې درې سوه کلدارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورڅخه جوړېدلې، ورپسې طالبان راغلل، د هغو د حاکمیت پر وروستي کال یوه کلداره نږدې یو نیم زر افغانیو ته پورته شوه، یانې زما ټول معاش (۱۵۰–۱۷۰) کلدارې کېده. دې حالت بې حده ډېر ځورولم، زړه کې مې ګرځېدل چې بوټو به اوس په ګور کې څومره خوشاله او داود خان به اوس څومره نارامه وي. نه یوازې زه، بلکې ټول افغانان دې ناورین**




**ځورولو. د دې حالت تغیر ان شعر او شاعرۍ ته هم د یوه ارمان په توګه لاره پیدا کړه، د هېواد پیاوړي شاعر (پیر محمد کاروان) چې دې حالت روحاً ځپلی و، نو خپل دا ارمان یې په دې بیت کې هېوادوالو ته وړاندې کړ:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خاونده! داسې وخت به په نږدې موده کې راشي**

**چــې پـورتـه افـغـانۍ وي او کلـداره ښويېدلــې؟**

د طالبانو نظام ړنګ شو، نوې افغانۍ چاپ شوې، له کلدارې سره يې وزن تقريباً برابر شو، زړه مې ارام شو، د وخت په تېرېدو سره کلداره نوره هم په ښويېدو شوه، د ډالرو په مقابل کې که څه هم افغانيو هم خپل ارزښت يو څه له لاسه ورکړ، خو د کلدارو په تناسب يې لا هم خپل وزن ساتلی. خبره دېته راورسېده چې نن به له خيره سره (يوه) افغانۍ (دوه) کلدارې او يا (يو زر) افغانۍ به (دوه زره) کلدارې تبادله کېږي. نن روحاً ډېر خوشاله يم چې نن مې په خپلو سترګو د خپل وطن پولي هويت او ملي ارزښت د پاکستان تر کرنسۍ دوه ځله لوړ وليد. نن که داود خان مرحوم ژوندی وای، نو څومره به خوشاله و، که وطن وران شوی نه وای، پوځ ړنګ شوی نه وای، داود خان ژوندی وای، نو د پښتونستان داعيه به لا وخته بري ته رسېدلې وای. د داود خان ډېر ارمانونه د مرګ اوبو له ځان سره يوړل، خو نن يې دا يو ارمان لږ تر لږه پوره شو چې افغانۍ تر کلدارې دوه برابره لوړه شوه. که ژوند و سبا به د مرحوم داود خان مقبرې ته ورځم او د دې يو ارمان مبارکي به ورکوم، نو خپلو با ايمانه هېوادوالو څخه هم هيله کوم چې نهيلي کېږئ مه، ډېرې سختې مو ليدلي، لږ نور هم ځان ټينګ کړئ، خدای صابر او مهربان دی، انشاء الله چې ارمانونه مو پوره کېږي، خو زغم او اوسېله غواړي. دلته خو همېش د ناشکرۍ کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام دی، پر هغه څه شکر نه کاږو چې په لاس کې مو وي، خو پر هغه څه پسې بیا لاسونه مروړو چې له لاسه مو وتلي وي، که اوس یوه کلداره دوه افغانۍ وای، نو څومره به خفه وو؟ خو اوس چې یوه افغانۍ دوه کلدارې ده زموږ ورته هېڅ پام نه دی او دا نعمت په خوشالۍ کې نه حسابوو. یو وخت زما معاش د نږدې (یو نیم سل) کلدارو معادل و، خو اوس زما معاش د نږدې (یو سلو شل زرو) کلدارو معادل دی، د نورو ډېرو افغانانو معاش هم د همدې معیار او اندول له مخې سنجولای شو. نو ایماندارو راځئ چې خپل رب ته د شکرانې د ادایني سر ټیټ کړو او د خپلو نورو حقوقو اعاده ترې وغواړو، موږ پر هغه غیرت کړی، خدای(ج) غیرتي خلک خوښوي، ضرور به پر موږ غیرت کوي، نو ایماندارو راپاڅئ د ګیلو او نهیلیو پر ځای شکر وکاږئ شکر!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ای د ویده ملت معماره!

**(د یوه ارمان مبارکي)**

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



ای په سپېرو خاورو کې ویښې اروا! ستا د سلګونو مړاوو ارمانونو څخه یوه هیله وغوړېده؛ پرون افغانۍ پر کلدارې خپل لاس بر کړ، ټوله شپه نارامه وم، چې شپه سبا شي او ژر مبارکۍ ته درشم، مبارکۍ ته درغلم، خو ته په سپېرو خاورو کې ارام ویده وې، له خپل ملته مانیجن ښکارېدې، نهیلی وې، مورږ سره دې هېڅ خبرې ونه کړې، زمورږ مبارکي دې لکه چې وانه ورېدله، د دعا لاسونه مو درته لپه کړل، خو له قبر څخه هېڅ اواز رانغی، ته لکه چې له مورږه ډېر خفه وې، ته به فکر کوې چې ما دې ملت سره څه وکړل، خو دوی لا تر اوسه زما پر قبر ګونبزه هم ونه دروله، مورږ ملامت یو، که ملامت نه وای، نو دا به مو حال نه و. هو تا ډېرې ودانۍ جوړې کړې، تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې مانۍ ودرولې، خو اوس دې کور تر سپېرو خاورو لاندې پټ دی، دا منو، خو ای د بدمرغه ملت نېکمرغه ولسمشره!

ته څومره نېکمرغه یې، ته په خپله دایمي ارامګاه کې د څومره عزت خاوند یې، ته په ژوند کې د ارګ په مانۍ کې دومره خوشاله او راټول نه



وې، لکه دلته چې یې. هلته دې خپلو ماشومانو او د کورنۍ غړو ته دومره وخت نه درلود چې شپه او ورځ ورسره مجلس وکړې او هم خپله کورنۍ په مینه ونازوې، ورځ به په نورستان وې، شپه به په بدخشان، کله به په کندهار وې، کله به په ننګرهار، کله به له مخالفانو سره لاس او ګرېوان وې او کله له دوستانو سره، کله به پر اعمار مصروف وې، کله به هم پر پلان، کله به دې د ګاونډیو توطیې شنډولې او کله به هم د کورنیو، ټول عمر دې پر سرګردانیو تېر شو، اولادونه دې په غېږ کې ونه نیول، تفریح ته دې یونه وړل، نوم دې د باچا و، خو خپله ګدا وې، د نړۍ پر ګوټ ګوټ وګرځېدلې، په عربو او پر عجمو دې د یو سور سېلاب د راتګ له امله خپله غاړه خلاصه کړه، د خپل هېواد لپاره دې د خیر کچکول غاړه کې واچوه، خپل غرور دې وځپه، پردو ته دې د مرستې لاس اوږد کړ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ناهیلی پرېښودې، ژوند دې د مبارزې په سره ډګر بدل شو، ټول په ستړیا او بریاکې تېر شو، د خپل وطن هغه



زلمیان دربانـدې راپورتـه شـول چې تـا روزلي وو، ګـوتې یې ماشې تـه ورورې، د ناتعقله احساساتو په څپو کې یې د ابادۍ دنګ څلي راونړوه. اوس نو ته پر لوړه غونډۍ خښ یې، ته ډېر نېکمرغه یې، ای د سترې اروا خاونده! دلته په دې سپېرو خاورو کې د جنت یوه وړه باغچه ده چې د یوه کور (اولس ګلان) په کې غوړېدلي راټول دي. ته څومره نېکمرغه یې چې په دې ځای کې ښي لاس ته خپل ورور، چپ لاس ته خپله مېرمن، بله خوا دې خور، بله خوا دې زامن او ورېرونه، نږور، لور او خواږه لمسیان ټول راټول دي. جنت نور څه ته وايي؟ جنت خو همدا دی چې د یوې کورنۍ د مشر په لمن کې یې د هغه ټول نازولي راټول وي.

پوره څلوېښت کاله کېږي چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای یې، ډېرې کیسې به دې ورته کړې وي، لمسیانو به دې پر اوږو لاسونه اچولي وي، ایله به یې دربانـدې مینه ماته شوې وي. تا به ورته د دربار او پاچاهۍ ټولې کیسې کړې وي، د چا د وفادارۍ او د چا د بې وفايي کیسې به دې ورته یوه یوه له غوږه تېره کړې وي، چا اول ماشه راکش کړه، څوک دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر روزلي وو، چا ډېر ځوروللی وې، ټول به دې سترګو ته ودرېدلي وي.



له خپل ملته به دې څومره ګيلې ورته کړې وي، ورور دې، مېرمن دې، ورېندار دې، لور دې، زامن دې، لمسيان دې، ټول به درته غوږ غوږ وو، هغوی به هم له خپل ملتــه ډېــرې ګيلــې درتــه کــړې وي، ان



پېغورونه به يې هم درکړي وي چې ته په کوم ملت نازېدلې او تا يې د ابادۍ لپاره خولې تويولې. څه شو هغه ملت دې؟ څه شو هغه ارمان دې؟ څه شو هغه جانان دې؟ څلوېښت کاله دې له خپلو ماشومانو سره يو ځای وې، هر څه به دې ورته بيان کړي وي.

اوس پر جګه غونډۍ خښ يې، ټول کابل دې تر نظر لاندې دی، هر څه چې تېرېږي، ته يې ګورې، هغوی چې پر تا يې ماشه راکش کړه، هغوی هم اوس نه شته، څوک پر مرګ او څوک په ژوند له وطنه کوچېدلي دي. ټول پر خپلو عملونو پښېمانه دي، هر يو خپل عمل او خپلې عقيدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړلي. هغوی که پښېمانه وي، که نه، خو موږ ملت یې له یو ستر خدمتګاره محروم کړو. له موږ ملته ډېره ګیله مه کوه، موږ خپله حافظه، ژبه او فکر له لاسه ورکړي، موږ یو ګونګ ملت یو، که زړه کې تا سره مینه ولرو، نو د بیان وسیله یې نه لرو. اوس چې تر څلوېښتو کلونو وروسته ستا د یو ارمان د پوره کېدو لپاره ستا د قبر د ډېرلیک تر شا ودرېدم، نو خوله کې مې ژبه بنده شوه، الفاظ راځنې وتښتېدل، تاسو، ستاسو د کورنۍ ټول غړي او تنکي تنکي ګلان مې ټول سترګو ته ودرېدل، څه مې ونه شول ویلای، ژبه مې خوله کې بنده بنده شوه، بیا د هر یو قبر ته لاړم، د ملت د یوه غړي په توګه مې ښښنه ترې وغوښته، د ګڼو شهیدانو په منځ کې تاوېدم راتاوېدم، د هر شهید د ډېرلیک سر ته مې کتل، ورور، ورېندار، مېرمن، زوی، لور، وراره، لسمی، لمسۍ، لمسیان، څومره تراژیدي وه، د کربلا یو ژوندی تصویر و، خو د غمیزې په دې څپو کې بیا هم خوشاله په دې وم چې د ملي مشر او د هېواد د یو ستر معمار ټوله کورنۍ د هغه په شاوخوا راټوله ده، بېلتون نه شته پیوستون دی. لمسیان به یې پر اوږو، زامن به یې پر زنګنو، ورور به یې تر شا، مېرمن به یې ترڅنګ، لور او نږور به یې څنګ ته نږدې ناستې وي، ټول به په جنت کې د خدای مېلمانه وي. له شهیدانو څخه خو د سوال او ځواب خبره هم نه شته، د جنت ور به ورته خلاص وي، زړه کې مې یو ځل بیا د ډاډ په توګه دا خبره راتېره شوه چې مشر بختور دی چې کورنۍ یې پرې راټوله ده. د یو معتقد مسلمان لپاره به ترې د زیاتې نېکمرغۍ احساس چېرې وي چې ابدي مانۍ کې یې د خپلې کورنۍ ټول غړي سره راټول وي. نو ای د سترې اروا خاونده! ای د غریب ولس غني سرداره! له سلګونو ارمانونو څخه دې نن د یوه ارمان بریا مبارک شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن که دې خپل سیال (ذوالفقار علي بوټو) هلته چېرته ولید، نو ژر یې راوغواړه، ان که د دوزخ په غېږ کې هم و، د جنت له باغیچو ورپسې ووځه، خیر دی په برزخ کې ورسره کېنه، د حساب او کتاب مېز په منځ کې کېږده، ورته ووایه چې راوباسه کلداره دې او په تله کې یې کېږده او ته ورته له خپل جېبه زرګیز نوټ راوکاږه، په تله کې یې ور واچوه! ورته ووایه چې اوس یې نو وتله چې د چا خبره کره او د چا پیسه درنه ده؟ ته خو د افغان ملت مشر یې، پښتنو افغانانو چې سل کاله وروسته هم خپل غج واخیست، نو بیا یې هم بېره کړې، نو که تاسو نیمه پېړۍ وروسته هم خپل غچ واخیست بیا به هم تر وخت وړاندې دی.

ګوره مشره! موږ منو چې موږ ملامت یو، خو دومره هم ناشکره نه یو چې ستاسو ارمانونه او نېک کارونه یو په بل پسې هېر کړو، ناتوانه یو، خو بې ایمانه نه یو، ستاسو هر ارمان به که خدای کول یو په یو پوره کوو او کله چې دې هر ارمان پوره کېده، نو قبر ته به دې د مبارکۍ په خاطر درځو، خو ته به یوه ژمنه موږ سره کوې چې موږ ته به ښښنه کوې، ښښنه به ستاسو د ټولې کورنۍ د غړو او ګلالیو ماشومو لمسیو له خوا هم وي، هغوی ډېر ګلالي کوچنیان وو، هغوی ډېر معصوم وو. هغو ته هېڅ کتلای نه شو، هغو ته ته ووایه چې موږ وبښي، موږ هم ستا معنوي اولادونه یو، ته د ټول ملت پلار یې، پلار خو پر اولادونو ډېر مهربانه وي، نو موږ به په ډېرې لورېینې او مهربانۍ سره وبښئ، ای د بدمرغه ملت نېکمرغه شهید ولسمشره! موږه وبښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناکام اتل فریاد

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (جون) پر (۲۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نن مې ډېره مصروفه ورځ وه، خو بیا مې هم ځان تر بانکه ورسوه د خپلې یو میاشتې معاش مې را وویست ما ویل نن له پاکستان سره د کرکېټ لوبه ده، که و مو ګټله نو دا به د خپلو کرکېټیانو له سره نذرانه کوم. زړه کې مې وویل چې پرون افغانی پر کلدارې لاسبرې شوه او نن



چې کرکټ وګټو او افغانان پر پاکستانیو لاسبري شي نو څومره خوند به وکړي. پرون د افغانیو د لوړتابه د مبارکۍ لپاره د شهید داودخان مزار ته لاړم او سبا به د کرکېت د مبارکي لپاره د مرحوم باچاخان مزار ته ځم. سره له دې چې کرکېټ او په ټوله کې سپورټ کومه سیاسي لوبه نه ده، خو له پاکستان سره موږ ته هم سیاسي ده هم عاطفي، لوبه له هیلو او نهیلیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډکه وه. کورکې مې مېرمن وويل ګوره يې مه، دې لوبو خو ماته رواني تکليف پيداکړی، له پاکستان څخه موکه و بايلوله نو زړه به مې ودرېږي نن مو پارلمان‌کې سياسي څوکۍ بايلولې چې کرکېټ هم بايلو نو بېخي به مې اعصاب خراب شي. . د لوبې تر پای دمخه ډوډۍ تياره شوه. دا مهال مو لوبه بايلوله تلويزيون ته مې سوک برابرکړ دګوزار تر رسېدو مخکې مې ځان کنترول کړ دتلويزيون پر ځای مې لاس په زوره کېکاږه لاس مې درد وکړ. اعصابو ته مې لړ دمه ورغله. بلې کوټې ته لاړم ( سولې) لور او( ودان) زوی مې په ژړغوني غږ وويل اغا بای مو لوله. ټول خواشيني وو. مېرمن مې دومره خواشينې او په قهر وه چې ماشومانو ورسره خبرې هم نه شوې کولای. پر توشکې يې سر ايښی و او خپل تشی يې موښود، کور کې د غم فضا خوره وه. ډوډۍ مې پرېښوده او بېرته خپلې خونې ته راغلم. رښا مې ګل کړه ځان سره مې ښه وژړل، له مېرمنې او ماشومانو مې پټ زړه ښه تش کړ. کله چې مې اوښکې له سترګو راتللې نو هم تروې وې او هم له سوزه ډکې خدای خبر چې د زړه د زخمي کمر له څومره لارو راوتلې وې. دا نن د دېرش مليونه افغانانو د ژوندکيسه وه. ما يوازې د لوبې پر بايللو نه دي ژړلي ما د خپلو لوبغاړو پر دردونو هم ژړلي، د هغوی پر هڅو او ماڼيجنو حرکاتو ته مې هم ژړلي. دا نو لوبه ده چانس او تېروتنه دواړه په کې وي. همدې لوبغاړو موږ ته ډېرې خوښۍ راوړي، خو نن ملت او لوبغاړي يې په داسې يو غم کې را ټاله شول چې هېڅ افغان يې د زغم تياری نه درلود. پاکستان سره زموږ لوبه يوازې د کرکېټ لوبه نه وه. هغوی سره زموږ د عواطفو، روحياتو او ارزښتونو جګړه ده، هغوی زموږ عواطف ټپي کړي، زموږ روحيات يې مروړلي زموږ پر ارزښتونو يې تورې راکاږلي، زموږ او د هغوی تر منځ لا د حقيقي زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازموينې ډېر واټن پاتې دی، خو د کرکېټ دا لوبه يوازينۍ لنده لاره وه چې زموږ ملت پرې خپلو ټپونو ته ټکور ورکړي. سره له دې چې د لوبو په دې جام کې موږ ټولې لوبې بايلولې وې، خو دا ملت يو صبور ملت دی ټولو همدا ويل چې موږ نوره نړۍ څه کړو، خو همدا يو پاکستان دې راته مات کړي دا نور ټول مو ورته ببنلي. خو کله کله تقدير ته د تدبير بندونه کار نه ورکوي. زموږ اکثرو لوبغاړو ښه لوبه وکړه خو د يو نيم تېروتنه او بد چانس د دې سبب شو چې لوبه بايلو. په دې کار د اجتماعي غم يو څپه راپورته شوه. لوبغاړو ته د سپکاوي لړۍ پيل شوه. دا نو بيا د غم لپاسه بل غم و. نو ای زما دردېدليه ملته! لږ اوسېله په کار ده، تاسو د نندارچيانو په توګه دومره درد او غم احساسوۍ هغوی چې په ميدان کې ولاړ وو او لوبه يې کوله د هغوی درد به څومره وي؟ ايا موږ دومره داحساساتو تر سيوري لاندې راشو چې هم خپل ځان و ځوروو هم خپل اتلان و ښکنځو او هم د هغوی کورنيو ته ستغې خبرې ور حواله کړو؟ ايا همدا ته ملت نه وې چې له همدغه پاکستانه د ټسټ ميچ ګټلو پر مهال له وسلو سره لارو او کوڅو ته را ووتلې او ټول وطن دې ډزو ونيو. هغه وخت يې چې لوبه درته وګټله هغه وخت له نيمګړتيا پرته اتلان وو او نن يې چې په ډېر کم توپير او چانس بايلوله بيا پرې د کنځلو باران دی. راځۍ له دغو ترخو ناکاميو عبرت واخلو د کرکېټ مشرتابه له سياسي کېدنې او کمسېوادۍ وژغورو. ګورۍ دلته دود دادی چې خلک ناکام اتلان نه نمانځي. کله کله خو ناکام اتلان څکه د ډېرې ستاينې وړ وي چې هم قربانۍ ورکړي او هم ثمر تر لاسه نه کړي. ښه مثال يې محمد علي جناح او باچاخان عبدالغفارخان دی. جناح چې نه مبارزه کړې وه او نه يې جېل ګاللی و د يو تصادف له مخې اوس د پاکستان زعيم او مشر ګڼل کېږي. خو باچاخان چې دېرش

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله زندان و ګاله، سیمه یې له یرغلګرو وژغورله خو چې وروستي ارمان ته ونه رسېد اوس هغسې نه ځلېږي لکه ګاندي او جناح. نو ای دردېدلیه ملته! غم او احساسات دې کنترول کړه، خپلې اوښکې دې خپله وڅښنه خپل اوسېلي دې خپله تېر کړه. خولې ته دې سپوره خبرې مه راوړه. د کرکېت اتلانو ته هم وایم له خپل ملته مایوسه کېږئ مه همدا ملت و چې تاسو یې د لاسونو په پړکا او د میندو په دعاګانو د اسمان سرته پورته کړئ. په ځان کې تغیر روالئ د غرور له اسونو راکښته شئ. د ځانغوښتنې له نري رنځه ځان وژغورئ خیر دی که نن د څو ځوانانو له خوا تاسې ته څه تروې ترخې خبرې تبادله شوې وې همدا ځوانان وو چې تاسې یې پر اوږو ګرځولئ. دا د غم او زهرو یو ګوټ خو مو پر سر راواړه خو اینده کې ګورئ ډېر پام کوئ چې دلته ګورئ دم او قدم دواړه په حساب دي. ګورئ بیا هغه ورځ راولئ چې ستاسو پر شونډو هم خندا وي او د ملت پر زړونو هم او دا سندره زمزمه کېږي. : د کرکېټ لوبه ګټمه – د نړۍ کپ به راوړمه. زه بچی د ابدالي یم. . دا یقین لرم پر ځان. . زه افغان یم افغان . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته ښه يې؟ پلار مې ښه دی مورې؟

**دا ليکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (جــولای) پــر (لــومړۍ)، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) مياشتې له (۱۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**ای د ځمکې پر مخ د خالق تر ټولو معصوم مخلوقه!**

**نن ډېر ترهېدلي ياست، نن ستاسو او د مرګ ترمنځ يوه ثانيه واټن و، څنکــه پــه قهــر قهــر ګــورې؟ د ادم لــه ذاتــه دې لکــه چــې کرکــه کېــږي، شرالمخلوقات لکه چې ډېر ويرولي وئ، ستا پر تندي د وينو ليکه د دې**



**وطن د ټول برخليک انځور دی . او های دا بل فکر وړيه غمجن ګلابه! د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب پاڼې دې په وینو رنګ دي، په لاس کې دې ترګلالي پنسله جار شم، چا ته چورت وړی یې؟ ځان ته که خپلو ټولو ټولګیوالو ته؟ هغوی به څنګه وي؟ روغ به وي ټپیان به وي او که . . .

پر میندو به مو څه تېر شوي وي؟ نن بیا هر کور کې ژړا وه، واویلا وه. له درز سره سم د ودان مور خونې ته را ننوته هله ژر شه اولادونو پسې مې لاړ شه، د هغوی ښوونځی ډېر نږدی دی هله ژر شه، مېرمن مې په خونه کې ګرده چورلېدله ځمکې ځای نه ورکاوه. کله به کړکۍ ته شوه د انفجار دوړو ته به یې وکتل، او خدایه نن به یې بیا څومره کورنۍ د غم پر ټغر کېنوي او خدایه رحم خدایه رحم. زنګ زنګ، مورې زه یمه (سوله) ښوونځي نه، مور ښه یو مورې ته ښه پلار مې ښه دی. شیبې وروسته زنګ زنګ زنګ مورې زه یمه (ودان )زه ښه یم تاسې ښه یې کور کې خیریت دی؟ نیمه ګړۍ وروسته ودان او سوله کورته راغلل، روغ رمټ خو ترهېدلي. مور یې له ډېرې خوشالۍ نه ترې څو ځله تاوه راتاوه شوه. ما پر تندي ښکل کړل. سولې ووې: پلاره ډېره بده ورځ وه. زما صنفیان اکثره ټپیان شول چا ضعف وکړ، معلمې مو هم ضعف وکړ خو ما یوه یوه صنفۍ هملته د ښوونځي کلنیک ته یوړه. زه ښه وم ډاره شوې نه وم. ما ویل افرین لورې. ما خو مې خپلې لور ته افرین ورکړ او خپل زوی مې غېږ کې ونیو، خو ایا د هغې مور او پلار به څه حال وي چې نن یې په وینو کې خپل ګلان لیت پیت لیدلي وي؟ او ځینې یې بیا د ابد لپاره غېږې ته هم ور نه شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

میندو سلام ! کوچنیو ګلالیو زده کوونکو سلام! تاسې نه ډېره ښښنه غواړو، تاسې ببوسه، مور ببوسه، وطن بې وسه او بې کسه هېڅوک نه لرو پر ځمکه سیوری او پر اسمان ستوری که مو لرلی نو مور ستاسو پر تندي د وینو دا لیکه زغملی شوه؟ ستاسو په وینو رنګ کتاب او قلم ته مو کتلی شول؟. مور وبښئ مور خو ژوندي مړي یو مور لا پخوا مړه وو، نو ای د دې وطن ګلالیو او د ظلم په وینو رنګ معصومو بچیانو ! یوه لاره پاتې چې خپل خالق ته د هغه په کتاب او قلم قسم ورکړئ چې خالقه مور له تا نه نور څه نه غواړو، جنت نه غواړو فقط مور یو څو ورځې په دې وطن کې د خپل مخلوق له شره خلاص کړه. دوی ټول ستا په نامه راغلي، دلته یې شر جوړ کړی، نو که دا مخلوق تاسو نه وي رالېږلی، نو په خپل غضب یې ککړ کړه او مور یې له شره خلاص کړه، مور خو په ښوونځي کې کتاب ستا په نامه پیلوو، په قلم ستا نومونه لیکو، زمور میندې نورې زمور د وژنې تاب نه لري، زړونه یې ودرېږي، سترګې یې ړندېږي . یا ربه لکه څنګه چې پر میندو خپل اولادونه ګران وي پر مور هم خپلې میندې ګراني دي یا خدایه خیر دی مور وځوروه، خو زموږه میندې مه ځوروه. . . ایا نن به ټولو میندو ته له مکتبه دا تلیفون ورغلی وي: زنګ زنګ زنګ مورې زه (سوله) یم، زه ښه یم ته ښه یې؟ پلار مې ښه دی؟ زنګ زنګ زنګ زه یمه (ودان) مورې زه ښه یم ته ښه یې مورې؟ او کور کې هم خیریت دی مورې؟ . . . . . . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند حقیقت

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (جولای) پر (۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۱٦)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



**یو مینه ناک انسان، یو عاطفي شخصیت، یو ښه قلموال، یو زړور ملي مبارز، یو قومي مشر، له مشرانو سره مشر، له ځوانانو سره ځوان او له ماشومانو سره مینه ګر انسان، یو ډوډۍ مار او یو جرګه مار سړی د تل لپاره له دې خاورینې نړۍ وکوچېد. دا د هر ژوندي موجود د ژوند حقیقت دی چې د مرګ مزه به څکي. محمد نواز سانین حقیقت د الاهي کلام دا حقیقت د خپل وجود د فناه کېدو په قیمت یو ځل بیا ثابت کړ. حقیقت صیب لاړ، خو مور ته یې په لسګونو ادبي، څېړنیز او تاریخي اثار د معنوي پانګې او خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلالي اولادونه دده د لارې د لارويانو او پالونکو په توکه د يادګار په توګه پرېښودل.

ځای دې جنتونه شه زما د څه کم نيمې پېړۍ ياره!

ای د رڼا لارويه! کله چې هلته د خدای ج په حضور مشرف شوې ، نو په لومړۍ کتنه کې به ورته وايې چې هلته په وطن کې حالات ډېر دردوونکي دي، ستا رحم او مهرباني په کار ده، هغه دردونه ټول ورته يو په يو او مخامخ بيان کړه چې دلته دې په خپلو شعرونو کې بيانول.

په مخه دې ژېړي ګلونه د سوي وطن زخمي بلبله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غازي امان الله خان:**

# د پرون، نن او سبا سړی

**دا لیکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (جــولای) پــر (۲۱)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (چنګاښ) میاشتې له (۳۰)مې نېټې سره سمون خوري، لیکل شوې ده.**



د زمانې توپانونه ډېر ګرم، توند او بې رحمه وي، نو ځکه خو يو شخص اکثره يوازې په يوه زمانه کې شخصيت وي، بلې ته يې د ژوند او يادونو تضمين اسانه کار نه دی، خو په دې نړۍ کې بيا ځينې داسې شخصيتونه شته چې زمانه يې د وژنې او له منځه وړنې وس نه لري، له واک و ځواکه به يې لرې کړي، خو له زړونو يې نه شي لرې کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه غازي امان الله خان د نړۍ د سترو شخصیتونو په لومړۍ لیکه کې ولاړ یو شخصیت دی چې د زماني تر یوې پېړۍ ستونزمن او کړلېچن مزله وروسته بیا هم د خپل ملت او بشرپالو نړیوالو په زړونو او ذهنونو کې ځای لري. د غازي امان الله خان تر واکمنۍ وروسته یوه پېړۍ تېره شوه او نړدې څلورو نسلونو خپل ژوند وخوړ؛ ډېر خلک راغلل، لاړل، تېر شول او هېر شول، خو غازي امان الله خان د انسانیت او افغانیت هغه مرغلره وه چې تر حاکمیت وروسته لا پسې وځلېدله او لاپسې درنه او قیمتي شوه. ولس هغه وخت د دې قیمتي غمي پر ارزښت پوه شو چې هغه یې له لاسه ورکړ. د دې پېړۍ په اوږدو کې چې زموږ پر ولس د غمونو هره څپه زیاتېدله، نو ولس د خپل غازي مشر ارمان کاوه او د هغه مینه یې په زړه کې زیاتېدله. ولس د غمونو په تجربو کې دې نتیجې ته رسېدلی و چې که خپل مشر او غازي یې د توطیو قرباني شوی نه وای، نو نن به دوی دا قربانۍ نه زغملې. غازي سل کاله وړاندې یوازې په ودانیزه برخه کې دومره کار کړی و چې سل کاله وروسته هم زموږ حکومتونو ته ستونزمنه وه چې د ده په لاس د جوړو شویو ودانیو د بیا جوړونې او ترمیم لګښت پرې کړي. د څو شېبو لپاره که موږ خیال کې سل کاله وړاندې حالت ته ورستانه شو او د غازي امان الله خان کړی کار د زماني په ضریب کې ضرب کړو او بیا د وروستیو څو لسیزو تخنیکي امکانات هم په پام کې ونیسو، نو څه فکر کوو چې د نړۍ کوم هېواد به له موږ سره سیالي کړې وای؟ له مبالغې پرته چې نه یې شوه کولای. دا چې نن سل کاله وروسته د غازي امان الله خان ارمانونه نمانځو، علت یې دا دی چې د هغه په ارمانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زمونږ د ارمانونو تصوير خوندي دی. دلته غواړو په څو برخو کې د غازي امان الله خان د حاکميت پر مهال کړی کار ډلبندي کړو، دا وېش مونږ ته سل کاله وړاندې د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ يو نسبي انځور راکاږي، خو که د پرديو توطيې او د ملت د ځينو قشرونو تېروتنې نه وای، نو دا تصوير به اوس نور څومره رنګين او ښکلی وای.

**قانونيت:** غازي امان الله خان خپله يو قانونپاله پاچا و، قانون او قانونيت يې د ټولنې د نظم، پرمختګ او سوکالۍ لپاره تر ټولو مهمه او اغېزناکه وسيله ګڼله، نو ځکه خو يې په هره برخه کې بېلابېل قوانين او نظامنامې ترتيب او د هغو د عملي کولو هڅه يې وکړه. د ملت د ارادې د يو ستر ممثل بنسټ په توګه يې لويه جرګه جوړه کړه. اساسي قانون يې جوړ او تصويب کړ، د تذکرو وېش يې پيل کړ، د کورني توليد د پياوړتيا لپاره يې ځانګړی قانون جوړ کړ، د ځمکو لپاره نقدي ماليه وټاکل شوه، د څارويو د مالياتو قانون جوړ شو، د مالي ادارو د تنظيم لپاره د دفتري اصولو ښوونځی جوړ شو، د کرنې د مالياتو د ترلاسه کولو قانون جوړ شو، د اداري مامورينو او حاکمانو قانون جوړ شو، د دولتي ملکيتونو د خرڅون قانون جوړ شو، ټول داخلي ګمرکات له منځه يوړل شول، د سوداګريزو معاملاتو لپاره شرعي محکمه جوړه شوه، خصوصي مالکيت تثبيت شو، د صنعت د هڅونې قانون او د تقاعد قانون تصويب شو، د ښځو د خونديتوب قانون جوړ شو، د ماليې د سمون قانون جوړ شو، د رسنيو لومړنی قانون تصويب شو، د طبابت لومړنی قانون تصويب شو، د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شورا لپاره قانون جوړ شو، د بېلابېلو قوانينو له لارې د انسان خرڅول منع شول، بېگار بند شو، اضافي ماليات منع شول، جنس پر جنس ماليات پر پولي مالياتو واوښتل، د خانانو، درباريانو او د شاهي کورنۍ د لرې خپلوانو لپاره معاشات او امتيازات لغوه شول، د صنعت د هڅونې قانون تصويب شو، د لومړي ځل لپاره بوديجه تصويب شوه او گڼ شمېر نور دا ډول اصلاحي قوانين رامنځته شول.

په مجموعي توگه د غازي امان الله خان په لس کلنه واکمنۍ کې په لسگونو قوانين، نظامنامې او مقررې تصويب او عملي شوې، دا ټول قوانين د ټولنې د نظم، دسپلين او پرمختگ سبب شول او ټولنه يې يو قانونمند مسير ته سوق کړه. افغانستان هغه وخت د سيمې په کچه داسې يو هېواد و چې ډېر ښه نظم، دسپلين، سستم، تصويب شوي او مدون قوانين يې درلودل.

**ښوونه او روزنه:** غازي امان الله خان له ښوونې او روزنې سره بې کچې مينه درلودله، هغه به ويل: ((توپک پرېږدئ او د ليکلو لپاره قلم راواخلئ، پر دې پوه شئ چې بې تعليمه ولس هېڅکله پرمختگ نه شي کولای او په رښتيا خپلواک کېدی نه شي.)) په همدې خاطر يې په هېواد کې د نوي او عصري تعليم د ودې لپاره بنسټيز کارونه ترسره کړل. تر لومړني ښوونځي پورې يې زده کړې جبري کړې، د نجونو لپاره يې ښوونځي او مدرسې جوړ کړل، امانيه ښوونځی يې جوړ کړ، افغان زده کوونکي يې بهر ته د زده کړو لپاره ولېږل، په ټول هېواد کې يې تر (۳۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات ښوونځي تاسیس کړل، په ښوونځیو کې یې د حاضرۍ د تطبیق په خاطر نقدي جریمه وضع کړه او نورګڼ شمېر ښوونیز او روزنیز خدمتونه یې تر سره کړل. غازي امان الله خان له ښوونې او روزنې سره دومره مینه لرله چې کله یې له ملکې ثریا سره د واده مراسم ترسره کول، نو پلار یې (امیر حبیب الله خان) ورته وویل چې د دې واده په ویاړ به یو شانداره جشن جوړ کړم، خو غازي امان الله خان خپل پلار ته وویل چې د دې جشن په لګښت یو ښوونځی جوړ کړه، دې خبرې سره یې د پلار په ذهن کې تغیر راغی او بیا یې د واده مراسم په عادي ډول ترسره کړل. هغه د نجونو او هلکانو له تعلیم سره دومره افراطي مینه لرله چې همدا مینه یې د هغه د واکمنۍ د سقوط یو عامل هم ګڼل کېږي.

**رسنۍ:** د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال افغان رسنیو دومره وده وکړه چې د سیمې د هغه وخت اکثرو هېوادونو کې یې ساری نه و، اتفاق اسلام ، بیدار، اتحاد اسلام او همدا رنګه اتحاد بغلان، اتحاد خان اباد، ستاره افغان، حقیقت، امان افغان، ارشاد النسوان، طلوع افغان، اتحاد مشرقي او ځینې نورې چاپي خپرونې پیل شوې، د دې ترڅنګ پر (۱۳۰٦ل) کال د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې راډیو فعاله شوه، پر (۱۹۲۰م) کال کال ملي کتابتون جوړ شو، چاپخونې رامنځته شوې او ګڼ شمېر نورې داسې رسنیزې چارې ترسره شوې چې پر خپل وخت یې د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې ساری نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تاسیسات او تولیدات:** افغانستان د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د ګڼو نویو تاسیساتو خاوند شو، تولیداتو چټکه وده وکړه، افغانستان د ځان بساینې کچې ته ورسېد او که هغو حالاتو دوام کړی وای، نو افغانستان به د نړۍ په کچه ځان د یو صنعتي او زراعتي هېواد په توګه تثبیت کړی و. تاسیسات د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې رامنځته شول، تقریباً یو ډول متوازنه وده وه چې د ټولنې هره برخه یې رانغاړله. د لومړي ځل لپاره په هېواد کې بانکنوټونه چاپ شول، د برېښنا تولید زیات شو، د سیمنټو تولید پراختیا وکړه، د بورې تولید پیل شو، د اورلګیدو جوړول پیل شول، کاغذ جوړول او ښیښې جوړول شروع شول، د غوړ ایستلو صنعت وده وکړه، له مېوو څخه د کنسروا جوړول پیل شول، د درمل جوړونې شرکت جوړ شو، د سپینو باروتو جوړولو فابریکه جوړه شوه، د موټرو د پرزو جوړونې کارخونه جوړه شوه، د مېوو د ساتنې لپاره ځایونه جوړ شول، د پنیر او کوچو جوړونې کارخونې جوړې شوې، د چرم جوړونې کارخونه جوړه شوه، د عطرونو، صابون جوړونې، ترکاڼۍ، یخ جوړونې، قند جوړونې، غوړیو، ټوکر جوړونې، تنۍ جوړونې او نورې ګڼې شمېر فابریکې جوړې شوې، ګڼ شمېر سوداګریز شرکتونه رامنځته شول، د دې تر څنګ د بدخشان د لاجوردو، د هرات د نفتو د ایستلو او د اوسپنې د ویلې کېدو د کارخونو د جوړونې او د کانونو د پراختیا، د اوسپنې، شکرو، تباشیر جوړونې، مرمرو او یو شمېر نورو برخو تړونونه بشپړل شول. مرکز د تلګراف له لارې له ولایتونو او نړۍ سره ونښلول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. په لومړي ځل د اورګاډي ليکه جوړه شوه، پخوانۍ لويې لارې ورغول شوې، ګڼ شمېر نوې لارې جوړې شوې، ګڼ شمېر پلونه او پلکوتي جوړ شول، په لسګونو لوی او واړه نهرونه او کانالونه وکيندل شول، په ډېرو سيمو اوبه خور سستمونه جوړ شول، د ملکي هوايي چلند اداره رامنځته شوه، سترو ولايتونو او ځينو هېوادونو لکه ترکيې، شوروي اتحاد، ايران، هند او نورو سره هوايي اړيکي ټينګ شول. افغانستان د پوستې د نړيوالې ټولنې غړی شو، د هېواد پوځ منظم او د هوايي ځواک خاوند شو، د دې تر څنګ سترې ودانۍ چې تر دې دمه يې په هېواد کې ساری نه نه و ليدل شوی، جوړې شوې، لکه د دارالامان ماڼۍ، د تاجيک ماڼۍ، د پغمان ماڼۍ، جبل السراج ماڼۍ، مقر ماڼۍ او ځينې نورې سترې ودانۍ چې اوس يې ځانته د تاريخي ودانيو بڼه خپله کړې ده.

**فکر او ليدلوری:** غازي امان الله خان هم د جنګی سړی و، هم د فرهنګ، هم د تورې سړی و، هم د زغم. هغه توره کاروله، خو د پرديو په مقابل کې، هغه د خپلې تورې په زور د افغان او انګليس په درېيمه جګړه کې د نړۍ ستر زبرځواک ته داسې تاريخي ماتې ورکړه چې بيا په نړۍ کې نور د ځان د راټولولو جوګه نه شو، د نيمې نړۍ نيمې برخې ترې خپلواکي واخيسته. هغه په کابل کې د خپلواکۍ د اعلان په درشل کې د بريتانيې سفير ته په خطاب کې وويل: ((زه خپل ځان او خپل هېواد له کورني او بهرني پلوه په بشپړه توګه خپلواک اعلانوم، تر دې وروسته به زما ملک د نړۍ د نورو ملکونو په څېر خپلواک وي او د نړۍ هېڅ يو طاقت نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای چې د یوه وېښته په کچه هم د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او که په دا ډول اقدام لاس پورې کړي، نو سر به یې په دې توره له تنې جلا کړم. ))؛ اشاره یې هغې تورې ته وه چې ده دا مهال له تیکې راکښلې وه، تر دې وروسته غازي امان الله خان په مجلس کې ناست د بریتانیا سفیر ته وویل، ته پوه شوې؟ هغه هم ورته د سر په ښورولو وویل، ((هو پوه شوم)). نو یو سړی چې د تورې او مېړانې داسې جذبه ولري او د نړۍ له یو ستر زبر ځواک سره ډغره وهلای شي، په جنګ او وسلې بیا د هغه ماتول ناشونی کار ګڼل کېږي، خو غازي امان الله خان له خپل توریالیتوب او مېړنتوب سره سره خپله توره د کورنیو مخالفینو او بلواګرو پر ضد و نه کاروله. هغه ته هم د خپل حاکمیت پر مهال دا چانس و او هم تر حاکمیت وروسته چې په کندهار کې افغان ولسونو هغه ته د بیا واکمنۍ په خاطر د خپلې سرښندنې ډاډ ورکړ، په دې دواړو حالتونو کې د تورې په زور د حاکمیت ترلاسه کول ورته شوني وو، خو غازي امان الله خان د کورني جنګ او د وینې تویېدو د مخنیوي په خاطر له خپلې واکمنۍ لاس په سر شو، داکار په نړۍ کې ډېر کم پېښېږي چې یو حاکم دې دومره زغم، لرلید او ژور فکر ولري چې خپل ټولې غوښتنې او احساسات کنترول کړي او د قدرت پر نشې د تحمل او تعقل نرمې اوبه تویې کړي.

غازي امان الله خان د مېړانې تر څنګ د فرهنګ سړی هم و، د هغه د واکمنۍ پر مهال ګڼ شمېر فرهنګي تاسیسات جوړ شول، چې مخکې مو ورته په لنډیز سره یادونه وکړه، پښتو مرکه یې جوړه کړه، ملي کتابتون جوړ شو، چاپخونې رامنځته شوې، ګڼ شمېر ښوونکي یې وروزل، بهر ته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړو زده کړو لپاره ځوانان واستول او ګڼ شمېر نور فرهنګي خدمات ترسره شول.

غازي امان الله خان د ستر سیاسي نبوغ او ملي فکر خاوند و، د ده د حاکمیت پر مهال افغانستان د نړۍ په کچه یو مطرح هېواد و، ده د نړۍ له ګڼ شمېر هېوادونو سره سیاسي اړیکي ټینګ کړل او افغانستان یې د نړۍ د معتبرو هېوادونو د پاملرنې محور وګرځاوه، په ختیځ کې د ملي افکارو خپرېدل او د ملي ولولو ځپانده کېدل د ده د کار او زیار نتیجه وه.

غازي امان الله خان د انساني حقونو له مخې د ښځو او نرو د حقوقو پر تساوي ټینګار کاوه، هغه په بدو کې د نجونو ودول بند کړل او د ښځو تعلیم ته یې زیاته پاملرنه وکړه، ان تر دې چې همدا هڅې هغه ته په زیات قیمت تمامې شوې، هغه د مذهبي او قومي اقلیتونو حقوقو ته ځانګړې پاملرنه کوله، افغان سکانو او هندوانو ته یې ځانګړي ښوونځي جوړ کړل او د هر ډول محرومیتونو د له منځه وړلو لپاره یې هلې ځلې وکړې.
غازي امان الله خان یو جامع او څو اړخیز شخصیت و چې د خپلې ټولنې د پرمختګ هرې برخې ته یې زیاته پاملرنه وکړه. دا پاملرنه او چټک پرمختګ د دې سبب شو چې د کورنیو متعصبینو د ناپوهۍ حساسیت او د بهرنیو کړیو دښمني راوپاروي او د دواړو د همغږۍ په نتیجه کې د سمونپال غازي امان الله خان واکمني ونړوي او په پای کې د هغې د ړنګېدو سبب شي.
په یوه لیکنه یا څو لیکنو یا یو کتاب او ان څو کتابونو کې د غازي امان الله خان د کړو خدمتونو بیان شوني نه برېښي، خو که موږ په څو جملو کې د دې ستر شخصیت اجمالي ارزونه راټوله کړو، نو ویلای شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه د پرون سړی هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي. د هغه نظریات او عملونه پرون هم ګټور وو، که نن عملي شي، هم ګټور دي او که سبا عملي کېږي، نو هم ګټور به وي، دا شخصیت په یوه زمانه کې رالوی شوی، په بله کې ازمویل شوی او په بله کې یې نظریات او د عملونو نتایج په عملي ډګر کې ګټور ثابت شوي او ثابتېږي، نو ځکه خو زموږ د ټولنې د هرې زمانې نسل ته د ښه ژوندانه او ښه فکر لپاره یو ښه روښانه مشال دی.

اروا یې ښاده، ځای یې جنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخ دې یو ځل بیا شاهد وي

دا لیکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (جــولای) پــر (۲۳)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) میاشتې له لومړۍ نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

د زبرځواکونو تېروتنې هم غټې وي، همدا تېروتنې يې د زوال سبب هم شي، په تېره بيا په داسې حال کې چې د واک پرګدۍ يې هم نامعقول، سرتمبه او لېوني اشخاص واکمن وي. امريکا اوس هم په همدغسې يو




حالت کې ده. يو سرتمبه سوداګر يې د واک مزي په لاس کې نيولي، داسې ملکونو ته اخطار ورکوي چې د دوی د هېواد تر جوړېدو يې عمر څو ځله زيات دی. مقدوني سکندر هم دلته په ډېر غرور راغی، خو ډېر ستړی بېرته لاړ، لوی کروش هم په ډېره دبدبه خپله واکمني وچلوله، خو په پای کې يې سر دلته کېښود، چنګيز هم ډېر سرونه تولې کړل، خو د خپل سر له وېرې يې ارام ونه ليد، ګوډ تيمور هم له ملکنده تولې شو، د انګرېزانو په سر کې هم د نړۍ نيونې نشه وه، خو چې دلته يې سر په ډېره ولګېد، نو عقل يې سر ته راغی، روسان هم په ډېره دبدبه راغلل، خو په ډېرې مايوسۍ بېرته ووتل، امريکايان هم په پيل کې د نړۍ له څلوېښتو اندېوالانو سره دلته راغلل، فکر يې کاوه چې دوی به محدود اقليتونه ونازوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی په مرسته به دلته ارامې شپې تېرې کړي، خو د ټولنې یوازې یو قشر یې په مقابل کې وسله واخیسته، اتلس کاله یې ورسره وډزوله، بیا هم نتیجه صفر لا څه کړې چې د دوی لپاره منفي حالت ته لاړه، اوس نو ښاغلی ټرمپ وایي چې لس ورځو کې افغانستان د نړۍ له نقشې څخه حذفولای شي، که دا خبرې په همدې الفاظو او همدې محتوا رښتیا وګڼل شي، نو دې ښاغلي ته باید وویل شي چې ټول افغانستان څه کوې؟ (لس طالبان) ختم کړه چې اتلس کاله ورپسې سرګردانه ګرځې، پخوا به دې ورته ترهګر ویل، اوس ورته یوازې د ملاقات لپاره په میاشتو میاشتو انتظار کاږې، د نړۍ له هېڅ مقابل ځواک او هېواد سره دې خبرې (اتم پړاو) ته نه دي تللي، خو دلته په درجنونو درجنونو لوړ رتبه او ټیټ رتبه مامورین رالېږې او له هغو طالبانو سره چې تاسې د ډپلوماسۍ خلک نه بلل، په خبرو کې یو انچ پرمختګ نه شې کولای، نو اوس ووایه چې مات څوک دي؟ ماته توره وي که سپینه؟

د ډونالډ ټرمپ دا ډول څرګندونې نه یوازې د انساني کرامت ضد دي، بلکې د یو ستر متمدن او پرمختللي ملت لپاره هم د پېغور او سرټیټۍ سبب ګرځي، هغوی چې ځان د ولسواکۍ مخکښان ګڼي، د هغوی مشر هم د ټوپک په ژبه خبرې کوي، د وسلې پر ماشې سپره ولسواکي غواړي. افغانان به له اقتصادي پلوه ضعیف وي، خو بې دینه او بې اینه نه دي. اخلاقي جرات، مېلمه پالنه، توره، مېړانه او انسانیت یې ټوې نړۍ ته معلوم دي، ګواښونه او اخطارونه دلته هېڅ ډول اغېز نه لري، یو وخت به راځي چې همدې مظلوم ملت ته به ګونډه وهې، د تعظیم سر به ورته ټیټوې، تېر تاریخ د دې خبرو شاهد دی، یو ځل بیا دې هم تاریخ شاهد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مکررو حوادثو مکرر تاریخ

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (جولای) پر (۲۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲)یمې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

له نن څخه (۳۱) کاله دمخه شوروي پوځونه په همدغه موقعیت کې وو، چې نن امریکایي پوځونه واقع دي. هغه وخت هم شوروي اتحاد پوه





و چې جګړه یې بایللې، خو ځان ته باید د اوړو پوزه جوړه کړي او د عزت تر نامه لاندې په خوندیتوب سره خپل پوځونه له افغانستانه وباسي، نو ځکه خو یې د ژنیو د توافقاتو تر سیوري لاندې له افغانستانه پښې سپکې کړې. اوس امریکایان هم په ورته موقعیت کې دي. که امریکایان په خولې هر څومره د خپلې بریا، ولسواکۍ، د القاعدې د امحا او د طالبانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزوری چغې ووهي، خو حقیقت دا دی چې امریکایان په داسې یوه بې مفهومه اوږده جګړه کې راګیر شوي چې ورځ تر بلې پېچلې کېږي او امریکا ته په زیات قیمت تمامېږي، نو ځکه خو غواړي له دې خړې خپلې پښې وباسي، په همدې نیت یې د خپلو ټولو اصولو خلاف په قطر کې له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړي، چې تر دې دمه اتم پړاو ته رسېدلي دي. له نن څخه یو درېش کاله دمخه چې افغانستان په همدې موقعیت کې و او زه هغه وخت د کابل پوهنتون د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصل وم، نو د هغه وخت حالت ته مې یو څو بیتونه لیکلي وو. اوس چې امریکایان د روسانو په موقعیت کې دي او د جمهور رییس ترمپ څرګندونې د تېرو امپراتورانو د غرور یو نوی تکرار دی، نو زه غواړم د حوادثو تکرار او ورتوالي ته په پام سره خپل یو لنډ شعر چې همدې حوادثو ته مې( ۳۱) کاله مخکې لیکلی و، یو ځل بیا دلته د حوادثو د تکرار له امله بیا خپور کړم:

ترکانو لاندې

زړه نـــه لمبـــې چـــې د خنـــدا وتلـــي
ورتـــه لـــه خـــولې نـــه مـــې د تـــا وتلـــي
دا چـې هغـوی پـه زغـرده خانـدي پـر مـوږ
څـــه شـــی دې زړه نـــه ورتـــه بیـــا وتلـــي
ټـــول قوتونـــــه د پردیـــــو دلتـــــه
ښـــکاره راغلـــي دي پـــه غـــلا وتلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اســـمعيل تـــر کـــاڼو لانـــدې کـــړئ ښـــه
بيـــا يـــې لـــه خـــولې څنـــې رښـــتيا وتلـــي.
۱۳۶۷ ل کال

هغه وخت زه ځوان او د پوهنتون د لومړي کال محصل وم. اوس نږدې سپينږيرې او د پوهاندۍ ورروستۍ علمي رتبې ته رسېدلی يم . په دې دومره موده کې زما د ملت او وطن په برخليک کې څه خاص تغير رانغی؛ همغه جګړې دي، همغه ناتار، همغه يرغل دی او همغه بغاوت، همغه پردي دي او همغه پرديپال. يوه برخه د پرديو په ملاتړ او بله برخه يې په مخالفت کې واقع ده. جګړه روانه ده، تاريخ تکرارېږي او ملت تباه کېږي. دا زموږ د څو نسلونو برخليک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې رايې مرستيالان او نا مهاره غوښتنې

دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (جولای) پر (۳۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) مياشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

ما مخکې تر مخکې پر دواړو نوماندانو او د هغوی پر نږدې اورپکو کمپاينرانو خپله غاړه خلاصه کړې وه، چې نه امرالله صالح، ډاکټر محمد اشرف غني ته او نه يونس قانوني، محمد حنيف اتمر ته کومه سلنه رايه راوړلای شي، ان لا د دوی د رايو د کمېدو سبب هم ګرځي. دا دواړه



داسې وړيا معاونيتونه او امتيازونه دي چې نظارا شورا او پنجشېر درې، جمهوري رياست ته پر مستقلې نوماندۍ سربېره د سياسي بدمعاشۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهارت په نتیجه کې خپل استحقاق ګڼلي دي. هر کاندید چې د نظار شورا دې ډول غوښتنو ته غاړه ایښې، نو د سیاسي انتحار شېبې یې پیل شوي دي. تېرو ټاکنو کې د ډاکټر غني د بریا راز په دې کې و چې له پنجشېر درې او نظار شورا څخه یې کوم چا په درې کسیز ټاکنیز ټکټ کې ځای نه درلود. اوس غني او اتمر دواړو یوه ستره تېروتنه کړې. د اتمر د تېروتنې نتیجه ژر څرګنده شوه او غني به هم لږ وروسته په خپل نوبت له ورته برخلیک سره مخامخېږي او که دا جوړښت تر ټاکنو هم دوام ومومي، نو د حاکمیت پر مهال به یې د لا ګڼو ستونزو او اختلافاتو احتمال وي. تر هغه پورې چې ملتپال سیاستوال د نظار شورا له انحصاره د سیاست مسیر و نه ژغوري نه به دلته سیاسي ثبات راشي او نه به عدالت تامین شي. په پای کې د دې خبرې یادونه هم ضروري بولم چې که څوک دا تصور کوي ؛ د نظار شورا د غړو :

عبدالله ، بسم الله، قانوني، امرالله او نورو تر منځ دا ظاهري اختلاف رښتیا هم کوم ژور سیاسي او ایډیالوژیک اختلاف دی او بله ورځ به بیا پر یوه دسترخوان راټول نه شي، نو دا ډول اشخاص د سیاسي حماقت پر رنځ اخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان ولس له خپل یو مل
# او ملګري بې برخې شو

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اګست) پر (۲) یمه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) میاشتې له (۱۱) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

محمد حسن ولسمل یادوم، چې تر شپېتو کلونو ګرمې سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي مبارزې وروسته یې د خپل ژوند لاره پرې کړه او له ابدیت سره یو ځای شو. هغه لکه څنګه چې ولسمل مل او حسن و،




همداسې له ولس سره مل او احسن پاتې شو. هغه شپېته کاله ملت او وطن وپاله او پوره شپږلسیزې یې په متواتر ډول له کینلاسو او بنیلاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډیالوژیو او د هغو د اورپکو پلویانو پر وړاندې مبارزه وکړه. هغه د خپل ټول ژوند په بهیر کې له خپلې ملي نظریې څخه یو سانتي متر شا ته شو. زندان یې وګاله، مهاجرت یې قبول کړ، جلاوطني یې وزغمله، ګواښونه او اخطارونه یې ولیدل، خو دې ټولو د ده د مبارزې تګلاره بدله نه کړه. یو ژبور، زړور او مقاوم انسان و. لس کاله مخکې یې د خپل ژوند لیکنې او خاطرې راټولې او چاپ کړې، صحت یې ښه نه او د سفر تیاری یې نیوه، یوه ورځ یې ماته مېلمستیا کړې وه، راته یې وویل مورې خو ژوند خوړلی، درڅخه روان یو، مخکې به مې دې ملت ته ډېره سودا وه چې زموږ تر نسل وروسته به څوک ملي فکر وپالي، خو اوس چې تاسې ګورم نو زړه مې خوشاله او ډاډه شي. ژوندون ټلویزیون ته به مو کله کله د مرکو لپاره بلنه ورکوله. یوه ورځ یې راته وویل خپل ټول زور وکاروه چې د (ای ایس ای) او د هغوی د ګوډاکیانو دسیسې او څېرې دلته رسوا شي.

ولسمل صیب د خپل ولس لپاره تر خپل وروستي بریده مبارزه وکړه. خپل زړه یې ښه تش کړی و، ولس ته یې هم فکري او معنوي پانګه پرې ښوده، د خدای پاک حضور ته لوړ سر او سور مخ ور روان دی. پوره باور لرم چې خپل رب ته به د خپل سوي لوي ولس اوږده غمیزه بیانوي، خپل دلایل، منطق او اسناد به ورته وړاندې کوي او ورته وایي به چې پر تا مین مخلوق، چې پر تا یې تر ټولو زیات ننګ کړی، ستا په نامه تر ټولو زیات کړول کېږي او ځورول کېږي، یا ربه ته پرې نور رحم وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن په دې نړۍ کې د ولسمل د ژوند وروستۍ ورځ ده، سبا يې د ابدي نړۍ پر لوري د سفر لومړۍ ورځ ده، نو ای دردېدليه او له خپلو خدمتګارانو نا خبره ولسه! را پاڅېږه سبا د خپل خدمتګار جنازې ته اوږه ورکړئ، د هغه په زړه کې به ضرور دا خبره تېرېږي چې:

د جنازې بازو مې نيسه

چېرې به ما په راستۍ خوله در کړې وينه.

نو سبا مو د خپل مل او خدمتګار د ديدن وروستۍ ورځ ده . سبا د ((افغان)) او (( مجاهد ولس) ) د يو خدمتګار د نه راګرځېدونکي سفر لومړۍ ورځ ده. پر مخه يې ګلونه او لاره يې روښانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که ټاکنې ونه شي؟

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اګست) پر (٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) میاشتې له (۱۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

اوس چې د سولې او ټاکنو بهیرونه څنګ په څنګ روان دي، نو ټولو سره دا پوښتنه مطرح ده چې که ټاکنې ونه شي، څه به کېږي؟ موقت حکومت به راځي؟ سرپرست حکومت به کارونه پر مخ وړي؟ ټاکنې




به کېږي او د سولې بهیر به هم تعقیبېږي که څنګه؟ که ټاکنې و نه شي، حکومت به نور هم خپل مشروعیت له لاسه ورکړي، که ټاکنې کېږي، څومره به روڼې او له درغلۍ پاکې وي؟ ټول نوماندان به د ټاکنو بهیر تر پایه تعقیب کړي که نه؟ ټاکنو کې به د خلکو د ګډون کچه زیاته وي که کمه؟ د ټاکنو مشروعیت او د نتایجو منل به څنګه کېږي؟ دا او دېته ورته نورې ګڼې پوښتنې د هر افغان په ذهن کې ګرځي راګرځي، دا چې په دې پوښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به کومه لومړۍ مطرح کېږي او د کومې حل به لومړی پیلېږي، دا به په څو راتلونکو ورځو، اوونیو او میاشتو کې څرګندېږي، خو زه دلته غواړم یوازې یوې پوښتنې ته د یو بدیل وړاندیز وکړم او هغه پوښتنه دا ده چې :

## که ټاکنې و نه شي، څه باید وشي؟

که ټاکنې ونه شي، نه موقت حکومت، نه سرپرست حکومت، نه ناپیلې شورا، نه ګډ کمېسیون، نه ناپېیلي اشخاص او نه هم محسن شخص ډېر کارنده رول لوبولی شي او نه تر ډېره بریده د هېواد په ګټه تمامېږي، په داسې یو حالت کې د کار، ځواک او قانون یوه خلا رامنځته کېږي او له دې تشیال څخه ځینې مغرضې کړۍ ناوړه ګټه پورته کوي، نو د غني په مشرۍ اوسنی حکومت سره له دې چې ګڼې نیمګړتیاوې، تېروتنې او خطاوې لري، خو د یوه ټاکلي وخت لپاره یې تداوم په کار دی، که څه هم د دې حکومت د کار تداوم هم قانوني بڼه نه لري، خو تر بل هر ناقانوني بدیله د قانونیت سرچینې ته نږدې دی. دا کار به د دې سبب شي چې غني ته وخت په لاس ورشي چې خپلې کړې هوکړې، ربښتینې ژمنې او خیالي تعهدات عملي کړي او د نه عملي کولو په حالت کې به یې ټول تاریخي مسولیت غاړې ته ولوېږي، غني به بېرته د خپل هېر کړي شعار (تحول او تداوم) د یوې برخې څښتن شي، د تداوم مرحله باید لږ تر لږه دوه کاله دوام وکړي، په دې پړاو کې باید غني دغه لاندې کارونه ترسره کړي:

- اجراییه ریاست باید په بشپړ ډول له ټولو تشکیلاتو سره له منځه یوسي.
- په حکومت کې موازي، مشابه او ناضروري تشکیلات باید ختم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د یو نیم زر مشاورینو دندې چې پر بیت المال یو درووند بار دی، له منځه یوسي.
- یو ملیون شغله باید رامنځته کړي.
- شپږ زره ښوونځي باید جوړ کړي.
- د ټاپي، ټیوټاپ، کاسا یو زر او دېته ورته نورې غټې پروژې باید بشپړې کړي.
- جنوبي اسیا له مرکزي اسیا سره وصل کړي.
- د هېواد اته مهم لوی ښارونه پر اتو مهمو اقتصادي زونونو بدل کړي.
- هوايي دهلېزونه داسې فعال کړي چې بیا یې پاکستان او کوم بل هېواد هېڅ بند نه کړای شي.
- منځنی ختیځ او منځنۍ اسیا ته د افغانستان د وچو او لمدو مېوو صادرات پیل کړي.
- نه یوازې ټول افغانستان، بلکې د افغانستان محکومې برخې (پښتونخوا) ته هم برېښنا ورسوي.
- شل زره مېګاواټه لمریزه انرژي تولید کړي.
- ښوونکو ته ښارګوټي، د شهیدانو اولادونو ته پوهنتونونه او روزنځایونه جوړ کړي.
- دوه نیم زره اوبو بندونه، برېښنا بندونه او اوبه خور سستمونه جوړ کړي.
- د افغانستان اوبه باید مهار کړي.
- د ځمکو د غاصبینو او نورو زورواکانو لاسونه باید لنډ کړي.
- ضوابط پر روابطو حاکم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ارګ او ممبر فاصله او نورې هغه ژمنې چې ده خلکو سره کړي، باید اکثره ترسره کړي.

## د تداوم په حالت کې د حکومت تشکیل:

د تداوم په حالت کې باید د غني تر مشرۍ لاندې حکومت دوه مرستیالان ولري، یو د طالبانو له خوا او بل د شمالټوالې له خوا. د طالبانو له خوا کېدی شي (امیر خان متقي) او د شمالټلوالې له خوا کېدی شي (صلاح الدین رباني) د مرستیالانو په توګه غوره شي. د تداوم حکومت باید لږ تر لږه دوه کاله دوام وکړي، دا حکومت باید دا لاندې کارونه ترسره کړي:

- د طالبانو، حکومت او نورو افغانانو تر منځ شوي توافقات باید عملي کړي.
- د طالبانو او حکومت تر منځ اوربند باید پلی کړي.
- امنیتي سکتور، قضایي او عدلي ارګانونه او ټاکنیز کمېسیونونه باید ناپیېلي کړي.
- د اوسني اساسي قانون د سمون لپاره باید ځانګړی مسلکي او ناپیېلی کمېسیون وټاکي.
- له نړیوالې ټولنې څخه د اوسمهالې او اوږدمهالې مرستې تضمین واخلي.
- له نړیوالې ټولنې څخه د ګاونډیو هېوادونو د نه لاسوهنې تضمین ترلاسه کړي
- له امریکایانو څخه د سولې د تامین او د بلې جنګي ډلې د نه فعالولو عملي تضمین راخپل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اساسي قانون د تصويب لپاره بايد د لويې جرګې د جوړېدو مېکانيزم جوړ کړي، که د لويې جرګې لپاره په تېرو اتلسو کلونو کې د ټولو جوړو شويو لويو جرګو او ملي شورا له ترکيب څخه ګټه پورته شي، يوه نسبي معقوله لاره به وي.
- د عادلانه سراسري ټاکنو لپاره بايد لاره اواره کړي.
- د همدې حکومت تر سرپرستۍ لاندې بايد ټاکنې ترسره شي، خو د جمهور رييس غني، د هغه مرستيالان او د تداوم په لړۍ کې د کابينې هېڅ غړی او نور لوړ رتبه مامورين حق نه لري چې جمهوري رياست او يا ولسي جرګې ته ځانونه نوماندان کړي.
- د دې لپاره چې د تداوم په پړاو کې حکومت خپل مسوليتونه په ښه ډول ترسره کړي، د ملګرو ملتونو او ناپيلو موثرو افغانانو په ګډون دې د څارنې يو خپلواک کمېسيون جوړ شي، چې د حکومت، طالبانو او بهرنيانو تر منځ د شويو توافقاتو د تطبيق څرنګوالی په دقت سره وڅاري.

له دغو څو وړانديزونو څخه، چې اصلي زړی يې د غني په مشرۍ د حکومت تداوم دی، پرته بله هره لاره مبهمه، کړلېچنه، ستونزمنه او تر دې حالته په نسبي ډول ناقانونه ده، د موقت حکومت په رامنځته کېدو سره قانوني خلا رامنځته کېږي، اوسنۍ پيل شوې رغنيزې او بنسټيزې پروژې له ځنډ و خنډ سره مخامخېږي، غلو، زورواکو او غاصبينو ته د تنفس او بيا غوړېدو زمينه برابرېږي، د حکومت جوړونې سريال بيا له سره تکرارېږي.

د حکومت تداوم يوه منځنۍ لاره ده چې غني ته په کې پر اوسنيو شپږو مياشتو سربېره دوه کاله نور هم د حکومت واک په لاس ورځي او تر دې زيات دی هم د زيات کار انرژي نه لري، په نسبي توګه يو ډول نيمه انتخابي بڼه او مشروعيت هم لري، ده ته هم زمينه برابرېږي چې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې رښتيني او خيالي ژمنې تر يوه بريده عملي کړي او په عزت سره يو بل قانوني او منتخب حکومت ته واک ورانتقال کړ.

شمالټلوالې ته هم نسبتاً غوره لاره ده چې د طالبانو له زور او قهره وژغورل شي او شل کلن امتيازات هضم کړي، طالبانو ته هم د عزت لاره ده، ځکه چې هغوی د نوي او ماډرن حکومت د جوړولو او پرمختيولو تجربه نه لري، يوازې په جنګ او مذهبي ترانو د ولس ضرورتونه نه شي پوره کولای او د زمانې او نړۍ له غوښتنو سره برابر نه دي، امريکايان او نړيوال به هم له يوه لوی پېغور څخه بې غمه شي چې په شلو کلونو کې يې شاګرځ و نه کړ، حکومت او نظام و نه شنېد او د يو نيم بنده انتخابي حکومت ځای يې پوره انتخاباتي حکومت ته پرېښود او د دې تر څنګ لوی هدف (سوله) چې د ټولو افغانانو ګډ ارمان و، ټول په ګډه هغه هدف ته ورسېدل، هېڅوک به د ناکامي او محروميت احساس و نه کړي او هر څوک به ځان بريالی او اتل وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه لنډۍ او د کنځلمارانو منطق

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اګست) پر (۱۶)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (زمري) میاشتې له (۲۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

تر اوسه پورې مې د ولسمشرۍ په نوماندانو کې د هېڅ یوه ملاتړ نه دی کړی. البته د څلورو تنو د اسنادو د قانوني نیمګړتیاوو په باب مې ټاکنیزو کمېسیونونو ته غوښتنلیک وړاندې کړی و. اوس مې د یو تاریخي ضرورت له مخې یوه لنډۍ خپره کړه:

د چمبړ خیال په شان جانانه


بوی دې ښه نه دی خو جلاب ته دې ساتمه

دې لنډۍ څخه هر چا خپل خپل تعبیر کړی و. خو یو شمېر بې ادرسه کنځلمارو، چې ځان د ښاغلي غني پلویان ګڼي، دا لنډۍ د خپل کنځلیز خوی، خصلت او تفکر له مخې تعبیر کړې ده، نو ځکه خو یې کنځلو ته کش ور کړی دی. د دې لنډۍ تعبیر دا دی:

ډاکتر غني که څه هم په افغاني ټولنه کې د مروجو کلتوري اخلاقو له مخې یو تریخ سړی دی او خپلو ډېرو نږدې ملګرو ته یې هم داسې تروې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ترخې خبرې کړي چې لا هم د کاغذ پر مخ د لیکلو وړنه دي، خو د هېواد اوسنیو حالاتو، ملي ګټو او شاو وخوا دسیسو ته په پام سره که اوسنۍ حالت بیا هم وزغمو، نو بیا هم د هېواد په ګټه دی. چمبرخیال هم داسې یو بوټی دی چې رنګ او بوی یې ښایسته نه دی، خو د جلابو په ګډون د ګېډې د ګڼو مرضونو او نورو مرموزو ناروغیو لپاره ښه درمل



دی. سره له دې چې څښنل یې اسانه نه دي؛ پوزه به نیسې او تر ستوني به یې تېروې، خو د ډېرو ناروغیو علاج کوي. غني هم اوس داسې یو سیاسي کرکټر دی چې د ټولنیز خصلت له مخې یې زغمل اسانه کار نه دی، خو د جنګسالارۍ، زورواکۍ او نورو ګڼو مرضونو د علاج لپاره یو ښه تریخ درمل دی. خو د غني زغمل په دې مانا نه دي چې د مالک، قیصاري، علیپور په شان خاینین دې د پخوانینو جنګسالارانو ځای ونیسي. زه نه غواړم دلته د غني د واکمنۍ پر نیمګړتیاوو بحث وکړم، دا یې ځای هم نه دی او ګټه یې هم نورو مخالفو اشخاصو ته رسي، دا هم نه غواړم چې د غني پلوو کنځلمارو ماشومانو کنځلو ته تم شم، خو د یوې فرضیې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید دا خبره مطرحه شي چې که د کنځلمارانو ژبه، اخلاق، منطق او ټولنيز شعور ربښتیا هم د غني د اجتماعي شعور، اخلاقو او سیاسي کرکټر استازولي وکړي، نو بیا خو ربښتیا هم یو نوي میاعلي صیب ته اړتیا ده چې دا کتګورۍ اشخاص وتړي. که ډاکتر غني ربښتیا هم ځان کې د دویم مفکر ځرک ګوري، نو خپلو کنځلمارو پلویانو ته دې لږ تر لږه سیاسي اخلاق زده کړي. که دا کار نه شي کولای، نو پر دې دې پوه شي چې دا کنځلماران نه د تا زامن دي نه د بل چا، دا د هر چا زامن دي . دا نن ستا زامن دي، سبا د قیصاري زامن دي، بل سبا د فیروزي، دا د هر وخت او هرې زمانې زامن دي. که نه امتحان يې کړه ؛ يوه ورځ دې ستا له خوړلنيو پرته له خپل نوم او نښان سره ستا په ملاتړ د ښار واټونو ته را ووځي چې ته پوه شي دا ستا زامن دي که د بل چا؟

د ټولو کنځلمارانو سوغاتونه دي هر ډول چې دي، لومړی خپله دوی، بیا ددوی والدینو او بیا ددوی بابا ته د دوی په خپل لاس او خپلې خولې ډالۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په کابل کې کربلا

دا وړه لیکنه د (۲۰۱۹م) کال (اګست) میاشتې پر (۱۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (زمري) میاشتې له (۲۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

د بشر د وحشتونو په تاریخ کې تر ټولو دردوونکی وحشت.

ای د دې مظلوم ملت پټ و ښکاره دښمنه ! یوه ورځ به راشي چې



د دې ظلمونو حساب به ورکوې. دا ملت چې د کوم خالق مخلوق دی، هغه سره د حساب او کتاب ورځ شته. دا حساب لرې نه دی ، د سترګو تر یو رپ اخوا وړاندې دی. مورې نور څه ووایو ؟ دا درد په الفاظو کې نه شي ځاییدلی.

خدای دې ژر راوله قیامته چې ژر د ظالم ګریوان ته د مظلوم لاس ور ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د جمهور رییس غني بیا بریا ته پېښې ګواښونه او د هغو حل لارې

| |
|---|
| **یادښت: دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال (اګست) میاشتې پر (۲۹)مه، چې ډاکټر اشرف غني ته لېږل شوې وه او د سپتمبر میاشتې پر (۲۲)مه نېټه خپره شوې ده.** |

## الف– ګواښونه :



**۱ – نا امني: سره له دې چې د هېواد اکثره سیمې د ناامنۍ له خطر سره مخ دي، خو هغه سیمې چې د ډاکټر غني د ووټ طبیعي ساحه ګڼل کېږي، هلته دا ګواښونه تر نورو سیمو ډېر زیات دي. په دې ساحو کې ناامني د دې سبب کېږي چې د غني د طبیعي ووټ کچه په سلو کې (پنځوس) راټیټه کړي.**

**۲ –د ولایتي شوراګانو د ټاکنو حذف: د ډاکټر غني د ووټ په طبیعي ساحه کې د ولایتي شوراکاندیدان د دې سبب ګرځېدل چې په دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکنو کې د ووټرانو د ګډون کچه پورته لاړه شي. ان تر یوه حده خلکو له خپلو کاندیدانو سره د خواخوږۍ په خاطر د ناامنۍ خطرونه هم زغمل، خو ټاکنو کې یې ګډون کاوه، دا کار د دې سبب ګرځېده چې هم د ولایتي شورا د ووټرانو شمېر زیات شي او هم د جمهوري ریاست، خو اوس چې دا برخه له ټاکنو حذف شوې، تر ټولو زیات زیان یې د ډاکټر غني په مشرۍ (دولت ساز) ټاکنیز ټیم ته رسي.

**۳ –د ټاکنیزو مرکزونو حذف:** د ناامنۍ په پلمه به (۲۲۰۰) مرکزونو حذف شي، د اټکل له مخې په دې شمېر کې تقریباً (۱۵۰۰) هغه مرکزونه وو چې ډاکټر غني په کې تر ټولو زیاتې رایې ګټلې او په دې نورو کې یې هم د پامور رایې لرلې، د دې مرکزونو په حذف سره په مجموعي ډول د ټولو رایو (۳۰) سلنه رایې کمېږي.

**٤ –سیاسي او قومي ائتلافونه:** غني دا ځل په خپل انتخاباتي ټکټ کې د قومي اقلیتونو رایې نه لري، که لري یې هم ډېرې کمې به وي. د ده د دوارو مرستیالانو رایې په نشت حساب دي، یوازې د سیاسي مشروعیت لپاره، کېدی شي مهم وګڼل شي، خو په ټاکنیزه برخه کې د محاسبې وړ نه دي، تېر ځل ډاکټر غني د ازبکو، اسماعلیانو اکثریت او د یو شمېر نورو اقلیتونو د پامور رایې درلودلې. دا ځل نه یوازې دا چې دا رایې نه شته، بلکې دا رایې د ده له مخالف جهت سره جمع شوې دي. په ټاکنیزه محاسبه کې که د یو کاندید، متحده رایه استعمال نه شي، زیان لري، خو زیان یې دومره زیات نه دی، خو که مقابل طرف ته وکارول شي، زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دوه چنده کېږي. د ساري په توګه (A) کانديد (٥) رايې لري او (B) کانديد (٤) رايې، خو که د (A) کانديد يو متحد ووټر خپله رايه استعمال نه کړي، نو دواړه نوماندان د رايو د شمېر له مخې مساوي حالت ته رسېږي، خو که د (A) کانديد يوه متحده رايه پر مخالفه رايه بدله شي او (B) کانديد ته لاړه شي، د هغه رايه په اتومات ډول له (٤)څخه (٥) ته پورته کېږي او ګټونکی ګڼل کېږي. ډاکټر غني په اوسنيو ټاکنو کې له همدې مشکل سره مخامخ دی. د نورو قومونو له استازو سره د ده ائتلاف له منځه تللی او کوم‌کسان چې ده د هغوی په نامه ځان سره ودرولي، هغه په دې پوزيشن کې نه دي چې د ده د رايو د زياتېدو سبب شي.

**٥ –د غني طبيعي متحدين او بانفوذه اشخاص:** د بېلابېلو عواملو او چلندونو له امله غني، د ښاري روښنفکرانو، ځوانانو، له بهر څخه د راغلو اشخاصو او وطني بانفوذه شخصيتونو، سياسي څېرو او خپلو پخوانيو متحدينو تر منځ اندول ونه شو ساتلای، داکار د دې سبب شو چې د ده پخواني متحدين له ده څخه مخ واړوي او مخالف ټاکنيز ټکټ ته لاړ شي، چې داکار غني ته يوه غټه ضربه ده، د بېلګې په ډول، هېڅ تصور نه‌کېده چې د کوچيانو او احمدزيو شورا دې، چې د غني تر ټولو سوچه ووټ ګڼل کېده، د غني له مخالف کانديد څخه خپل ملاتړ اعلان کړي.

**٦ –د ښځو تصوير اخيستل:** د ټاکنو لپاره د ښځو تصوير اخيستل يوه حساسه‌کلتوري مسئله ده، په تېره بيا د ډاکټر غني د ووټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبیعي سیمه کې. دا کار که څه هم د ټاکنو د شفافیت په پلمه وشو، خو اصلي هدف دا و چې دغني د ووټ په طبیعي سیمه کې د هغه د ووټ کچه راټیټه شي. په پښتون مېشتو سیمو کې د ټاکنو پر مهال د ښځو مخ لوڅې داسې مانا ورکوي، لکه غربي هېوادونو کې چې د ټاکنو پر مهال ښځې مجبوره کړې چې چادري واغوندي.

۷ –د غني ټاکنیز دفترونه: د غني ټاکنیز دفترونه په واقعیت کې د یو شمېر ښاري او بازاري ځوانانو له خوا یرغمل شوي دي، له بهر څخه راغلي یو شمېر اشخاص هم په کې دخیل دي، دوی د دې پر ځای چې له دې دفترونو څخه د ټاکنیزو دفترونو په توګه کار واخلي، د بانفوذه خلکو مخه یې نیولې او تر عملي ټاکنیزې مبارزې زیات، پر فیسبوکي مصروفیت اخته دي.

۸ –فیسبوکي او مجازي نړۍ: د ډاکټر غني حکومت او د ټاکنیز ټیم کمپاین تر ډېره بریده پر فیسبوکي مبارزې او مجازي سروېګانو راڅرخېدلی و، فیسبوک ته مجازي نړۍ هم وایي، په دې مانا چې له واقعي او عیني نړۍ سره تطابق نه لري، فیسبوک کې نظرونه ثابت نه دي، څرنګه چې په دې ډله کې دولتي مامورین او یو شمېر نور معاشخواره هم شامل وو، نو ځکه خو به یې هر مخالف نظر په شدت سره رداوه او په کنځلو به یې ځواب ورکاوه. فیسبوکي سروېګانو او جعلي ایډیانو د ښاغلي غني د ټیم تقاضا لوړه کړه، په داسې حال کې چې ځمکني واقعیتونه بل ډول وو. د غني تکراري فیسبوکیانو، چې بهر میشتي افغانان هم په کې شامل وو، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالم انتقاد ته داسې منفي غبرګون وښود چې د غني ډېر طبيعي پلويان يې هم پر مخالفينو بدل کړل. دا فيسبوکيان چې په حقيقت کې ډېر کم خلک دي، خو ضرر يې ډېر زيات دی، دوی د مجازي او حقيقي نړۍ تر منځ توپير له منځه يوړ او د کنځلو يو منفي کلتور يې عام کړ.

۹ –د ډاکټر غني د ټاکنيز مثلث نيمګړتيا: د ډاکټر غني د ټاکنيز مثلث دوه ضلعې د ټاکنيز فعاليت له نظره خنثی دي. د ده دواړه مرستيالان که څه هم له علمي پلوه د نورو ټاکنيزو ټيمونو تر مرستيالانو په ښه دريځ کې دي، خو مشکل دا دی چې د ده لومړی مرستيال چې د کوم قوم د استازولۍ تمثيل کوي، هغوی خپل نوماند لري، نو ځکه خو په طبيعي ډول هغوی د جمهوري رياست مقام ته رايه اچوي؛ که عبدالله وګټله، نو هغوی د جمهوري رياست مقام ګټي او که غني وګټله، نو د امرالله صالح په وجود کې يې مرستيالي په وړيا ډول خوندي ده. سرور دانش چې د کوم ګوند او قوم د استازولۍ تمثيل کوي، د هغه د ګوند او قوم ټولو مشرانو له مخالف کانديد څخه خپل غوڅ ملاتړ اعلان کړی دی، نو ځکه خو دې دواړو مرستيالانو په ډېرو کمو رايو دا دوه څوکۍ ډکې کړې دي.

۱۰ –ناسم راپورونه او معلوماتي خلا: غني د خپلې واکمنۍ په پيل کې دا وېره ښکاره کړې او هيله يې کړې وه چې له غوړه مالانو مې وساتئ! په خواشينۍ سره چې هغه کړۍ نه يوازې ماته نه شوه، بلکې لا پسې محکمه شوه. حکومتي چارواکو او د ټاکنيزو ټيمونو معاش خورو مامورينو ډاکټر غني ته د حالاتو حقيقي تصوير په دې خاطر نه وړاندې کاوه چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقفونه يې په خطر کې نه شي، که حقيقي تصوير وړاندې شوی وای، کېدی شول د نزولي حرکت مخه نيول شوې وای، نو په دې خاطر د غني او ځمکنيو واقعيتونو تر منځ يوه معلوماتي خلا رامنځته شوه.

۱۱ –د ډاکټر غني ټولنيز چلند: غني په خپله تېره واکمنۍ کې له بانفوذه ټولنيزو او سياسي اشخاصو سره سياسي او ولسي چلند نه دی کړی، له زغم او اوسېلې يې کار نه دی اخيستی، البته ځينو ځايونو کې که مضر مصلحت او ائتلاف شوی، هغه هم ورته په زيان تمام شوی دی، ده د يوه حاکم او قاضي رول ترسره کړی، نو ځکه خو ځينې بانفوذه اشخاص چې يا يې مشروع او يا هم نامشروع ګټې له لاسه ورکړې وې او يا يې د ده په حاکميت کې خپل حضور نه ليده، ټولو يو ډول عقده واخيسته، د عقدې د خلاصون بله لاره نه وه، کله چې ټاکنې راورسېدې، نو اکثره يې له مخالف ټيم سره يو ځای شول. داسې ګنې نورې نيمګړتياوې، اشتباوې، ضرورتونه او مجبوريتونه وو چې د غني ټاکنيزې مبارزې ته يې زيان ورسوه او هغه يې د تېرو ټاکنو په پرتله په کمزوري دريځ کې ودراوه، خو غني سره ډله‌ييز او يا انفرادي مخالفت په دې مانا نه دی چې د ده مخالف ټيم دې ګنې تر ده ښه وي او يا دې خلکو کې رښتيا هم محبوبيت ولري. که د غني د ووټ طبيعي ساحه د جګړو له امله زيانمنه شوې نه وای، نو له پورتنيو ټولو نيمګړتياوو او اشتباګانو سره سره به بيا هم غني د ټاکنو ګټونکی وای او هغه ځانساتي او ابن الوقت اشخاص چې اوس مخالف ټيم سره يو ځای شوي، هغو به هم د غني ملاتړ کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب– د بريا څو لارې چارې:

نيمګړتياوو او تېروتنو ته مو په لنډيز سره نغوته وکړه، خو اوس راځو دېته چې ايا له دې ګواښونو، نيمګړتياوو، کمزوريو، مجبوريتونو او نورو ستونزو سره سره بيا هم د غني د ګټې چانس شته که نه؟ دلته غواړم پر هغو لارو چارو لږه لنډه رڼا واچوم چې غني ته د دې زمينه برابرولای شي چې د جمهوري رياست په دې ټاکنو کې ځان بري ته ورسوي:

**۱ –د اساسي قانون د محتوياتو عملي کول:** اساسي قانون د جمهوري رياست لپاره درې اساسي شرايط ټاکلي: ټاکنې بايد سري، سراسري او عادلانه وي. دغه درې اصله دې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې يو ډول تطبيق شي، د دې اصلونو پر وړاندې چې هر ډول پلمه جوړېږي، هغو ته زيان رسوي او د ټاکنو مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي.

**۲ –ټاکنيز مرکزونه:** هېڅ مرکز بايد د ناامنۍ په پلمه ونه تړل شي، د ناامنه سيمو ټاکنيز حق بايد محفوظ وي، نتيجې دې تر هغې نه اعلانېږي چې له امنو سيمو سره د ناامنو سيمو تعادل نه وي برابر شوی او عدالت نه وي تامين شوی. د ساري په توګه د ننګرهار په (۱٤) ولسواليو کې ټاکنې وشوې، خو (۸) ولسوالۍ د ناامنۍ له وجې پاتې شوې. د دې ناامنو ولسواليو لپاره دې د امنو سيمو امنيتي ځواکونه او نور مرستندوی امنيتي پرسونل واستول شي، ټاکنو ته دې لاره اواره او بيا دې ټاکنې ترسره او نتيجه دې د همغه ولايت له شويو ټاکنو سره ضم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ –ولایت په ولایت او نا هممهاله ټاکنې:** ضرور نه ده چې ټاکنې دې په ټول هېواد کې پر یوه مهال ترسره شي او داکار د اساسي قانون له مخې هم کوم ممانعت نه لري، اساسي قانون پر (سریتوب، عادلانه توب او سراسري والي) ټینګار کوي، هر میتود چې دا درې اصله خوندي کولای شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید له همغه میتود څخه کار واخلي،که د ټاکنو کمسیون، ټول هېواد پر (۱۰–۱۲) ټاکنیزو حوزو ووېشي او هره اوونۍ په یوه زون یا حوزه کې ټاکنې وکړي او نتیجه یې پر همغه وخت اعلان کړي، نوکار به اسانه شي، د ساري په توګه که ختیځ کې امنیتي ځواکونه لومړی امنیت ټینګ کړي، بیا ټاکنې وکړي او تر ټاکنو وروروسته د هغه ځای امنیتي ځواکونه بل زون یا نږدې ولایت ته ولېږل شي، نو هلته که تر امنیت ټینګېدو وروسته ټاکنې وشي، د ټولو یا اکثرو خلکو استازیتوب تضمینولای شي، د ټول هېواد په کچه ټولې ټاکنې کېدی شي یوه– یوه نیمه میاشت وخت ونیسي، دا حالت تر هغه حالت ډېر ښه دی چې پر یوه ورځ ټاکنې ترسره کېږي، کم خلک په کې ګډون کوي او بیا یې نتیجه هم پر میاشتو میاشتو نه معلومېږي.

**٤ – په ټاکنو کې د ښځو ګډون:** د ښځو د ګډون لپاره باید د ټاکنو شرایط اسانه شي، نه دا چې تر پخوا هم سخت او پېچلي شي. د ټاکنو پر مهال له ښځو څخه د عکس اخیستل، یوه کلتوری او شرعي حساسه موضوع ده چې ډېرې ښځې به حاضرې نه شي، دې کار ته غاړه کېږدي، د یوه عکس په خاطر یوه افغانه مېرمن له خپل ټاکنیز حق څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرومېږي، خو که د بایمیټریک دستګاه رښتیا هم د ګوتې عکس اخیستی او د تکرار مخه نیولای شي، نو بیا د مخ عکس ته څه اړتیا ده؟ ټاکنې باید د یوه هېواد له کلتوري او مذهبي عقایدو سره ټکر او مخالفت و نه کړي.

۵ –د عدالت تامین: لکه څنګه چې اساسي قانون د افغانانو تر منځ د مساوات او عدالت د تامین حکم کوي، نو اوس چې یو هېوادوال هم د امنیت له نعمت څخه بې برخې کېږي او هم د انتخاب له حق څخه، نو دوه واره زیانمنېږي او بل بیا له دې دواړو حقونو برخمن کېږي، دا خپله د اساسي قانون او بشري قوانینو خلاف کار دی، نو حکومت او ټاکنیز کمېسیونونه مکلف دي چې په ټولو برخو کې د افغانانو تر منځ د مساوات او عدالت اصل تامین کړي.

٦ –ترانسپورټېشن: خلک د اقتصادي، امنیتي او نورو مشکلاتو له امله زړه نه ښه کوي چې په خپل لګښت ټاکنیزو مرکزونو ته لاړ شي، نو که د ترانیسپورټېشن زمینه ورته برابره شي، د خلکو د ګډون کچه زیاتېږي، د ډاکټر غني تر مشرۍ لاندې دولت جوړوونکی ټیم په دې برخه کې تر نورو په ښه دریځ کې دی، که وغواړي له خپلو امکاناتو څخه په دې برخه کې ښه ګټه پورته کولای شي.

۷ –تخنیکي سستم: د ډاکټر غني ټاکنیز ټیم که له تخنیکي پلوه خپل ټیم ښه سمبال کړي، کولای شي د خپلو رایو کچه پورته کړي، د ساري په توګه که دغه جدول عملي کړي، نو په ټاکنو کې د خپل دریځ څرنګوالي په باب به ورته یو عمومي جاج وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټاکنیزه حوزه (کابل )

| ګڼه | بنسټ/ شخص | د ستيکر نمبر | تخصص | ټاکنيز مرکز | ټاکنيز محل | وعده شوې رايې | احتمالي حسابي رايې | عملي رايې | ارتباطي شمېره | لاسليک | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احمد | ... | انجنير | حبيبي لېسه | ۰۲ | ۱٦ | ۳ | ۲ | ۰۰۰۰ | ۰۰۰۰ | ۰۰۰۰ |
| ۲ | محمود | ... | ډاکتر | خوشال خان لېسه | ۰۱ | ۲۰ | ٤ | ۳ | ۰۰۰۰ | ۰۰۰۰ | ۰۰۰۰ |

د دې جدول په کارولو سره تر ټاکنو دمخه حالت څومره والی، خپل ځان سره یوه احتمالي محاسبه، عملي رايې، د ټاکنو مرکزونه، هلته د ناظر شتوالی او د هغه ژمنه ټول معلومېږي.

**۸ –د پخلاینې څانګه:** ډاکټر غني باید له خپلو اعتباري او هغو اشخاصو څخه چې ده ته ورځنی لاسرسی لري، یوه څانګه ژر تر ژره فعاله کړي، دوی باید ټول هغه اشخاص او بنسټونه چې په ټولنه کې خپل نقش او وزن لري، تشخیص او په تېره بیا هغه اشخاص چې په تېرو ټاکنو کې د غني متحدین وو او دي او اوس له غني څخه خفه دي، بېرته پخلا کړي، ډاکټر غني باید خپله له دې اشخاصو سره وګوري او ګیلې مانې یې رفع کړي.

**۹ –ټاکنو ته وخت او فرصت:** غني سره له دې چې جمهور رییس او ډېر مصروف دی، خو ټاکنو ته د پاتې مودې زیاته برخه باید همدې انتخاباتو ته بېله کړي، خپله هر څه له نږدې وګاري، خپل عیبونه، مجبوریتونه او ضرورتونه په خپله تشخیص کړي او د حل په برخه کې یې خپله عاجل اقدام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰ –له طالبانو سره تفاهم:** غني باید له خپلو ټولو دولتي، بهرنیو امکاناتو او نفوذ څخه کار واخلي چې طالبان دې ته متمایل کړي، د ټاکنو پر مهال وضع اخلال نه کړي، د طالبانو له موافقې پرته مشکله ده چې ان په اوسنیو امن او نیمه امن سیمو کې هم ټاکنې ترسره شي او که کومو سیمو کې ترسره هم شي، هلته به د غني د ووټ کچه ډېره کمه وي.

**۱۱ –د انګېزې تخلیق:** که ډاکټر اشرف غني د جمهوري ریاست د تېرو ټاکنو په شان ملي انګېزه تخلیق کړي، نو یو زیات شمېر خلک به د ملي انګېزې له امله د جنګسالارۍ پر ضد د ده ملاتړ وکړي او هغه ورې ګیلې او مانې به له منځه لاړې شي چې د هغو له امله د ده یو شمېر طبیعي او موثر متحدین، له ده څخه جلا شوي او د ده له مخالف لوري سره یو ځای شوي دي.

**۱۲ –د نورو کاندیدانو جذبول او پخلا کول:** د مخالفو کاندیدانو له جملې څخه ښاغلی انجنیر ګلبدین حکمتیار او شیدا محمد ابدالي دوه داسې نوماندان دي چې د غني د ووټ په طبیعي ساحه کې ووټ لري. حکمتیار په ټولو حوزو او ابدالي د لوی کندهار په حوزه کې د پامور شمېر رایې خپلولای شي، خو که دا دواړه د ډاکټر غني د ټیم ملاتړ وکړي، نو د دوی اکثره رایې په اتومات ډول د غني ټیم ته لوېږي. انجنیر نبیل هم په غني پلوه سیمو کې یو شمېر ووټ اخیستلای شي، خو دومره ډېر نه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی یادښت: که چېرې ډاکټر اشرف غني حتمي، ضروري او سل په سلو کې د ټاکنو ترسره کول غواړي، نو باید پورتني او دې ته ورته نور وړاندیزونه عملي کړي او که داکارونه ورته ناشوني وي، نو په دې ټاکنو کې به د غني د بریا چانس ډېر کم وي، نه یوازې بریالی کېدلای نه شي، بلکې د ماتې کچه به یې هم ډېره حیرانونکې وي. د اټکل له مخې که حالات همداسې روان وي او غني په کې ټاکنې ترسره کړي، نو د ټولو رایو په سلو کې (۲۰) سلنه به ترلاسه کړي او دا به ده ته ډېره شرموونکې او دردوونکې ماتې وي. د ده تر ماتې وروسته به هېواد کې یو لوی بحران رامنځته شي او د مخالف ټیم هغه ایډیالوژي او د هغوی پالونکي به یو ځل بیا واکمنۍ ته ورسېږي چې دا هېواد یې یو ځل مخکې هم له ستر ناورین سره مخامخ کړی و.

که ډاکټر غني په ټاکنو کې ځان سل په سلو کې نه شي بریالی کولای، نو بیا ښه لاره دا ده چې سوله غوره کړي، طالبانو سره د سولې لاره خپله کړي، دا حکومت له نړیوالو او طالبانو سره د تفاهم له لارې وغځوي او د یو ټاکلي وخت په تېرېدو سره یو بل عادلانه او منتخب حکومت ته لاره اواره کړي، دې سره به هم سوله ټینګه شي، هم به دا حکومت و نه پاشل شي، هم به بل منتخب حکومت ته لاره اواره شي او هم به غني د یو اتل په توګه مطرح او یاد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه او ډاکټر عبدالله!؟

**دا لیکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (اګســـت) پــر (۳۱)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (وږي) میاشتې له (۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

کله چې ما د ولسمشریزو ټاکنو د څرنګوالي په باب یو ویډیويي پیغام خپور کړ، نو د اکثرو هېوادوالو د تائید وړ وګرځېد، خو د ډاکټر غني یو شمېر کنځلمارو او اومغلنو پلویانو او د ناستېکر شویو تذکرو فیسبوکي



کمپاینرانو یو ځل بیا خولې هوايي دهلېزونو ته ونیولې او پر کنځلو یې پیل وکړ، ځینو په کې وویل چې یون، ډاکتر عبدالله ته کمپاین کوي او ځینو وویل چې دا کار یې د پنجاب په اشاره کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای بې ادرسه او بې ولسه کمپاینرانو! موږ خو له غني څخه په همدې خبره خفه وو چې ولې یې د ډاکټر عبدالله په مشرۍ له نظار شورا سره پنځوس په سلو کې واک شریک کړ؟ ولې یې د ډیورند پر منحوسې کرښې د اغزن تار پر سر پنجاب ته سر ټیټ کړ؟ ولې یې خوله کې مشنګ واچول؟ ولې یې امریکایانو او نورو ته ونه ویل چې دا د افغانستان خاوره ده، پیسې مه ورکوئ؟ خیر دی که موږ اوس کمزوري یو، خو تاریخي حقایق ولې تر پښو لاندې کوئ!؟ ولې یې په نړیوالو حقوقي ادارو کې خپل غږ پورته نه کړ؟

ما د غني او عبدالله د ګډ‌ولې حکومت په پنځه کلنه واکمنۍ کې یو ځل له ډاکټر غني او یو ځل له ډاکټر عبدالله سره کتلي او هغه هم د ملي هویت د تذکرو په باب، دواړو سره مې د اساسي قانون په رڼا کې موضوع څېړلې ده، (له ډاکټر عبدالله سره د هغه وخت د کتنې عکس له دې لیکنې سره مل دی)، نور نو د خدای فضل دی، له ټلویزیون پرته مې د دوی څېرې له نږدې نه دي لیدلي.

ډاکټر غني د عجولانه ائتلافونو ډېرې بېلګې وړاندې کړې؛ ده له ډاکټر عبدالله سره په ګډ حکومت کې په ډېره ریشخندۍ ګوزاره وکړه او همدا اوس یې د نظار شورا او د وحدت ګوند له یو یو ګروپ څخه خپل ټاکنیز مثلث جوړ کړی دی، علیپور، قیصاري، جنرال مالک او نور جنګسالاران خو یې اوس د زړه د کمپاین ستوري دي، نو که نظار شورا سره د هر چا د ائتلاف او ګوزارې خبره مطرح وي، نو تر ټولو غني په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ګناهکار دی. پاتې شوه له ډاکټر عبدالله سره زموږ د پیوستون خبره، دا به هېڅکله ونه شي، دا زموږ په شان، ایډیالوژۍ او فکر کې نه شته او دغه راز له پنجاب او (ای ایس ای) سره د پټې او ښکاره یارانې خبره زموږ د ذهن او ضمیر، فکر او عمل مخالف کار دی. زه د ټول پاکستان د شتوالي فلسفه نه منم، نو پاتې لا د هغه د یوې منحوسې ادارې د خبرې منل، نو ای پټې سترګو او وازخولو غوړه مالانو! اوس خو تاسو ښاغلی مفکر د نابودۍ کندې ته برابر کړی او موږ چې بېرته د هغه د ژغورنې هڅه کوو، نو تاسو نه غواړئ چې مفکر وژغورل شي او غواړئ لا یې له ګړنګونو او هوایي دهلېزونو ګوزار کړئ.

زه یو ځل بیا پر خپلې خبرې ټینګار کوم او وایم چې که غني په همدې شکل ټاکنو ته لاړ شي، نو ناکامي یې حتمي ده، که نه خپل پلرني ولایت ( لوګر) کې دې یو ډول نمونه یي او تمثیلي ټاکنې وکړي، که نتیجه یې مطلوبه وه، پر مخ دې لاړ شي او که نه وه، نه دې ځان شرموي، نه دې قوم، نه ملت او نه ټاکنې، سولې ته دې لومړیتوب ورکړي او تر هغې وروسته دې ټـاکنې ترسـره کـړي، د غنـي او د هغـه د کنځلمـارو کمپـاینرانو دا ډول سرزوري، په لوی لاس ډاکټر عبدالله او نظارشورا ته د قدرت لېږدول دي او په دې ټاکنیزه غمیزه او توطیه کې بیا سل په سلو کې همدا ښاغلی غني او د هغه نافکره غوړه مالان شریک ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غوړه مالانو منطق

دا لیکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (ســپتمبر) پــر (لــومړۍ)، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (وږي) میاشتې له (۱۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

یو شمېر غوړه مالان چې ځان په فیسبوکي رسنیو کې د ښاغلي غني



پلویـان او خواخـوږي معرفي کـوي، لـه حـالاتو دومـره نـاخبره دي، چې څلورکاله دمخه یې په رسنیو کې له ډاکتر عبدالله سره زما یو خپور شوي عکس ته څومره ژر د دروغو لباس واغوستـه. دا عکس له نن څخه څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله دمخه د (۲۰۱۵ م) کال د اګست میاشتې پر (۱۰) مه نېټه زما په خپله فیسبوک پاڼه کې خپور شوی او بیا پر (۱۳۹۶ ل) کال په ( ملي هویت او ملي عزت) اثر او همدارنګه ( نیمه پېړۍ یون) اثر (۹) ټوک( ۹۱۰۴) مخ کې هم چاپ شوی دی. هلته له دې انځور سره د برېښنايي تذکرو په باب د ګډ حکومت له اجرایه رییس (ډاکټر عبدالله عبدالله )سره د کتنې بشپړ جزیات هم راغلي دي. نن مې له یوې لیکنې( زه او ډاکټر عبدالله !؟) سره دا انځور یو ځل بیا خپور کړ. هدف مې دا و چې داسې تصویر باید وي چې د لیکنې له عنوان سره ارتباط ولري او بل اصلي هدف مې دا و چې د یو شمېر غوړه مالانو، فیسبوکي مبارزینو او



دروغجنو اشخاصو د ذهن او دروغو کچه هم معلومه کړم، چې دوی څومره د هېواد له حالاتو سره دقیق چلندکوي او د دروغو کچه یې څومره ده؟سره له دې چې ما له دې تصویر سره د الکترونیکي تذکرو اړونتیا لیکلې وه. خو کم سواده او نیم سواده فیسبوکیانو هغې یادونې ته هم پام نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړی او تصویر ته یې داسې رنګ ورکړی چې موږ ګنې په ټاکنوکې له ډاکتر عبدالله څخه ملاتړ کړی او دې سره یې د خپل ذاتي خصلت له مخې دکنځلو خولې هم وازې کړې وې. نو زه چې سر ټکوم او مفکر صیب ته مشوره ورکوم هدف مې دا دی چې غني له دغسې غوړه مالانو وژغورل شي. نو یوه ډله اشخاص چې د یو تصویر په تعبیر کې دومره دروغ وایي څه فکر کوئ که دا ډول خلک له غني را چاپېره وي هغه به یې له څومره معلوماتي تشیال سره مخامخ کړی وي؟ لاندې مې څو نور تصویرونه هم راوړل . زما او د ډاکتر عبدالله په تصویر کې له اساسي قانون سره سم د ملي هویت د حق د ترلاسه کولو بحث او وضاحت روان دی او په دې نورو تصویرونو کې د دوو ډاکتر صاحبانو تر منځ د اساسي قانون خلاف د قدرت د وېش چنې رواني دي. نور نو که څوک نه پوهېږي هغه دې خدای پوه کړي، تاریخ به خپل قضاوت کوي. خو که پاچا سلامت او د هغه غوړه مالان بیا هم داسې یو حالت ته خوشاله وي، دوی دې خدای خوشاله لري. خو موږ به د هر چا ایمان او باور، دروغ او رښتیا په پوره دقت او صداقت بیانو:

چـې یـې ولیـدم مجبـور پـه لارکـې پـروت
لـه څپلـو سـره مـې هـر یـو پـه سـر خـوت
مـا پـه لارکـې و ځـان دې تـه غورځـولی
پـه دې چـل مـې د یـارانو ایمـان کـوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا تصویر څه پیغام لري؟

> دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (سپتمبر) پر (۳) یمه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (وږي) میاشتې له (۱۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

داچې دا ښاغلي بې ګناه دي که ګناه کار؟ محکمې عادلانه پرېکړه کړې که ناعادعلانه دا یو بېل بحث دی، خو کوم څه چې په دې تصویر کې پراته دي دا دي چې هره زاویه یې بېلابېلې پیغامونه لري. یو پیغام



یې دادی چې عزت او ذلت، حاکمیت او محکومیت د لوی خدای ج په لاس کې دي، کله یو څوک لوړ کړه، خو چې د بغاوت نشه یې سر کې پیدا شي نو بیا یې ځوړ کا. بل پیغام یې دا دی چې که په اوسنیو ځینو واکمنو کې هم د لوړتیا غریزه پیاوړې شي همدا حال ورته انتظار کاږي. نورې ژوندۍ بېلګې هم شته: یو وخت ښاغلی جبار ثابت لوی څارنوال و، ښاغلی الکو یې مرستیال و، ده یې د نیولو حکم وکړ، بیا ثابت صیب له دې مقامه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، الکو صیب یې پر ځای راغی، هغه بېرته د ثابت صیب د نیولو حکم ورکړ. ثابت صیب هم پر خپل وخت یو زیات شمېر ملامت او سلامت اشخاص زندان ته ور ټېلوهل، خو څومره موده چې دی په واک کې و نږدې هماغومره موده یې بیا خپله د طالبانو په سخت زندان کې تېره کړه. مصر کې د عربو د پسرلي په نتیجه کې محمد مرسي واک ته ورسېد، حسني مبارک زندان او محاکمې ته لاړ، بیا مرسي بېرته زندان او محاکمې ته لاړ او بیا د مرګ تر پولې ورسېد، خو مبارک بېرته تفریح ځای ته لاړ. دا چې څوک ملامت وو او څوک سلامت پر دې یو الله (ج) پوهېږي، خو موږ ته د ژوندیو معجزو حیثیت لري او ستر پیغامونه او حکمتونه په کې پراته دي. دا ډول بېلګې ډېرې دي، دلته یې د نورو بېلګو راوړلو ته ضرورت نه شته. خو په دې تصویر کې د یو کرکټرښاغلي (بدیع صیاد) په باب باید ووایم چې زه او یو څو نور ملګري د ولسمشرۍ د نوماندانو د نوملیکنې په درشل کې کمېسیون ته ورغلو او د ځینو نوماندانو په باب مو ورته وویل چې د اساسي قانون او د ټاکنیزو قوانینو د محتویاتو له مخې دغو ښاغلو د نوماندۍ شرایط نه دي پوره کړي او ځینې یې د اساسي قانون دومره مخالف دي چې اصلا" د نوماندۍ حق نه لري، موږ وویل تاسو یوازې قانون پلی کړئ نور هېڅ هم نه غواړو. صیاد صیب دومره مغروره و چې د فرعون پوړۍ ته نږدې شوی و، زموږ ژورنالیست ته یې وویل چې وله کمره دې، زما خبرې ثبت نه کړې، زه وخت هم نه لرم خو دلته مې ستاسو لیدو ته ځان لږ اوزګار کړ، لس دولس دقیقې وخت یې موږ ته راکړ او بیا یې وویل چې زه ځم (یک تلویزیون) سره مرکه لرم. ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لندو ټکو کې وویل، ګوره واک چاته نه پاتې کېږي د دې وطن په خاطر قانون تطبیق کړه، داسې وخت به راشي چې دمحاکمې مېز ته به ولاړ یې او بیا به وایې چې کاشکې قانون مې پلی کړی وای.

هغه ته زما خبرې دومره بابیزه ښکاره شوې چې د خدای پاماني نزاکت یې هم مراعت نه کړ. بل کمشنر ښاغلي هاشمي راته وویل خیر دی یون صیب خفه کېږه مه دغه زموږ حال دی. هغه زموږ اعتراضه اسناد او مدارک واخیستل او بیا هغه اسناد همغسې پسې لادرکه شول. اوس چې صیاد صیب د محاکمې د مېز تر شا دی زه پرې د خوشالۍ اظهار نه کوم دعا ورته کوم چې خدای دې راخلاص کړي، بیا به فرصت ولري چې ماسره د عدالت دبیان په خاطر د یو رسنیز مېز تر شا کېني او د حقیقت هغه داستان به ولس ته بیان کړو چې ما ده ته لیکلی و. اوسنیو چارواکو او مارواکو غوږ شئ چې د دې کمېشنرانو په دې تصویر کې تاسو ته هم د غټ پند او عبرت رمز پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تبنتېدلي او ښکې

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (سپتمبر) پر (۵)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (وږي) میاشتې له (۱٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**همدا څو شېبې وړاندې يې کور ته ورغلم، د نه بيانېدونکي وير فضا خوره وه. پلار ته يې غاړې وتم، مخکې تر دې چې زه تسلي ورکړم وار**



**يې دمخه کړم. خدای راکړي وو ، خدای واخيستل هېڅ هم په کې نه شم ويلای. دا به د خدای رضا وه. د پلار سترګو کې يې اوښکې نه وې؛ اوښکې يې د څلورو غبرګو جنازو له شرمه تبنتېدلي وې. پلار يې نه ژړل خو ترهوره و، اخوا دېخوا يې ډېر کتل ، د خپلو ورکو لته يې کوله. د شهيدانو مشر ورور زما ترڅنګ کېناست، ما يې لاس لاسو کې ونيو، ويل يې کاشکې پرون راغلی وای چې هغو ژوندي وو ، څومره به درته خوشاله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـوي وای. د ورور سـترګو کـې يـې هـم اوښـکې نـه وې، لاسـونه يـې



مړاوي او بې روحه وو، ما ويل درې بجې به جنازې ته پاتې شم، د هغو د جنازو بازو ته به اوږه ورکړم، زه د ټولو هغو افغانانو په استازۍ راغلی يم چې تاسو سره په غم کې شريک دي. هغه وويل ته څه لاړ شه جنازو ته مه ځه، خدای مه کړه په تا څه وشي هغه به بيا بل غم وي ؛ زما ورونه بېرته نه راګرځي هغوی لاړل، هغوی لاړل. د خلکو ګڼه ګوڼه رازياتېدله موږ يې را رخصت کړو ، زه له جلال اباده د کابل پر لوري را روان شوم او دوی نو د خپلو شهيدانو د وروستي ديدن او خدای پامانۍ شپې شمارلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غم غلطۍ په هیله

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (سپتمبر) پر (٦)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (وږي) میاشتې له (۱۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

په دې ورځو کې د هېواد حالات دومره غمجن او تاوجن دي چې د هېچا خوله خندا ته نه جوړېږي، ویر دی ، ماتم دی، ژړاوې دي او



انګولاوې، خو په دې منځ کې چې بیا د خوښۍ کوم خبر راشي او زموږ د هېوادوالو پر شونډو د خوښۍ موسکا و غوړېږي دا نو بیا یو بېل خوند او رنګ لري:

لستوني بـه وهۍ ګـــډېږۍ

د غریبانو ښادي کله کله وینه

نن د کابل پوهنتون د حقوقو او اقتصاد پوهنځیو، په سلګونو ماستران ټولنې ته د خدمت په هیله وړاندې کړل. دا ډول مثبت پرمختګونه که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم زموږ ټول دردونه نه شي دواکولای ، خو پر ټپونو مو د مرهمونو پټۍ اېښودلای شي. موږ د خدای د بلاعوضه عبادت کوونکو په توګه له لوی ربه نور څه نه غواړو، یوازې سوله غواړو او خپل عزت غواړو. د ډېرو نعمتونو او په جنت کې د ډېرو باغونو هیله هم نه کوو.



زه ورځ دوه وړاندې د خپل هېواد یو کلي ته تللی وم. کلیوالو ماته په خپله شنه دېره کې تر شنه سیوري لاندې یخ شړومبې، پیاز او د تناره ډوډۍ راوړه. په ډوډۍ او ولس کې دومره خوند او صداقت و، چې ما نه په پنځه ستوریز هوټل کې لیدلی و او نه هم په ښاري پانګوالو کې. نو زه دغسې خوندور ، مینه ناک او اخلاصمند ژوند غواړم. یا ربه زما د ولس همدا هیله پوره کړه : سوله او مینه ناک ژوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دوو زورواکيو پرتلنه او تېروتنه

دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (سپتمبر) پر (۱۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (ورې) مياشتې له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

کله چې شوروي مشر ليونيد برژنيف پر افغانستان د پوځي يرغل پرېکړه کوله، نو داسې تصور يې کاوه چې افغانستان کې به له څو ياغيانو





سره مخامخېږي، هغوی به له منځه وړي او نور به يې د خپلې خوښې حکومت روان وي. د دوی لاسپوڅي (کارمل) هم شوروي مشرتابه ته همدا تلقين ورکړی و.

سره له دې چې د هغه وخت محدودو باغيانو او د دولت مخالفانو په ولس کې چندان ريښه نه لرله او د خلکو هم نه خوښېدل، خو د شوروي پوځونو د يرغل او د هغو د ګډو ظلمونو له امله مخالفو ډلو، ملي او اعتقادي مشروعيت پيداکړ، ولس يې هم په جبري او نا جبري ډول تر شا ودرېد او په پای کې د شوروي پوځونو د سختې ماتې سبب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس امریکا هم په همغه دریځ کې ده؛ نولس کاله وړاندې یې په ډېر شان او شوکت او ډېر پوځي غرور پر افغانستان یرغل وکړ، طالب نظام یې رنګ او پر ځای یې خپل لاسپوځي واکمن کړل. دا داسې مهال و چې د طالبانو له ترخه نظامه هم خلک تر پوزې راغلي وو، نو ځکه یې د امریکایي یرغل پر وړاندې کوم خاص غبرګون و نه ښود. خو امریکایانو او د هغوی کورنیو پلویانو د طالبانو او افغان ولس پر وړاندې دومره تېروتنې وکړې چې طالبان بېرته د یو پوځي قوت په توګه مطرح شول. امریکایانو د خپل ژوند تر ټولو اوږده جګړه دلته تجربه کړه، خو پرته له دې چې د څو محدودو جنګسالارانو او څو محدودو غربپالانو د واک د دوام سبب شي، په جګړه کې نور پرمختګ نه لیدل کېږي.

طالبان لومړی د اخفا له حالته کلیوالي جګړې، بیا علني چریکي جګړو، بیا پر دولتي پوستو د برید حالت، بیا د ولسوالیو پر مرکزونو برید ته راواوښتل، بیا یې ولسوالۍ ونیولې، بیا یې د ځینو ولایتونو مرکزونه سقوط کړل، اوس د لویو لارو دټولو وس لري او ان د انتخاباتو په څېر لویې هېوادنۍ پروژې هم له اخلال سره مخامولای شي. ان داسې وخت هم راغلی چې امریکا سره د مذاکراتو د یو اړخ په توګه مطرح شول. د طالبانو دا پرمختګ د دې مانا نه لري چې دا حالت د هېواد په ګټه دی ځکه چې طالبان یوازې یو پوځي او مذهبي قوت دی او د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره کوم واضح پلان نه لري او هره حواله یې د هغې نړۍ پر حسابونو ډډه لګوي. خو دا خبره هم باید واضح شي چې که له امریکایانو او دلته د اتلس کلن فسادګر حکومت له چارواکو غټې تېروتنې نه وای شوې، طالبان داسې یو دریځ ته نه شول رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شورويانو غټه تېروتنه دا وه چې پر افغانستان يې يرغل وکړ او بله غټه تېروتنه يې دا وه چې پر همغه وخت يې پر پاکستان يرغل و نه کړ او خپل حساب يې ور سره تصفيه نه کړ. امريکايانو هم همغه تېروتنه تکرار کړه، نو زيات احتمال دی چې دوی هم د شوروي پر پرخليک اخته شي.

اوس چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ کومې ډراماتيکي او عجولانه پرېکړې کوي، نو دا ډول کارونه نه د امريکا په ګټه دي او نه د افغانستان په ګټه. د شرم خبره خو دا ده چې دلته د ټرمپ يو عادي ټويټ ته يو شمېر پرديپالي دومره خوشاله دي، لکه کارمل او د هغه پلويان چې به د افغانستان په اړه د شوروي مشر (برژنيف) بيانيې ته خوشاله وو.

ای د وخت غوړه مالو زامنو او پر موقتي واک مينو! واک چا ته نه پاتې کېږي، وخت هم تېرېږي خو تاريخ پاتې کېږي. د ټرمپ خبرو ته مه خوشاله کېږئ، د هغه سياسي ژوند او کرکټر له پاراډوکس( متضادو خبرو) ډک دی؛ سبا به يې داسې خبرې کړې وي چې د دې خبرو برعکس به وي، بيا به ورته کوم پرتوګ ګنډئ؟ نو ښه خبره دا ده چې طالبانو سره د سولې خبرې بيل شي، امريکا دې يوازې دومره وکړي چې پاکستان دې دومره وځپي چې افغانستان کې نور د مداخلې وس و نه لري، نور نو افغانان که هغه طالبان دي، که ملايان که اوسنی ګډوله حکومت دی، که نور مخالفين دي او که عام ولس دا ټول د جرګو او مرکو تجربه لري، هر مشکل په خپله حلولای شي، خو امريکا او نړيوال دې يوازې دومره وکړي چې زموږ ګاونډيان دي وتړي بس خلاص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډاکتر عبدالله په حکومت کې

# څه قانوني حیثیت لري؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (سپتمبر) پر (۱۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (وږي) میاشتې له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

په وروسته پاتې ټولنو کې سیاست له یو لړ ناپاکیو، درغلیو او ناقانونه مجبوریتونو سره ملګری وي، په دې کې بیا د شرم خبره دا وي چې د واک مجري خپل لاس په نورو پاک کړي.

ښاغلي ډاکتر عبدالله د یو ناپاک تعامل په نتیجه کې د حکومت



پنځوس سلنه برخه راخپله کړه. په خواشینۍ سره چې همغه شخص دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناقانونه تعامل ته غاړه کېښوده چې ویل به یې پر اساسي قانون معامله نه کوم او دا کار یې ان پر خیل اولاد باندې د معاملې معادل ګاڼه.

دا چې داکار د خارجي (جانکیري) د فشار په نتیجه کې تر سره شو او یا د وخت مجبوریت او د حالاتو نزاکت و، هر څه چې و، خو د قانون خلاف کار و. ما همغه وخت د یو افغان په توګه خپل اعتراض وکړ او ومې ویل چې دا به په پنځوکلونوکې حکومت کمزوری او ښاغلي غني ته به د سر په کاسه کې اوبه ورکړي. هغه وخت هم څوکي خوښوونکو زما خبرې وغندلې او ویې ویل چې دا د غني په یو فرمان راغلی او په یو فرمان به ځي، کله کله به یې داکار د امریکا د داسې فشار زېږنده ګاڼه چې د غني تر وس بهر و.

پنځه کاله په دې نادریوکې تېر شول، نه یوازې د اساسي قانون اکثره مواد عملي نه شول، بلکې د دې ګډ حکومت خپلمنځي تعهدات هم عملي نه شول. د لاقانونیت له یو پړاوه بل ته ور داخل شول. د ټاکنو د نوملیکنې وخت راورسېد ډاکټر عبدالله نه یوازې دا چې له خپلې دندې استعفی و نه کړه، بلکې یو ځل بیا یې د اساسي قانون او د ټاکنیزو قوانینو خلاف اجرایه ریاست هم په خپل ټاکنیز ټکټ کې زیات کړ، زه د دېرش ملیونه افغانانو له جملې څخه یوازینی افغان وم چې د ټاکنو کمېسیون کې مې پر ډاکترعبدالله او ځینو نورو نوماندانو خپل قانوني اعتراض ثبت کړ او له جمهور رییسه مې هیله وکړه چې قانون تطبیق او د عبدالله ناقانونه اجرایه ریاست ختم اعلان کړي. خو ښاغلي غني داکار و نه کړ. د غني او عبدالله پنځه کاله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کېدو شول، د سترې محکمې د یو تفسیر له مخې د جمهور رییس په توګه د غني د واک موده و غځول شوه، خو څرنګه چې اجرایه ریاست په اساسي قانون کې نه شته، نو محکمې په دې برخه کې هېڅ تفسیر نه شو ورکولای، نو جمهور رییس څخه مو بیا غوښتنه وکړه چې اجرایه ریاست ختم او حکومت بېرته قانوني مسیر ته سوق کړه، خو هغه بیا ځان غلی کړ . څو میاشتې وروسته ډاکتر غني خپله اعتراف وکړ چې اجرایه ریاست په تېره موده کې د یو(( چیلک انداز)) حیثیت درلود. اوس باید دې څو پوښتنو او ګروېږنو ته واضح ځواب ورکړل شي:

۱ –ډاکتر عبدالله د امریکایانو له خوا تحمیل شوی و. نو ځکه خو دا حکومت لکه څنګه چې ادعا کوي، خپلواک نه دی؟

۲ –ډاکتر غني په خپله خوښه دی منلی و؟که دا ادعا سمه وي، نو دی ورسره په مسولیت کې شریک دی.

۳ – د وخت مجبوریتونو او د هېواد د هغه وخت ضرورتونو دی مجبور کړ چې دا کار وزغمي، نو کېدی شي مجبوریت یې وبولو نه قانونیت.

٤–کله چې جانکیري په خپله مخه لاړ او غني ته د محکمې د تفسیر او ټاکنو ته د نوملیکې پر مهال دوه تاریخي او قانوني چانسونه برابر شول ولې یې دده د لرې کولو فرمان صادر نه کړ؟

۵ –د اجرایه رییس په توګه د عبدالله د ټاکنې فرمان د څومره وخت لپاره و؟ مدام العمر؟مدام الحیات؟او یا هم تر څو چې د غني د واک موده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي؟کوم حقوقپوه او قانونپوه به دې پوښتنو او ګروېږنو ته منطقي ځواب پيدا کړي؟

اوس چې چاړه ببخي هډوکي ته نږدې شوې او تېره ورځ ګڼ شمېر لنډغرو د احمدشاه مسعود د تلين په نامه يو ځل بيا دخپلو مشرانو او کشرانو هغه اصلي لنډغريز ماهيت څرګندکړ، عامه نظم يې اخلال کړ او د هېواد د حيثيت د يو ساتونکي د شهادت سبب شول، اوس نو جمهور رييس د هېواد د لومړۍ درجه مسول په توګه څه مسوليت لري؟

امنيتي ځواکونه دې خداى پياوړي لري، تر اتلسو کلونو وروسته يې د لنډغرو سابه يو څه په مالګه کړل، خو لا هم نور جرات او قوت ته اړتيا ده. اوس د غني په مشرۍ دګډ حکومت اجرايه رييس د دې پر ځاى چې امنيتي ځواکونه وستايي، د هغو پر غندنو او رټلو يې پيل کړى دى، دا کار خپله د جرم د شراکت په مانا دى. اوس به پر اجرايه رييس څوک قانون پلي کوي؟ بې وسلې ولس؟رسنۍ؟ او که جمهور رييس؟ په ننګرهار کې د بېګناه افغانانو د وژنې له امله د خلکو د ډاډ په خاطر دې د ملي امنيت رييس له دندې لرې کړ، اوس مهرباني وکړه د ملي ځواکونو د حيثيت د خوندیتابه لپاره ناقانونه اجرايه رييس هم ژر تر ژر لرې کړه. کله چې د خپل واک په ورستيو کې هم د قانون له پلي کولو ډډه کوې، نو بيا خو د قانونيت چغې هم مه وهه. تاته دې معلومه وي چې ولس ته د طالب تر وحشته د لنډغرو وحشت کم نه دى. نو راشه په همدې وروستيو ورځو کې هم يو اساسي او قانوني اقدام وکړه؛ ډاکټر عبدالله لرې کړه او انتخاباتي قوانين هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځان، هم پر عبدالله او هم پر نورو نوماندانو پلي کړه. د نظار شورا نور لنډغر چې درسره دي د هغو دخطرونو په باب بیا بل وخت.

یادښت: لکه څنګه چې د لنډغرو دعملونو کرښډیټ په مستقم ډول احمدشاه مسعود او د لنډغرو نورو مشرانو ته رسیږي دغسې ګوره د کنځلمارو کریډیټ هم نیغه په نیغه ډاکټر غني او نورو چارواکو ته رسي. نوره مو خپله خوښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل او زورواکي

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال د (سپتمبر) پر (۱٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل)کال د (وږي) مياشتې له (۲۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

افغانستان اوس د يو مدبر سياسي مشرتابه له تشيال سره مخامخ دی، نو ځکه خو د نړۍ هر زبرځواک او د سيمې هر زورواکی زموږ د هېواد د برخليک په باب خپل زهرجن نظرونه څرګندوي. د هېواد اصلي




وارث (افغان ولس) ژوندی دی، خو د خپلو نااهله سياستوالو ټپونو سخت کړولی، نو ځکه خو د وخت د هر فرعون خبره ناځوابه پاتې کېږي. اوس نو د امريکا د جمهور رييس ټرمپ پر څرګندونو سربېره د هغه يو احتمالي سيال (جوبايډن) هم د ناکنټروله او نافکره مشرانو لېست ته داخل شو. هغه وايي: ((افغانستان بايد فدرالي حالت ته ورداخل شي، موږ بايد د پاکستان تر کنټرول لاندې سيمو کې خپل پوځي حضور ولرو او له هغه ځايه په افغانستان کې د ترهګرۍ د ځپلو لپاره خپله مبارزه وکړو. )) دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې اوس هم د افغانستان درې ولايتونه (هدف يې لويه پکتيا، لوی کندهار او لوی ننګرهار دی) د پاکستان له خوا کنټرولېږي، نو ځکه خو د ده په تعبير ښه دا ده چې د پاکستان تر کنترول لاندې سيمو څخه د افغانستان خاوره کنترول کړو.

په پښتو کې يو متل دی، وايي: ((د مېږي چې اجل راشي، نو خدای وزرونه ورکړي))، جوبايډن، ټرمپ او نورو ښاغلو ته بايد وويل شي چې تاريخ ته لږه مراجعه وکړئ، افغانستان داسې يو هېواد دی چې تر شا يې يو غټ ملت ولاړ دی، دلته ځينو سياسي مشرانو وخت پر وخت ځانونه پلورلي دي، خو ملت هېڅکله نه دی خرڅ شوی. دلته تر تاسې وړاندې مقدوني سکندر، چنګېزخان، هلاکو، ګوډ تيمور، انګرېزانو، روسانو او بيا تاسو همداسې ناوړه خيالونه او خوبونه ليدلي، خو بيا يو وخت ترې د تېښتې لاره هم ورکه شوې ده. همدا نږدې څو تېرو لسيزو کې جنرال ضياء الحق به وويل چې زه به يو وخت له خيبره سره د اختر لمونځ په (پل خيشتي) جومات کې اداکې کوم، خو د خدای په حکم او د افغان ملت د ازار په وجه يې مړی د ځمکې تر سطحې هم را و نه رسېد. صدام حسين پر عراق د امريکا د بريد پر مهال وويل: ((عراق خو څه افغانستان نه دی چې امريکايان يې په څو ورځو کې اشغال کړي)). صدام پر هغسې دردوونکي برخليک اخته شو، امريکايانو عراق ونيوه، بېرته ترې هم ووتل، خو افغانستان کې لا هم د خپل غرور او تېروتنو په خټه کې داسې بند دي چې ځانته د وتلو لارګوري. دلته راتګ اسانه دی، بېرته تګ سخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ټـول قــوتـونـه د پـردیو دلته**
**ښکاره راغلي دي، په غلا وتلي**

د امریکا په شان د نړۍ یو ستر ملت، هېواد او زبرځواک ته سړی حیرانېږي چې ساینسي تجربه، پوهه او ټکنالوژۍ یې پر ټوله دنیا حکومت کوي، خو سیاسي مشران یې څومره له عقله پلي دي. موږ له خپلو سیاسي مشرانو ګیله لرله، خو اوس چې هغوی ته ګورو، زموږ پرې بیا هم د برخې خاوندان دي. عجیب ملک او عجیب هېواد دی، د پاکستان په شان د یو مصنوعي دولت مشرانو تر اوسه دومره تېرویستي چې تر ستوني په تاوان کې ډوب دي، خو دوی بیا هم پاکستان، پاکستان یادوي، د دوی په وینا، اسامه بن لادن یې په ایبټ اباد کې له دنیا تېر کړ، خو تاوان یې له افغانانو غواړي.

د القاعده درې سوه غړي یې په لاهور، اسلام اباد، کراچۍ او نورو سیمو کې ونیول، خو پوځي عملیات یې دلته جاري دي، څه ووایو؟ د زورور اوبه پر پیچومي خېږي، خو عقل یې په پوندو کې وي.

دلته باید یو ځل بیا یادونه وکړو چې افغانستان یو مستحکم هېواد دی او تر شا یې یو پیاوړی ملت ولاړ دی. دلته د افغانانو له خوښې پرته د بل هېڅ زورواک او زبرځواک بدله نسخه نه چلېږي، هر څوک دې د تاریخ په هنداره کې یو ځل نور او بیا خپل ځان وګوري، بس خلاص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخي درسونه او سر نا خلاصي عبرتونه

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اکتوبر) پر (۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (تلې) میاشتې له (۱۶)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

د اکتوبر اوومه پر افغانستان د امریکا د پوځي یرغل اتلسم کال پوره شو. شوروي پوځ پوره نهه کاله دلته تېر کړل، خپل سرونه یې هم



وخوړل، خو افغانانو ته یې هم د سر او مال درانه زیانونه واړول، شورویانو سل ملیارده ډالره زیان و زغمه، خو پر نهم کال لا میاشت بره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې نه وه چې نورې يې خپلې ښښې سپکې کړې، امريکايان زر مليارده ډالره تاواني شول، خو تر اوسه لا د جګړې سر او بر لا معلوم نه دی.

د جګړې پر نهم کال د شوروي او د جګړې پر اتلسم کال د امريکايي پوځيانو تصوير يوډول ښکاري. زموږ دهېوادوالو د غم، درد او سياسي برخليک انځور هم يو شان برېښي، داسې ښکاري چې په دې جګړه کې ظالم او مظلوم دواړه بايلونکي دي، خو يو منافق ګټونکی هم لري: (جهاد افغانستان دفاع پاکستان)

د خواشينۍ خبره خو دا ده چې د افغانانو سرونه به څه وخت خلاصيږي؟ او له دې تاريخي درسونو به څه وخت ژور عبرت اخلي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څو شېبې د کمال اتاتورک د فکر تر څنګ

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اکتوبر) پر (۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (تلې) میاشتې له (۱۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

انکرې ته په دې خاطر لاړم چې د تورکانو د پلار (مصطفی کمال) مقبره وګورم، زیارت یې وکړم. د هغه مقبره پر یوه لویه غونډۍ واقع ده. هغه له دې ځایه د خپل ولس ژوند او پرمختګ څاري. غونډۍ هم



ښکلې او ښېرازه ده ، ښار هم ښکلی او ولس هم سوکاله دی. اتاتورک د تورکانو ملي اتل دی . کله چې مې د اتاتورک مقبره او تصویر ته کتل، نو د خپل اتل (غازي امان الله خان) او د هغه د ملت تصویر مې ذهن ته راته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه وو ؟ او څنګه شولو؟ زموږ اتل چې کله ترکيې ته سفر درلود، نو



اتاتورک يې تود هرکلی وکړ او هغه يې د شرق د وينبتابه ستوری وباله. هو شرق وينښ شو، خو زموږ ملت لا تر اوسه ويده او بدمرغه دی. هغه ملت چې خپل اتل په کاڼو ولي، برخليک به يې همدغسې وي. کمال اتاتورک او غازی امان الله خان دواړه د ملتپالنې ، خپلواکۍ او پرمختګ مخکښان او دواړه د يوه فکر سکني ورونه وو ، چې يو يې په خپلو ارمانونو کې بريالی او بل يې په ډېرې نهيلۍ له خپل وطنه وتلو ته اړ شو.

های های وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه ورځ په جلال اباد کې

دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اکتوبر) پر (۱۴)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (تلې) مياشتې له (۲۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

سهار چاى مو په خپل کور کې له حاجي صيب خان محمد باز منګل او له کابل څخه له نورو راغلم مېلمنو سره يو ځاى وڅښـه. وروسته د استاد ببرک مياخېل د مور بي بي فاتحې ته ورغلم. تر هغه وروسته د



ښاغلي معلم صيب عزيز د دوو زامنو د ودونو مبارکۍ ته لاړم. څو دقيقې وروسته د ننګرهار عامه کتابتون ته لاړم او ياد کتابتون ته مې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسته کتابونه ډالۍ کړل، بیا د اطلاعاتو او کلتور ریاست ته لاړم، له ښاغلو شېرشاه همدرد او امرالله امید سره مو ښه فرهنګي بنډار وکړ، ما ورته د کتابتون لپاره کتابونه ډالۍ کړل او دوی هم خپل نوي چاپ کړي کتابونه را ولورول، ورپسې نصیر مومند کتابتون ته لاړم هلته مې یاد کابتون وکوت ، خپـل کتابونـه مـې ورتـه ډالـۍ کـړل او د کتـابونو د چـاپ پـر اوسـني



حالت مو هم بحث وکړ، ترهغه وروسته د شاعر پېچوال صاحب په بلنه د حصارک د پخواني ولسوال ښاغلي عبدالخالق معروف دېرې ته لاړو، هغه زموږ او له پېښور څخه د راغلو لیکوالو ښاغلو (ایاز فضلي داودزي او محمدشاه دلکش) او ټولو نورو ډېر عزت وکړ، وروسته مې داودزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب او دلکش صیب سره د (پېرزوينې يوټيوب) چينل لپاره اوږده ادبي مرکه وکړه. تر هغه وروسته مې له کابل څخه د يو شمېر راغلو مېلمنو




سره وکتل ، بيا د ښاغلو حاجي وحيدالله وليزي او انجنير فضل ربي وليزي مرحوم پلار فاتحې ته ورغلم. ماښام له کډوال صيب او جلالتماب



محمداسمعيل اړم پتيار صيب سره خپل کور ته راغلو او دلته له کابل څخه نورو راغلو مېلمنو سره ملګري شو. ښاغلي ماهرالله راسره ټوله ورځ ملګری و، له ټولو هغو دوستانو څخه مننه چې نن ورځ يې له ما سره زحمت وګاله او زموږ قدرونه يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له تلې تر لړمه

دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اکتوبر) پر (۳۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) مياشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

د تلې پر شپېړمه د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شوې، موږ ويل څه د تلې مياشت ده، هر څه به په تله برابر وي، ان د يو نوماند ټاکنيزه نښه هم





تله وه. موږ فکر کاوه چې نوماندان او کمېسيون به هم له تلې سره لېوالتيا لري ؛ ټاکنې به ډېر ژر په همدې تله کې وتلي او هر څه چې په تله کې وي هغه به را ووځي.

خبره د تلې له پيل نه پای ته ورسېده خو تله لا معلومه نه شوه.

اوس نو خبره د لړم لومړۍ لسيزې ته ورسېده، اوس نو زموږ ټاکنې د لړم ترحم ته انتظار کاږي، چې څومره نښونه پرې وهي؟ څومره يې چيچي؟ او څو ځايه يې چيچي؟اوس نو ډول ډول پاړوګران د ټاکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېسیون خوا ته ګرځي راګرځي، لوی او واړه پاړوګر . ګورو چې د چا دم به اغېز وکړي؟

زه خو فکر کوم چې خبره لوی دمګر او پاړوګر کې ده، هغه چې کله یو دم واچوه، نو سم دلاسه به د یو کاندید د خوښې نتیجه را و وځي، ابۍ به مړه شي او تبه به یې وشلېږي ؛ نوماند به خپل لاسونه پورته کړي او کمپاینران به یې خپلې تورې وځلوي، خپل مقامونه به خوندي کړي او که دم سست و او د بل نوماند له غاړې هم لاړې را تاوې وې، نو سروکی به همغه تننی تننی وي، خو لنډۍ او غاړې به پکې تازه کېږي. نورې خبرې هم ډېرې دي، خو اوس همدومره: شیخ فریده پټه خوله دې بهتري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقيار د اسلامي ولسواکۍ يو سرغندوی

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (اکتوبر) پر (۳۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) مياشتې له (۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

قاضي محمد حسن حقيار يو ژور ديني عالم، يو ښه ليکوال، يو ښه اسلامپال او يو زړور ملتپال افغان دی. حقيار د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د يوې داسې عادلانه ولسواکۍ او د رسنيو د ازادۍ چغې وهلې چې



اوسنيو تصنعي ديموکراتانو لا په هېواد کې د قدم وهلو جرات نه درلود. حقيار لومړی ديني عالم و چې په يوې ژورې تحليلي علمي ليکنې کې يې د ښځې دا حق تثبيت کړ چې په يوه اسلامي ټولنه کې ان د جمهوري رياست مقام ته د نوماندۍ حق لري. ده د طالب نظام له پلويتوب سره سره د هغه پر نيمګړتياوو د نيوکو تر څنګ خپله فرهنګي مبارزه جاري وساتله او د رسنيو د ازادۍ لپاره يې خپل هوډ ټينګ وساته. د طالب نظام تر ړنګېدو وروسته يې لکه د ځيو نورو په شان ځان د اومغلنې او تصنعي ولسواکۍ ممثل او مخکښ و نه ګاڼه او نه يې په طالبانو پسې خوله خلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه. د ده په خپل نظر د اشغال پر ضد يې قلمي او رسنيزه مبارزه وکړه او يوه ورځ يې زما په مخ کې د وخت ولسمشر (کرزي صيب) ته وويل چې زه د امريکايانو د حضور مخالف يم او د وتلو لپاره يې معقوله طرحه هم لرم. د حقيار سرېتوب او مليتوب هغه وخت هم ماته ښه څرګند شو چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال زما په ګډون د څو تنو ملتپالو فرهنګيانو د زندۍ کولو پلان جوړ شوی و، خو حقيار او ځينو طالب فرهګنيانو ماته احوال را ولېږه چې تر هغه پورې له پېښوره مه راځه چې څو موږ درته ويلي نه وي او يا دا خطر رفع شوی نه وي. حقيار له خولې مړاوی، خو له فکر او قلمه ډېر تېز او ژور ديني عالم او پوخ سياسي مبصر دی. ده په تېرو اتلسو کلونوکې د درباري غوړه مالانو، ستميانو، افغان ضد ډلو او نورو مضره سياسي حشراتو پر ضد خپل ملي رسالت په زړورتيا سره تر سره کړه. لکه څنګه چې حقيار د نورو خلکو له سياسي نظرياتو سره ځان ته د نظر د اختلاف حق ورکاوه، دغسې د ده له نظرياتو سره اختلاف هم د هر افغان حق دی، خو د ده د فزيکي امحا لپاره هر ډول هڅه د مقابل لوري د منطق پر کمزورۍ دلالت کوي او موږ دا د وحشت او رزالت يو ښکاره نښه ګڼو، حقيار اوس پر پښو تپي شوی دی، خدای به يې ژر جوړ کړي، خو د حق د لارې پالل يوازې د محمدحسن حقيار کار نه دی. دا د هر حقپالونکي رسالت دی. حقيار به بيا پر تلويزيون را څرګند شي، اختلاف به هم کوو، اتفاق به هم کوو، مناظره به هم کوو، مباحثه به هم وي، مشاجره به هم وي، مفاهمه، مشاعره او مقابله به هم وي، خو ماشې ته لاس وروړل به په کې نه وي او وژل به په کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چا په زمانه کې؟

دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (اکتوبر) پر (۳۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نه د شداد زمانه ده نه د نمرود، نه د فرعون زمانه ده نه د یزید، خو کوم وحشت او دهشت چې روان دی دا د ولسواکۍ او اسلامي جمهوریت په زمانه کې دی، دا د ملاواکۍ او اسلامي امارت په زمانه کې دی. یو پلو د نړۍ د مدنیت توغ رپیږي او بله خوا د اسلامي خلافت



بیرغ رپاند دی. یوه خوا د نړۍ د دویم نمبر مفکر د توصیف باران اوربږي او بله خوا د اسلامي نړۍ د دویم نمبر ملا ستاینې کېږي، خو د شعارونو په دې ګرم تنور کې بیا زما د وطن تنکي نرګس وربتېږي.

د نړۍ پر مخ به داسې څوک وي چې څو شېبې دې ترهېدلي تصویر ته په مسلسل ډول وګوري؟ څومره ترهېدلې هوسۍ ګوتې ده، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویریدلې چې د خپل پلار تصویر ته نه ګوري، هغه وايي چې اوس به بل ډز کیږي، اوس به یې د پلار له سینې بله ګولۍ وځي، اوس به یو ځل بیا دا مه مه کوي، زړه به یې درزیږي، شونډې به یې رپیږي او سلګۍ به یې بندیږي.

دا دی زما د وطن د ژوند تصویر . پلار دې لاړ لورې ! خوکه څوک غواړي ستا د پلار د ژوند د وروستیو شیبو او سلګیو تصویر وګوري، نو ستا پر زړه دې لاس کیږدي، ستا سترګې دې بېرته کړي، هلنه به هر څه وګوري . هو لوري ! کله چې دې د شپې نا وخته مور او نیا غیږ کې و نیولې د پلار د ژوند وروستۍ شیبې دې ورته ټکي په ټکي بیان کړه او همدا داستان بیا هغې نړۍ کې د خدای حضور ته هم په همدې بڼه تېر کړه.

ای د ایمان او وجدان خاوندانو ! هغه ملي بیرغ ته خو ګورئ کنه چې د شهید مخې ته هسک دی؟ ای د دې وطن یو ارماني شهیده ! پر مخه دې ژیړي ګلونه. . . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توره او هنر

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م)کال د (نومبر) پر (۵)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) مياشتې له (۱٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



په دې ورځو کې د هندي سينما له لوري د پاني پت پر درېيم جنګ د جوړ شوي فلم کيسه ډېره ګرمه ده. دې فلم لا وار دمخه يو شمېر افغانان انديښمن کړي هم دي. د انديښنې خبره څکه ده چې افغانانو توره او هنر يا هم جنګ او فرهنګ په موازي ډول پرمخ نه دي وړي؛ هنر او قلم مو تل تر تورې شاته پاتې دي. د پښتنو دتاريخ کومه تته رڼا چې راپاتې هغې کې هم د پرديو ليکوالو تله درنه ده. همدا خپله احمدشاه بابا به د بېلګې په توګه يادکړو. د بابا په باب تر ټولو مهم او تلحليلي اثر په ختّه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سک هندو ( ډاکتر ګنډاسنګ) لیکلی دی. (ګل محمد مرغزي) په مثنوي فورم کې احمدشاهي شاهنامه لیکلې چې تاریخي لیکنې ته یو څه خام مواد برابرولی شي. په ټولیز ډول پښتنو لیکوالو د بابا د اتلولۍ حق نه دی ادا کړی. له نن څخه لس کاله وړاندې پاني پت ته په دې خاطر لاړم چې د بابا د معرکې ډګر په خپلو سترګو وګورم، خو مخکې تر دې چې د پاني پت د دریم جنګ ډګر ته لاړ شم د پاني پت د یو بل جنګ د ماتې خوړلي اتل ( ابراهیم لودي) مزار ته لاړم. ابراهیم لودي د بابر له لاسه ماتې وخوړله او هغه هم د خپلو پښتنو د تنګنظرۍ او سادګۍ له امله چې د خپل مشر پر وړاندې یې د بابر پټ او ښکاره ملاتړ کړی و. د ابراهیم لودي د مړانې د یادولو لپاره څو سوه کاله وروسته یو انګرېز د هغه د اتلولۍ مجسمه جوړه کړه او د هغه قبر ته څېرمه یې ودروله، خو پښتنو لا هم د ابراهیم لودي په باب تر دې دمه تفصیلي اثار و نه لیکل. د ابراهیم لودي مزار کې هغه ته تر دعا وروسته د پاني ډګر ته لاړم. هلته د (ام) د هغې ونې تر سیوري لاندې ودرېدلم چې د هغې پخوانۍ ام ونې پر ځای ایښودل شوې او را لویه شوې وه او بابا تر همدې ونې لاندې ولاړ و او د جنګ قومنده یې ورکوله. دلته په دې ځای کې د پاني پت د جنګ د دواړو لوریو جنګي تابلوګانې نصب شوي، خو غالب او مغلوب لوری په کې نه ښکاري، پر تابلوګانو سربېره د درې څلور مترو په اندازه یو څلی هم ولاړ دی، پر څلي لیکل شوي چې دا د مرهټه وو او احمدشاه ابدالي تر منځ د پاني پت د دریم جنګ ډګر دی. نور دا نه دي لیکل شوي چې دلته بریمن څوک دی او مغلوب څوک دی. هندوانو د زغم کلتور او تاریخي واقعیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه مراعت کړي دي . استاد خالق رشید ماته د دې جنګ اکثره برخې بیان کړې او ما بیا له نورو اثارو څخه هم ګټه پورته کړه او د پاني پت د درېیم جنګ کیسه مې په نسبي ډول په تفصیل سره په خپل یونلیک کې بیان کړه. د یونلیک نوم مې هم د بابا د شعر د یو نیم بیتي نیمه برخه ( د ډیلي تخت هېرومه) شو. دا اثر چاپ شو، نو که ځوان نسل غواړي د پاني پت یا د عزت په دې جنګ کې د بابا له اتلولۍ یو څه نا څه خبر شي، نو دا او نور اثار دې ولولي. دا جنګ د نړۍ له داسې لویو جنګونو څخه و چې د قواو انډول په کې برابر نه و. د مرهټه وو د پوځیانو شمېر د افغانانو تر لښکرو نږدې اوه ځله زیات و، خو د بابا عقیده یې قوت، پوځي تدبیر، زړورتیا او دښمن ته بښنه او زغم د دې سبب شول چې د بابا په مشرۍ افغانان د (شیواجي) په مشرۍ د مرهټه وو لښکر ته ماتې ورکړي.

اوس سوال دلته دی هغه جنګ او ویاړ چې موږ نږدې دوه نیم سوه کاله وړاندې د توري په زور ګټلی و، دوه نیم سوه کال وروسته یې د هنر په زور ساتلای شو که نه؟ په خواشینۍ سره چې ځواب یې( نه) دی. ځکه چې موږ اوس هنر نه لرو، موږ لا اوس هم هنر ته د تکفیر په سترګه ګورو، لیکوال او هنرمند ته ارزښت نه ورکوو، سینما خو د کفر معادل ګڼو، تلویزیون مو په زنځیر تړلی و، نو خود به اوس پردي په خپل هنر زموږ خپله توره ببرته زموږ پر ضد کاروي. که د پاني پت د فلم ډایرکتر هر څومره هم په دې فلم کې له تاریخي انصاف څخه کار اخیستی وي بیا به هم د خپلې ټولنې د عامه افکارو او خپلو شخصي او ملي ګټو تر اغېز لاندې راغلی وی. اوس نو موږ پر یوه شکایتي قوم بدل شوي یو، د دې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای چې خپله کار وکړو له هر چا شکایت کوو. مسله په شکایت نه حلیږي. هندوانو توره بایلوده، خو هنر یې باینلود، نن د هنر په زور پردی توري په خپل نامه تماموي. مونږ توره وګټله، خو هنر مو خپل نه کړ، نن توره هم لاړه او هنر هم، لوی خان خوشال خان خټک نږدې څلور سوه کاله وړاندې د پښتنو د تورې طالعې ته متوجه شوی او د هغې پر ځای یې د هنر انتخاب غوره بللی و:

که طالع او هنر دواړه راته کېږدئ

زه خوشـال بـه په کې ونیسم هنر

نو راشئ شکایت مه کوئ د خپل یو بابا توره د خپل بل بابا د هنر په زور خوندي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زحمت او ارادې انځور

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (نومبر) پر (۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۱۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

دا لاندې انځورونه او په هغو کې زرغونه فضا چې ګورئ دا په ښېوې ولسوالۍ کې د دوو انسانانو د کار او ارادې برکت دی. دا دوه تنه نه افغانان وو او نه مسلمانان؛ دواړه جاپانیان وو، خو دواړه انسانان وو. ناکامورا او ملګري یې له نن څخه پنځه لس کاله وړاندې د دې سیمې ابادۍ ته ملا وتړله، په کمو



امکاناتو یې کار پیل کړ، خو په ډېر زحمت یې په لسګونو زره جریبه شاړه ځمکه اباده کړه. یو جاپاني په کې خپل ژوند قرباني کړ، خو دویم خپل همت باینلود او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه لاره یې تعقیب کړه. اوس په کې مرغۍ ، څاروي او انسانان ټول خوشاله دي. نن له خپلو ملګرو سره د ناکامورا په نوم دې جوړ شوي تفریحي پارک ته ورغلي وم. هلته مې ګڼ شمېر هېوادوال ولیدل چې دې پارک ته د تفریح لپاره راغلـــي وو ، د ننګرهـــار پوهنتـــون محصـــلین هـــم پـــه کـــې شـــامل وو،



له هغوی سره مو څو شېبې بنډار هم وکړ. دا تصویرونه ځکه خپروم چې دا جاپانیان هم پر هغې او هم پر دې دنیا د دعاګانو او ستاینو مستحق دي او بله دا چې زموږ ځوان پښت د دوی له خدمت او همت څخه ښه الهام واخلي. که څوک غواړي هېواد اباد کړي نو دغسې دې اباد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سولې د لټې په هيله

**دا ليکنه د (۲۰۱۹م) کال د (نومبر) پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) مياشتې له (۲۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**د عقرب مياشتې پر اتلسمه نېټه، د يکشنبې پر ورځ مو په دوحه‌کې د طالبانو سياسي دفتر د مشرتابه هئيت او د بين الافغاني مذاکراتو د ټيم له مخکښو غړو سره وکتل. غونډه د ماسپښين پر دوو بجو پيل او د شپې**



**پر اتو بجو پای ته ورسېده. موږ په پيل‌کې د طالبانو د پلاوي د مشر؛ ښاغلي (مولوي شهاب الدين دلاور) څخه هيله وکړه چې د سولې د ټول تېر شوي بهير ممکن جزيات موږ سره شريک‌کړي او تر هغه وروسته به موږ ورته خپل وړانديزونه او د هېوادوالو اندېښنې بيان‌کړو. هغوی په پوره جرات او صداقت سره څه چې په تېرو کلونو او څو مياشتو کې تېر شوي وو، موږ سره شريک‌کړل، خو غونډه‌کې پر دې خبره اتفاق وشو؛ څرنګه چې اوس هم د مذاکراتو تسلسل ژوندی دی، ضرور نه ده چې ټول جزيات دې تر هغه پورې، چې پوره پاخه شوي نه وي او پوره نتيجه يې نه وي ورکړې، رسنيو سره شريک شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو د هئیت خبرې واضح او تر یوه حده هیله بښونکې وې. موږ ور سره خپلې او د مظلوم یا خاموش اکثریت اندېښنې شریکې کړې، دوی په زغم ځواب راکړ، د نظام د اډانې د استحکام، د حکومت د پاشنې او انقلابي بدلون د مخنیوي او تدریجي سمون او همدا رنګه د تېرو ترخو تجربو د نه تکرار په اړه په ډېرو برخو کې د نظرونو ورتوالی او نږدېوالی موجود و. ټاکل شوې دا خبرې دوه ورځې نورې هم دوام وکړي. طالبانو سره موږ یادونه وکړه چې تر دې غونډې وروسته به موږ د ښاغلي غني په مشرۍ له اوسني حکومت سره هم ګورو، د سولې په اړه به د هغوی له نظرونو او وروستیو پرمختیاوو هم ځان خبروو، بیا به د دواړو نظرونو له نچوړ او نتیجې څخه ولس هم خبروو. خدای دې وکړي دا لړۍ او د نورو افغانانو هڅې له بهرنیانو سره د خبرو اترو تر څنګ بین الافغاني مذاکراتو ته هم لاره اواره کړي. د دې خبرو اترو جزیات مو په لیکلي بڼه ثبت کړي او همدارنګه له حکومت سره زموږ د احتمالي خبرو جزیات به هم ثبتوو او د دواړ لوریو له احتمالي موافقې سره سم به یې د رسنیو له لارې خپروو. خدای (ج) دې وکړي چې په پاتې دوه ورځنیو خبروکې موږ خپل ولس ته د طالبانو له خوا واضح او هیله بښونکي پیغامونه ولرو. د دې خبرې یادونه هم کوو چې موږ نه د کوم ګوند، ډلې، قوم او سمت په استازۍ راغلي یو او نه د چاکوم رسمي استازیتوب کوو او نه یې کولی شو، پر خپل ولس مو زړه دردېږي، د درد هغه څړیکه مو تر دوی را رسولې، بیا به یې حکومت ته رسوو، خدای (ج) دې وکړي چې دواړه خواوې ولس ته یوه ښه هیله او ښه ډاډ ور وبښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سولې په هیله د خبرو دوام

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (نومبر) پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۲۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نن مو بیا د طالبانو د اسلامي تحریک د بین الافغاني مذاکراتي ټیم له غړو سره خبرو دوام وکړ. غونډه د ماسپښین پر درې بجو پیل او د ماسخوتن پر اتو بجو پایته ورسېده. نن ټولو ملګرو په ښه جدیت سره د



طالبانو له هئیت سره د سولې د اوسني حالت، د ملکي تلفاتو د کمونې، د بهرنیو عسکرو تر وتلو مخکې او وروسته بین الافغاني مذاکراتو، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

زندانیانو او ملکي وګړو سره د طالبانو د چلند، د هغوی د واکمنۍ په ساحه کې د تعلیمي او رغاونیزو چارو د ښه والي، د نجونو د تعلیم، د رسنیو د ازادۍ، د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې د خلکو د تګ راتګ خوندیتوب، له سیمې او نړۍ سره د طالبانو راتلونکو مناسباتو، په اوس او راتلونکي مهال کې د ایران او پاکستان د هر ډول مداخلو د مخنیوي، د راتلونکي او اوسني نظام د محتواوو، د سیمې د هېوادونو د رول، د سولې لپاره نړیوالو تضمینونو، د طالبانو له تېرو چلندونو څخه د خلکو د اندېښنو، بیارغونې، اقتصادي پلانونو او نورو ګڼو مسایلو په باب، چې د اکثرو افغانانو په ذهن کې ګرځي، هر اړخیز جدي بحثونه وکړل. د طالبانو



هئیت هم هرې برخې ته په ترتیب سره توضیحات او ځوابونه ورکړل. د دوی له ځوابونو دا پته ولګېده چې طالبان اوس هغه پخواني طالبان نه دي؛ اوس د سیاست پر رموزونو او د حالاتو پر نزاکتونو پوره پوهېږي او هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندېښني  ته يې څو متبادلې لارې سنجولې دي. د نن ورځې غونډه هم جدي وه هم معلوماتي، ان که د حکومت اوړپکي رسمي او نارسمي پلويان هم راغلي واى، له طالبانو سره به داسې جدي بحث ته نه واى وړاندې شوي. جزيات به يې وروسته هېوادوالو سره شريک شي. د غونډې په پاى کې زما او د ځينو نورو ملګرو له خواد طالبانو د هئيت غړو ته يو شمېر کتابونه هم ډالۍ شول. ټاکل شوې ده خبرې سبا هم دوام ومومي، چې وروستۍ نتيجه او نچوړ به يې هېوادوالو سره شريک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طالبان، بدلون او د سولې بهیر

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (نومبر) پر (۱۵)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۲٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

د لړم میاشتې پر اولسمه نېټه مو له یو شمېر افغانانو سره قطر ته سفر وکړ. د سفر اصلي هدف سوله وه. د طالبانو د سیاسي دفتر او د بېلابېلو کمېسینونو د مشرتابه له اکثرو غوړ سره مو پنځه ورځې متواترې ډله



ییزې او انفرادي خبرې اترې وکړې. خبرې ګرمې، نرمې، خوږې او ترخې ټولې په کې تبادله شوې، د نظرونو اختلاف، تضاد، ټکر او اتفاق ټول په کې محسوس و. خو د خوند او پند خبره په کې دا وه چې دا هر څه په کې د دواړو غاړو له خوا په پوره منطق، زغم او درک سره تبادله شول. له دې خبرو موږ دا نتیجه واخیسته چې که څه هم د ډاکتر محمد اشرف غني په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرۍ د اوسني حکومت او د طالبانو د اسلامي تحریک د نظریاتو ترمنځ زیات واټن شته، خو دا واټن دومره هم نه دی چې هیڅ حل لاره و نه لري.

یو سړی هغه وخت عادلانه قضاوت کولی شي چې د طرفینو نظرونه په دقت واوري. طالبان چې اوس د منطق په کومه پوړۍ کې ولاړ دي او د خپل ثابت دریځ تر څنګ د زغم او منطق کومه تجربه شوې روحیه لري، له دې څخه باید اعظمي ګټه پورته شي، دلته حکومت هم باید له



هوایي دهلېزونو او شعاري دیموکراسۍ څخه د ځمکنیو واقیعیتونو درک ته راکښته شي، نو بیا دواړه لوري یو بل ښه درک کولای شي. زموږ د سفر یوه موخه هم دا وه چې د طرفینو د نه عملي کېدونکو غوښتنو کچه په نرمۍ او منطق سره راټیټه شي، چې دا کار په پای کې لوی تفاهم ته لاره اواروي. په قطر کې د طالبانو مشرتابه او ټولو غړو څخه مننه کوو چې هم یې زموږ ټولې خبرې په پوره زغم واورېدلې او هم یې له افغاني دود سره سم زموږ درنه مېلمه پالنه وکړه. د طالبانو مشرتابه په لسو هغو برخو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ته لیکلي وضاحتونه راکړل چې زموږ د هېوادوالو د نني او سباني ژوند برخلیک ورسره تړلی دی. دا وضاحتونه به د یو خبري کنفرانس له لارې ولس سره شریک کړو. بیا به هڅه وکړو چې د حکومت له مشرتابه سره هم خبرې اترې وکړو او د خبرو دا لړۍ له نورو افغانانو سره تر هغه بریده وغځوو چې بین الافغاني مذاکراتو او لوی تفاهم ته لاره اواره کړي. د دې خبرې یادول هم ضروري ګڼو چې موږ د هېچا په پلوۍ او د هېچا په استازۍ دا خبرې نه دي پیل کړي، موږ افغانان یو او د نورو ټولو افغانانو په توګه مو دا حق خوندي دی چې د خپل هېواد د برخلیک په ټاکلو کې تر خپله وسه خپل مسولیت اداکړو. له طالبانو سره خبرو اترو موږ ته دا هیله پیداکړه؛ که غر هر څومره لوړ دی، خو پر سر یې لار شته. له طالبانو سره د خبرو جزیات موږ په لیکلي بڼه ثبت کړي دي چې پر خپل وخت به هېوادوالو سره شریک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عبرت تجربې

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (نومبر) پر (۱۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۲۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

پروني مخالفین نن سره پخلا دي، نني مخالفین به سبا سره پخلا وي، خو هغه تنکي ځوانان او هغه تازه ګلونه چې د دوی په مخالفت کې رژېدلي، نه به بیا را وګرځي او نه به بیا وغوړېږي ، نو راځئ د خپل ژوند





له دې لیدلو تجربو څخه عبرت واخلو، د جګړې د ټولو غاړو د پخلاینې لپاره هڅه وکړو، د جنګیالیو د هوسونو مخه ونیسو او که دا کار نه شو کولای ، نو د جنګ د توجیه لپاره تصنعي دلایل و نه لټوو ؛ ځان غلی کړو ، که څه هم دا د کمزوري ایمان نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دلیل او منطق یو بل ستوری هم و نړېد

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (نومبر) پر (۲۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لړم) میاشتې له (۲۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**په افغانستان کې د جګړې په څلوېښت کې ناورین کې وحید مژده د هغو لیکوالو او مبصرینو له جملې څخه و، چې هم یې فکر درلود او هم یې استقامت . په دې بهیر کې پر ده ډېر فشارونه راغلل، خو ده خپل هوډ باینلود، هغه د مادیاتو پر وړاندې هم خپل ضمیر کمزوری نه کړ او د**



**تصنعي ولسواکۍ په چاپېریال کې یې د غوړېدلیو پخوانیو جهادي جنګسالارانو پر وړاندې هم خپله قلمي مبارزه تر سره کړه. هغه د طالبانو په حاکمیت کې حکومتي دنده درلودله، خو د هغوی د نظام تر سقوط وروسته یې هېڅکله هم لکه د ځینو نورو په شان هغو پسې د غیبت خوله خلاصه نه کړه؛ خپل فکري استقامت یې وساته. هغه د پاخه قلم، درانه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت او ژور نظر خاوند و. په پوره منطق یې د مقابل لوري خبرې اورېدلې او ځوابولې. نن چې ظالمانو هغه شهيد کړ، دا د دې مانا ورکوي چې لا هم دلته د استدلال په مقابل کې د توپک ژبه واکمنه ده. مژده يو اسلامپال او انساندوست افغان و. ډېر کلونه به تېر شي، خو دا وطن به د مژده غوندې ليکوال په خپله لمن کې و نه غوړوي.

نږدې شپږ مياشتې کېدې چې مژده صاحب مې زړه کې ګرځېده، شپږم حس مې راته يو ډول وسوسه پيدا کړې وه، ما ويل مژده صاحب به ژوندون تلويزيون کې مېلمه کړم، يوه اوږده مرکه به ورسره وکړو، پر ژوند باور نه شته، د مژده صيب نږدې دوست ؛ صديقي صيب وويل چې زه يې ضرور راولم، تلوېزيون کې به شورا هم وخورو، ګپ به هم ولګوو او مرکه به هم وکړو، ، خو د ګڼو مصروفيتونو له وجې تر نن ماښامه دا مرکه و نه شوه. کله چې ماښام نا وخته کور ته راغلم، پر مژده صيب له شوي بريده خبر شوم، ژر مې صديقي صيب ته زنګ وواهه، ما ويل د مژده صيب احوال راکړه، هغه وويل نه يم خبر، ژر احوال درکوم، څو دقيقې وروسته يې په ژړغوني غږ په ټليفون کې وويل : مژده صيب مژده صيب ش ش شهيد. . . . . نور نو ټليفون ګل شو.

مژده صيب لاړ، بيا نه راګرځي، قلم شهيد، کتاب يتيم او يادښتونه په وينو رنګ پاتې شول.

ای وحيده، ای شهيده، ای د دې وطن د ارمانونو مژده! ته خو لاړې ته خو لاړې، اوس اصلي مقام ته ورسېدې، دلته خو دې ډېرې چغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووهلې، خو هېڅ‌چا دې غږ وانورېد. د خدای (ج) مخلوق ډېر په تنګ کړې، تر پایه دې قانع نه‌کړل، خو ګوره هلته چې د لوی خالق مخه‌کې ودرېدې، ټول حقایق ؛ ویلي او ناویلي ورته په زېر او زور بیان‌کړه:

شـــهیدو تاســـو نـــه‌کـــه هلتـــه چـــا پوښـــتنه وکـــړه
ورتـــه بـــه وایـــې چـــې وطـــن‌کـــې بهیـــدلې اوښـــکې

تا خو دلته هر وخت سپینې سپینې ویلې، لوی رب ته ووایه چې هلته په وطن‌کې له تا منکر او پر تا مین ټول زموږ د ماشومانو پر ستنو چړې را کاږي، هغوی چې ستا د دوښمنۍ توغ یې پورته‌کړی، له هغوی خو ګیله نه لرو، خو هغوی چې ستا په استازۍ جنګېږي د هغو د تهمت او ظلم توره تر ټولو تېره ده.

ای د وطن د ارمانونو مستدلل شهیده، خپل رب ته هر څه ووایه، د ټول وطن د سویو اسوېلو پیغام ورته ورسوه او له هغه ځایه موږ ته د سوکالۍ او تسکین یو مژده او یو زېری را ولېږه، ای وحیده، ای مژده او ای شهیده. .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اتل اوښکې

**دا لیکنه د (۲۰۱۹م)کال د (دسمبر) پر (٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لیندۍ) میاشتې له (۱۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

زما لپاره نن ورځ اتل هغه څوک دی چې دا وران وطن را زرغون کړي، د ورانۍ مخه ونیسي او د ابادۍ مثالونه پرېږدي. څوکاله مخکې مې همداسې یو اتل ( ناکامورا)په ننګرهارکې وموند. ده په کمو امکاناتو



دکونړ له ژړې بابا څخه بیا د ښېوې ولسوالۍ تر وروستیو څنډو؛ ګمبیرې دښتې پورې (۳۷) کیلو متره کانال کیندلی دی. (مروارید) کانال نوم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور کړی دی. دې کانال په لسګونو زره هکتاره شاړه ځمکه خړوب کړې ده او پر دې سربېره يې د يو لوی تفريحي پارک تر څنګ بېلابېل فارمونه او مثمر باغونه هم جوړ کړي دي. ده سره يو بل جاپانی هم ملګری و چې وار له مخه يې د دې وطن د ابادۍ لپاره سر قربان کړی و. موږ و پتېيله چې د دې ژوندي او قرباني شوي جاپاني قدردانی وکړو. زه، زما مېرمن (ارين يون)، د ملي تحريک غړي، د ښېوې ولسوالۍ سپينږيري او ځوانان ؛ نـــږدې درې ســـوه تنـــه ســـره راټـــول شـــولو، د



دې ژوندي انجنير قدردانی مو وکړ او د مړي کورنۍ سره مو خواخوږي څرګنده کړه. جاپاني انجنير ته مو ستاينليک ور کړ او لونګۍ مو ور په سر کړه، بيا مو خبرو ته راوغوښت مخکې تر دې چې خبرې پيل کړي له سترګو يې اوښکې راغلې، سخت يې وژړل، کله چې يې سلګۍ لږ شان غلې شوې، نو په ګوډه ماته خو خوږه پښتو يې وويل چې ما فکر نه کاوه چې افغانان دې ماته دومره مينه راکړي او ما دې دومره و نازوي. ستاسو دې کور ودان وي . بيا يې د متوفی ملګري خاطرې يادې کړې او ويې ويل چې زه د هغه د ارمانونو د پوره کولو لپاره د هغه لاره تعقيبوم. فضا ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړه او احساساتي وه. همدا شېبه چې زه د دې انجنیر تر ټیپي کېدو او بیا سملاسي له مرګه خبر شوم، نو په سترګو کې مې اوښکې راغلې، هغه صحنه او هغه شېبه را یاده شوه، د جاپاني اوښکې د احساس، خوشالۍ او سرلوړۍ اوښکې وې، خو زما اوښکې د غم، خجالتۍ او سر ټیټۍ اوښکې دي، هغه د داسې یو ملت غړی و چې له لرې واټنه دلته د خدمت لپاره راغلی و او زه بیا د داسې یو ملت غړی یم چې خپل خدمتګاران وژني او بادران په سر ګرځوي. هغه بل جاپاني انجنیر دا هوډ درلود چې څه وخت وروسته مسلمان شي، خو بل مسلمان تر اسلامیت وړاندې وواږه او دې بل ته چې افتخاري افغاني تابعیت ورکړ شو، دی هم چا افغانیت ته پرې نښود، د خپل ملت پر حال مو ډېر افسوس په کار دی.

یا ربه ته رحمان او ته رحیم یې، ستا د جنت او نعمتونو لمن هم لایتناهي ده، ته خو دغو دواړو جاپانیانو ته مغفرت او جنت نصیب کړې او موږ درڅخه دا هیله هم کوو چې پر هغې نړۍ مو ستا له دې دوو ښاغلو بنده ګانو سره زموږ د لیدو نصیب وکړې چې موږ یې د خپل سوي لوي وطن د ابادۍ په خاطر لاسونه ښکل کړو او د خپل ملت د جاهلو وګړو له خوا له دوی سره د شوي چلند له امله له دوی څخه بښنه وغواړو.

یا ربه نور رحم. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناکامورا لاړ

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (دسمبر) پر (٤)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لیندۍ) میاشتې له (۱۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.



ډاکتـر ناکـامورا لاړ هغه بیا نه راګرځي، هغه له افغانستانه مرور شو، هغه لـه هـر افغانـه مـرور شـو، هغـه پـه نـوم لـه هـر انسانه مرور شو، هغه د جنت په هیله دلته د چا کورونه نه ړنګول، هغه دلتـه بـاغونو تـه اور نـه ورته کاوه، هغه د ځمکې پر مخ د جنت نښې کرلې، هغه ونې کرلې، هغه مېوې کرلې، هغه بوټي کرل، هغه ګلان کرل، هغه د هوا مرغیو ته اوبه پیدا کړې، هغه انسانانو ته مېوې پیدا کړې، هغه د ځمکې پر مخ د جنت مېوه وکرله؛ هغه انځر وکرل، هغه زیتون وکرل، هغه د انسانیت لپاره هر څه وکړل، خو دوه پښنه ییزو وګړو نن د هغه عوض په ګولیو ورکړ. نور نو ناکامورا نه شته، نور به نو هلته دا شنې ونې مړاوې شي، نور به نو هلته ګلان وا رژېږي، نور به هلته سترې هوایي مرغان دمه نه کوي، نور به هلته د ځالې لپاره ونه پاتې نه شي، نور به هلته څارویو ته شنه کبله پاتې نه شي، نور به هلته سترې ځوانان مېلې و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، هر څه به بیا سپېره شي، هر څه به بیا ورېبل شي، هر څه به لوټ شي او هر څه به د څو داړونکو تر منځ تقسیم شي، نه به په ملاکې د دې وس وي، نه به طالب کې، نه به مجاهد کې د دې توان وي او نه به په ملحد کې، نه به په جاهل کې د دې متره وي او نه به هم په مفکر کې چې دا شنه باغونه همداسې زرغون وساتي او یا د ډاکتر ناکامورا پاتې هیلې پسې تعقیب کړي. بس یو کمېسیون به وټاکل شي چې څېړنه وکړي، دا څېړنه به لا بشره شوې نه وي چې بله بده پېښه به وشي، د نظام چارواکي او مخالفین به بیا په هغې کې مصروف شي او دا لړۍ به همداسې دوام ومومي.

زه خو اوس داسې یو حالت کې یم چې د حکومت له موافقینو او مخالفینو، مجاهدینو او ملحدینو، طالبانو او ټامیانو یوه څخه هم د خیر هیله نه شم لرلای، خو د خدای ج له حکم سره سم هر ژوندی موجود د مرګ مزه څکي، ازار او دعا یې قبلېږي، نو اوس له ژوندیو وګړو پرته له ټولو ژوندیو موجوداتو، که هغه ونې دي که بوټي، مرغان دي، که کبان، څاروي دي که نور موجودات، چې په یو نه یو ډول د ناکامورا د لاس ګټه ورته رسېدلې ده، هیله ورڅخه کوم چې خپل رب ته د تعظیم سرونه ټیټ کړي، ورته ووایي چې یا ربه! زمونږ ناکامورا ته مغفرت نصیب کړې او که غواړې مونږ خوشاله او ژوندي پاتې شو، نو مونږ ته همداسې یو بل ناکامورا را نصیب کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا موږ ډېر چټک نه یو!؟

دا لیکنه د (۲۰۱۹م) کال د (دسمبر) پر (۲۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (لیندۍ) میاشتې له (۳۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

که څه وایو په یو څپېړې سل مخه خوږېږي او که څه نه وایو نو غاړه مو بندېږي.

د تلې پر شپږمه د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شوې، دا دی د مرغومي شپږمه را نږدې کېږي، خو تر اوسه لا لومړۍ نتیجه څرګنده نه ده ؛ نږدې (۹۰) ورځې وخت تېر شو، خو د مشورې سر لا معلوم نه دی. د ټاکنو



پر لومړۍ ورځ نږدې یو لک ټاکنیزو مامورینو او نږدې یو لک ناظرینو او مشاهدینو په ووټ شمېرنه کې برخه واخیسته، دوه میاشتې پر چاڼ تېرې شوې، خو بیا وویل شول چې اته لس لکه رایې به پاکې وي! شمېرنه او نانډرۍ بیا پیل شوې، خو بیا هم نتیجه بې نتیجې ده. تر ټاکنو وروسته نږدې یو لک کسانو( تکراري ضریب) په مستقیم او نامستقیم ډول پر رایې شمېرنې تېر کړل، خو بیا هم نتیجه مبهمه ده. ټول ټال درې لکو تنو د اته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس لکو رايو په شمېرنه کې برخه واخيسته، يانې لږ ترلږه هرو درېو تنو د شپږو رايو په شمېرنه کې ونډه لرلې ده، خو بيا هم نتيجه بې نتيجې ده.

که يوازې د ټاکنو ورځني مامورين د وخت په ضريب کې ضرب کړو، نو نږدې سل زرو تنو په شمېرنه کې ګډون کړی، يانې يو تن په نږدې نوي ورځو کې اتلس رايې شمېرلې دي. که دا ټولې رايې يوازې يو تن شمېرلې وای نو په يوه دقيقه کې ورته په اوسط ډول(۲۷) رايې ور رسېږي. په داسې حال کې چې په يوه دقيقه کې يو تن کولای شي سل زرګيز نوټونه وشمېري، خو بيا هم نتيجه ګونګه ده.

که د دې رايو شمېرنه د کمپيوټر په واسطه تر سره شوې وای، نو تر نيم ساعت زيات وخت يې نه نيوه.

پر کومه ورځ چې دلته ټاکنې وشوې تر هغه وروسته بيا تر دې دمه د نړۍ په پنځو هېوادونو کې د ولسمشرۍ ټاکنې وشوې، د (۲٤) ساعتونو په بهير کې يې نتيجه معلومه شوه، خو دلته يې په (۱۰۸۰) ساعتونو کې د مړي او ژوندي حساب معلوم نه دی. دا خو لا د لومړيو شمېرنو نيجې دي چې وروستۍ به يې څومره وخت نيسي؟

اوس نو تاسو ووياست چې موږ د زمانې تر سرعت څو ځله زيات چټک نه يو؟ نو په ټاکنو کې چې دومره ګړندي يو په نورو چارو کې به مو څه حال وي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نازک اکثریت څه ته وايي؟

## د ټاکنو نتیجه د ګړنګ پر غاړه

دا ليکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (دســمبر) پــر (۲۲)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (مرغومي) مياشتې له لومړۍ نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نازک اکثريت دېته وايي چې په ډېر کم بدلون سره خپل ثبات له لاسه ورکړي او له اکثريت څخه د لوړ يا مخکښ اقليت کچې ته راټيټ شي.

د ټاکنو کمېسيون د اعلان له مخې ډاکټر غني د ولسمشرۍ په دې ټاکنو کې له (۹،۲۳،۸٦۸) څخه (۱،۸۲٤،٤۰۱) رايې ګټلي چې د دوی د محاسبې له مخې د ټولو فلتر شويو رايو (۵۰،٦٤) سلنه جوړوي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مانا چې يوازې (۱۱،٦٦۸) رايو ډاکتر غني د ګټنې پوړۍ ته رسولی دی.

دا په داسې حال کې ده چې نږدې (درې سوه زره) رايې، چې د ټولو رايو (۱٦،٤٤) سلنه جوړوي د مخالفو نوماندانو تر اعتراض لاندې دي او هم د (۲۷) ولايتونو د رايو د بيا شمېرنې غوښتنه کوي. اوس نو د هدف توپ د ټاکنيزو شکايتونو د انصاف په ډګر کې پروت دی. د ټاکنو کمېسيون د مسوليت بار له خپلو اوږو لرې کړ او هر څه يې د شکايتونو کمېسيون غاړې ته ور واچول. اوس که د شکايتونو کمېسيون همدا نتيجه کټ مټ او يا هم د اوو اتو زرو رايو په تغير سره تائيد کړي، نو غني به په لومړي پړاو کې د منتخب جمهور رييس په توګه د پنځو کلونو لپاره خپل کار ته دوام ورکړي او که چېرې د ټولو رايو له جملې څخه د ډاکتر غني د (۱۱،٦٦۸) په ګډون له (۱۵–۲۰) زره رايې راکمې شي، نو ټاکنې دويم پړاو ته ځي، ځکه چې په دې رايو کې به د مخالفو کانديدانو رايې هم يو څه ناڅه کمېږي، خو ډېرې به د ډاکتر غني وي، هر څومره چې د رايې کمولو کچه پورته کېږي، د غني د رايو چټ راټيټېږي او که چېرې تر اعتراض لاندې درې سوه زره راکمې شي، نو معادله بېخي د غني په زيان تمامېږي چې احتمال يې کم دی. که چېرې د شکايتونو کمېسيون د اعلان شويو رايو د کمولو لپاره هېڅ اقدام و نه کړي او يوازې د (۲۷) ولايتونو د رايو د بيا شمېرنې امر وکړي، نو په دې حالت کې هم ټاکنې په اتومات ډول دويم پړاو ته ځي، ان که يوازې د څلورو لويو ولايتونو رايې هم بيا وشمېري بيا به هم ټاکنې دويم پړاو ته لاړې شي. په دې حالت کې د رايو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسنی چټ کېدی شي د توقع خلاف ډېر راتیټ شي، ځکه چې اوس هم داسې فکر کېږي چې په معیار برابرې رایې دومره نه دي چې د ټاکنو کمېسیون اعلان کړي، د درملوک کمپنۍ له تخنیکي کارکوونکو څخه داسې ګونګسی خپور شوی چې یوازې (۱۲) سوه زره رایې د دې کمپنۍ له تخنیکي معیارونو سره سمون خوري.

د جمهور رییس غني د حاکمیت په اوج کې خو توقع دا وه، لکه څنګه چې یې کمپاینرانو او فیسبوکیانو ادعا کوله په غوڅ اکثریت به ټاکنې ګټي، خو هغسې و نه شول. په داسې یو حالت کې چې د چا مخالفین هم په سلو مرضونو ککړ وي او زر نورې کمزورۍ هم ولري، نو له واکمن جمهور رییس څخه هیله کېږي چې لږ تر لږه د ټولو رایو له (۶۰–۸۰) سلنې رایې راخپلې کړي، خو دا چې داسې و نه شول، دلته ضرور ګڼې نیمګړتیاوې وې چې ما د یو افغان په توګه ورته پر خپل وخت نغوتې کړې دي.

یو څوک چې د نږدې پنځه لکه وسلوال پوځ اعلی سر قومندان وي، نږدې دوه ملیونه ملکي مامورین او د هغو په ملیونونو اړوندان ولري او اټکل یو ملیون اصلي او جعلي فیسبوکي اکاونټونه یې هم پر تبلیغ مصروف وي او د نړۍ په کچه یې په ټاکنو کې هم تر ټولو زیات مالي لګښت کړی وي. له دولتي زور او ځواک څخه یې هم کار اخیستی وي، د تغیر، تبدیل، تطمیع، ګومارنې، ګواښ او تهدید عنصر یې هم کارولی وي، نو بیا یې رایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره شي چې هره شېبه يې خطر تهديدکړي، دا حالت په حقيقت کې دې ډول نوماند ته د سختې خواشينۍ وړ دی.

که غني په لومړي پړاو کې په ډېر جګو رايو راغلی وای، نو د شکاياتو کمېسيون ته به ډېره سخته وه چې د هغه د رايو سقف په اسانۍ سره راکم کړي او که هغوی هم د هغه جګې رايې تائيد کړې وای، نو د يوه غښتلي حکومت د جوړولو چانس زياتېده او د دې ترڅنګ حکومت د ولس د رښتيني استازي په توګه د طالبانو پر وړاندې د سولې په خبرو کې قوي دريځ خپلولای شو. خو که غني په اوسنيو رايو بريالی هم وګڼل شي، جمهور رييس به وي، خو د مشروعيت کچه به يې د نړۍ د ټاکنو په تاريخ کې تر ټولو ټيټه کچه وي، اوس غني د هېواد د ټول نفوس په کچه (۲،٦۳) سلنه، د راجستر شويو رايو (۹،٤۲) او د کارول شويو رايو (٥۰،٦٤) سلنه ګټلې ده. دا نو د مشروعيت هغه ټيټ حالت دی چې تر اوسه لا د هېڅ هېواد ټاکنو نه دی تجربه کړی.

د ټاکنو اوسنی ځرنګوالی يوازې د غني ګناه نه ده، په دې کې ټول هغه کورني او بهرني عناصر لاس لري، چې نه غواړي په چې افغانستان کې يو باثباته او مسول حکومت رامنځته شي، د غني مشکل دا دی چې پر ځان او قدرت تر حده زيات مين دی، خو نيت او اراده يې د افغانستان لپاره صفا دي، ټولنيز چلند يې د زغم وړ نه دی، خپلو نيمګړتياوو او د هغو درملنې ته پام نه کوي، درباري غوړه مالانو د ده د ضعف دا ټکی ښه درک کړی، هېڅکله ده ته داسې خبره نه کوي چې د ده وچولی پرې تريو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي او دی هم د هیڅ سالم انتقاد د زغم وس نه لري، که څه هم هغه د ده په ګټه وي. د ساري په توګه، ما تر ټاکنو وړاندې د لیکلي او ویډیویي پیغام له لارې ورته وویل چې په ټاکنو کې د ښځو عکس اخیستل باید جبري نه شي او د ټاکنیزو کمېسیونونو دا پرېکړه له اساسي او شرعي قوانینو سره ټکر لري، خو ده او ټیم یې پرې سر و نه ګراوه، نږدې لس سلنه رایه یې یوازې په همدغه یوه برخه کې راکمه شوه، اوس یې نو غني د ګړنګ پر غاړه ودرولی، یا به د شکایتونو کمېسیون او بهرنیانو نامشروع غوښتنې مني او یا به په یوه عادي اشاره ټاکنې دویم پړاو ته ځي، که همدا (٥٠،٦٤) سلنې رایې هم د نهایي رایو په توګه ومنل شي، نو دا به هم غني ته په ډېره لوړه بیه تمامې شي. دا به هم د یو نا معقول او نامشروع فشار او امتیاز نتیجه وي، حکومت به بیا ائتلافي بڼه خپلوي، البته نوم به یې ائتلافي نه وي، خو محتوا به یې همدا ائتلافي وي، پنځه کاله به بیا د تېر په څېر پر نااندریو تېر شي، د سولې په خبرو کې به هم قوي موقف و نه لري، جنګ به نور هم پسې ګرم شي، اقتصاد به کمزوری او ناخوالې به لاپسې زیاتې شي. اوس خو لا د شرم خبره داده چې درباري غوړه مالان پر دې رایو هم شکر کاږي او یو بل ته مبارکي ورکوي چې سخته توره یې کړې ده. غني ته خو اوس په کار دي، مخکې تر دې چې د حکومت مخالفینو سره حساب او کتاب وکړي، اول ټول هغه کمپاینران راوغواړي چې ده ته یې غلط راپور او تلقین ورکړی و او ورته یې ویلي وو چې ته په غوڅ اکثریت په اول روند کې ګټونکی یې. اوس زموږ وړاندیز دا دی چې که د کورنیو او بهرنیو فشارونو په وجه اوسنی (٥٠،٦٤) رایې په دې شرط د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهايي رايو په توګه منل کېږي چې بيا به يو ګډوله، ائتلافي او مزخرف حکومت جوړېږي، نو ښه لاره دا ده چې غني دې ډول نامشروع او مضرې معاملې ته د تېر په څېر غاړه کېنږدي. په دې برخه کې ضرور نه ده چې درباري غوړه مالان بيا غوړ، خو مضر دلايل وشمېري، تر يو نوي او بيا ټول مضر حکومته دا اوسنی ګډوله او نيم مضر حکومت هم ښه دی. ټاکنې دې دويم پړاو ته لاړې شي او همزمان دې ورسره د سولې بهير هم تعقيب شي، خو ګډوله او مشارکتي حکومت دې نه جوړېږي، نوي کال کې دې رښې ټاکنې وشي او يو قوي منتخب حکومت دې بيا د ولس په استازی له وسلوالو طالبانو او نورو مخالفينو سره خبرې اترې پيل کړي. که غني په جګو رايو راغی، نو په جګو سترګو به د ولس د منتخب ولسمشر په توګه طالبانو سره خبرې وکړي او که بل چا په حقيقي رايو وګټله، نو هغه هم ورته حق لري، خو که داسې يو حالت رامنځته شو، غني ته په کار دي چې تر هر څه وړاندې د خپلو درباري غوړه مالانو، خيالي فيسبوکيانو، ټاميانو، خياطانو او مفسدو دولتي مامورينو، تاليخټو مشاورينو او نورو ابن الوقت او ابن المقام زامنو غم وخوري، که نه نو لا به يې له ستونزو سره مخامخ کړي، اوس خو د ګړنګ پرغاړه دی، بيا به تر ګړنګه لاندې پروت وي او هېڅ درباري غوړه مال به يې د راجګولو جرات هم نه کوي. غني که هر څومره نيمګړتياوې ولري، تر مقابل لوري افغانستان ته په ډېر زيان نه تمامېږي، نيت او اراده يې ښه دي، د عمل سمون يې په کار دی، خو د مقابل لوري د برياليتوب په حالت کې اوسنی بحران لاپسې ژورېږي او لا پسې غځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملت د ملاریا او محرقي ترمنځ (م. م. م)

**دا لیکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (دســمبر) پــر (۲٦)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (مرغومي) میاشتې له (۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

د بن کنفرانس د ظالمانه پرېکړو له امله، افغانستان پر یوې مضرې سیاسي ناروغۍ اخته شو، دې ناروغۍ د یوې سیاسي ملاریا بڼه غوره کړه چې نږدې (۱٤) کاله یې د ملت وجود ولړزاوه. پر (۲۰۱٤م) کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ډاکټر اشرف غني احمدزي بریا ته د خلکو هیله




وه چې دې سیاسي ملاریا ته به پوره دوز درمل برابر کړي او ملت به له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې اوږدې تبې وژغوري، خو په خواشينۍ سره چې داسې ونه شول، د تبې تاو لږ کم شو، لړزې يو څه کمې شوې، خو ملاريا بيا هم دوام وکړ. ډاکتران وايي چې که د ملاريا ناروغۍ لپاره د درملو پوره دوز ونه خوړل شي، نو (۱۸) ورځې وروسته بېرته راګرځي او ناروغ له پښو غورځوي. د اشرف غني په ګډوله واکمنۍ کې بيا هم ملاريا دوام وکړ او دا دی اوس تر (۱۸) کلونو وروسته هم دوام مومي. اوس پوښتنه دا ده چې ملت همدا ملاريا وزغمي او که نه ځان تر دې يو بلې خطرناکې ناروغۍ (محرقې) ته تيار کړي؟؟ په وروستيو ټاکنو کې د اشرف غني د بريالیتوب په حالت کې کېدی شي، دا ناروغۍ همداسې دوام وکړي او يا به يې د شدت کچه يو څه راکمه شي، پرمختيايي او رغاونيزې پروژې به لږ تر لږه روانې وي، جنګ به هم روان وي، خو د پرمختګ څرکونه به هم ليدل کېږي، د حکومت او نظام اډانه به کمزورې وي، خو جوړښت او اسکليټ به يې جوړ وي، له افغاني کلتور او ټولنيزو ارزښتونو لرې کسان به حکومت کې زيات واکمن وي، خو د افغان ضد ډلو او اشخاصو اغېز به کم وي. جنګسالاران به تر اوسني حالته يو څه نور هم کمزوري شي، خو په بشپړ ډول به له منځه لاړ نه شي؛ د شکل په تغير به حکومت کې وي، خو محوري نقش به ونه لري، همدا اوس هم د غني ښي او کيڼ لاس د همدې جنګسالارانو مستقيم او نامستقيم استازيتوب کوي، مفکر صيب هم ورته کله کله مشروعيت ورکوي او وايي چې ((د مسعود او مزاري لارويان راسره دي)): مفکر+مسعود+ مزاري (م. م. م). نو که دا ترکيب د ده په وينا رښتيا هم په حکومت کې حضور ولري، نو بيا خو رښتيا هم د يوه سوچه، ملي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتګار حکومت هیلې رژېدلی شي، خو دې ته ورته یو ترکیب کې به بیا هم جنګسالاران محوري رول و نه لري؛ د محور پر مدار به راڅرخي؛ محور به ډاکتر غني او د هغه فکر وي. دا حالت یو ایډیال حالت نه دی، خو تر بل بدتر حالت یې بیا هم د زیان کچه کمه ده. زموږ ملت بدمرغه دی. د غني مخالف ټاکنیز ټیم چې کومه بنه خپله کړې ده، هغه بیا تر دې هم خطرناک حالت دی. د دې ټیم مرکزي هسته د جنګي تنظیمونو او جګړه مارو افکارو تمثیل کوي. د داسې یو ټیم د بریالیتوب په حالت کې جنګسالاران او افغان ضد ډلې په واقعي مانا واک ته رسېږي، البته یو شمېر ولسي او اغېزناکې څېرې او نور با نفوذه اشخاص چې د غني له حکومته خفه شوي وو، ثبات او همپالنې سره یوځای شوي، هغوی د پرېکړو په محوریت کې واقع نه دي، خو په مدار کې دي. د دې ټیم د بریالیتوب په حالت کې به جنګ لا ګرمېږي، فساد به لا زیاتېږي، ملي وحدت او ملي هویت ته به نور هم زیان رسېږي، د دولت اډانه به پاشل کېږي او ملت به د ناروغۍ یو بل پړاو (محرقې) ته داخلېږي، چې هغه تر ملاریا هم خطرناک حالت دی. اوس باید ملت له ډېر تدبیر څخه کار واخلي، لومړی له بدتر حالت څخه بد حالت غوره کړي او بیا له بدحالت څخه د ښه حالت لپاره هڅه وکړي. په دې مانا چې که ټاکنې په لومړی پړاو کې نتیجه ورکړي، نو دا د اوسني حالت دوام دی. دا حالت د ټاکنو دویم پړاو ته تر تګ کم خطرناک دی، خو که د لومړي پړاو پر ټاکنو سیاسي معامله کېږي، دا هم بدتر حالت دی. که د دویم پړاو د ټاکنو مانا سیاسي معاملې ته لاره خلاصول وي او د ملت رایو ته مراجعه په کې مطرح نه وي، دا نو بیا ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدتر حالت دی. د ټولو خبرو لنډیز دا دی چې ملت په ښه حالت کې نه دی، د بیلابیلو کورنیو او بهرنیو عناصرو له خوا کوښښ کیږي چې هیواد تر اوسني نسبي باثباته حالته خراب حالت ته ور داخل شي. له ملاریا څخه محرقې ته او له محرقې څخه دماغي ملاریا ته ور روان یو، ملت باید په تدبیر سره دې ټولو حالاتو ته متوجه شي او مخه یې ونیسي. ښه حالت خو دا دی چې ټول سولې او ثبات ته کار وکړو او که سوله ډیر زماني واټن غواړي او تر ټاکنو پرته بله لار نه وي، نو بیا خو ملاریا تر محرقې او دماغي ملاریا غوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه يادونه او يوه مننه

دا ليکنــه د (۲۰۱۹م) کــال د (دســمبر) پــر (۲۶)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (مرغومي) مياشتې له (۵)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

هر سړی په خپل زړه کې خپل خپل ارمانونه لري. زما له ګڼو هېوادنيو ارمانونو څخه يو څو ارمانونه دا وو چې خدای(ج) دې داسې وخت راولي چــې افغــانۍ پــر کلــدارې لــوړه وي، د افغانســتان ســړکونه تــر




پاکستان ښکلي وي، زموږ اردو او پوليس تر پاکستان باسليقه وي، زموږ کورونه تر هغوی ښايسته او کرايي يې لوړې وي او بيا داسې يو وخت هم راشي چې پنجابيان او د هغو پلويان دلته کډوال شي او دلته ورته کورونه په کرايه ورکړل شي چې دوی د کډوالۍ له ژونده خبر شي. ځينې ارمانونه پوره شوي او ځينې د پوره کېدو په حال کې دي. اوس چې د ننګرهار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوست او پکتیا ولایتونو والیانو ښاغلي (شاه محمود میاخېل، محمد حلیم فدايي او شمیم خان کتوازی) د خپلې ملي کرنسۍ د دودولو او پاکستانۍ کلدارې د بندولو کومه ملي مبارزه پیل کړې، دا نو بیا بېل خوند لري. دا د ډېر شرم خبره ده چې د هر غیرتي افغان په جیب کې د جناح عکس پروت وي. افغانۍ نه یوازې زموږ ملي کرنسي ده، بلکې زموږ ملي هویت هم دی. یاد والي صاحبان او په ټوله کې حکومت او ولس به په لومړیو کې له یو لړ ستونزو سره مخ وي، خو دا ستونزې د هغه نعمتونو او خوند په اندول ډېرې کمې دي چې په ګانده کې به زموږ ولس او هېواد ورڅخه برخمن وي. د دې والیانو ملاتړ باید وشي، مننه ترې وشي، کور ودانی ورته وویل شي او د دې ترڅنګ، د کونړ، نورستان، لغمان، لوګر، پکتیکا، زابل، غزني، میدان وردګو، کندهار، هلمند، فراه، نیمروز او نورو ولایتونو له والیانو او حکومتي چارواکو څخه هم هیله کوو چې دا مبارزه لاپسې ګرمه کړي او په ټول هېواد کې د کلدارې، تومنو او نورو پردیو کرنسیو ټغر ورټول کړي. د خپل حاکمیت او خپل هویت د لا پراخېدا او لا ځلا په هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بې پيره لپاره لا مذهبه په کار دی

| |
|---|
| دا ليکنه د (۲۰۲۰م) کال د (جنورۍ) پر (۳)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (مرغومي) مياشتې له (۱۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

نورو مذهب د ځان لپاره وسيله کړی او موږ بيا د مذهب سونتوکي کرځېدلي يو.

د ايران او پاکستان استخباراتي سازمانونه په سيمه کې هغه دوه خونړۍ ادارې دي، چې مذهب يې د خپلې پراختيا غوښتنې لپاره د اساسي وسيلې په توګه کارولی دی. ايراني چارواکي په منځني ختيځ،



منځنۍ اسيا، افغانستان او تر بالکان پورې د مذهب تر چتر لاندې، پان ايرانيزم تعقيبوي او پاکستان بيا د همدې وسيلې له لارې افغانان د اور په بټۍ کې وريت کړل. افغانان هم د چا مخلوق دی، درد لري، ازار لري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ازار لمبې به یوه ورځ د ظالم تر ګرېوانه رسي . خدای پاک په بشري ټولنه کې د سر لپاسه سر پيداکړی دی، نن مو د قاسم سليماني په وژنه کې عملا" دا تصوير وليد، هغه چې د نورو لاسونه غوڅول، نن يې خپل لاسونه غوڅ شول، هغه چې د نورو اندامونه سېزل، نن يې خپل



وجود لولپه شو. که څه هم د بشري عاطفې له مخې د چا پر مرګ خوشالي ښه نه برېښي، خوکله کله سړی د بشر له شره د خلاصون لپاره د شريرو وګړو پر مرګ د راحت احساس وکړي. سليماني د هغې شبکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي غړی و چې افغانستان کې يې جنګي ډلو ته د مېخکوبۍ، د مړي نځا، پلونو الوزولو او ډول ډول جنايتونو مهارتونه ور ښودل او ان په نورو هېوادونو کې يې هم د يو شمېر افغانانو له مجبوريته ناوړه ګټه پورته کوله او هغوی يې د اجيرو جنګياليو په توګه جنګول. قاسم سليماني خو د مظلومو عربو او عجمو ازار وواهه، خو خبره دلته نه را لنډېږي، خدای ج خو دې داسې وخت هم راولي چې تر دې سختې اسماني ټکې د پاکستان پر پوځي مشرانو او د (ای ايس ای) پر لوړو پوړو چارواکو هم را وغورځي، چې نه يوازې مظلوم افغانان، بلکې د سيمې ټوله بشري حوزه يې له شره خلاصه شي. د سليماني وژنې نه يوازې په عراق او ټول منځني ختيځ کې د ايران له مداخلو پرده پورته کړه، بلکې په افغانستان کې يې هم د هغوی د پخوانيو او اوسنيو تاليځتو تصوير ولس ته ډاګيز کړ. هغه سياستوال چې لا اوس هم جنګي جنايتکارانو ته د ملي اتلانو خطاب کوي او هغوی ته د تصنعي مشروعيت ورکولو کاذبه هڅه کوي او يا هم د ورته ټلوالې غړي دي، د هغوی پر حال هم افسوس په کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وخت غوښتنه

دا لیکنه د (۲۰۲۰م)کال د (جنورۍ) پر (۱۲)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (مرغومي) میاشتې له (۲۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

روښاني غورځنګ اساسا" یو مذهبي غورځنګ و، خو بیا هم د تکفیر له توره خلاص نه شو. د خوشال تحریک یو فرهنګي او ملي حرکت و، خو بیا هم د مغلو له توره خوندي پاتې نه شو. ایمل خان او دریاخان له خپلـو ملـي ارمـانونو سـره خـاورې شـول ، خـو پـر مغلـو هېڅـا هــم



هېڅ ډول تور پورې نه کړ. غازي امان الله خان د انګرېز پر ضد د جهاد توغ و رپاوه ، خو بیا هم د لادینۍ په تور له وطنه فرار شو. باچاخان د سرېتوب، نرمۍ( عدم تشدد) له لارې د مسلمان ملت د سوکالۍ لپاره د خدايي خدمتګارو تحریک جوړ کړ ، خو بیا هم د دین دښمنو عناصرو له خوا د تکفیر له ټاپې سره مخ شو. خو نه پر مغلو، نه پر انګرېزانو، نه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجابیانو او نه هم پر نورو، چا د ظلم ، وحشت او لادینۍ تور پورې کړ. اوس چې د پښتون ژغورنې غورځنګ د فرهنګي ، مدني او سوله ییز انقلاب له لارې غواړي د پښتنو انساني حقوق ترلاسه کړي ، د دې



غورځنګ پر ضد هم د ډول ډول تورونو وسبلې تیاري دي. که په نړۍ کې د هر بل قوم ځوانانو په تش لاس دومره ولس د انساني حقوقو د اعادې لپاره واټونو ته راویستلی وای، نو بیا خو به په نړۍ کې د بشري حقوقو او سولې اتلان ګڼل کېدل، خو پښتون په دې سوله ییزحرکت سره لا هم له تورونو خلاص نه دی. نور باید پښتون د پېړیو له خوبونو راویښ شي؛ منطق ته په منطق ، سرېتوب ته په سرېتوب، قلم ته په قلم ، تورې ته په تورې ، تور ته په تور او سپین ته په سپین ځواب ووایي. اوس د زمانې رمز او تقاضا همدا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړېدلي مورچل يو بل سپاهي

**دا ليکنه د (۲۰۲۰م)کال د (جنورۍ) پر (۲۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (سلواغې) مياشتې له (۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



دښـــمن پـــوهېږي؛ هغــه مورچل چې تـا بـه پرې ډډه لګولـه او ډزې بـه دې تـرې کــولې هغـــه مورچـــل اوس نړېـدلی دی، سـتا هغـه ورور چې پردۍ دښمني به يې هم پـه بيـه اخيسـتله او تـل بـه يې ګردنۍ تر ملا وه او ګوته به يې پر ماشه سوره وه، هغه اوس په خپلو وينو کې ليت پيت دی ، نه يې دوست معلوم دی نه يې دښمن، نو ځکه خو دښمن تا ته لاره ونيوه، دښمن غواړي ته ځان يوازې احساس کړې، ته ستړی شې، ته ماتيجن شې، تا ته د خپلو تېرو مشرانو برخليک دريادکړي چې خپل قوم يوازې پرېښودل، خو ګوره اوس زمانه بدله شوې اوس ستا قوم ستا تر شا ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، بې وسه به وي، بې کسه به وي خو بې غیرته نه دی. پر اصلي مورچل او مشر ورور دې پوره باور لره ، خیر دی چې دا مورچل اوس نړېدلي ښکاري ، خو بنسټونه یې ډېر پاخه دي ، ورځ به راځي چې غاښ د زهرو به ښامار نه لري ، ورځ به راځي چې ورور به دې له خپل مورچله پاڅېدلی وي ، توپک به یې بیا غوړ کړی وي، ګردنۍ به یې تر ملا وي، لښکرې به وي، پر خیبر به در روان وي ، ته به د جمرود پر لار هرکلي ته ولاړ یې، شور به وي، علي به وي ، ننګیال به وي، محسن به وي، سخته دبدبه به وي، اتڼ به وي، ګډا به وي ، ارمان به وي، ایډیا به وي ، رڼا به وي او اټک پر لوري یون به وي، نو پام چې وار دې خطا نه شي ما منلې غرغرې دي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مبارزې اوږده او کړلېچنه لار

دا لیکنه د (۲۰۲۰م) کال د (فبروری) پر (لومړۍ)، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (سلواغې) میاشتې له (۱۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

ملي مبارزه له اوږدې او کړلېچنې لارې تېرېږي ، په دې لاره کې که به ځینې ستړي کېږي ، ځینې به ماییجن کېږي ، ځینې به له نیمې لارې



بېرته را ګرځي، ځینې به غداري کوي، خو کاروان به روان وي، منظور پښتون او د پښتون ژغورنې غورځنګ هم له همدې لارې تېرېږي ، زندانونه، زولنې ، سختې او بختې ، تورونه او پیغورونه دا ټول به په کې وي ، لس کاله مخکې چې موږ دلته د لر او بر افغان د یووالي لپاره د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوکېدونکي غورځنګ وړاندوینه وکړه ، نو یو شمېر سست عنصره اشخاصو نه یوازې دا خبره بابیزه وګڼله، بلکې ځینې وختونه به یې یو ډول رشخند او ((سوی تبسم)) هم کاوه، زموږ هغه تصور او فکر اوس پر یو واقعیت بدل شو، په لکونو پښتانه په لر او بر کې د خپلو حقوقو لپاره ډګرونو او واټونو ته را وځي، نو ځکه خو دې سوله ییزې ولسي حماسې د پښتون ژغورنې غورځنګ او په ټوله کې د ټول پښتون افغان ولس د کورنیو او بهرنیو مخالفینو قهر، غوصه او حسادت راپارولي دي ، دوی پر دې هم په قهر دي چې پښتنو ولې د زمانې له غوښتنو سره سم له مدني لارې خپله مبارزه غځولې ده ، ولې یې توپک ته لاس نه دی وروړی. یانې که ماشې ته یې ګوته ور وړله ، نو بیا یې د ځپلو لپاره ډېرې پلمې برابرېدلی شي، نو مونږ دوی ته وایو چې اوس د پښتون د سیاسي مبارزې د شعور ، قلم او اوسپلې زمانه ده ،کله چې د پښتون سیاسي مبارزه په عقل او شعور پخه شوه ، نوکه بیا توري ته اړتیا وه هغه به هم‌کاروو ، خو پر ځای به یې کاروو ؛ د ځان لپاره به یې کارو ، د هر افغان لپاره به یې کارو ، د لوی افغانستان لپاره به یې کاروو ، نو ملګرو وارخطا کېږئ مه ! نیم مزل مو وهلی ؛ له فکري او احساسي پلوه لوی افغانستان جوړ شوی ، د سیاسي جغرافیې د پیوستون لپاره به په تدبیر سره پلان جوړوو ، د وسایلو امکاناتو لټه او هڅه به‌کوو، له فکر، تدبیر او عمل ټولو څخه به په دقت سره کار اخلو. د پښتون ژغورنې ملګرو ته په زغرده وایو چې پر موږ ډاډه اوسئ:

موږ یاران د بدې ورځې به در دانګو

په دوستانو دې ډاډه اوسه خیبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شخصيت معيار

دا ليکنه د (۲۰۲۰م) کال د (فبرورۍ) پر (۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (سلواغې) مياشتې له (۱۸)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

په وروسته پاتې ټولنو کې د شخصيت معيارونه پوره تثبيت نه وي؛ اکثره د حاکميت په دايرې پورې تړلي وي؛ څومره چې يو شخص ژر دې



دايرې ته ور داخل شي ، ژر يې وده او يادونه پيل شي او څومره چې ژر بېرته له دې مداره را ووځي، د شخصيت تاييد او رد يې هم هغومره ژر ختم شي.

زموږ په ټولنه کې هم د شخصيت د تثبيت قضيه دې ته ورته ده. د يو سړي نښه او نبيره ، فکر او ټولنيز اغېز معلوم نه وي ، خو کله چې واک ته ورسېږي، نو بيا ملي شخصيت هم شي ، ټولنيز هم شي ، سياسي او علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت هم شي ، نسب او سلسله یې هم په ډاګه شي ، د عوامو او خواصو خولې ته ولوېږي او د ستاینو جوګه شي. څه موده وروسته چې همدا شخص له مقامه لرې شي ، نو سل تورونه پرې پورې او د باد بنګه شي ، ملي شخصیت یې باد یوسي او څو موده وروسته بېرته د خلکو له حافظې ووځي. اصلي خبره دلته دا ده چې موږ د ((حکومتي)) او(( ملي)) شخصیت تر منځ توپیر نه شو کولای. ملي شخصیت هغه ته وایي چې د حکومت له امکاناتو پرته خپل ټولنیز او ملي اغېز ، منښت او ګرانښت ولري او حکومتي شخصیت بیا دې ته وایي چې د واک پر مهال یې په ټولنه کې اغېز او منښت وي، خو کله چې له واکه لرې شي بیا نو ټولنیز اغېز خو څه کړې چې خپل سر روغ وساتي دا به یې هم ډېره توره کړې وي. کله‌کله بیا داسې هم وي چې یو ملي شخصیت تر واکمنۍ دمخه هم خپل اغېز لري ، کله چې واک ته ورسي بیا هم خپله لاره تعقیبوي او تر واکمنۍ وروسته هم ملت سره ګډ ژوند کوي، دا ډول شخصیتونه زموږ په ټولنه کې ډېر زیات نه دي او په اوسني حکومت کې خو یې بېلګې په سختۍ سره پیداکېږي. دلته تر ډېره بریده حکومتي شخصیتونه دي چې د شخصیت ژوند یې هم د واک تر امتداد پورې دوام پیدا کوي او له اختتام سره یې ختمېږي. نو ځکه خو په کار ده چې د ملي او حکومتي شخصیتونو تر منځ باید څرګند توپیر وشي او رد او تایید کې یې هم له افراط او تفریط څخه کار وانخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امارت، جمهوریت که انسانیت؟

| |
|---|
| دا لیکنه د (۲۰۲۰م) کال د (فبرورۍ) پر (۸)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (سلواغې) میاشتې له (۱۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. |

کله کله چې څوک د عناوینو پر شکل ډېر مین وي او یا پرې ډېر ټینګار کوي ، نو د همغو عنوانو محتوا یې له یاده ووځي او ان له هغو سره په تضاد کې واقع شي.





زموږ په ټولنه کې اوس د اسلامي امارت او اسلامي جمهوریت د مدعیانو او ظاهري پلویانو تر منځ هم همداکیسه روانه ده ؛ د امارت پلویان د اسلامي امارت له اصولو واټن لري او د اسلامي جمهوریت اورپکي پلویان بیا د جمهوریت له اصولو سره په تضاد کې دي. اسلام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر د خلکو په خوښه یا لږ تر لږه د پوهو خلکو په سلا مشوره ټاکل کېږي او امیر هم له خلکو او په تېره بیا له خاصو او باخبره خلکو سره په مشوره مکلف دی. امیر باید د خلکو له هر درد او غمه خبر وي او د درندو مکلفیتونو د پورته کولو جوګه اوسي. په اسلام کې د خلافت دېرش کلنه دوره او تر هغه وروسته د نورو عادلو امیرانو ټولنیز او اخلاقي چلند زموږ لپاره ژوندۍ بېلګې دي. خو زموږ د اسلامي امارت امیرالمومنین د خپل امارت پر مهال نه له چا سره مشوره وکړه او نه یې له څو ملایانو پرته نور څوک خپل حضور ته ومنل؛ نه مومنانو امیرالمومنین ولید او نه امیرالمومنین خپل رعیت شوي او بعیت شوي مومنان. کله چې جمهوریت را نازل شو او ولس څو ځله د ولسواکۍ د تمثیل لپاره ټاکنیز ډګر ته را وبلل شو ، نو درغلي دومره دود شوه چې تر غنمو یې ګونډې زیات شو ، اوس نو ناپاکې رایې تر پاکو هغو زیاتې وي ، خو بیا هم یو څوک د جمهور رییس یا ولسمشر په نوم ونومول شي. ولسمشر چې ارګ ته دننه شي نو ولس یې تر ارګ بهر پاتې شي بیا نو همدغه مشر د ولس پر وژنې پیل وکړي چې تاسې خو جمهوریت نه منئ او تاسې خو ولسواکي نه غواړئ، نو خپل او پردي ځان سره ملګري کړي او هره شپه په شمار شل زرکیلویي بمونه پرې ګوزار کړي ، د امارت په پلوۍ یې تورن کړي او ورته وایي چې تاسې خو مخالفینو ته په کورونو کې ځای ورکړی دی. ولس لا خپل اولادونه خاورو ته نه وي سپارلي او له هدیرو څخه لا نه وي ستون شوی چې د اسلامي امارت سرتېري ورته را ورسي او ورته وایي چې ګوتې مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوځوو ، تاسو په ټاکنو کې ګډون کړی ، زامن مو اردو کې شامل کړي او د کفري نظام ملاتړ مو کړی دی.

دا زموږ د ټولنې د اوسنیو حالاتو یو تریخ تصویر دی او دېته وایي اسلامي امارت او اسلامي جمهوریت!! ولس نه د اسلامي امارت مبهم امیر کتلای شي او نه د اسلامي جمهوریت متکبر جمهور رییس ، چې د خپلو اولادونو جنازې یې مخې ته کېږدي او له ګرېوانه یې ونیسي چې که د اسلامي امارت او اسلامي جموریت عدالت او سوغات همدا وي ، نو واخلئ دا دې ستاسو مبارکو اولادونو ته ډالۍ وي. موږ تېر له دې امارته او له دې جمهوریته. ولس سوله غواړي ، ولس ژوند غواړي ، خو اوس چې د امارت د پلویانو له خوا د امارت کوم عملي تصویر وړاندې کېږي تر دې امارته بل هر نظام چې یوازې زموږ د خلکو سر او مال خوندي کړي ، زموږ ولس ته په ګټه دی او کوم عملي انځور چې د جمهوریت د اومغلنو پلویانو له خوا وړاندې کېږي تر دې بیا بل هر ډول نظام چې ولسوژنه بنده کړي ، بمبار ، چاپې او انفجار ختم کړي ، تر دې ړانده جمهوریته ولس ته په ګټه دی ، ان که شاهي نظام هم وي. د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه حکومت شاهي و ، خو ولسي جرګې درې څلور ځله د هغه د هر صدراعظم کابینه رنګه کړه، خو هغه د ولسي جرګې پرېکړه ومنله ، په اوسني جمموریت کې څلور کاله کېږي وزیران وزارتونه چلوي، خو له ولسي جرګې څخه رایه نه اخلي، ولسي جرګه وایي چې د سوداګرۍ وزارت سرپرست دې له وزارت څخه لرې شي، خو جمهور رییس د خپل جمهوریت د یو بشپړ رکن پرېکړې ته د توت په شان ارزښت هم نه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. دلته خبره دا ده چې امارت او جمهوريت دواړه له خپلې خپلې محتوا سره په تضادکې دي. نو اوس د ولس خبيرو او با ضميرو اشخاصو ته په کار دي چې له ټولو ممکنو لاروکار واخلي او دواړه لوري مجبور کړي چې له کاذبو شعارونو تېر شي، افغان وژنه بنده او د سولې لاره خپله کړي ، سوله کې افغانيت ، انسانيت ژوند او وطن ټول خونديکيږي ان د واک و ځواک د دغو مجنونانو هم په کې ګټه ده: چې مورږ مومنان نه يو، نو اميرالمومنين به پر چا د خپل امارت قصيدې پخوي ؟ او چې مورږ ولس له منځه لاړ شو، نو ولسمشر به بيا د چا ولسمشر وي؟ چاته به هوايي دهلېزونه جوړوي او چاته به د درغو او رښتياوو لکچرونه ورکوي؟ نو راځئ ټول په ګډه دسولې رسۍ ونيسو ، د امارت او جمهوريت په اصطلاحګانوکې ښکېل پاتې نه شو ، انسانيت ته غېږه ورکړو انسانيت ته! همدا د ژغورنې لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مفکر صیب او ملا صیب پخلاینه

**دا لیکنــه د (۲۰۲۰م) کــال د (فبــروری) پــر (۱۱)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل)کال د (سلواغه) میاشتې له (۲۲)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده**

افراطي خلقیان له افراطي حزبیانو سره کېناستل ،افراطي پرچمیان له اورپکو جمعیتیانو سره غاړه غړی شول،افراطي اتحاد له افراطي وحدت سره پر یو ټغر کېناست ،کمونیست رنګه ملېشې له بنسټپالو ایخواني مجاهدینو سره څو څو ځله په ټلوالو کې را ټاله شوې، چا چې اعلیحضرت محمد ظاهرشاه سره لاس



ورکول مطلق کفر ګاڼه، هغوی تر ټولو مخکې اعلیحضرت ته د مېلمه پالنې دسترخوان وغوړاوه ، شورویانو لـه یـو شـمېر مجاهـدینو سره د پخلاینـې او انډیوالی تار وځغلاوه او امریکانو تر اتلسو کلونو وروسته طالبانو سره د سولې او مذاکراتو ګونډه ووهله .دا ټول کارونه تر داسې یوې اوږدې خونړی تجربې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته رامنځته شول چې ډېرو افغانانو په کې خپل سرونه بایلول .اوس سرې حیرانیږي چې تر دې دومره اوږدو او پخو تجربو وروسته بیا هم د جګړې دوه مطرح لوري چې یو یې دګډوله حکومت او بل یې د طالبانو د تحریک په توګه مطرح دي ، ولې سره نه جوړیږي؟ ولې جګړې ته لا پسې دلایل او وسایل پیدا کوي؟ دلته د جګړې پر بهرنیو عناصرو بحث نه کوو ، هغه یو جلا بحث دی ، خو دلته پر دې دوو مطرحو خواوو غږ په کار دی چې وروستي چانس او تاریخي مسولیتونو ته متوجه شي. اتکل دا دی چې ډاکټر غني به د ډول ډول امکاناتو د کارونې له لارې د ټاکنو کمېسیونونه دې اړ کړي چې دی په ټاکنو کې بریالی اعلان کړي ، هغوی هم بله چاره نه لري ،خو حکومت به بیا هم همدا ګډوله محتوا ولري، دا ډول حکومت به بیا هم خپل ډېر وخت پر خپلمنځي ناندریو تېر کړي او مشخصې ډلې به په کې د تېر په څېر د سولې بهیر سبوتاژ کړي. طالبانو چې تر بل هر وخت زیات د سولې لپاره یو څه نرمښت ښودلی دا چانس به هم کمزروی شي او جګړه به زور واخلي. عجیبه خبره دا ده چې د حکومت له خوا د خبرو لپاره اوربند د لومړي شرط په توګه یادیږي . دا په داسې حال کې ده چې د اوربند لپاره خپله خبرې په‌کار دي ؛ په بحراني او جګړه ییزه شرایطو کې خو خلک د جګړې د بندولو او اوربند لپاره د خبرو وړاندیز کوي ، خو دلته بیا د خبرو لپاره لومړی د اوربند شرط وړاندې کېږي. دا داسې مانا ورکوي چې یو څوک لومړی واده غواړي او تر هغه وروسته د کوژدې لپاره د جرګې او مرکې ترتیبات نیسي .نو کله چې اوربند او بیا دایمي اوربند وشو ، نو بیا خو سوله راغله، نو بیا د څه شي په باب خبرې کېږي؟کاشکې دواړه لوري له داسې سترو انساني او افغاني اخلاقو کار واخلي چې بهرنیانو ته په زغرده مخه ښه ووایي او له کوم قید او شرط پرته پر ټولو مسایلو خبرې پیل کړي ، خو اوس چې له داسې یو حالت سره واټن موجود دی ،ښه به دا وي چې د سولې پر ضد پلمې جوړې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. زه فکر کوم چې د ډاکتر غني شخصيت ته تر دې کاذب جمهوريته، سوله ډېره په ګټه ده او ملا هيبت الله اخوندزاده ته د هغه تر محبوب جنته د سولې راوستل ډېر ګټور دي ، که زموږ وطن کې سوله راغله نو زموږ لپاره دا خپل وطن د ځکمې پر مخ جنت دی . ډاکتر غني ته يې غوږه مالان غلطې مشورې ورکوي ، د پرديو عسکرو په زور دوی هېڅکله طالبانو ته په نظامي ډګر کې ماتې نه شي ورکولی او طالبان هم بايد پر دې پوه شي چې دوی حکومت ته د اخلال او ګډوډۍ جوړولو ځواک لري ، خو د نظام د چلولو پوره وړتيا نه لري ، نو ښه لاره داده چې (ملا) او(مفکر ) يا (دين) او ( دنيا) سره پخلا شي.طالبانو ته دې د دې چانس برابر شي چې کورنی سمون او امنيت راولي ، د شر او فساد جرړې وباسي او د غني په ګډون د اوسني حکومت نامذهبي ستو ته دې د دې لاره خلاصه پرېښودل شي چې له بهرنۍ نړۍ سره دافغانستان ملګرتيا ټينګه کړي ؛ د هغوی مرستې راجلب شي او افغانان د ګاونډيو له شره خوندي شي او که حالات همداسې روان وي او هر لوری د خپل هوس پر دلدل سپور وي ، نو داسې وخت به راشي چې نه مفکرصيب ته څه عزت پاتې شي او نه ملا صيب ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوله د پرون، نن او سبا بې بدیله ضرورت

| |
|---|
| **دا لیکنــه د (۲۰۲۰م) کــال د (فبــروری) پــر (۲۲)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (۳)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.** |

**تر څلوېښتو کلونو خونړیو جګړو او تجربو وروسته دا دی افغانان**



**او نړیوال دې نتیجې ته رسېدلي چې سوله تر بلې هرې وسیلې ګټوره ده، قیمت یې کم، ګټه او ارزښت یې زیات دی. سوله د افغانانو پرونی ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي. له بده مرغه چې پرون مو دا ضرورت پوره نه شو او موږ یې ډېره لوړه بیه پرې کړه، خو نن چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ځل بیا د سولې طلایي چانس ته نږدې یو، باید پوره ګټه ورځخه پورته کړو او راتلونکی نسل مو خوندي کړو . د سولې په دې نازک پړاو کې نه چا ته پېغور په کار دی، نه پر چا تور پورې کول په کار دي، نه د ملامت او سلامت معلومول. په دې مرحله کې د طرفینو او د هغوی د لنډفکره پلویانو یوه ترخه خبره هم د توپک تر ګولۍ ډېر زیان اړولای شي.



عجیبه خبره دا ده د هغوی تر منځ چې د مړو ناشمېره حساب پروت دی، هغوی د روغې جوړې مېز ته سره کېناستل، خو هغوی چې په عمر کې یې د ګولۍ شنګ تر غوږه نه دی تېر شوی، هغوی د جګړې دوام او ګرمول غواړي.

دا چې چا څه کړي، څنګه یې کړي، د چا په زور یې کړي او پر چا یې کړي؟ دا ټولې پوښتنې او ګروېږنې هم د سولې په چاپېریال کې سپینېدی شي. ، نو راځئ چې ټول سولې ته کار وواېو، د جنګ ټول هغه اړخونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ او ستاسې خبرې ورته ور رسېدی شي، دېته و هڅوو چې د سولې دې روان بهیر ته دوام ورکړي او د بشپړې بریا پړاو ته یې و رسوي. دلته لازمه ده چې د طالیانو د اسلامي تحریک له مشرتابه څخه د زړه له تله مننه وکړو چې له ډېرو قربانیو سره سره یې د سولې او پخلاینې لاره غوره کړه. د امریکا له متحده ایالاتو له حکومت څخه هم مننه په کار ده چې د خپل غرور له اسه راکښوتل او له داسې یوه حرکت سره خبرو ته کېناستل چې د دوی له اصولو سره په ټکر کې دي او دوی ورسره د دا ډول مذاکراتو تجربه او سابقه نه لري. له جمهور رییس ډوکتور محمد اشرف غني څخه هم مننه په کار ده چې له ټاکنیزو نانداریو او نورو ګڼو ناخوالو سره سره یې د هېواد او ولس دې اساسي ضرورت ته اساسي پام راواړاوه او د پخوانیو نه عملي کېدونکو سرو او شنو کرښو له کشولو تېر شو. که دې ټولو خواوو په خپله خپله برخه کې نرمښت نه وای ښودلی، نو د تاوتریخوالي د کمولو دغه حالت چې که خدای (ج) کول وروسته به د جګړې د پوره بندېدو سبب شي، نه وای رامنځته شوی. اوس نو ملت ته په کار دي چې د جګړې ټولې خواوې او مطرح کرکټرونه د سولې ملاتړ ته و هڅوي او دا هم و څاري چې کوم لوری سولې ته دسیسې او جګړې ته پلمې چوړوي؟ وروسته دې بیا ملامت لوری له خپل تاریخي عدالت او قضاوت سره مخامخ کړي. له ټولو لیکوالو، مبصرینو او کارپوهانو څخه هم هیله کوو چې د سولې په دې حساس بهیر کې دې د هر ډول سپوره او تاوجنو کلماتو له کارولو څخه ډډه وکړي او له خپل قلم او خپلې خولې سره دې ډېر احتیاط وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سیاسي لنډغرانو ارواپوهنه

**دا لیکنــه د (۲۰۲۰م) کــال د (فبــرورۍ) پــر (۲۳)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (٤)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**



د سـولې پـه دې خـوړو شـېبو کـې مـې اصـلاً نـه غوښـتل ترخـو سیاسـي اصطلاحاتو ته داخل شم او د دې بختورو شېبو خوند پرې پیکه کړم، خو څرنګه چې لنډغر د ټولنې د سوکالۍ او سولې دښمنان دي، نو مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم تاریخ او اینده نسل ته یوځل بیا غاړه خلاصه کړم او د لنډغرانو د روحیاتو او جذباتو په باب یو څه ووایم: لنډغریزم زموږ د ټولنې په سیاسي ترمینالوژۍ کې یو نوې اصطلاح ده چې د طالب نظام تر سقوط وروسته په تېره بیا په تېره یوه لسیزه کې دود شوې ده. خو د لنډغر کلمه او عمل تر لنډغریزم دمخه موجود وو.

کله چې د وطن یو شمېر سیاسیونو د لنډغرو عادت او عمل خپل کړ، نو سیاسي لنډغریزم رامنځته شو. دا د ټولنې داسې یو مکروب دی چې له وسلې سره ژوند کوي، له بهره خړوبېږي او د حاکمیت تر سیوري لاندې وده کوي. دوی د پوزېشن او اپوزېشن دوه نقابونه لري؛ کله له یوه او کله بل څخه سر را وباسي. دوی پر مظلومانو ډېر بې رحمه دي او تر ځان زورورو سره د یارۍ پټ او ښکاره تارونه لري.

دوی له ظاهري پلوه ډېر زړور خو په باطن کې ډېر ډارن دي. دوی د سر چوک مزدروان دي چې د ورځې په نرخ اجاره کېږي او کرایه کېږي. د دوی بل خصلت دا دی چې هره شېبه له لوزه اوړي او د حافظې قوه یې ډېره کمزورې ده. دوی داسې ارتجاعي خواص لري چې هر چاپېریال سره خپل رنګ بدلوي او د هرې زمانې له رباب سره سمه سندره زمزمه کوي، پر یوه وخت کولای شي هم مجاهد وي هم ملحد، هم روسان خوشاله کړي هم امریکایان، هم د بنسټپال مسلمان تمثیل کولای شي او هم د افراطي ولسواک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرم او حیا خو ببخي پېژني نه، هر کله چې پرې زور او فشار راشي نو ژر د قومیت تر شعار لاندې ځانونه خوندي کړي او لکه کاسه ګرب پر ځان د قومي محافظت پوخ راواړوي، شل نور مرضونه او خصلتونه هم لري چې د ټولو بیان یې په دې لنډه لیکنه کې شونی نه دی. هغه سیاستوال او واکمن چې دا ډول پدیده سمه نه پېژني او یا ترې د وېرې احساس کوي، دوی کولای شي له هغو څخه ډېر ناوړه او نامشروع امتیازات تر لاسه کړي.
دوی د کرزي صیب په واکمنۍ کې له هغه څخه ډول ډول امتیازات تر لاسه کړل او ځانونه یې ښه وپړسول، یوه برخه به یې په اپوزېشن کې وه او بله به یې په پوزېشن کې، دواړو خواوو به د یوې بلې ملاتړ هم کاوه، امتیازات به یې هم اخیستل او د منافقت لپاره به یې کله کله زرګري لفظي جنګونه هم کول، اوس هم هماغه فورمول دی او هماغه قاعده ده، یوازې د څو کرکټرونو ځای ځایګي بدل شوي دي. دوی د کرزي په شان پر (۲۰۱٤م)کال داکټر غني ته هم پښې ودربولې، نیم حکومت یې ترې واخیست او په نیم نورکې هم ونډوال شول. اوس هم یو ځل بیا غواړي د خیالي موازي حکومت د جوړونې او د تش په نوم والیانو د تقرر تر نامه لاندې غني ته پښې ودربوي او د امتیازاتو له پاسه نور امتیازات هم تر لاسه کړي.

ایا دا امتیاز نه و چې د کرزي صیب د واکمنۍ پر مهال احمد ضیا مسعود او فهیم خان په (۳۳۷) او (۵۰۰۰) رایو او کریم خلیلي هم دوه ځله په اټکل یو سلنې رایو مرستیىلان وو ؟ د ډاکټر غني په واکمنۍ کې هم امرالله صالح د ټولو دوه زره رایو په راوړلو سره لومړی مرستیال دی او سرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانش هم د خلیلي په شان په ورته کیس کې دی، نو دوی نور څه امتیاز غواړي ؟ زه د یو افغان په توګه ټول افغان ولس ته ډاډ ورکوم چې د ډاکتر عبدالله پر محور ټول راټول شوي جنګسالاران د دغسې کاذبو ګواښونو له لارې هېڅ نه شي کولای او غني هم باید د (۲۰۱٤ م) کال ترخه تجربه بیا تکرار نه کړي . لنډغر هغه وخت خطرناک دي چې په حاکمیت کې شامل وي او قانوني زور او وسله د ناقانونه کارونو لپاره وکاروي .

کله چې جنګسالاران له حکومته بهر شي، داسې شي لکه کب چې له اوبو وباسې، ژوند یې ناممکن شي، غوره مثال یې عطامحمد نور دی چې پخوا یې د ټول نظام د ننګونې ګواښه کول او نن جمهور رییس سره په تش یو ملاقات هم خوشاله بریښي. په تلو تلوکې دا یوه خبره بله هم واورئ : که څوک داسې فکر کوي چې امرالله خان او عطامحمد نور به د عبدالله او قانوني او یا هم سرور دانش به د خلیلي او محقق شعوري مخالف وي، نو دا یو احمقانه فکر دی.

یو وخت امرالله خان په واک و، عبدالله په اپوزېشن کې، بیا عبدالله په واک کې شو امرالله په اپوزېشن کې، اوس امرالله په واک دی عبدالله کېدی شي اپوزېشن ته لاړ شي، خو د یو بل ملا نه ماتوي، بلکې د یو بل ملاتړ کوي، د دانش رول هم له همدې دانشه خالي نه دی، خو افسوس د هغه چا پر حال چې مشران یې د کشرانو او کشران یې د مشرانو له حاله خبر نه شول او هېڅکله یې د خپلمنځي پوهاوي ژبه پیدا نه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عبدالله او غني تر منځ د پښتنو غوړه مالانو ګرم بازار

دا لیکنــه د (۲۰۲۰م) کــال د (فبــروري) پــر (۲۵)مــه، چــې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (٦)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

غوړه مالي یو ډېر بد مرض دی، عیناً لکه شکر، خپله مرض نه دی، خو له نورو مرضونو سره په تخریب کې ډېره مرسته کولای شي. غوړه مالي




داسې یو حالت دی چې سړی په کې خپله جذبه او ولوله له لاسه ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نارینتوب خصلت یې کمزوری کېږي، فکري لیدلوری یې له منځه ځي، خپله نوښت نه شي کولای او تل زورور ته په مړه هیله ناست وي.

دا ډول اشخاص د ټولنې په بېلابېلو برخو کې موجود او مطرح وي، په دربارونو کې زیات پیدا کېږي او کله کله خو د واک او ځواک دویم لاس ناڅرګند قوت هم کنټرول کېږي، دا مرض اوس تر ټولو زیات په سیاسي قشر کې لیدل کېږي او اوسمهال د پښتنو په سیاسي قشر کې زیات محسوس دی. د فکر خاوندان کولای شي، اوسنی غوړه مال قشر د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله د تقابل په ډګر کې ډېر ښه محسوس کړي. یو زیات شمېر پښتانه سیاستوال چې اوس د ډاکټر عبدالله تر شا ولاړ دي، دا هغه ډول مخلوق دی چې یا ورته د غني په واکمنۍ کې مقام او موقف نه دی رسېدلی او یا له واکه شړل شوي، ټولو یو ډول عقده اخیستې، نو ځکه یې د غني د غټ مخالف لمن نیولې؛ د هغه پر اوږه یې ټوپک ایښی، غواړي په دې ډول له غني څخه غچ واخلي او یا د عبدالله په احتمالي واک او د غني د واک په تداوم کې د تېر په څېر خواږه ترلاسه کړي، دوی په ډاګه د ((پښتنو مشرانو)) تر اصطلاح لاندې د ډاکټر عبدالله ملاتړ ته دانګلي دي. بله خوا بیا یو شمېر غوړه مال پښتانه د غني د واک په دایره کې ځلېږي. هغوی نو بیا د غني هرې منطقي او نامنطقي خبرې ته داسې د تایید سر خوځوي چې ګڼې هېڅ ډول نیمګړتیا نه لري او یو الهي نعمت دی چې پر دې ولس رااورېدلی دی، ان په ژبپوهنه او اسلامپوهنه کې یې هم لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

متخصص بولي. دوی د غني په افراطي ستاینه کې دومره ډوب دي چې خپله غني به هم ځان ته دومره غوړه مالي مناسبه و نه ګڼي. همدغو غوړه مالانو ډاکټر غني د انزوا خوا ته کش کړ. په دې ځوکلونو کې بیا داسې هم شوي چې یو سړي د غني په دربار کې دومره غوړه مالي کړې چې سالم منطق یې هېڅکله نه شي منلای، خو کله چې غني له واکه شړل‌ی، بیا د غني پر سر سخت مخالف بدل شوی، چې اوس ورته د غني غیبت د عبادت اساسي برخه ښکاري او برعکس بیا داسې اشخاص هم لیدل شوي چې په حکومت کې تر وندې او مقام وړاندې یې غني ته دومره سپکې او سپورې حواله کولې چې د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ نه دي، خو کله چې په دربار کې مقام ورکړل شوی، بیا یې نو غني ته په خوله کې له (جلالتماب) پرته بله کلمه هډو تاوېږي نه، د ساري په توګه به د غني په سیاسي او ټولنیزه برخه کې دوه استازي او سلاکاران یادکړو، یو یې پخوا په دربار کې و، د خدای نوم یې له خولې غورځاوه، خو د غني نه او دا بل بیا په هره رسمي او خصوصي غونډه کې له غني څخه د باد بنګه جوړه کړې وه، د خدای (ج) کار دی، غني دا یو درباري له درباره وشړه او پر ځای یې هغه مخالف دربار کې مېشته کړ، اوس اشخاص همغه دي، خو خولې او نظرونه یې بدل شوي، یو د بل دنده پر مخ وړي.

دا هم یو څرګند حقیقت دی چې د عبدالله تر شا چې کومه مانا او محتوا پرته ده هغه هېڅکله هم نه د پښتنو او نه هم د افغانستان په ګټه ده او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ثابته ده چې غني هم يو سوچه تکنوکرات سړی دی، غربي خوی او بوی لري، نه له ديني ارزښتونو سره څه خاصه لېوالتيا لري او نه هم د پښتنو او پښتونولۍ ځانګړتياوې په کې خوندي دي، نه تر واک دمخه زيات وخت په افغانستان کې اوسېدلی او نه به تر واک وروسته زياته موده دلته پاتې شي. د غني په ټول دربار کې دوه سلنه پښتو مکتوبونه نه دي ليکل شوي او د عبدالله دربار کې خو د پښتو تصور هم نه و مطرح، عجيبه خو دا ده چې هغوی دواړه يو هم کله د پښتو او پښتونولۍ مينه نه ده څرګنده کړې او د افغاني هويت پر سر يې هم موږ سرسختې مبارزې ته اړ کړو، خو غوړه مالانو بيا د پښتنو د مشرانو او مطرحو شخصيتونو په توګه د دې ښاغلو ملاتړ ته دانګلي دي.

لومړی بايد له دې ښاغلو څخه وپوښتل شي چې تاسو خپله پښتو او پښتنو ته څه کړي چې اوس لا د پښتنو په نامه بل ته ورځئ او د پښتنو د ملاتړ سينه ورته ډبوئ؟

که د دې دواړو اشخاصو له غوړه مالانو سره رښتيا هم د پښتنو غم وای، نو بيا خو ښه دا وه چې د دې دواړو ښاغلو واکمنو پر هغو کارونو يې ژور انتقادونه کړي وای چې هم د پښتنو او هم د ټول ملت په زيان دي.

د قوم په نوم د کوم سياسي شخص ملاتړ خپله له قانون څخه سرغړونه ده، دوی کولای شي ووايي چې موږ د عادي افغانانو په توګه د دوی ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو، خو د قوم د مشر په نامه د ځان نومول او بیا د هغه چا ملاتړ کول چې د دې قوم له ژبنیو او کلتوري ارزښتونو سره په تضاد کې دی او یا ورځخه واټن لري، عادلانه او عاقلانه کار نه ګڼل کېږي. د ډاکټر عبدالله ببرړی خو همدې غوړه مالانو ډوبه کړه، د ډاکټر غني ببرړی به هم له ورته برخلیک سره مخامخ شي. غوړه مالان د تیر هغه چینجي ته ورته دي چې په نرمه خوله دکوټې د تیر دننه خوارېه خوري او یو وخت بیا د ټولې خونې د نړېدو سبب ګرځي، نو واکمنو او سیاستوالو ته په کار دي چې له دې ډول مکروبه ځان لرې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سولې پل دې بختور شه!

**دا ليکنه د (۲۰۲۰م)کال د (مارچ) پر (لومړۍ)، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) مياشتې له (۱۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

د کب لسمه د افغانستان په سياسي او پوځي تاريخ کې يوه مهمه ، پرتيمنه او تاريخي ورځ ده. پر دې ورځ د نړۍ تر ټولو ستر زبرځواک د نړۍ د تر ټولو مظلوم او جګړه ځپلي ولس له يوه قشر سره چې له کتابه يې توپک ته مخه کړې وه ، پر يوه مېز د جګړې د اختتام لاسليک ته




کېناست. دا شېبه لس پنځه لس کاله وړاندې د چا په خيال کې هم نه ګرځېدله . افغانستان د استثنااتو هېواد دی ، دلته ډېر هغه څه ممکنېدی شي چې شوني نه وي او ډېر هغه څه ناشوني کېدی شي چې ممکن وي ، د غټو امپراتوريو ماته له ناممکناتو برېښېدله، خو دلته شوني شوه. افغانستان په خپل تاريخ کې د کب پر لسمه د يوې لويې امپراتورۍ ماته په رسمي ډول او د هغوی له خوا په نامستقيم اعتراف ثبت کړه. راتلونکی نسل به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې اړه خپل قضاوت کوي ، خو اوس سوال دا دی چې له دې ډول سترو تاريخي برياوو موږ ته څه پرمختيايي ګټه رسېدلې او که نه؟ سوکاله شوي يو که نه؟ په خواشينۍ سره چې نه. اوس هم اندېښنه داده چې همغه خبره بيا تکرار شي؛ ((افغانان تل په پوځي ډګر کې بريالي او په سياسي ډګر کې ناکام دي.)) راځئ دا ځل د امريکايانو او طالبانو تر منځ د سولې له دې هوکړه ليک څخه اعظمي ګټه پورته کړو . هم په هېواد کې سوله ټينګه کړو ، هم خپل نظام وساتو ، غبنتلی يې کړو او هم خپل ولس ته د سوکالۍلاره اواره کړو. د ګاونډيانو له شر څخه د خلاصون په خاطر د نړۍ له سترو ځواکونو سره هم تعريف شوي او خواږه مناسبات ولرو ، په نړۍ کې خپل حيثيت او ځانګړی کور ولرو او هېواد له سياسي انزوا څه وژغورو. اوس د نظام بقا او دسولې ټينګښت ته ټوله پاملرنه واړوو. که نظام يا حکومت نه وي او سوله وي هم ، نو خدمات به څوک وړاندې کوي او پرمختګ به څرنګه رامنځته کېږي ؟ او که سوله نه وي او نظام ولرو، نو بيا به هم ستونزې دغسې وي لکه دا اوس چې دي ، نو راځئ پر يو بل له تور لګولو تېر شو او له پېغورونو ډډه وکړو. که موږ هرې پديدې ته له منفي ليدلوري وګورو ، نو په ژوند کې به يو شی هم مثبت په نظر را نه شي . له حکومت څه هم هيله کوو چې طالبانو سره د خبرو اترو لپاره يو ګټور او ژيور ټيم وټاکي چې د خبرو په ترڅ کې له طالبانو څخه د کورني سمون او له نړيوالو څخه د نظام د بقا تضمين تر لاسه کړي او په دې ډول دې ځلوېښت کلن ناورين ته د پای ټکی کېښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان کې د سولې منحني

**دا لیکنه د (۲۰۲۰م) کال د (مارچ) پر (۷)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (۱۷)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

**افغانستان کې د سولې راتک نه مستقیم دی ، نه عمودي او نه افقي ، دا سوله د یو منحني په شان ډېرې لوړې ژورې لري ، په دې لوړو ژورو**



**کې به څوک لوېږي ، څوک به پورته کېږي ، څوک به خپل حیثیت ګټي، څوک به خپل قدرت بایلي، خو اصلي هدف دا دی چې سوله راشي او سوله ټینګه شي. سیاستوال ، لوی او واړه قدرتونه خپلې ګټې او خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبوریتونه لري ، هغوی خپلې ماضي وينا پسې نه ګرځي ، هغوی د ورځې په نرخ خپلې ګټې پسې ګرځي. که يوازې د تېرو دوو لسيزو په ترڅ کې د سولې او بيا طالبانو په باب د کورنيو سياستوالو او بهرنيو ځواکونو خبرې چاڼ کړو، نو هېڅ‌ډاته هم کوم حيثيت نه پاتې کېږي ؛ هغوی چې به پخوا تر ټولو زيات د طالبانو مخالفت کاوه او د ډاکتر غني په ګډون به يې يو شمېر سياستوال پر طالباني افکارو تورنول ، هغوی نن تر ټولو وړاندې له طالبانو سره پخلاينې ته ګېنې نيولي دي. ډاکتر غني چې به پخوا طالبانو سره د سولې پر وړاندې هر ډول شرط رداوه نن خپله د مسلسلو شرطونو لړۍ وړاندې کوي ، طالبانو هم چې پخوا کفر سره هر ډول مذاکره ردوله نن تر مسلمان وړاندې کفر سره يو تړون او تفاهم ته ورسېدل. دا حالات د دې څرګندونه کوي چې لا هم نورې دا ډول ښوېدنې او افراطي ويناوې به کېږي. خو افسوس د هغو خلکو پرحال چې نه واک لري ، نه ځواک ، نه نظر لري او نه خبر، خو په پټو سترګو د يو چا پر افراطي ستاينه او غندنه مصروف دي . بحث اوږد دی خو رالنډوم يې. سره له دې چې د سولې روان بهير يو منحني خط تعقيبوي، خو زه ورته له يوه ليدلوري يو څه هيله من يم او هغه دا چې د سولې اصلي مخالفين چې په جګړه کې يې ګټې خوندې وې، اوس تر ټولو دمخه سولې ته افراطي لېوالتيا ښيي. که دوه درې کاله دمخه د ډاکتر غني په مشرۍ د حکومت دې برخې له طالبانو سره چټکه سوله غوښتې وای، نو ډاکتر عبدالله او د ټلوالې نورو اصلي او فرعي خواوو ټولو به دا تور پورې کاوه چې دا خو يوه (( درون قومي)) سوله ده . خو اوس چې دوی خپله تر اوبو ليدلو وړاندې لنګونه ووهل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ډېره سخته ده چې ژر خپل ځان راټول کړي. اوس نو جمهور رييس غني ته په کار دي چې ژر تر ژره سولې ته ور ودانګي ، د سولې لپاره یو ځواکمن ګروپ وټاکي ، په دې بهیر کې د پاکستان ، ایران او ځینو نورو ګاونډیو د مضریت عنصر ترې لرې کړي ، حپلو درباري غوړه مالانو ته هم متوجه شي؛ حقیقتونه هغسې نه دي لکه دوی یې چې ده ته بیانوي ، طالبان یو عیني واقعیت دی چې باید په نرمه غاړه او پوره دقت ور سره د سولې بهیر تعقیب شي. جمهور رییس که د سولې تر څنګ له نړیوالو ، په تېره بیا له امریکایانو څخه د نظام د فزیکي اډانې د بقا، د ګاونډیانو د لاسوهنو د مخنیوي او له افغانستان سره د اقتصادي مرستو د دوام تضمین تر لاسه کړي، نو په دین او دنیا به د دې ولس له دعاوو برخمن وي او که همدا نوشېروان وي او همدا بختک بختک وزیران ، نو د ملت حال تر دې هم خراب او تراب بویه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لر او بر افغان د پیوستون غونډه

دا لیکنه د (۲۰۲۰م)کال د (مارچ) پر (۱۰)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۰)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

نن د لر او افغان په تاریخ کې یوه ډېره پرتمینه ، فکري او ولولیزه غونډه وه. د غونډې د جوړولو لپاره د ورځې یولس بجې پرېکړه وشوه او له حکومتي چارواکو څخه د دې ولسي او ملي غونډې لپاره اجازه



ترلاسه شوه. یو ژمن کاري ټیم ژر خپل کارپیل کړ. په دریو ساعتونو کې ټول هغه څه شوني شول چې په دومره تنګ وخت کې یې شونتیا عملي نه بریښېدله. ټولو ځوانانو په ځوږ او ولولو سره په غونډه کې ګډون وکړ او ټول ویناوال یې په چکچکو او شعارونو بدرګه کړل . د غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوونکي کاري ټیم له سره پرېکړه کړې وه چې بر وطن څخه به یوازې یو تن ښه راغلاست وايي او نور ټول وخت به د محکوم وطن مخورو او مبارزینو ته ورکول کېږي، چې د خپل زړه ارمانونه او پیغامونه بیان کړي. ډاکتر مسعود، جمیلې ګیلاني، عبدالله ننګیال، افراسیاب خټک، محسن



داوړ، علي وزیر او نورو ټولو داسې انقلابي وینا وې وکړې چې ساری یې ډېرکم لیدل شوی و. نو ځکه خو د ګډونوالو له خوا په تودو ولولو او د (لر او بر یو افغان) په شعارونو په مسلسل ډول بدرګه کېدل. دا غونډه د لر او بر افغان د فکري پیوستون په برخه کې یوه ډېره مهمه غونډه ګڼل کېږي. بشپړ جریان یې بیا د ژوندون ټلوېزیون پر څپوخپرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدای پامانۍ وروستي مراسم

**دا لیکنه د (۲۰۲۰م) کال د (مارچ) پر (۱۱)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۱)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

له کوزې پښتونخوا څخه راغلي مشران او د پښتون ژغورنې غورځنګ مبارزین نن په ښه عزت او درناوي له کابله رخصت شول. په همدې مناسبت په کابل کې (د وزیرو شورا) له خوا د خدای پامانۍ او درناوي یوه درنه او



پرتمینه غونډه جوړه شوې وه. په غونډه کې د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښو غړو ګډون کړی و او علي وزیر د ټولو په استازۍ د ټول افغان ولس له قدرونې او مېلمه پالنې مننه وکړه او خوښي یې څرګنده کړه. د خدای پامانۍ د مراسمو په پای کې د وزیرو شورا له خوا درانه مبارزین په لونګیو او نورو ډالیو او د (لر او بر یو افغان) شعارونو په بدرګې سره و نازول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان د امپراتوریو قبرستان

# که د ژوند ګلستان

**دا لیکنه د (۲۰۲۰م) کال د (مارچ) پر (۱۹)مه، چې د (۱۳۹۸ل) کال د (کب) میاشتې له (۲۹)مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.**

نن په افغانستان کې د جګړې پر سلسلې یو بل کال هم زیات شو، جګړه تر څلوېښتو کلونو واوښته او نیمې پېړۍ ته نږدې شوه، دا تر ټولو صلیبي جګړو وروسته د نړۍ په کچه یوه ډېره اوږده جګړه ده، په دې جګړه کې دوه لویې امپراتورۍ راګیر شوې، یوه په کې په بشپړ ډول دړې وړې شوه او یوه بله هم په کې له خپل عزت او برمه پرېوته. شوروي امپراتورۍ هم په یوازې ځان دې جګړې ته نه وه داخل شوې، خپل سیمه ییز او نړیوال ملګري یې درلودل او امریکایي زبرځواک هم یوازې نه و؛ د نړۍ څلوېښت نور ځواکمن هېوادونه یې هم ملګري وو، خو دواړه په واقعیت کې دلته ستړي او ستومانه شول، تاریخ یو ځل بیا تکرار شو، زورور په کې کمزوري، خو مظلوم په کې لا مظلوم شول. افغانستان یو ځل بیا د امپراتوریو د هدیرې لقب او ریکارډ خپل کړ، خو دا ریکارډ په ډېره غټه بیه تمام شو. دې کې شک نه شته چې افغانانو به یو غیرتي ویاړ ترلاسه کړی وي، خو څرنګه چې زموږ نړۍ تر ډېره بریده یوه مادي نړۍ ده، یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرت هم نه شي کولای د ژوند ټولې اړتیاوې پوره کړي، د ژوند نورو برخو ته هم اړتیا ده. هر کله چې غیرت د تعقل تر بریده واوښت نو پر جهالــت بــدلیږي. د غیــرت او تعقــل، احســـاس او پــوهې تــرمنځ



باید انډول موجود وي، اوس نو زموږ غیرت په پای کې زموږ د ذلت او د نورو د راحت سبب شوی دی. اوس نو باید د پیړیو له پخوانیو تجربو او د نیمې پیړۍ اوسني ګرم جنګ څخه یوه ګټوره او عملي تجربه ترلاسه کړو او هغه دا چې هر وخت جنګ مو ګټلی خو ژوند مو بایللی، غیرت مو ګټلی خو راحت مو له لاسه ورکړی دی، ایا یوازې هېواد ته د امپراتوریو د قبرستان لقب زموږ د ژوند ټول ضرورتونه پوره کولای شي؟ ښه خو به دا وه چې افغانستان نورو ته قبرستان وای، خو افغانانو ته ګلستان، اوس خو افغانسـتان د خپلـو افغانـانو پـه وینـو رنـګ دی، دا سـمه ده چې د ډېرو زورواکو هډونه به دلته ورک وي، خو که د هغوی هډونه دلته دي او یا هلته موږ ته یې ګټه څه ده؟ دا چې پردي هر وخت دلته یرغل کوي، دلته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدرت خلا او کمزوري ګوري، که مورږ ځپل شوي او کمزوري نه وای، نو مورږ ولې د هغوی مقابلې ته هلته نه ورتللو؟ ایډیال حالت خو دا دی چې نه مورږ د چا د وطن اشغال لپاره هلته لاړ شو او نه هغوی ته د دې مجال ورکړو چې دلته لښکر کښي وکړي، هر څوک باید د خپل ژوند پر ښېرازۍ مصروف شي.

اوس چې سبا ته کال نوی کېږي، نو ښه ده چې مورږ هم خپل فکر نوی کړو، ماضي ته یو ځل بیا کتنه وکړو، یوازې پر جنګي ویاړ ډډه و نه لګوو، د ژوند نورو اړتیاوو ته هم پام وکړو، د قبرستان پر ځای د ګلستان په باب هم فکر وکړو، پوره نیمه پېړۍ مو په قبرستان کې نیمګړی ژوند تېر کړی، راځئ چې یوه پېړۍ د ژوند په ګلستان کې هم تېر کړو، دا هم زمورږ د ژوند حق دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**